قال رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم ان من البیان لسحرا

خطبات عارفی

من افادات
شیخ القرآن والحدیث شہید مظلوم حضرت مولانا
سلطان غنی عارف طاھری شہید



ترتیب وتخریج
محمد طاھر توحید یار
ابن شیخ عارف طاھری (شہید)

۵



المکتبۃ الطاھریۃ
کھوئی برمول مردان 0345-9367242

جماعت اشاعت التوحید والسنہ کے علماء کی
تصانیف کو سکین کر کے PDF فارمیٹ میں
علماء، طلباء اور عوام کو پیش کرنا ہمارا مشن اور
محنت ہے لہٰذا کتاب کا مطالعہ کرتے وقت ہمیں
دعاؤں میں یاد رکھیں شکریہ



منتظم اعلیٰ: ابو معاذ خٹک

معاونین:
مولانا عبدالکریم
مولانا اکرام گل
مفتی ابو عتبان فداء الرحمان عابد

رابطہ نمبر: 03149958550

قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : ان من البيان لسحرا

خطبات عارفي

٥

من افادات

شيخ القران والحديث حضرت مولانا
سلطان غني عارف طاهرى

ترتيب وتخريج

محمد طاهر توحيد يار

الناشر

المكتبة الطاهرية

كهوني برمول مردان

٠٣٤٥٩٣٦٧٢٤٢

تول حقوق محفوظ دي

د کتاب نوم: **خطبات عارفي**

من افادات: شيخ القران والحديث شهيد مظلوم حضرت مولانا
سلطان غني عارف طاهری (شهيد)

جلد: پنځم

ترتيب وتخريج: محمد طاهر توحيد يار
ابن شيخ عارف طاهري (شهيد)

مطبعه: **مكتبة الاشاعة**
محله جنكي پشاور

الناشر: **المكتبة الطاهرية**
كهوني برمول مردان
۰۳٤٥-۹۳٦۷۲٤۲

فهرس الكتاب

غرض مرتب ۱۵
موضوع : دشعبان حقیقت ۲۵
د عمل د قبلیدو شرطونه ۲۵
میاشتی او د هغی پوری بدعات خاص کول ۲۸
د شعبان میاشت ۲۸
د حضرت عائشی رضی الله عنها اول روایت ۳۰
د عمران ابن حصین رضی الله عنه روایت ۳۱
د هر کل او د هر زیارت په ورځ باندې روژه نیول ۳۳
د هري میاشتې دیارلسمه څوارلسمه پنځلسمه ورځ باندې روژه نیول ۳۳
د حضرت عائشی رضی الله عنها دوئم روایت ۳۴
د ثَمَّ يصِلِهُ بِرَمَضَانْ تفصیل ۳۴
د شعبان د روجو تپوس او د نبی صلی الله علیه وسلم جواب ۳۷
د حضرت سلمان رضی الله عنه روایت ۳۸
دشعبان په فضیلت کې موضوعی روایات ۴۰
دوئم موضوعی روایت ۴۳
د نصف شعبان حقیقت ۴۴
دروغ کو را حافظه نه باشد ۴۵
د لیلة المبارکه نه سه مراد دی ۴۶
هره شپه الله بخشش کوی ۴۸
د شعبان د میاشتی بدعات ۴۹

د شعبان بعضي عبادتونه او د اِبْنُ اَبِي الْحَمْرَاء حقيقت..... ٥٠
امام غزالي رحمه الله او د شعبان د مياشتی عبادت ٥١
د امام مالک رحمه الله وينا ٥٣
کوم عمل چه نبی ﷺ نه دي کړي اوته ئي کوی نو بدعت دي..... ٥٤
دسنتو مقام او مرتبه..... ٥٧
د عبدالله ابن عمر رضی الله عنه واقعه ٥٨
د حضرت علي کرم الله وجهه واقعه..... ٥٩
د علامه شبير احمدعثماني رحمه الله وينا ٦٠
د شعبان د روجو فضيلت..... ٦١
اختتام..... ٦٢
د مجوسو سره مشابهت..... ٦٢
فضائل ومسائل رمضان (١)..... ٦٤
تمهيد ٦٤
د رمضان فضيلت..... ٦٤
د رمضان خصوصيت..... ٦٧
د جبرئيل عليه السلام خيري او د نبی ﷺ امين وئيل ٦٨
رمضان کي الله پاك دخلقو ګناهونه معاف کئ ٧٠
رمضان انسان ته د انسانيت دعوت ورکوی ٧٠
رمضان د تربيت مياشت ده ٧٢
د رمضان د پاره د نبی صلی الله عليه وسلم دعا غوختل ٧٣
د عبادات اسرار څه دی ؟ ٧٤

د روژي دپاره مونږ له څکي نه څه پکار دی؟ ۷۵
د فقهاء رحمهم الله اقوال ۷۶
اقوال الفقهاء وعامة العلماء ۷۷
د میاشت د لیدو ضرورت کله وي ؟ ۸۲
د رمضان اعلان او د خلقو رویه ۸۳
د خلقو دری اختری کول ۸۴
رمضان د عبادت میاشت ده ۸۵
د حضرت ابو هریره رضی الله عنه روایت ۸۵
د حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهما روایت ۸۷
د حضرت ابو بکره رضی الله عنه روایت د رمضان د ورځو باره کې ... ۸۸
نبی صلی الله علیه وسلم په کومه میاشت کې زیاتی روژي نیولي ؟ ۹۰
د امهات‌المؤمنین روایات ۹۱
د میاشتی د لیدو دپاره یو څواصولی خبری ۹۲
واخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمین ۹۵
فضائل ومسائل رمضان (۲) ۹۶
روژه ماتي او پیشمني ۹۶
د پیشمنی فضیلت ۹۷
د روژه ماتی طریقه څه ده؟ ۹۹
صوم وصال څه وائی ؟ ۱۰۱
دیر عملونه‌خاص دی د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم پوری ۱۰۴
د روژه ماتی فضیلت ۱۰۵

روژه ماتي په څه باندی مستحب دي ؟ ١٠٦
روژه دار له روژه ماتي اغستل ١٠٩
د روژه ماتي په وخت کي دعا ١١٠
د دين د غلبي دپاره څه پکار دي ؟ ١١٣
دبدرجنګ او د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم دعا غوختل ١١٤
د افطارتادی د انسان د بي وسۍ علامه ده ١١٦
د ابوعطیه او مسروق رحمهم الله واقعه او د حضرت عائشي رضی الله عنها
نه تپوس کول ١١٧
د عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه فضیلت ١١٨
د ام المؤمنین حضرت عائشی رضی الله عنها علمی مقام ١١٨
د خیر او برکت ډك خوراك ١١٩
په روژه کي به څه کوي ؟ ١٢٠
منافذ دوه قسمه دي ١٢٦
د حضرت سلمان رضی الله عنه روایت ١٢٧
فضائل ومسائل رمضان (٣) ١٣٠
تمهید ١٣٠
په روجه کي د عبادت فضیلت ١٣٠
د نبي صلی الله علیه وسلم فرمان ١٣٣
د روژه دار فضیلت ١٣٤
روژه د ګناهونو نه ډال دي ١٣٥
دحضرت ابوهریره رضی الله عنه روایات ١٣٥

د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم ممبر ته ختل..... ۱۳۸
د رمضان میاشت د بخښش میاشت ده..... ۱۴۰
روژی نیول پکار دی..... ۱۴۱
رمضان او قران به بنده له سفارش کوی..... ۱۴۳
د لیلة القدر فضیلت..... ۱۴۴
د نبی صلی الله علیه وسلم بیان..... ۱۴۶
د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم طریقه څه وه؟..... ۱۵۱
د رمضان د پاره جنت سینګارول..... ۱۵۲
دجناب رسول الله صلی الله علیه وسلم امت ته بخنه..... ۱۵۳
متفرق مسائل..... ۱۵۴
نفلی روژی..... ۱۵۸
د شوال شپږ روژي نیول..... ۱۵۸
تفسیرسورة اخلاص..... ۱۶۲
د سورة اخلاص فضیلت..... ۱۶۲
د سورة اخلاص تشریح..... ۱۶۴
د کافرو اقسام..... ۱۶۴
د مشرکینو عقائد..... ۱۶۵
د امام شاه ولي الله رحمه الله وینا..... ۱۶۸
د معاویه بن قرة بن إیاس رضي الله عنهم واقعه..... ۱۶۹
د قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ تشریح او د حدیث جبرائیل بیان..... ۱۷۲
د اقامت الصلاة معني..... ۱۷۶

دجماعة المسلمين والو نه تپوسونه ۱۷۸
کوم اسلام غوره دي ۱۷۹
دجبرائيل عليه السلام دويم تپوس ۱۸۰
بَلْ يَدَاهُ مَبْسُوطَتَانِ تشريح ۱۸۰
د الله صفات او دبنديانو صفات او د دوانړو فرق ۱۸۱
د موسي عليه السلام او خضر عليه السلام واقعه ۱۸۲
د عمر بن خطاب او د عبد الله ابن مسعود رضي الله عنهما واقعه ... ۱۸٤
د الله او د بنديانو صفاتو په منځ کي فرق ۱۸۷
سماع الموتى ۱۹۱
نفي سماع الموتى ۱۹۲
عالم بکل شئ هو الله ۱۹۷
د حضرت عکراش رضي الله عنه واقعه ۲۰۰
نبي صلي الله دوډۍ خوړه او که نه ؟ ۲۰۲
الله لرى دي او که نزدي ؟ ۲۰٤
اواز به صرف الله ته کوي ۲۰٦
سورة زخرف کې د روحانيت اود مادیت مقابله ۲۰۸
د مولیانواو پیرانو فرائض ۲۰۸
اهميت رمضان ۲۱۳
تمهيد ۲۱۳
د رمضان المبارك او د قران نسبت ۲۱٤
په رمضان کی د جبرئيل عليه السلام راتګ او د نبی صلی الله عله وسلم

سره قران لوستل ۲۱٤
د رمضان او د قران د مناسبت او د جناب رسول الله ﷺ تقریر کول. ۲۱۵
په رمضان کي الله ګناهونه معاف کوي ۲۱۷
زمونږ د احترام میاشت رمضان ده ۲۱۸
قران عظیم الشان څنګ کتاب دي؟ ۲۱۸
د قران د اوریدو مقصد ۲۱۹
د قران شان ۲۲۰
د قران لوئي مقام دي ۲۲۱
د قران بیانول او د ابولهب ګزار کول ۲۲۱
د قریشو د قران نه انکار کول ۲۲۳
د قران سره رشته کول ۲۲٤
د قران مینه او د دشمن مقابله کول ۲۲۸
د صحابو ایمان د قران د وجي نه وو ۲۳۱
قرانی انقلاب ۲۳۲
د قران سره مینه کول پکار دی ۲۳۲
د انجیل منونکی به په قران فیصلي کوي ۲۳۳
قران څان له یو مستقل نظام دي ۲۳٤
قران او دوو څیزونو ترغیب ۲۳۵
د الله دربار د نا اُمیدي دربارنه دي ۲۳٦
د الله او د بنده شان عجیبه دي ۲۳۷
سلطان باهو رحمه الله قول ۲۳۸

غم ښادی د نبی صلی الله علیه وسلم د طریقي مطابق پکار دی ۲۳۸
د اختر د مونځ او د هغي مقام ۲۳۹
د اسلام طریقی خپلول پکار دي ۲۴۱
د شپي جنازه کول ۲۴۲
د ایت تفصیل ۲۴۳
عزت په قران کی دي ۲۴۴
د مسلمانانو د عزت سبب ۲۴۶
دعا ۲۴۷
د متحده مجلس کردار ۲۴۸
تمهید ۲۴۸
د انبیاء علیهم السلام جماعت ۲۴۹
د حضرت خباب رضي الله عنه واقعه ۲۴۹
د اشاعة التوحیدوالسنة مشن د انبیاء مشن دي ۲۵۱
د جناب محمدرسول الله صلی الله علیه وسلم ډیوتي ۲۵۱
د اشاعة التوحیدوالسنة مشن د انبیاء مشن قران بیانول دي ۲۵۳
جناب رسول الله صلی الله علیه و سلم او دتوحید بیان ۲۵۳
د وفات په وخت کي د نبي صلی الله علیه وسلم بیان ۲۵۴
د جناب رسول الله صلی الله علیه و سلم خصوصیت ۲۵۵
زمونږ ملکري او د خلقو د هغوئي سره بائیکاټ ۲۵۶
د ابراهیم علیه السلام دعا ۲۵۶
د ملك پاکستان مختلف ډلی ۲۵۷

دویمه ډله ۲۵۷
جمهوریت د چا نظام دي ؟ ۲۵۷
د طالبانو په افغانستان کي حکومت ۲۵۸
امریکه او د شریعت محمدی سره دشمنی ۲۵۸
جمهوریت د امریکي دین دي ۲۵۹
حضرت ابو بکر رضي الله عنه سنګه خلیفه شوي وو ۲۶۰
د مولیانو نه تپوس ۲۶۱
د مولوی فضل الرحمن حقیقت ۲۶۱
د حضرت عمر رضي الله عنه خلافت ۲۶۲
د خلیفه انتخاب او د هغي طریقه ۲۶۲
د حضرت ابو موسی الاشعري رضي الله عنه واقعه ۲۶۴
اي خلقو : ووټ به نه ورکوو ۲۶۵
د ووټ د پاره د خلقو راتګ او زما تپوسونه ۲۶۶
د مولیانو د جماعت اسلامی خلاف کول ۲۶۷
فضائل الصحابة ۲۶۸
توقیر الصحابة ۲۷۰
اسیر مالټا کانفرس ۲۷۲
د سیاسو پارټو په یو بل الزامونه ۲۷۳
د بهټو خلاف د نهه ۹ پارټو اتحاد ۲۷۳
په اسلام کي د انتخاب دپاره څلور طریقي دي ۲۷۴
د نجات کتاب قران دي ۲۷۵

مولانا صوفی محمد او دهغه تحریك ۲۷٦
د مولانا صوفی محمد سره ملاقات ۲۷۷
حضرت ابو بکر رضی الله عنه تقریر ۲۷۷
د ووټ نه ورکولو وعده ۲۷۸
د حیدر هوتی واقعه ۲۷۹
ووټ ورکول په خیر القرون کی نشته ۲۷۹
اسلام او امن ۲۸۰
د ایتونو تشریح ۲۸۱
د الله نعمتونه ۲۸۲
انبیاء ټول محتاج دی ۲۸۳
د جماعت المسلمین حقیقت ۲۸٤
فضیلت قران ۲۸٦
تمهید ۲۸٦
د قرآن عظیم الشان فضیلت ۲۸۷
د صحابو مقام او شان ۲۸۹
د قرآن عظیم الشان مرتبه د رسول الله ﷺ د مرتبي نه هم اوچته ده ۲۹۰
د صحابو قربانی د اسلام د پاره وه ۲۹۲
د قران بیانونکو فضیلت ۲۹۲
د ایتونو تشریح ۲۹۳
د انسانیت دار مدار د قرآن عظیم الشان سره په تعلق باندی دی ۲۹۵
د فقه اهمیت ۲۹۷

امام ذهبي رحمه الله وينا..... ۲۹۸
يحي بن معين رحمه الله په فروعو کي حنفي وو..... ۳۰۰
انسان ته فقاهت ورکول د الله د طرف نه خير دي..... ۳۰۰
د اسلام غټ غټ مصادر..... ۳۰۱
غيرمقلدين نه پوهيکی او نه پکي سوچ شته..... ۳۰۲
امام پسی فاتحی نه وئيل..... ۳۰۳
د مقتدی حکم څه دي ؟..... ۳۰٤
قران خلق رنړا ته راوباسی..... ۳۰٦
د زنانو مدارس او د هغی کردار..... ۳۰٦
زنانه د نارينه دپاره وزير دي..... ۳۰۷
قران کي د نارينه او زنانه ذکر او مقام..... ۳۰۷
د زنانو د بعض نارينو سره د نکاح حرمت او د هغی راز..... ۳۰۸
د نارينو د بعض زنانو سره د نکاح حرمت او د هغی راز..... ۳۱۱
چاته په ځوی وئيلو سره د هغه نه ځوي نه جوړيږی..... ۳۱۳
د کومی زنانی سره نکاح کول پکار دی..... ۳۱٤
چه شرک وکی نکاح ئې ماتيکی..... ۳۱۸
عالم الغيب صرف الله دي..... ۳۱۹
ابراهيم عليه السلام په غيب نه پوهيدو..... ۳۲۰
لوط عليه السلام په غيب نه پوهيدو..... ۳۲۰
نبی صلی الله عليه وسلم په غيب نه پوهيدو..... ۳۲۱
ټول انبياء په غيب نه پوهيدل..... ۳۲٤

اصحاب کهف په غیب نه پوهیدل ٣٢٥
د مخدوم ابو الحسن داهری اشعار ٣٢٥



بسم الله الرحمن الرحيم

غرض مرتب

الحمد لله حمد الشاكرين والصلاة والسلام على سيد الاولياء وامام المرسلين و على آله واصحابه الطيبين الطاهرين خصوصاً على ائمة المهتدين و خطباء الامة العارفين من جماعة اشاعة التوحيد والسنة المتمسكين بالكتاب والسنة المتين اما بعد:

فاعوذ بالله من الشيطن الرجيم * بسم الله الرحمن الرحيم

مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُمْ مَنْ قَضَى نَحْبَهُ وَمِنْهُمْ مَنْ يَنْتَظِرُ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلًا* لِيَجْزِيَ اللَّهُ الصَّادِقِينَ بِصِدْقِهِمْ وَيُعَذِّبَ الْمُنَافِقِينَ إِنْ شَاءَ أَوْ يَتُوبَ عَلَيْهِمْ إِنَّ اللَّهَ كَانَ غَفُورًا رَحِيمًا

الله جل شانه په دې ځمکه باندې دوه سلسلې جاري ساتلې دي چې يوه سلسله د نور رنړا هدايت رشد والاده او بله سلسله د ظلمت تيارې ګمراهۍ او تباهۍ ده.

د وړومبۍ سلسلې علمبرداران او داعيان خو يا د آدم عليه السلام په شکل کې راغلي وو نو د شيطان مقابله ئې کړې وه يا د نوح عليه السلام په شکل کې وو نو ود سواع يغوث يعوق او نصر او دغه رنګه د نورو شرکي معبودانو خلاف ئې نعره لګولې وه يا د ابراهيم عليه السلام په شکل کې چې د نمرود مقابله ئې کړې وه يا د موسى عليه السلام په شکل کې چې د فرعون مقابله ئې کړې وه يا د حضرت عيسى عليه السلام په شکل کې چې ترديد د تثليث ئې کړي وو.

په آخر کې بیا حضرت محمد صلی الله علیه وسلم چې مشهور په خطیب الانبیاء او خطیب الرسل وو د داسې خلقو استاذ چې دنیا کې د هغوئي کارنامې قربانیاني همدردی، اخلاق او معاشره بطور مثال پیش کولی شي.

خصوصاً داسې خطیبان چې سمندر ئې کوزه کې بنده وو یا د جوامع الکلم زرخیزه څمکه حسابیدله او مقابله ئې د وخت د فصحاؤ او بلغاؤ سره وه چې هغوئي خپل کمال او هنر د توحید په مقابله کې خرچ کولو او صحابه کرامو ئې مقابله کوله نو یوه ډله د اولیاء الرحمن وه او دویمه ډله د اولیاء الشیطان وه.

اوله ډله د توحید علمبرداران او داعیان وو او دویمه ډله د شرک بدعت د تیارو ټیکهداران وو.

کوم کاروان چې د انبیاء علیهم السلام او د صحابه کرامو رضي الله عنهم وو نو د دغه کاروان ملګري او د دغه کشتۍ سواره د صحابه ؤ نه پس تابعین بیا تبع تابعین او بیا محدثین ائمه مجتهدین وو.

په آخر کې د دې ګلستان مالیاران علماء دیوبند رحمهم الله وو چې د وخت په هر ضرورت ئې خپل صلاحیتونه استعمال کړل. د قلم په څوکه د توري په تیره طرف د مال په قربانی، د بچو او خاندان سره په مقابله کولو او وطن نه علاوه خارجي استعمار بهرپور مقابله ئې خپله شیوه او عادت ئي جوړ کړی وو او بیا په تیره تیره خصوصاً د یوسفزو په خاندان د یوې زمینداري کورنۍ په منځ کې یو داسې نمر راوخیژولو چې رنړا ته ئې ټول مشالونه او

ډيوې بې نوره لګيدلې چې نامه ئې شيخ القران والحديث جامع المعقول والمنقول قدوة الخلف بقية السلف حضرت العلامه محمد طاهر پنج پيري رحمه الله وو.

چا چې د قران کريم مشن او د قران کريم اواز پاکستان کې خصوصاً او دنيا کې عموماً اوچت کړی دی او د هغه د مجلس تمام شاګردان د يو ولي الله په حيث د قران کريم خادمان او علمبرداران يادېږي.

د دغه باغ يو ګل د مردان په غيرتي خاوره کوهی برمول تحصيل کاټلنګ کې هم راټوکيدلی وو چا چې خپل ژوند او زندګي اشاعت لره وقف کړې وه او بيا د وفاداری سره د دغه خدمت آخري سلګی پوري داعي او خادم پاتې وو.

څوک چې په حالاتو باندې دردېدلی خو تبنستيدلی نه دي. مشکلات ئې زغملي خو بدل شوی نه دی. اکثره حصه ئې د توحيد په خدمت او د قران کريم په اشاعت او د حق په محبت باندې صرف کړې ده د چا قرباني او شهادت چه نن هم د جماعة اشاعة التوحيد د پاره د فخر او عظمت يو لويه وسيله ده.

په خپل ژوند ئې مختلف حصو د دين لره وخت ورکړی وو چې يو حصه ئې په دعوت کې هم صرف کړې ده او د عوام الناس د اصلاح د پاره په ساده پښتو کې بيانات او خطبې په مختلفو مجلسونو کې په مختلفو موضوعاتو باندې موجود دي

زما مراد زما والد محترم زما مربي زما استاد شيخ القران والحديث شهيد مظلوم حضرت مولانا سلطان غني عارف طاهري دي.

چې د علم یو نمر ا ود فکر سمندر د الفاظو ذخیره چې دنیا ئې د مثل پیش کولو نه عاجز ده چې نوم ئې د افتاب په شان خلیدونکی او د مهتاب په شان بلیدونکی دی.

داسې انسان چې د هر عالم د زړه محور ئې نیولی وو او د طالبانو د زړه تسکین وو د مسائلو عام فهم حل وو او د عوامو پښتنو په ساده پښتو کې پوهوونکی خطیب چې د وخت کشمیري او اشرف علي تهانوي یا محمود الحسن دیوبندي او ترجمان د دیوبند وو.

شیخ القران والحدیث شهید مظلوم حضرت مولانا سلطان غني عارف طاهري په سنه ۱۹۵۰ کې په کهوئي برمول ضلع مردان صوبه خیبر پختونخواه د جناب عبدالعلي صاحب په یوه غریبه کورنۍ کې پیدا شو. د لسم پورې عصري تعلیم او لږ غوندې دیني تعلیم ئې په خپل کلي کهوئي برمول کې حاصل کړو.

په عصري علومو کې په اوچتو نمبرو کامیاب شو او په خپله علاقه کې اول نمبر راغې او د هغه وخت د حکومت د طرف نه ورته ماهانه وظیفه هم مقرر شوه.

چونکه زمانه د جاهلیت وه نو مور او پلار ورته دا ووئیل چې چرته سرکاري نوکري شروع کړه خو د شهید مظلوم حضرت مولانا سلطان غني عارف طاهري د علم دین حاصلولو سره مینه وه نو دخپلې دیني تندې دختمولو د پاره لائل پور (فیصل اباد) ته لاړو اکثریه فنون ئې په سوات چکیسر او مارتونګ کې اووې.

دوره حدیث ئې په پنج پیر کې د شیخ العرب والعجم شیخ القران مولانا محمد طاهر پنجپیري رحمة الله علیه نه وکړه. او د بخاري

شریف او د مسلم شریف قاري هم دوي مقرر شو.
د شیخ العرب والعجم شیخ القران مولانا محمد طاهر رحمة الله علیه په شهید مظلوم باندي ډیر لوئي اعتماد هم وو.
د فراغت نه پس مدرس مقرر شو او د ديني علومو خدمت ئي شروع کړو د دوو کالو د تدریس نه پس ئي دوباره دوره حدیث د استاذ العلما محدث دیوبند قاضي شمس الدین رحمة الله علیه نه په په جامعه صدیقیه ګجرانواله کي وکړه.
هر کله چه قاضي شمس الدین رحمة الله علیه شهید مظلوم له داحادیثو سند ورکوو نو په هغي ئي ورته دا الفاظ ولیکل.
جامع المعقول والمنقول شیخ القران والحدیث حضرت مولانا سلطان غني عارف طاهري. او دا د شهید مظلوم په قابلیت دلالت کوي.
د دي نه پس په دارالعلوم تعلیم القران رستم کي مدرس شو اوتقریبا لس کاله ئي هلته ديني خدمت وکړو. او بي شمیره شاګردانو تري نه د قران او حدیث ملغلري زده کړي.
هر کله چه مولوي عبدالسلام صاحب دجماعت نه بیل شو نوشهید مظلوم هم د هغه سره خپل هرقسم تعلقات ختم کړه.
هلته نه ئي خپله بستره وترله اوخپل ابائي کلي کهوئي برمول ته راغي اوخپل کلي کي ئي ددین خدمت شروع کړو.
د یو څو کالو دتدریس نه پس مالي پریشانو دوجي نه سعودي عرب ته سفروکړو او هلته په یوه مذرعه (پتي) کي نوکرشو.
چونکه شهید مظلوم الله جل جلاله دخپل دین دخدمت دپاره پیدا

کړي وو دزمیداریځ د پاره نه نوپه سعودي کي په یو دار التحقیق کي مقرر شو او هلته ئي په حدیثو باندي تحقیق شروع کړو او تقریبا لس کاله ئي دغه مشغله وه ددغي مشغلي سره سره ئي د قران خدمت هم کولو اوپه ریاض کي ئي دقران دوره شروع کړو.

چونکه داهل حق کار د هرقسم باطل رد کول دي او د هر قسم باطل خلاف کول دي نو په دي زمانه کي هغه باطل چه جامه ئي د دین اغوستي ده اوددین مخالفین دي او دجناب رسول الله صلي الله علیه وسلم ددي قول مطابق دي چه په آخري زمانه کي به خلق راشي ژبي به ئي دګبین نه خوګي وي ظاهرلبا س به ئي ډیر ښکلي وي خو زړونه به ئي د شرمخانو وي .زما مراد نام نهاد اهل حدیث غیرمقلدین دي.

د هغوئي تردید ئي په ډیرزورشورسره شروع کړو نو د ریاض غیر مقلدینو په شهید مظلوم باندې د هغه وخت ګورنر ملک سلمان ته شکایت وکړو او ملک سلمان ولګیده او شهید مظلوم ئې ګرفتار کړو او ویزه ئې ورله ختمه کړه ۵ اکتوبر ۲۰۰۵ م کې په خروج نهائي سره پاکستان ته په سفر کړو.

خو فعل الحکیم لا یخلو عن الحکمة دا سفر د شیخ عارف طاهري شهید د پاره ډېر ښه وو زکه چې خپله علاقه کې ئې ددین خدمت شروع کړو او تقریبا ۴ کاله ئې د دین ښه پوره خدمت وکړو او د ملک مختلفو علاقو ته ئې ددین د بیان د پاره سفرې هم وکړې.

هر کله چې په ۲۰۰۷ م کال کې د سوات انقلاب شروع شو نو

شهید مظلوم د بعضي کارونو په ډېري سختی سره مخالفت وکړو او د خلاف شرع کارونو نه ئې زان وساتلو.

خو فاذا جاء اجلهم لا يستآخرون ساعة ولا يستقدمون د دربار لايزال نه ئي نيټه پوره شوی وه او د دوه زره نهم ميلادي کال د لسمې مياشتې په ۱۳ نيټه پاکستاني فوج شيخ عارف طاهري ګرفتار کړو او د يوي مياشت د قيد و بند د تکليفونو برداشت کولونه پس ئي په ۲۰۰۹ م کال د ۱۱ مياشتې په ۱۲ نيټه ئې شهيد مظلوم د بونير علاقې کړاکړ کې شهيد کړو او په څلورمه ورځ د شهيد مظلوم جسد مبارک بغير د غسل او کفن نه په خپل ابائي کلي کهوئي برمول کې دفن کړی شو.

تر ننه پورې دامعلومه نه شوه چې شهيد مظلوم په څه بندي شو او بيا کوم داسې غټ جرم وو چې د شهادت په لويه مرتبه فائز کړی شو انما اشکوا بثي وخزني الي الله الى الله المشتكي انا لله وانا اليه راجعون . والله عزيز ذو انتقام

لکه څنګه چې ما مخکې ووئيل شهيد مظلوم به د ملک پاکستان اکثرو علاقو ته سفرونه کول او ددين خدمت د پاره به ئې په مختلفو پروګرامونو کې بيانات کول.

د هغوئي اکثره بيانات بنده عاجز ريکارډ کړي وو د هغوئي د شهادت نه پس چونکه مشکلاتو زمونږ په کور کې يو مستقل ځائي جوړ کړو او دمختلفو وجوهاتو په بنا باندې بنده عاجز تقريبا پنځه کاله راهيسې د کور نه بهر وو.

د اوس د الله په فضل واحسان بنده عاجز په خپل کور کې دي او

تکلیفونه او مصیبتونه د الله په فضل واحسان سره ختم شو)

ذالک فضل الله علینا وعلي الناس ولکن اکثر الناس لا یشکرون

د الله رب العزت لاک لاک شکر دی چې دا د هجرت زندګي اګر چې یو طرف ته د تکلیفونو او مصیبتونو نه ډکه ده خو بل طرف ته د الله اربها کربها احسانات هم وو چې د دې دومره تکالیفو باوجود الله رب العزت بنده عاجز له توفیق ورکړو او د شهید مظلوم هغه علم نکات چه اهل علم هغي ته تګي ناست وو د الله رب العزت په فضل د چهاپ میدان ته شول او تقریبا یولس (۱۱) کتابونه د ملګرو لاسونو ته ورسیدل.

(۱) نظم المرجان من مشکلات القران (۲) الجواهر العارفیة في المسائل الاختلافیة (۳) التحفة العارفیة في المسائل الاختلافیة (۴) البرهان الجلي في خیاة النبي صلي الله علیه وسلم (۵) ذم الغناء دډمتوب نقصانات (۶) خطبات عارفي جلد اول (۷) خطبات عارفي جلد دوم (۸) خطبات عارفي جلد سوم (۹) خطبات عارفي جلد چهارم (۱۰) مناهل العرفان في اصول القران (۱۱) ادراك الرکعة بادراك الرکوع (۱۲) د جهنډي شرعي حیثیت او د نبي صلي الله علیه وسلم دجهنډي رنګ

این سعادت به زور بازو نیست تا نه بخشد خدائی بخشنده

ددې ځنځیر یوه کړۍ د شهید مظلوم د خطباتو مجموعه خطبات عارفي چې د شهید مظلوم د بیاناتو نه لیکل شوې ده د تحقیق او تخریج سره پنځم جلد انشا الله ستاسو په لاسونو کې ذي.

چه دا زما ګران او محترم رور لکه هر یو اعجاز احمد عارفی او

ضیاء الله شاه عارفی راجمع کړي دي او دا ته خطبات دي.
چونکه د شهید مظلوم اکثره بیانات هغه په علمي نکاتو باندې مشتمل وو او اکثریه بیانات دهغوئي دعلماو او طلباو دپاره قابل قدرتحفه وه.
نود ملګرو په اسرار باندي اودالله رب العزت په توفیق باندي بنده عاجزپه دي کارشروع کړو او پنځم جلد هم مرتب شو سره د عنواناتو،ترتیب او تخریج نه بفضله المنان.
په دي خطباتو کي تخریج داحادیثو اودایتونو دالمکتبة الشاملي نه شوي دي اګرچه اکثرو ځایونو کي باب جلد نمبر صفحه نمبر هم ذکر شوي دي خوکه بیا هم څه مشکل وي نو المکتبة الشاملي ته رجوع کولي شي.
چونکه دبیان او دتحریرنهج جداجداوي اوبنده عاجزدخپلي کم علمئ او کم عقلئ اعتراف هم کوي خوبعضي ځایونوکي رد و بدل مونږ کړي دي ددي دپاره چه ترتیب برابر شي او نهج تحریر هم څه برابر شي اګرچه دا زمونږدبس کارهم نه وو.
بعضي حوالي چه شهید مظلوم ذکرکړي دي دډیرکوشش باوجود بنده عاجز میلاونه کړي خو بیا هم د هغي د تائید دپاره نور روایات ذکرکړي شوي دي.
دانساني استعداد موافق مونږکوشش کړي دي چه څه قسم غلطي نه وي خوبیا هم دانسان کتاب د غلطیانونه نه خالي کیږي.
په دي کتاب کي که څه علمي جواهرات تاسو ته په نظر ښکاري نودا د بنده عاجزکمال نه دي بلکه دا کمال دشهید مظلوم مربي

ووالدي شيخ القران والحديث شهيد مظلوم حضرت مولانا سلطان غني طاهري دي او كه څه غلطي وي نودابه د بنده عاجزكم علمي وي.

لكه څنګه چه شهيد مظلوم په خپل كتاب العرفان في اصول القران كي ذكر كړي دي.

فان اطلعت خطاء فيه فلاتنسبه الى شيخنافان هذامني واناأعجبک حسن التوضيح وبيان المقصدفعليک بمدح الشيخ والدعاء له.

نودغلطئ نسبت بنده عاجز ته كوئي اوكه كومه ملګروته غلطي معلومه شي نوبنده عاجزته اطلاع وركړي چه په راتلونكي ايډيشن كي دغلطئ اصلاح اوشي.

درخواست: تولوملګروته دا درخواست دي چه شيخ القران والحديث شهيد مظلوم مولانا سلطان غني عارف طاهري په خپلو خصوصي دعاګانو كي مه هيروئي.

او د بنده عاجز د پاره هم دعاګاني كوئ چې الله رب العزت زما نه تر مرګه پوري ددين خدمت واخلي او دا سلسله الله رب العزت جاري وساتي. .. امين.

محمدطاهر توحيديار بن شيخ القران والحديث شهيد مظلوم حضرت مولانا سلطان غني عارف طاهري شهيد رحمة الله عليه

موضوع: دشعبان حقیقت

الحمدُ لله الحمدُ لله رب العالمين

والصلوة والسلامُ علي سيدالاوّلين والاخرين

وقاعِدِ الْغُرِّ الْمُحَجَّلِينْ

سَيدِنا محمدنِ المبعوثِ الي الْخَلْقِ اَجْمَعِين

وَعَلي آلِهِ اَلطَّيبِينَ وَاَصْحَابِهِ اَلطَّاهرين

وَعَلي أَزْواجِهِ الطَّاهراتِ أُمَّهَاتِ الْمُؤمنِينَ

وَعَلي عُلمَاءِ أُمَّتِهِ اَلْمُتقِين اَلْمُقْتَفِينَ اَثَارَهُ اِلَي يوْمِ الدِّينَ

اَمَّا بَعْدُ

فَاَعُوْذُ بِالله مِنَ الشَّيطَنِ الرَّجِيم

بسم الله الرحمه الله من الرحمه الله يم

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِمَنْ كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيرًا: (۱)

دعمل د قبليدو شرطونه

د مسلمانانو د هريوعمل د قبوليت د پاره دوه شرطونه دي په هغي کي اول شرط دادي چي يوسړي عمل کئ اودا عمل خالص د الله د پاره وکي.

خالص د الله د پاره ددي معني دا ده چه په هيڅ يو مرتبه کي هيڅ قسم انسان نه نبي نه ولي نه عام او نه خاص په دي عمل کي حصه دار ونه ګرځوي او عمل خالص د الله د پاره وکړي د الف نه

۱- سورة احزاب (۲۱)

واخله تر ئي پوري په عمل کي اخلاص وي او دا صرف او صرف د الله رب العزت دپاره وي دا د عمل د قبوليت دپاره اول شرط دي.
نبي صلى الله عليه وسلم فرمائي وائي الله رب العزت فرمائي.
عن أبی هريرة قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم قال الله تبارك وتعالى أنا أغنى الشركاء عن الشرك من عمل عملاأشرك فيه معى غيرى تركته وشركه : ([1])
زه په حصه دارانو کي د حصي نه ډير بي پرواه يم چا چه يو عمل وکړو او په دي عمل کي زما سره بل څوک حصه دار وګرځولو نو دا عمل زما نه دي پکار.
دا رنګه سورة انعام کي الله رب العزت فرمائي.
وَجَعَلُوا لِلَّهِ مِمَّا ذَرَأَ مِنَ الْحَرْثِ وَالْأَنْعَامِ نَصِيبًا فَقَالُوا هَذَا لِلَّهِ بِزَعْمِهِمْ وَهَذَا لِشُرَكَائِنَا فَمَا كَانَ لِشُرَكَائِهِمْ فَلَا يَصِلُ إِلَى اللَّهِ وَمَا كَانَ لِلَّهِ فَهُوَ يَصِلُ إِلَى شُرَكَائِهِمْ سَاءَ مَا يَحْكُمُونَ : ([2])
دمکي کافرو به اعمال کول سه د الله دپاره او سه د مخلوق د پاره يو قسم عمل به وو نيم به ئي مخلوق لره وکړو او نيم به ئي الله لره وکړو الله رب العزت فرمائي دا ما لره چه ئي کوم عمل کړي دي دا هم داسي بي فائدي دي لکه څنګه چه ئي مخلوق لره کړي دي.
نو يو د عمل د پاره شرط دادي چه په هغي کي اخلاص ډير وي.
حافظ ابن کثير رحمه الله يو ځائي کي ليکلي دي.
فإن للعمل المتقبل شرطين أحدهما أن يكون خالصًا لله وحده والآخر

---

[1] - صحيح مسلم : جلد ۸ صفحه ۲۲۳ باب من أشرك فى عمله غير الله
[2] - سورة انعام (۱۳٦)

أن يكون صوابًا موافقا للشريعةفمتى كان خالصًا ولم يكن صوابًا لم يتقبل ولهذا قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من عمل عملا ليس عليه أمرنا فهورد : (۱)

هغه عمل چه هغه د الله په دربار کي د قبولتيا وړ وي د هغي د پاره دوه شرطونه دي اول شرط دادي چه په هغي کي به اخلاص وي.

که يو سړي الله ته آواز کولو او کله کله ئي پکي اُووي چه پيره بابا راورسيګي نو دا الله ته آواز ئي هم بي فائدي دي.

يو سړي د الله په نوم نذر ورکولو او کله کله ئي پکي د غير الله په نوم نذر ورکړو د پير بابا د لوئي څوان د کاکا صاحب نو دا عمل هم بي فائدي دي.

دا کوم عمل چه دي ورته ښه وائي الله فرمائي.

وَقَدِمْنَا إِلَى مَا عَمِلُوا مِنْ عَمَلٍ فَجَعَلْنَاهُ هَبَاءً مَنْثُورًا : (۲)

هغه عمل به والوزوم دړي وړي به ئې کړمه

نو اول شرط د عمل د قبوليت د پاره دادي چه دا عمل به خالص د الله د رضى [redacted] د پاره وي.

دويم شرط دادي : چه دابه د سنتو مطابق وي.

۱- تفسير ابن كثير جلد ۱ صفحه ۳۸۵

۲- سورة فرقان (۲۳)

میاشتی او د هغی پوری بدعات خاص کول

زمونږ دمسلمانانو په دي عامو میاشتو کي په بعض میاشتو پوري سه بعض عملونه خاص کړي دي او د تیرو دوو میاشتو د هري میاشتي په باره کي زه سه نه سه خبري کوم.

کومه میاشت چه تیره شوي ده رجب زبرګه میاشت هغه خو تیره شوه د هغي په باره کي د خلقو خیال دي په دي کي روژي او په دي کي عمره او په دي کي فلاني دا ټول بکواسات دي په دي کي سه خصوصي عمل نشته.

او د اتمي صدي مشهور امام شیخ الاسلام حافظ ابن حجر رحمه الله په دي باره کي یو مستقل کتاب لیکلي دي.

تِبْيِنُ الْعَجَبْ فِي مَاوَرَدَ فِي فَضْلِ رَجَبْ نري غوندي رساله ده او ډیره پخوادسعودي نه چهاپ شوي وه دی باره کي سه روایتونه وو هغه تقریباً ټول غلط وو.

د شعبان میاشت

د ننه نه د شعبان میاشت شروع شوه دیته خلق د شوقدر میاشت وائي دا دشوقدر میاشت ورته وئیل دا یو غلط مشهور دي په دي خلقو کي مشهور شوي دي غلط دي ځکه دا شو چه دي نو دا په اصل کي شب دي فارسبانان ورته شَب وائي او دکثرت استعمال د وجه نه د شب نه ئي شَوْ جوړ کړي دي او مونږه پختنو لره چه راغله نو مونږه د شَوْقَدَرْ په ځائي باندي شُوقَدَر کړو په اصل کي دادي شب قدر شب په فارسئ کي شپي ته وائي او په عربئ کي د شب

قدر معني ده ليلة القدر نو دا يو غلط نوم دي چه دي مياشتي ته ئي خلق وائي ځکه ليلة القدر دا د يوي شپي نوم دي او دا شپه د رمضان په آخري لسوکي په طاقو شپو کي ده او دا هغه شپه ده چه په دي کي الله رب العزت قرآن کريم لوح محفوظ ته راليګلي دي بيائي د لوح محفوظ نه دي نږدي آسمان ته راليګلي دي او دهغي باره کي قرآن فرمائي. إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ

ما دا قرآن په ليلة القدر کي راليګلي دي په دي ځه روستو يو حديث دي په هغي باندي ځه لږ بحث هم کومه خو لکه دا خبره ياده وساتئ چه ددي مياشتي خپل نوم شَعْبَانُ الْمُعَظَّمْ دي او پختانه ورته عام طور باندي شوقدر وائي.

په دي مياشتي کي سه مسنوني طريقي دي سه په دي کي بدعات دي او بعضي پکي غلط مشهور څيزونه دي نن انشاء الله په دي بيان کي دا دري واړه خبري ځه کومه.

د شعبان د مياشتی فضيلت

ددي مياشتي په فضيلت کي چه کوم روايتونه صحيح راغلي دي دهغي حاصل دادي چه ددي مياشتي په ابتداء کي روژي نيول پکار دي.

زمونږ مور آبئ نه چا تپوس وکړو چه نبي صلى الله عليه وسلم به روژي په کومو مياشتو کي ډيري نيولي نوهغي ورته وفرمائيل چه د شعبان روژي به هغه ډيري نيولي.

د شعبان آخري شپي په هغي کي به نبي صلى الله عليه وسلم بوزه کوله ددي دپاره چه د شعبان او د رمضان فرق راشي کني د نبي

صلی الله علیه وسلم اکثري روژي چه په کومه میاشت کي زیاتي روژي نیولي دي هغه د شعبان میاشت ده.

د حضرت عائشی رضی الله عنها اول روایت

مورابئ نه روایت دي او داروایت امام بخاري رحمه الله ذکر کړي دي امام مسلم رحمه الله مه الله ذکر کړي دي.

عن أبي سلمةعن عائشة رضی الله عنها قالت کان رسول الله صلی الله علیه وسلم یصوم حتی نقول لا یفطر ویفطر حتی نقول لا یصوم فما رأیت رسول الله صلی الله علیه وسلم استکمل صیام شهر إلا رمضان وما رأیته أکثر صیاما منه في شعبان: ([1])

مور ابې وائې نبي صلی الله علیه وسلم به روژي نیولي زمونږ به دا خیال وو چه دي روژه نه ماتوي بوزه کوي نه او نبي صلی الله علیه وسلم به روژه نه کوله بوزه به ئې وه تر دي پوري چه زمونږ به دا خیال راغي چه نبي صلی الله علیه وسلم روژي نه نیسي یعني کله به ئې ډیري نیولي او کله به ئې لږي نیولي.

خو مور ابې وائې

فما رأیت رسول الله صلی الله علیه وسلم استکمل صیام شهر إلا رمضان یو میاشت نبي صلی الله علیه وسلم روژه نه ده نیولي سیوا د رمضان نه د رمضان روژي ئې پوره نیولي وي

ومارأیته أکثر صیاما منه في شعبان اود شعبان د میاشتی نه زیاتی روژی نبی صلي الله علیه وسلم په بله میاشت کي نه دی نیولی.

---

[1] - صحیح البخاری : جلد ۳ صفحه ۵۰ باب صوم شعبان

زمونږ د مور ابئ نه عائشي صدیقي رضی الله عنها نه روایت دي هغه فرمائي.

عن أبي سلمة أن عائشة رضی الله عنها حدثته قالت لم يكن النبي صلى الله عليه وسلم يصوم شهرا أكثر من شعبان فإنه كان يصوم شعبان كله: (۱)

جناب رسول الله صلي الله عليه وسلم دشعبان دمیاشتي نه زیاتي روژي په بله میاشت کي نه دي نیولي داسي وه لکه د نبي صلی الله عليه وسلم به د ټول شعبان روژه وه د ټول معني اکثرځکه نبي صلی الله عليه وسلم منع کړي ده

د عمران ابن حصین رضی الله عنه روایت

حدیث کي راځي چه د شعبان اخري روژي به نه نیسئ په دي باره کي د عمران ابن حصین رضی الله عنه نه روایت دي او د عمران ابن حصین رضی الله عنه روایت بخاري ذکر کړي مسلم ذکر کړي دي.

عمران رضی الله عنه هغه وائي چه د نبي صلی الله عليه وسلم نه ماتپوس وکړو یا یو سړي تپوس وکړو او ما اوریدو هغه نه چه نبي صلی الله عليه وسلم تپوس وکړو اویا نبي صلی الله عليه وسلم دعمران ابن حصین رضی الله عنه نه تپوس وکړویا نبي صلی الله عليه وسلم دیوبل سړي نه تپوس وکړو او عمران ابن حسین رضی الله عنه اوریده نو نبي صلی الله عليه وسلم هغه ته اوفرمائیل.

۱- صحیح البخاری : جلد ۳ صفحه ۵۰ باب صوم شعبان

عن عمران بن حصين رضى الله عنه ي الله عنهما عن النبي صلى الله عليه و سلم أنه سأله أو سأل رجلا وعمران يسمع فقال يا أبا فلان أما صمت سرر هذا الشهر قال أظنه قال يعني رمضان قال الرجل لا يا رسول الله قال فإذا أفطرت فصم يومين لم يقل الصلت أظنه يعني رمضان قال أبو عبد الله وقال ثابت عن مطرف عم عمران عن النبي صلى الله عليه و سلم (من سرر شعبان)

ش أخرجه مسلم في الصيام باب استحباب صيام ثلاثة أيام من كل شهر. . رقم ١١٦١

(سرر) آخر الشهر سمي بذلك لاستسرار القمر فيه أي استتاره وقيل هو وسط الشهر وسرر كل شيء وسطه والمراد الأيام البيض الثالث عشر والرابع عشر والخامس عشر : ([1])

اي فلانيه ددي مياشتي اخري روژي دي نه دي نيولي صَرَرْ د اِسْتَسَرَّ القَمَرْ نه دي اِسْتَسَرَّ القَمَرْ معني يعني خَفِيَ لَيلَةَ الصِّرارْ يعني اخري شپه يا يوه يا دوه نو هغه سړي ورته وي نا نو نبي صلى الله عليه وسلم ورته وفرمائيل كله چه ته روژه ختمه كړي نو بيا يودوه ورځې روژي ونيسه لكه نبي صلى الله عليه وسلم تاكيد كولو چه په شعبان كي خامخواه روژي نيسئ.

يو څو روژي دي چه هغه په هره مياشت كي نيول غواړي يعني د هغي نيول مسنون دي.

---

[1] - صحيح البخارى على تحقيق البغاء : جلد ٢ صفحه ٧٠٠ باب الصوم آخر الشهر

د هر کل او د هر زیارت په ورځ باندي روژه نیول

لکه د هر کل او د هر زیارت په ورځ باندي روژه نیول دی لکه حدیث کي وازي.

عن أسامة بن زيد رضى الله عنه ي الله عنه قال كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يصوم يومين من كل جمعة لا يدعهما فقلت يا رسول الله رأيتك لا تدع صوم يومين من كل جمعة قال أي يومين ؟ قلت يوم الاثنين ويوم الخميس قال ذاك يومان تعرضى الله عنه فيهما الأعمال على رب العالمين فأحب أن يعرضى الله عنه عملي وأنا صائم.

نبي صلى الله عليه وسلم به دا دوانړه روژي نيولي. ددي لِمْ او سِرْ به ئي داذکر کولو چه الله رب العزت ته دخلقو اعمال په دي دوانړو ورځو پیش کیږي نو زه دا غوره ګنړم چه ځما عمل الله ته په داسي ورځ باندي پیش شي چه ځما روژه وي.

د هري میاشتي دیارلسمه څوارلسمه پنځلسمه ورځ باندي روژه نیول

دارنګي د هري میاشتي دیارلسمه څوارلسمه پنځلسمه ددي نه علاوه په شعبان کي زیاتي روژي نیول پکار دي.

حضرت ابوسلمة رضى الله عنه وائې ما د عائشي صدیقي رضى الله عنها نه اوریدلي وو هغه وائې چه په ما باندي به د رمضان روژي وي نو ما به د رمضان د روژو قضاء نه شوه راوړي مګر په بل شعبان کي به مي راوړه د هغي وجه دا وه چه کله به زه جوړه ووم نو نبي صلى الله عليه وسلم به په کور کي وواو د ښځي روژه

دادخاوند داجازت نه بغير نه شي کيدي او قضاء روژه ددي پوره کول قرضی الله عنه دي خو ددي دپاره ورځ مقرر نه ده نو ددي وجه نه چه د نبي صلی الله علیه وسلم به په شعبان کي روژه وه نو مونږ به هغه خپلي روژي شعبان ته را اُويستي.

د حضرت عائشی رضی الله عنها دونم روایت

د عبدالله ابن ابي قيس رحمه الله مه الله دا يو تابعي دي هغه وائي ما د مور ابئ نه اوريدلي وو.

عن معاوية عن عبد الله بن أبي قيس أنه سمع عائشة تقول : كان أحب الشهور إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم أن يصومه شعبان ثم يصله برمضان :

تعليق شعيب الأرنؤوط : إسناده صحيح على شرط مسلم : ([1])

چه نبي صلی الله علیه وسلم ته محبوبه مياشت چه هغه به پکي روژي نيولي هغه به د شعبان مياشت وه.

د ثمّ يصلهُ برَمَضَانْ تفصيل

« خو بعضي روايتونو کي راځي ثمّ يصلهُ برَمَضَانْ : او بيا به ئې د رمضان سره يوځائې کوله خو اصل کي دا ثم نه دي لم يصله برمضان نبي صلی الله علیه وسلم شعبان د رمضان سره يو ځائې کړي نه ده په مينځ کي فرق راوستي دي »

شرح حديث كان أحب الشهور إلى رسول الله أن يصومه شعبان

---

[1] - مسند امام احمد بن حنبل : جلد ٦ صفحه ١٨٨ حديث السيدة عائشة رضي الله عنها

قال المصنف رحمه الله تعالى:

باب في صوم شعبان حدثنا أحمد بن حنبل حدثنا عبد الرحمان بن مهدي عن معاوية بن صالح عن عبدالله بن أبي قيس سمع عائشة رضى الله عنها تقول كان أحب الشهور إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم أن يصومه شعبان ثم يصله برمضان أورد أبو داود صوم شعبان وأن النبي صلى الله عليه وسلم كان يكثر من الصيام منه وجاء في بعض الأحاديث أنه ما استكمل شهراً إلا رمضان وجاء هنا أنه كان يصوم شعبان ويصله برمضان

والأحاديث الدالة على أنه لم يستكمل شهراً إلا رمضان تدل على عدم إكماله شعبان ولكن كونه يصوم كثيراً منه فإنه يعطي الأكثر حكم الكل فالرسول صلى الله عليه وسلم لا يكمل صيام شهر من الشهور غير رمضان كما جاء في الحديث الذي مر: كان يصوم حتى نقول لا يفطر ثم يفطر حتى نقول لا يصوم وهذا شأنه صلى الله عليه وسلم قوله كان أحب الشهور إلى رسول الله صلى الله عليه وسلمَ أن يصومه شعبان قيل لأن شهر شعبان يكون قبل رمضان وأنه قديكون حصل له شواغل في بعض الشهورالماضية فيستدرك في شعبان وقيل لأنه يسبق رمضان فيكون صيامه كالسنن الرواتب في الصلوات التي تكون قبلها كما أن صيام الست من شوال بعد رمضان كالسنن الرواتب البعدية فيكون اتصال رمضان بما قبله وما بعده والله تعالى أعلم. قوله ثم يصله برمضان معناه أنه يصوم رمضان بعده لكن كما عرفنا أن الاستكمال لم يكن ثابتاً عن رسول الله وما جاء من كونه يصومه

کله یکون محمولاً علی الغالبیة وعلی الأکثر : ([1])

د حضرت ابو هریرة رضی الله عنه روایت دي دا روایت امام احمد په خپل مسند کي ذکر کړي دي امام ابوداود په خپل سنن کي ذکر کړي دي او حدیث د سند په اعتبار باندي هم صحیح دي ابوداود او ترمذي ورته حسن او صحیح وئیلي دي

حضرت ابو هریره رضی الله عنه فرمائي.

عن أبی هریرة أن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال إذا انتصف شعبان فلا تصوموا : ([2])

کله چه شعبان د نیمي نه واوړي نو بیا پکي روژي مه نیسئ.

دارنګه د ابوهریره رضی الله عنه یو روایت دي چه امام بخاري رحمه الله مه الله اوامام مسلم رحمه الله مه الله دوانړو راغستي دي.

عن أبي سلمة عن أبي هریرة رضي الله عنه عن النبي صلی الله علیه وسلم قال لا یتقدمن أحدکم رمضان بصوم یوم أو یومین إلا أن یکون رجل کان یصوم صومه فلیصم ذلك الیوم

ش أخرجه مسلم في الصیام باب لا تقدموا رمضان بصوم یوم ولا یومین رقم ١٠٨٢

(یصوم صومه) کان له صوم نفل معتاد فوافق ذلك الیوم أو کان علیه قضاء أو نذر فصامه : ([3])

---

[1] - شرح سنن أبي داود للشیخ عبد المحسن العباد : جلد ١٣ صفحه ٢٥٢

[2] - سنن ابی داود : جلد ٢ صفحه ٢٧٢ باب فیمن یصل شعبان برمضان

[3] - صحیح البخاری علی تحقیق البغاء : جلد ٢ صفحه ٦٧٦ باب لا یتقدمن رمضان بصوم یوم ولا یومین

جناب رسول الله فرمائيلي وودرمضان نه يو ورځ مخكي يا دوه ورځي مخكي روژي به نه نيسي مګر كه يو سړي وو چه د هغه يو عادت وو د يو دوو ورځو او هغه ځان له مثلاً سه وِرْد غونته وظيفه غونته جوړه كړي وه نو كه هغه ورځي راشي سړي نيسي نوخير دي لكه مثلاً يو سړي دي هغه د زيارت په ورځ روژه نيوله وس د جمعي په ورځ باندي روژه ده نو دي د زيارت روژه نيولي شي ځكه دا دده سابقه عادت دي.

د شعبان د روجو تپوس او د نبی صلی الله علیه وسلم جواب

حضرت اسامه ابن زيد رضی الله عنه فرمائي.

قال حدثني أسامة بن زيد قال قلت يا رسول الله لم أرك تصوم شهرا من الشهور ما تصوم من شعبان قال ذلك شهر يغفل الناس عنه بين رجب ورمضان وهو شهر ترفع فيه الأعمال إلى رب العالمين فأحب أن يرفع عملي وأنا صائم.[1]

ما نبي صلی الله عليه وسلم ته يو پيره عرضی الله عنه وكړو يا رسول الله ته چه په شعبان كي كومي روژي نيسي نوماپه يو مياشت كي تاسودا سي نه ئې ليدلي چه دغه روژي په بله مياشت كي تاسو نيسئ نو نبي صلی الله عليه وسلم وفرمائيل دا داسي مياشت ده چه خلق د دي د روژو نيولو نه په دي كي ددي نه غافله دي او دا مياشت په دي كي اعمال الله ته واپس كيګي نو زه دا غوره ګڼمه چه زما عمل لاړ شي او زه روژه دار يمه خو لكه نور احاديث ددي په تشريح كي دا راځي چه دا د نبي صلی الله عليه وسلم نه د ګل او د

[1] - سنن النسائی : جلد ۸صفحه ۵۹

زيارت د ورځي د روژو باره کي تپوس کړي شوي وو.

حضرت انس رضی الله عنه نه روایت دي.

عن ثابت عن أنس قال سئل النبي صلى الله عليه وسلم أي الصوم أفضل بعد رمضان ؟ قال شعبان لتعظيم رمضان قيل فأي الصدقة أفضل ؟ قال : صدقة في رمضان

قال أبو عيسى هذا حديث غريب وصدقة بن موسى ليس عندهم بذاك القوي : ([1])

چه دجناب رسول الله صلي الله عليه وسلم نه چاتپوس وکړو کومه روژه غوره ده پس درمضان نه نونبي صلى الله عليه وسلم وفرمائيل شعبان ځکه دادرمضان سره نژدي ده اورمضان معظمه مياشت ده نو شعبان ځکه معظمه ده بيا هغه سړي تپوس وکړو بهتره صدقه کومه يوه ده نو نبي صلى الله عليه وسلم وفرمائيل چه د رمضان په مياشت کي چه سړي صدقه کوي نو دا بهتره ده.

د حضرت سلمان رضی الله عنه روایت

حضرت سلمان رضی الله عنه روایت کوی.

عن سلمان قال خطبنا رسول الله صلى الله عليه وسلم في آخر يوم من شعبان فقال أيها الناس قد أظلكم شهر عظيم شهر مبارك شهر فيه ليلة خير من ألف شهر جعل الله صيامه فريضة وقيام ليله تطوعا من تقرب فيه بخصلة من الخير كان كمن أدى فريضة فيما سواه ومن أدى فيه فريضة كان كمن أدى سبعين فريضة فيما سواه وهو شهر الصبر والصبر ثوابه الجنة وشهر المواساة

---

[1] - شرح السنة : جلد ٦ صفحه ٣٢٩ باب صوم شعبان

وشهر يزداد فيه رزق المؤمن من فطر فيه صائما كان مغفرة لذنوبه وعتق رقبته من النار وكان له مثل أجره من غير أن ينتقص من أجره شيء قالوا ليس كلنا نجد ما يفطر الصائم فقال يعطي الله هذا الثواب من فطر صائما على تمرة أو شربة ماء أو مذقة لبن وهو شهر أوله رحمه الله مة وأوسطه مغفرة وآخره عتق من النار من خفف عن مملوكه غفر الله له وأعتقه من النار واستكثروا نيه من أربع خصال خصلتين ترضون بهما ربكم وخصلتين لا غنى بكم عنهما فأما الخصلتان اللتان ترضون بهما ربكم فشهادة أن لا إله إلا الله وتستغفرونه وأما اللتان لا غنى بكم عنهما فتسألون الله الجنة وتعوذون به من النار ومن أشبع فيه صائما سقاه الله من حوضي شربة لا يظمأ حتى يدخل الجنة : (۱)

حضرت سلمان رضی الله عنه فرمائي چه د شعبان آخری ورځ وه نبی صلی الله علیه وسلم مونږ ته تقریرکوو او فرمائیل ئي اي خلقو یوعظیمه میاشت راروانه ده. یو داسی میاشت راروانه ده چه د یو بل سره دخیرخیګړي میاشت ده په دی کي روژه دار له روژه ماتي ورکئ چا چه روژه دار له روژه ماتي ورکړو هغه له به الله د هغی روژی هومره اجر ورکړی د ده په اجرکي به کمي نه راځی صحابؤ ورته وي په مونږ کي د هر سړی خودا طاقت نشته چه روژه دارله روژه ماتي ورکړی نبی صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه دا اجر الله پاك په یو ګوټ پیوباندی هم ورکئ په یوګوټ اوبو باندی ئي هم ورکئ او د کهجوری په یو توټه باندی ئي هم ورکئ

---

۱. صحیح ابن خزیمه : جلد ۳ صفحه ۱۹۲ باب فضائل شهر رمضان إن صح الخبر

دشعبان په فضیلت کې موضوعی روایات

بعضي روایتونه دشعبان په فضیلت کي راغلي دي اوهغه موضوعي دي لکه مثلاً یو روایت خلق ذکر کوي وائې رجب د الله میاشت ده شعبان زمامیاشت ده اورمضان دعامو مسلمانانو میاشت ده دا حدیث ابن جوزي په دري طریقي باندي ذکر کړي دي اوابن جوزي په موضوعات کي وئیلي لَا نَشُکُ فِي اَنَّهُ مَوْضُوْعٌ ددي په وضع شک نشته دا خلقو د ځان نه جوړ کړي دي.

دارنګه یو روایت ذکر کوي.

عن لیث عن مجاهد عن علی بن أبی طالب عن النبي صلی الله علیه وسلم أنه قال ما یملی یا علی من صلی مائة رکعة في لیلة النصف یقرأ في کل رکعة بفاتحة الکتاب وقل هو الله أحد عشر مرات قال النبي صلی الله علیه وسلم: یا علی ما من عبد یصلی هذه الصلوات إلا قضی الله عزوجل له کل حاجة طلبها تلك اللیلة.

قیل: یا رسول الله وإن کان الله جعله شقیا أیجعله سعیدا قال والذی نفسي بالحق یا علی إن مکتوب في اللوح أن فلان بن فلان خلق شقیا ویمحوه الله عزوجل ویجعله سعیداویبعث الله إلیه سبعین ألف ملك یکتبون له الحسنات ویمحون عندالسیئات ویرفعون له الدرجات إلی رأس السنة ویبعث الله عزوجل في جنات عدن سبعین ألف ملك أو سبعمائة ألف ملك یبنون له المدائن والقصور ویغرسون له الاشجار ما لا عین رأت ولا أذن سمعت ولا خطر علی قلب المخلوقین مثل هذه الجنان في کل جنة علی ما وصفت لکم في المدائن والقصور والاشجار فإن مات من لیلته قبل أن یحیل الحول مات شهیدا ویعطیه الله

تعالى بكل حرف من قل هو الله أحد في ليلته من ذلك تسعين حوراء لكل حوراء وصيف ووصيفة[و]سبعون ألف غلمان وسبعون ألف ولدان وسبعون ألفا قهارمة وسبعون ألفا حجابا.

وكل من قرأ قل هوالله أحدفي تلك الليلة يكتب له أجر سبعين شهيدا وتقبل صلاته التى صلاها قبل ذلك وتقبل ما يصلى بعدها.

وإن كان والداه في النار دعا لهما أخرجهما الله من النار بعد إن لم يشركا بالله شيئا يدخلان الجنة يشفع كل واحد منهم في سبعين ألفا إلى آخر ثلاث مرات.

قال النبي صلى الله عليه وسلم والذى بعثنى بالحق إنه لا يخرج من الدنيا حتى يرى في الجنة ما خلقه الله أو براه والذى بعثنى بالحق إن الله يبعث في كل ساعة من ساعات الليل والنهار وهى أربع وعشرون ساعة سبعين ألف ملك يسلمون عليه ويصافحونه ويدعون له إلى أن ينفخ في الصور ويحشر يوم القيامة مع الكرام البررة ويأمر الكاتبين أن لا يكتبوا على عبدى سيئة ويكتبوا له الحسنات إلى أن يحول عليه الحول وقال النبي صلى الله عليه وسلم: من صلى هذه الصلاة وهو يريد الصلاة والدار الآخرة يجعل الله له نصيبا من عنده تلك الليلة

وأما طريق ابن عمر فأنبأنا إبراهيم بن محمد الازجى أنبأنا الحسين بن إبراهيم أنبأنا محمد بن جابار المذكر أنبأنا أبو بكر محمد بن على بن زبرك أنبأنا أبو سهل عبيدالله بن محمد بن زبرك أنبأنا أبو بكر بن أبى زكريا الفقيه حدثنا إبراهيم ابن محمد الدربندى حدثنا أحمد بن أصرم المزني حدثنا أبو إبراهيم الترجمانى حدثنا صالح الشمامى عن عبدالله بن ضرار عن يزيد بن محمد عن أبيه محمد

بن مروان عن ابن عمر قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: "
من قرأ ليلة النصف من شعبان ألف مرة قل هو الله أحد في مائة ركعة لم يخرج من الدنيا
حتى يبعث الله إليه في منامه مائةملك يلبون يبشرونه بالجنة وثلاثون يؤمنونه من النار وثلاثون يعصمونه من أن يخطئ وعشرون يكيدون من عاداه
وأما طريق أبي جعفر الباقر أنبأنا محمد بن ناصر أنبأنا أبو على بن البنا أنبأنا أبو عبد الله الحسين بن عمر العلاف حدثنا أبو القاسم الفامى حدثنا على بن بندار البردعى حدثنا أبو يوسف يعقوب بن عبدالرحمه الله من حدثنا محمدبن عبيدالله قال سمعت أبي يقول حدثنا على بن عاصم عن عمرو بن مقدام عن جعفر بن محمد عن أبيه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من قرأ ليلة النصف من شعبان ألف مرة قل هو الله أحد عشر مرات لم يمت حتى يبعث الله إليه مائة ملك ثلاثون يبشرونه بالجنة وثلاثون يؤمنونه من النار وثلاثون يقومونه أن يخطئ وعشر أملاك يكتبون أعداه
هذا حديث لا نشك أنه موضوع وجمهور رواته في الطرق الثلاثة مجاهيل وفهم ضعفاء بمره والحديث محال قطعا وقد رأينا كثيرا ممن يصلى عدة الصلاة ويتفق قصر الليل فيفوتهم صلاة الفجر ويصبحون كسالى وقد جعلها جهلة أئمة المساجدمع صلاة الرغائب ونحوها من الصلوات شبكة لمجمع العوام وطلبا لرياسة التقدم وملا بذكرها القصاص مجالسهم وكل ذلك عن الحق بمعزل : (١)

١- الموضوعات لابن جوزى : جلد ٢ صفحه ١٢٩

نبي صلى الله عليه وسلم علي رضى الله عنه ته وي چه چا چه د شعبان په پنځلسمه باندي سل رکعته مونځ وکړو او په هريوکي فاتحه اوئيله او سورة اخلاص ئې پکي لس خله اووي نو چه سل رکعة ئې اوپه هر رکعت کي لس خله وي نوايک هزار پيره شو دي مونځ ته بعضي خلق صلوت الفيه الفيه معني هغه مونځ چه سورة اخلاص پکي زرځله وئيلي کيګي په دي کي شک نشته چه دا موضوعي دي او داخلقو دځان نه جوړ کړي دي دا د قُصّاصُو روايت دي هغه خلق چه هغه قصه ګو دي او علماء نه دي

دونم موضوعی روايت

دارنګه يو روايت کي راځي.

عن أبى هريرة عن النبي صلى الله عليه وسلم قال من صلى ليلة النصف من شعبان ثنتى عشرة ركعة يقرأ في كل ركعة قل هو الله أحد ثلاثين مرة لم يخرج حتى يرى مقعده من الجنة ويشفع في عشرة من أهل بيته كلهم وجبت له النار

هذا موضوع أيضا وفيه جماعة مجهولون وقبل أن يصل إلى بقية وليث وهما ضعفاء فالبلاء ممن قبلهم : (١)

چا چه د شعبان په پنځلسمه باندي دولس رکعته مونځ وکړو او په هر رکعت کي سورت اخلاص ديرش خله وائي نودي به لاد جماعت نه لانه وي وتي چه دته به خپل د جنت ځائې ښکاره شي.

دا روايت موضوعي دي دا ابن جوزي هم ذکر کړي دي او شيخ الاسلام ابن قيم رحمه الله مه الله د هغه کتاب دي المنار المنيف

١- الموضوعات لابن جوزى : جلد ٢ صفحه ١٣٠

په هغي کي هم هغه ذکر کړي دي

منها من قرأ ليلة النصف من شعبان ألف مرة قل هو الله أحد في مئة ركعة الحديث بطوله وفيه بعث الله إليه مئة ملك يبشرونه وحديث من صلى ليلة النصف من شعبان ثنتي عشرة ركعة يقرأ في كل ركعة ثلاثين مرة قل هو الله أحدشفع في عشرة من أهل بيته قد استوجبوا النار وغير ذلك من الأحاديث التي لا يصح منها شيء : (۱)

دا سه روايتونه د شعبان په فضيلت کي صحيح وو دبخاري او د مسلم او د عامو کتابونو صحيح او حسن روايتونه وو او هغه دا چه په دي مياشت کي سړي روژي نيسي نو ډيره خه ده خو ګورئ دا ياد ساتئ د زنانو روژي نيول په صحيح حالت کي دا بغير د خاوند د اجازت نه نه دي پکار نفلي روژي ددي نه د خاوند تابعداري غوره ده

د نصف شعبان حقيقت

دويمه خبره په دي مياشت کي خلق په دي پنځلسمه باندي څوک پکي صلواة الفيه کوي او څوک پکي هغه تين سوساټه والامونځ کوي ديرش رکعته کوي يا سل رکعته کوي يا دولس رکعته کوي اوپکي ديرش ځله په يو يو رکعت کي سورة اخلاص وائي نو باره تين چتيس تين سوساټه دهغي نه جوړيګي د هغوي دا خيال دي چه اتلس شلي ورځي دي اواتلس شلي ځله مونږسورت اخلاص اووي نو مونږه به الله بخي دا روايتونه بلکل غلط دي.

۱- المنار المنيف : جلد ۱ صفحه ۹۹

دروغ کورا حافظه نه باشد

بعضي خلق هغوي سه روايتونه پيش کوي وائي چه د شعبان په پنځلسمه باندي دخلقواَعْجَال نيتي ددي لستونه داليکل کيګي اووائي په دغه شپه باندي چه چاڅومره خوراک وکړونو حساب ورسره نه کيګي خولکه دروغژنو خلقوته دا نه وي يا د چه دا خبره مونږه د محرّم په باره کي هم کړي ده.

عن عبدالله عن النبي صلى الله عليه وسلم قال من وسع على عياله يوم عاشوراء لم يزل في سعة سائر سنته : (١)

ومنها الاكتحال يوم عاشوراء والتزين والتوسعة والصلاة فيه وغير ذلك من فضائل لا يصح منها شيء ولا حديث واحد ولا يثبت عن النبي صلى الله عليه وسلم فيه شيء غيرأحاديث صيامه وما عداها فباطل وأمثل مافيها حديث من وسع على عياله يوم عاشوراء وسع الله عليه سائر سنته قال الإمام أحمد لا يصح هذا الحديث

قلت لا يلزم من عدم صحته ثبوت وضعه وغايته أنه ضعيف فقد رواه الطبراني في الأوسط والبيهقي عن أبي سعيد كما في الجامع الصغير : (٢)

چه دعاشورا د محرم په لسمه ورځ باندي کله يوسړي په خپل اهل باندي ډيرخوراکونه وکړي الله پري ټول کال ښه تيروي اوداروايت کمزوري روايت دي هيڅ سه مقام يي نشته او دغه ورځ چه دي څومره خوراک وکړو نو حساب ني درسره نه کيګي.

١- المعجم الكبير للطبرانى : جلد ٨ صفحه ٤٠٤

٢- الاسرار المرفوعه فى اخبار الموضوعه : جلد ١ صفحه ٤٧٤٧

بیا ئي هیر شوي وي چه مونږ دا وئیلي دي نو د شعبان په باره کي دا خبره کوي په دي کي عکرمه کوم چه مولاد ابن عباس دي د هغه یو روایت خلق ذکر کوي حالانکه هغه روایت ابن کثیر په هغي باندي رد کړي دي چه دغه روایت کمزوري دي.

د لیلة المبارکه نه سه مراد دی

قرآن کي الله فرمائي.

إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةٍ مُبَارَكَةٍ إِنَّا كُنَّا مُنْذِرِينَ ۞ فِيهَا يُفْرَقُ كُلُّ أَمْرٍ حَكِيمٍ: (١)

ما دا قرآن کریم په هغه شپه کي رالیګلي دي چه هغه مبارکه شپه ده او زه خلق یرومه او په دي کي د هري محکمي خبري د هغي تفریق او تقسیم پکي کیږي نو خلق راغلي دي او دا سوچ ئي کړي دي چه دا د شعبان میاشت ده او یودعکرمه روایت ئي د غوګه نیولي دي او سره ددینه چه د قرآن کریم تنصیص دي په دي باندي إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ او لیلة القدر دا په رمضان کي ده نو إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةٍ مُبَارَكَةٍ لیلة مبارکة دغه لیلة القدر دي کنه ددي وجه نه حافظ ابن کثیر وائي.

ومن قال إنها ليلة النصف من شعبان كما روي عن عكرمة فقد أبعد النَّجْعَة فإن نص القرآن أنها في رمضان

والحديث الذي رواه عبد الله بن صالح عن الليث عن عقيل عن الزهري أخبرني عثمان بن محمد بن المغيرة بن الأخنس أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال تقطع الآجال من شعبان إلى شعبان

١- سورة دخان (٣-٤)

حتى إن الرجل لينكح ويولد له وقدأخرج اسمه في الموتى فهو حديث مرسل ومثله لا يعارض به النصوص : (١)

چا چه دا وئيلي دي چه دا دشعبان پنځلسمه ده ددي سړي هغه غشي هغه نخه هغه ډيره غلطه ده ځکه د قرآن نص دي چه دا په رمضان کي ده.

دا شپه أبو بكر ابن العربي په دي باره کي ليکلي دي.

وقال القاضي أبو بكر ابن العربي وجمهورالعلماءعلى أنها ليلة القدر ومنهم من قال إنها ليلة النصف من شعبان وهو باطل لأن الله تعالى قال في كتابه الصادق القاطع شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنْزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ [البقرة : ١٨٥] فنص على أن ميقات نزوله رمضان : (٢)

چه چا دا وئيلي دي چه دا دشعبان هغه مياشت ده او د شعبان پنځلسمه ده نو أبو بكر ابن العربي وائي راجحه خبره په دي کي هغه نه ده نو دا دعوي کول چه دا د شعبان د مياشتي په پنځلسمه باندي دا تقسيم کيګي نو دا دنص خلاف ده دا د قرآن خلاف ده او دا د صحيحي اصولو خلاف ده نو د عکرمه نه د هر چا قول چه ددي په باره کي وو هغه قول د منلو نه دي.

دا خبره شيخ الاسلام ابن تميه رحمه الله هغه هم کړي ده دا رنګه د عربويوعالم دي علامه شنقيطي او د هغه کتاب دي په تفسيرکي اضواء البيان هغه دا خبره کړي ده.

بعضي خلق په دي کي يو روايت پيش کوي چه د شعبان دا نيمه

١- تفسير ابن كثير: جلد ٧ صفحه ٢٤٦

٢- تفسير قرطبي : جلد ١٦ صفحه ١٢٧

چه ده نو په دي کي الله پاک د بني کلب د ګډو نه زيات خلق بخي حالانکه دا روايتونه موضوعي دي د ځان نه جوړ شوي دي.

که يوسړي ځان له عبادتونه کوي نو په هره شپه کي چه کوي نو کوي دي خاص کوي دي نه دي کي يو مونځ خلقو جوړ کړي وو او هغي ته به ئي صلوت رغائب وي زمونږ عام فقهاء د هغي ردّ کوي دا صلوات رغائب دا د صلوت الفيه دي يا دغه دولس رکعته او په هرر رکعت کي ديرش ديرش ځله سورت اخلاص لوستل دا غلطي خبري دي.

دارنګي دي باره کي بعضي روايتونه خلق ذکر کوي وائي د شعبان په پنځلسمه باندي په نيمه شپه کي الله رب العزت خلقوته راښکاره شي او ټول خلق اوبخي مګر مشرک نه بخي او هغه سړي چه د هغه په زړه کي بل رور ته کينه وي نو نه ئي بخي.

هره شپه الله بخښش کوی

په دي کي د ليلة النصف من شعبان خبره نه ده.

عن أبي هريرة عن النبي صلى الله عليه و سلم قال لولا أن أشق على أمتي لأمرتهم بالسواك مع الوضوء ولأخرت العشاء إلى ثلث الليل أو نصف الليل فإذا مضى ثلث الليل أو نصف الليل نزل إلى السماء الدنيا جل وعز فقال هل من سائل فأعطيه هل من مستغفر فاغفر له هل من تائب فأتوب عليه هل من داع فأجيبه

تعليق شعيب الأرنؤوط : إسناده صحيح على شرط الشيخين : (۱)

الله رب العزت په هره شپه کي دي سماء الدنيا ته راکوزيګي

۱- مسند امام احمد بن حنبل : جلد ۲ صفحه ۴۳۳ (مسند أبي هريرة رضي الله عنه)

څنګه چه د هغه شان سره مناسب دي اوالله آواز کوي چه څوک شته چه ځمانه بخنه وغواړي څوک شته چه ځمانه سه وغواړي چه خه ورله ورکړمه دا يو عام حديث دي او دا رنګه داحديث بخاري په خپل صحيح کي ذکر کړي دي په کتاب التهجد کي حديث د نزول چه ورته وائي څنګه چه د الله شان سره مناسب دي.

د شعبان د میاشتی بدعات

په دي مياشت کي سه بدعات دي سه د مجوسو رسمونه دي اوس خوالحمدُ الله زمونږ دي کشرانو ته هغه رسمونه نه دي ياد خو پخوا مونږ چه واړه وونوزنانو او نارينو ټولو غونډوسوکي جوړول بالونه د کپړو نه او هغه به ئې په تيلو کي ايخي وو او بيا به يي هغه وچتول او مونږ چه واړه وو نو مونږ به د کورونو شاته ناست وو چه بال به راغلي نو مونږ به مړ کړو او وبه مو تختوو او بيا به دي سيرئې ته تلو او هلته مونږ به هم داچل کولو دا طريقي د مجوسو وي دا د آتش پرستو خلقو طريقي دي.

دا رنګي زمونږ نه چه ذا زيات مشران وو نو په دوي کي به خير هم ډيرووخو په دوي کي شرونه هم ډير وودوي به شرشري ګرځولي او په شرشرو باندي به ئې يو بل سيزلو دا ټولي د مجوسو طريقي وي الحمدلله ثم الحمدلله چه زمونږ په دي کلي کي او زمونږ په دي علاقه کي تقريباً زمونږ ددي قرآن او سنت داعلاء نه پس دغه څيزونه داسي ورک شوي دي لکه چه نه وو.

زمونږ د کلي کشران هغه دا نه پيژني چه حيله اسقاط سه شي دي

چرته بار کلو ته لاړ شي بيا راشي ماته قيصي کوي وائي مولوي صاحب مونږ هغه شي وليده وائي موليان به پکي ناست وو او يو يوته بخه او بل بل ته بخه او چورلندي ئې پکي کولو دا چورلندي الحمدلله دلته ختم شوي دي دلته يو رسم وو په مړي پسي د دريمي ورځي ختمونه کول دا داسي ضروري وو لکه فرض مونځ چه ضروري دي بلکي ددي نه زيات ضروري وو الحمدلله هغه ختم شوي دي څوک ئې پيژني هم نه بدعتيان ئې هم نه کوي زمونږ په کلي کي.

يو رسم وو مړو ته به بانګونه وئيلي کيده هغه ختم شوي دي. دارنګه دا د شعبان دا بدعات دا الحمدلله اوس ختم شوي دي نشته.

د شعبان بعضي عبادتونه او د اِبْنُ اَبِي الْحَمْرَاء حقيقت

بعضي عبادتونه داسي دي چه اوس هم دکتابونو په صفحو باندي دهغي نومونه چرته راځي په دي کي يو دي صلواة الفيه صلواة الفيه د نابلس يو سړي وو او د هغه نوم وو اِبْنُ اَبِي الْحَمْرَاء اِبْنُ اَبِي الْحَمْرَاء دا څوک وو؟ خو نوم ئې قدري يادېګي دا نوم ئې داسي يادېګي لکه د بَوْ نوم چه يادېګي بَوْ تاسو چرته ليدلي دي بښځي چه کله وړوکي يروي نو وائي بَوْ درپسي راغي دا ابن ابي الحمرآء يو بَوْ وو او دغه بَوْ بيت المقدس ته راغلي وو په پنځمه صدئ کي په سن ۴۴۸ کي او د ده تلاوت بنائسته وو نو يو پيره په شعبان کي راغلي او يو تن پسي ولاړ وو او ده مونځ وکړ

نو په دويم کال چه راغي نو لس کسان پسي ولاړ وو نو په دريم کال چه راغي نو خلق ورپسي په صفونو باندي ولاړ وو او هغه چه مونځ کولو نو په يو رکعت کي به ئې يو پيره سورة فاتحه وي اوسل ځله به ئې سورة اخلاص وي او دا مونځ به ئې کولواو دا مونځ دا بيا ډير زيات شو او ديته صلوة الفيه ځکه وائي چه هغه چه به مونځ کولو نو سورة اخلاص به ئې پکي زر ځله پوره کولو د خپل مونځ دپاره بيا هغه سه روايتونه جوړ کړه چه چا د شعبان په نيمه کي مونځ وکړو او په دي کي په يو رکعت کي لس ځله سورة اخلاص اووي او سل رکعته مونځ يي وکړو نو غفره له ما تقدمه من ذنبه وما تأخر او چا به وي چه لن يبرح من المسجد الا وقد اوري مقعده من الجنة دي به لا د جمات نه نه وي تلي او ده به هغه خپل ځائې په کي ښکاره شوي وي.

په دي باره کي علامه ابن جوزي په موضوعات دوئم جلد کي هغه ليکلي دي دارنګه جلال الدين سيوطي رحمه الله د هغه کتاب دي اللآلي المصنوعة في الأحاديث الموضوعة په هغي کي ليکلي دي چه په دي کي نشته چه دا حديث موضوعي دي او دا خلقو د ځان نه جوړ کړي دي اوهغه ليکي چه هٰذَاحَدِيثٌ لا نَشُكُّ فِي اَنَّهُ مَوْضُوْعٌ داداسي حديث دي چه زمونږددي په موضوعيت کي شک نشته.

امام غزالي رحمه الله او د شعبان د مياشتی عبادت

امام غزالي رحمه الله په احياء العلوم کي يو بل مونځ ذکر کړي

دي هغه وائي سل رکعته دي په دوو رکعتو باندي سلام دي او په هر رکعت کي د فاتحي نه پس سورة اخلاص لس څله دي.

امام غزالي رحمه الله په دي کي شک نشته چه ښه مولاوو خو پاتي شوه دحديثو په مرتبه کي دامام غزالي مقام سه وو؟ امام غزالي رحمه الله شافعي مذهبي وو د امام غزالي رحمه الله د خپل مذهب يوسړي دي محمدابن سيددرويش الحوت البيروتي شافعي مسلک والا دي او زمونږ داحناف شاګرد دي دامام علامه شامي رحمه الله شاګرد دي د هغه کتاب أسنى المطالب هغه ليکي:

واعلم أن كتاب الأحياءلسيدنا الغزالي مع جلالة قدر هو علو مرتبته ورسو قدمه في العلم لا يعتمد عليه في الحديث لذكره في كتابه المذكور جملة من الاحاديث الموضوعة : (۱)

خبره به ياد ساتي چه امام غزالي رحمه الله څومره لوئي سړي دي د هغه علم لوئي دي دهغه مرتبه وچته ده خو په حديثو نه پوهيده. د امام غزالي خپل شاګرد قاضي ابو بکر ابن العربي هغه پخپله باندي وائي.

أشكلت على السائل كالمسائل التي سأله عنها القاضي أبوبكر بن العربي وخالفه القاضي أبو بكر في كثير من تلك الأجوبة وكان يقول شيخنا أبوحامددخل في بطون الفلاسفة ثم أراد أن يخرج منهم فما قدروحكى هوعن أبي حامد نفسه أنه كان يقول أنا مزجى البضاعة في الحديث : (۲)

۱- أسنى المطالب في أحاديث مختلفة المراتب : جلد ۱ صفحه ۳٤۰

۲- درء تعارض العقل والنقل : جلد ۱ صفحه ٦

زمونږ شیخ ابوحامد هغه د فلسفیانو ګیډي ته ننوتي وو په حدیثو باندي هغه کله پوهیده.

د امام غزالي د هغه خپل قول دا وو چه په حدیثو کي زما پنګه کوټه ده او په آخر کي د حدیثو سره شوق ډیر زیات وو ځکه قاضي ابو بکر ابن العربي وائي.

فَمَاتَ وَالْبُخَارِيُّ عَلَى صَدْرِهِ امام غزالي چه مړ کیده نو بخاري د هغه په سینه پرته وو خو لکه هغه وخت دي هغه مقام ته نه شو رسیدي.

دا قسم روایتونه دا غلط دي علماء هغوي په دي باندي رد کړي دي چه دا قسم عبادت دا نه نبي صلی الله علیه وسلم کړي دي نه صحابو کړي دي نه امام ابوحنیفه رحمه الله کړي دي او نه امام مالک رحمه الله کړي دي او نه امام شافعي رحمه الله کړي دي نه احمد رحمه الله نه ثوري رحمه الله نه اوضاعي رحمه الله او لیث رحمه الله هغوئي کړي دي کچري دا دین وي نو دا به صحابو کړي وي.

د امام مالک رحمه الله وینا

امام مالک رحمه الله دا خو یو صاف قول دي هغه فرمائي.

قال ابن الماجشون سمعت مالکا یقول من ابتدع في الاسلام بدعه یراها حسنه فقدزعم ان محمدا صلی الله علیه وسلم خان الرسالة لان الله یقول الیوم أکملت لکم دینکم فمّا لم یکن یومئذ

دينا فلا يكون اليوم دينا : ([1])

چا چه په دين کي يو نوي کار جوړ کړو او ديته ئې ښه وي نو دده ګمان داد ي چه نبي صلى الله عليه وسلم خيانت کړي دي او دين لاتر وسه پوري پوره نه دي او الله رب العزت فرمائې.

اليوم أكملت لكم دينكم ما تاسوته دين پوره کړي دي نوامام مالک رحمه الله فرمائې کوم شي چه پرون دين نه وو د نبي صلى الله عليه وسلم په زمانه کي نو نن هغه دين نشي کيدي.

کوم عمل چه نبی صلى الله عليه وسلم نه دي کړي اوته ئي کوی نوبدعت دي

او دا هم يادساتئ زمونږ فقهاء بلکي زمونږ اسلاف صحابه رضى الله عنه چه کوم عمل نبي صلى الله عليه وسلم نه دي کړي نو د هغي کولوته هغوئي بدعت وائې يوځو نموني درته ښايمه.

أخبرنا الحكم بن المبارك انا عمر بن يحيى قال سمعت أبي يحدث عن أبيه قال : كنا نجلس على باب عبد الله بن مسعود قبل صلاة الغداة فإذا خرج مشينامعه إلى المسجد فجاءنا أبو موسى الأشعري فقال أخرج إليكم أبو عبد الرحمن بعد قلنا لا فجلس معنا حتى خرج فلما خرج قمنا إليه جميعا فقال له أبو موسى يا أبا عبد الرحمن اني رأيت في المسجد أنفا أمرا أنكرته ولم أر والحمد لله الا خيرا قال فما هو فقال ان عشت فستراه قال رأيت في المسجد قوما حلقا جلوسا ينتظرون الصلاة في كل حلقة رجل وفي أيديهم حصا

---

[1] - الاعتصام للشاطبی : جلد ١ صفحه ٤٩

فيقول كبروا مائة فيكبرون مائة فيقول هللوا مائة فيهللون مائة ويقول سبحوامائة فيسبحون مائة قال فماذا قلت لهم قال ما قلت لهم شيئا انتظار رأيك أو انتظار أمرك قال أفلا أمرتهم ان يعدوا سيئاتهم وضمنت لهم ان لا يضيع من حسناتهم ثم مضى ومضينا معه حتى أتى حلقة من تلك الحلق فوقف عليهم فقال ما هذا الذي أراكم تصنعون قالوا يا أبا عبد الله حصا نعد به التكبير والتهليل والتسبيح قال فعدوا سيئاتكم فأنا ضامن ان لا يضيع من حسناتكم شيء ويحكم يا أمة محمد ما أسرع هلكتكم هؤلاء صحابة نبيكم صلى الله عليه و سلم متوافرون وهذه ثيابه لم تبل وأنيته لم تكسر والذي نفسي بيده انكم لعلي ملة هي أهدي من ملة محمد أو مفتتحوا باب ضلالة قالوا والله يا أبا عبد الرحمن ما أردنا الا الخير قال وكم من مريد للخير لن يصيبه ان رسول الله صلى الله عليه و سلم حدثنا أن قوما يقرؤون القرآن لا يجاوز تراقيهم وأيم الله ما أدري لعل أكثرهم منكم ثم تولى عنهم فقال عمرو بن سلمة رأينا عامة أولئك الحلق يطاعنونا يوم النهروان مع الخوارج : قال حسين سليم أسد : إسناده جيد : ([1])

حضرت عبدالله بن مسعود رضى الله عنه هغه په كوفه كي گورنر دي ابو موسي اشعري رضى الله عنه د هغه سلام له تلي دي لكه يو ملگري چه دبل ملگري تپوس له څي حضرت عبدالله ابن مسعود رضى الله عنه چه كله مونځ وكړو نو سنتو له كورته لاړو ابوموسي اشعري رضى الله عنه خو ميلمه وو.

---

[1] - سنن الدارمی : جلد ۱ صفحه ۷۹ باب في كراهية أخذ الرأي

عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه هلته ګورنر دي وي کتل چه په جمات کي سه کسان ناست دي هغه یو ورته وائي هلکه دومره پیري سبحان الله اووایه نو هغوي وي سبحان الله سبحان الله نو ده چه وکتل چه دا عمل خو صحابو نه دي کړي په عمل کي ذکر وو الحمد الله وه تسبیح وه تهلیل وو نو هغه د هغه ځائي نه روان شو دروازه ئي وټکوله عبدالله ابن مسعودرضی الله عنه ته نو ورته وائي چه ما اوس ستا په جمات کي یو عمل ولیده او ماته سه ناشنا غوښته ښکاره هسي ماته خو ښه ښکاریده ذکر وو کنزل پکي نه وو هغه ورته وي سه چل وو؟ وي یو سړي راغي د مانځه نه پس ته چه کورته راغلي او خلق ئي راجمع کړه او ورته ئي وي دومره پیري سبحان الله اووائي او دومره پیري الحمدلله اووائي او دومره پیري دا اووائي.

عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه ورته وائي تا ورته سه اووي هغه ورته وي ما ستا درائي انتظار کوو ما ورته سه نه دي وئیلي نو هغه سنت زر زر وکړه او جولي د ګټو ډکه کړه او راغي او دغه د جمات په دروازه کي ودرېدو دي خلقو ته وائي اي خلقو چه څوک مي پیژني نو پیژنئي مي ګورنر دي چا نه پیژندو او څوک چي مي نه پیژني نو زه د ام عبد څوئي یمه عبد الله ابن مسعود رضی الله عنه څه سه وړوکي سړي نه یمه زه د نبي صلی الله علیه وسلم صحابي یمه او ذهن مي ندي خراب شوي دا جامي ماد نبي صلی الله علیه وسلم په ملګرتیا کي اغوستي دي دا لازړي شوي ندي په کومو لوخو کي چه ما د نبي صلی الله علیه وسلم سره خوراک

کړي دي هغه لا مات شوي نه دي ځما دي په خدائې قسم وي تاسو یو تور بدعت پیدا کړي دي یابه ستاسوعلم د نبي صلی الله علیه وسلم د صحابودعلم نه سیوا وي اوبیا ئې یویو د جمات نه اُویستل او په کانړو باندي ئې اُویشتل.

د بدعتي سزا داده چه کانړي پسي راواخله او د جمات نه ئې اوُباسه.

تاسو ته پته شته زمونږ د حنفي مذهب د هغي ټول دارو مدار هغه د ابن مسعود رضی الله عنه په روَایاتو باندي دي نو کوم شي چه پیغمبر صلی الله علیه وسلم او صحابو رضی الله عنه نه وي کړي هغه دین نه دي دا اُورونه دا مونځونه دا ددي میاشتي بدعات دي.

دسنتومقام اومرتبه

دسنتو په باره کي داخبره یادوساتئ نبي صلی الله علیه وسلم فرمائي.

عن عاصم بن عمرو قال خرج نفر من أهل العراق إلى عمر، فلما قدموا عليه قال لهم ممن أنتم ؟ قالوا من أهل العراق قال فبإذن جئتم ؟ قالوا نعم قال فسألوه عن صلاة الرجل في بيته فقال عمر سألت رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال أما صلاة الرجل في بيته فنور فنوروا بيوتكم : (۱)

دا سنت رنړا ده کور پري د رنړا کړي دلته زه سنتو له کور ته تلم نو

۱- سنن ابن ماجه : جلد ۲ صفحه ۳۸۸ باب ما جاء في التطوع في البيت

دا دسوات بونیر نه چه خلق راغلي نو ددي وړونه ئې تپوس کولو چه دا ستاسو دا پلار چه دي دي په منډه کور ته ولي ځي چرته څوک پسي راځي که نو هغوي ورته وي نا دا مونځ رنړا ده سنت رنړا ده دا کور کي کول پکار دي.

څومره رنړا ده ؟ ددي فضیلت څومره دي نو حدیث کي راځي نبي صلی الله علیه وسلم فرمائې صحیح حدیث دي.

عن زیدبن ثابت أن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال صلاة المرء فی بیته أفضل من صلاته فی مسجدی هذا إلا المکتوبة : ([1])

د فرض مونځ نه علاوه نور مونځ چه په مسجد نبوي کي ئې وکړي ثواب ئې کم دي چه په کور کي وکړي ثواب ئې زیات دي مسجد نبوي کي یو مونځ په یو لاکه دي څوک په پنځوس زره وائې مختلف روایتونه دي نو چه په کور کي ئې ثواب زیات شو نو چه څوک یو لاکه وائې نو د هغه په حساب یو نیم لاکه ثواب کیګي او چه پنځوس زره وائې نو د هغه په حساب د یو لاکه ثواب کیګي نفل مونځ په کور کي کول پکار دي.

د عبدالله ابن عمر رضی الله عنه واقعه

یو صحابي راغلي دي نو هغه په جمات کي مونځ کولو د جمات امام چه اذان اووي نو بیا ئې اووي خدائې مو اوبخه مانځه له راځي د بانګ نه پس ئې دا آواز وکړو صحابي څوک دي؟ د نر صحابي ځوئي دي صحابه خو ټول نران وو خو دا د عمر صاحب

[1] - سنن ابی داود : جلد ۱ صفحه ۴۰۳

ځوئي دي عبدالله ابن عمر رضی الله عنه او پخپله هم نر او داسي نر او داسي متبع د سنت چه پيغمبر صلی الله عليه وسلم په کوم ځائې کي ناسته کړي ده په هغه ځائې کي ناست دي او چه په کوم ځائې کي ئې ملاسته کړي ده نو هغه ملاسته دي.

بخاري کي اوګد حديث دي د مديني منوري نه چه نبي صلی الله عليه وسلم راتلو د مکي پوري په کومو کومو ځائيونو کي هغه شپه کړي ده په کوم ځائې کي رو رو تلي دي او په کوم ځائې کي تيز تلي دي او په هغي باندي د عبدالله بن عمر رضی الله عنه روايت دي حالانکي امت په دي باندي نه دي چه ګني په دغه ځيزونو کي دي اتباع وکړي او عبدالله ابن عمر پري تلي دي.

نو چه کله هغه سړي آواز وکړو چه خدائې مو اوبخه مانځه له راځي نو عبدالله ابن عمر رضی الله عنه خپل شاګرد ته وي په آخر عمر کي هغه ړوند شوي وو خپل شاګرد ته ئې وي.

عن مجاهد قال كنت مع ابن عمر فثوب رجل فی الظهر أو العصر قال اخرج بنا فإن هذه بدعة : (۱)

ددي مبتدع د جمات نه مي و باسه مونږ د نبي صلی الله عليه وسلم په زمانه کي دا عمل نه وو ليدلي هغه جمات کي ئې مونځ نه دي کړي.

د حضرت علي کرم الله وجهه واقعه

حضرت علي کرم الله وجهه عيدګاه ته لاړ يو سړي مونځ کولو

---

۱ - سنن ابی داود : جلد ۱ صفحه ۲۱۱

پخني غوندي سړي وو.

ياامیرالمؤمنین ایعذبن الله علي الصلوه لاولکن یعذبک بخلاف السنة

علي رضی الله عنه ورته وي مونځ مه کوه الله به درله سزا درکړي نو هغه ورته وي الله به مالره په مونځ سزا راکوي هغه وي تا د سنتو خلاف وکړو په دي به تا لره الله سزا درکړي.

د نبي صلی الله علیه وسلم هر عمل چه هغه کړي دي د هغي کول سنت دي چه هغه پریښودي دي د هغي پریخودل سنت دي.

د علامه شبیر احمد عثماني رحمه الله وینا

علامه شبیر احمد عمثاني رحمه الله په فتح المنیر کي لیکل دي چه.

السنة کما تکون في الفعل تکون في الترک وکما لا نتقرب الي الله تعالي بترک ما فعل کذالک لا نتقرب الیه بفعل ما ترک.

سنت چه څرنګ په کولو کي وي دارنګ په ترک یعني پریخودلو کي به هم وي نبي صلی الله علیه وسلم چه یو عمل کړي دي مونږ به ئې پریدو الله ته پري نه شو نزدي کیدي دارنګي چه نبي صلی الله علیه وسلم یو عمل پریښودي دي او مونږ ئې کوو نو الله ته پري نه شو نزدي کیدي نو دا قسم څیزونه دا بدعات دي.

دا خبري لګي په ذهن کي کینوئې نورو خلقو ته ئې ورسوي او صباله به الله پاک ستاسو نه تپوس کوي نبي صلی الله علیه وسلم چه آخري خطبه وئیلي وه نو اعلان ئې کړي وو اَلَا فَلْیُبَلِّغِ الشَّاهِدُ

اَلْغَائِبَ خبردار حاضرين دي دا خبري غائبينو ته ورسوي دا خبري يادي کئې او خلقو ته ئې ورسوي.

د شعبان د روجو فضيلت

د شعبان د مياشتې په پنځلسمه باندي هغه څيزونه پخول او د يو بل کره ليکل شرعاً ددي سه مقام نه شته.

البته کومي زنانه يا نارينه چه هغه دا غواړي چه مونږ دي روژي ونيولي نو ددي مياشت د روژو د رمضان نه پس ثواب ډير زيات دي هغه نوري روژي ما تاسو ته ښودلي دي لکه د عاشوراء روژه د محرمي د لسمي روژه د يو کال ګناهونه پري الله معاف کوي د عرفي د ورځي روژه د غيرحاجيانو د پاره ددووکالو ګناهونه پري الله معاف کوي د هغي نه پس دد ي ثوابونه دا ډير زيات دي که روژي نيسئ نو روژي ونيسئ خوګوره روژه چه نيسئ نو شعبان او رمضان به يوځائې کوي نه په آخرکي چه کله شل ورځي روژي ونيسئ ورځ پس ئې نيسي دوه ورځي پس ئې ونيسي نو چه کله شل ورځي پنځيش ورځي لس ورځي پاتي شي نو بيا بوزه کئې ددي د پاره چه رمضان راځي چه تاسو د روژي په خوند باندي بياپوهيګي.

الله دي مونږ او تاسو له په دي د صحيح عمل کولو توفيق راکړي انشاءالله په دي ټوله مياشت کي دا خبري ياد وساتئ په کورونو کي ئې وکئې د يو بل سره ئې تکراروئې ددي دپاره چه تاسو ته د شعبان په باره کي تاسو ته کومي ديني خبري دي چه هغه تاسو ته يادي شي.

اختتام

کوم اول خبره چه ما وکړه په دي مياشت کي روژي نيول دا غوره کار دي په دي باندي صحيح روايتونه دي.

ددي مياشت په فضيلت کي چه کوم غلط روايتونه راغلي دي هغه غلط دي.

ددي مياشت د پنځلسمي په باره کي چه کوم روايتونه چه خلق پيش کوي چه په دي باندي رزقونه تقسيمګي نو دا د قران ده نص خلاف ده.

په دي مياشت کي چه په دغه شپه کي کوم عبادتونه خلق کوي لکه صلوة الفيه شو صلوة الرغائب وغيره دد ي په شريعت کي هيڅ اصل نيشته.

د مجوسو سره مشابهت

کوم خلق چه په دي کي شر شري ياپه دي کي غونډو سکي الوزوي دا دمجوسيانو طريقه ده او نبي صلى الله عليه وسلم فرمائي من تشبه بقوم فهو منهم چا چه د يو قوم سره ځان مشابه کړو د هغوي نه به وي چا چه د يو قوم شعار اختيار کړو د هغوي خاص څيزونه وو او هغه ئې په ځان کي راوستل دا سړي کافر دي دده په کفر کي زره بره شک نشته.

زمونږ فقهاء ليکي چه يو سړي زينار غاړي ته واچولو کلمه ئې وئيله خو زينار ئې غاړي ته اچولي وو دوس کافردي تردي پوري چه د زينار مشابه يو مزي ئې غاړي ته واچولو بعضي خلق هغوي

غاړو ته لاسونو ته مزي اچوي او مزي څنګه اچوي؟ چه بریخ ئې شي وائې د کومي ښځي چه سخر خواخي او مور او پلار ژوندي وي نو د هغي د بچوکي تار راوړه دا سړي ډیر بي غیرته وي چه دي د خپلي ښځي د بچوکي تار ورکوي او بل سړي ئې لاس ته اچوي او دغه هم ډیر بي خونده او بي ایمانه سړي وي چه دي په تار کي دومره اثر ګڼي چه په دي باندي بریخ لري کیګي.

بعضي خلق هغوي کبړ راوړي یو خو پخوا هغه کبړ وو سړي چه به پري د کوهي نه راخیژولو یو ددوي کبړ دي د اُم تار نه ئې جوړ کړي وي او په تیلو کي ئې غوړ کړي وي دا ټول شرکونه دي ددي هیڅ مقام نشته.

شرعي تعویز جائز قدري دي هغه هم تاسو ته نه وایمه چه تاسو ئې خامخواه غاړي ته واچوي خو که څوک ئې غاړي ته واچوي نو مونږ ورته کافر او مشرک نه وایو ښه خبره دا ده چه نه ئې اچوي غاړي ته که د لوئې مصیبت که لوي مصیبت نه پري سړي خلاصیږي ددغه شرکونو نه نو بیا دي خیر دي واچوي جائز دي

آمین

فضائل ومسائل رمضان (۱)

الحمد لله رب العلمين والصلوة والسلام على سيد الانبياء
والمرسلين وخاتم النبين وقائد الغر المحجلين
سيدنا محمد المبعوث الى الخلق اجمعين وعلى اله الطيبين
واصحابه الطاهرين وعلى ازواجه الطاهرات امهات المؤمنين
وعلى امته المتقين الى يوم الدين

وبعد

فاعوذ بالله من الشيطان الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم
شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنْزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ هُدًى لِلنَّاسِ وَبَيِّنَاتٍ مِنَ الْهُدَى وَالْفُرْقَانِ : (۱)

تمهيد

راروانه مياشت د خير او د برکت مياشت ده. ددی مياشتی نوم د الله په کتاب کي رمضان دی.
علماء وائی دی مياشتی ته رمضان ځکه وائی چه رَمَضَ او إرْتَمَضَ په عربی کي ريژيدلو ته وائی نو رمضان ته رمضان ځکه وائی لارتماض الذنوب فيه په دی کي الله پاك د خلقو ګناهونه ريژوی.

د رمضان فضيلت

دامياشت په دی دولسو مياشتو کي د تولو نه بهتره مياشت ده. اوددی دبهتروالی سبب دادی چه رب کائنات په دی مياشت کي

۱- سورة بقره (۱۸۵)

یونزول د قران کړي دی د علم الهي نه لوح محفوظ ته دوئم نزول ئي کړي دي د لوح محفوظ نه دی نزدی آسمان ته او درئم د قران عظیم الشان نزول په دی میاشت کي د نزدی آسمان نه جناب محمدالرسول الله صلی الله علیه وسلم ته شروع شوي دي نو د قران کریم دری نزوله دی اودری واړه په دی میاشت کي شوی دی.بیا په دی میاشت کي یوه شپه ده چه قران عظیم کي هغی ته لیلة مبارکه وائی د خیر او د برکت ډکه شپه.

الله رب العزت فرمائی.

إِنَّاأَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةٍ مُبَارَكَةٍ إِنَّاكُنَّامُنْزِلِينَ فِيهَايُفْرَقُ كُلُّ أَمْرٍ حَكِيمٍ : (١)

چه ما دا قران عظیم په مبارکه شپه یعنی د خیر او د برکت په ډکه شپه کي رالیږلي دي او الله وائی إِنَّا كُنَّا مُنْزِلِينَ زه ددی رالیږونکي یم.ددغي شپی مذیت او غوره والي په نورو شپو باندی څنګ چه د برکت په اعتبار دي نو الله رب العزت فرمائی په دغه شپه کي د هر کار د کال دپاره فیصله کیږی.

د دغه شپي باره کي الله فرمائی.

إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ * وَمَا أَدْرَاكَ مَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ * لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ * تَنَزَّلُ الْمَلَائِكَةُ وَالرُّوحُ فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِمْ مِنْ كُلِّ أَمْرٍ * سَلَامٌ هِيَ حَتَّى مَطْلَعِ الْفَجْرِ : (٢)

قران عظیم الشان ما د قدر په شپه کي رالیږلي دی او ته خبر ئی چه د قدر د شپی شان څومره دی؟ د قدر شپه داد زرو میاشتو نه غوره ده.

١- سورة دخان : (٢-٣)

٢- سورة قدر: (١-٥)

او بیادهغی دغوره والي وجه خائی فرشتی او روح الامین جبرئیل علیه السلام د الله هره فیصله په دی شپه کي خکته راکوزوی. او دا شپه دسلامتیا ده.د صبا د ختو پوری.

دا ایت او د سورة دخان ایت چه یوځائي کړی نودا خبره ترینه معلومه شوه چه په دی برکتی میاشت کي الله رب العزت د خلقو د رزق دکاله پوری د هغوئ د افعالو او د کردار اندازه کوی او په دی شپه کي دعاقبلیږی ډیره زیاته.

رمضان کي ډیری فرشتی د نیا ته راکوزیکی

ځکه په دی شپه کي ډیری فرشتی دجبرئیل علیه السلام په شمول باندی دی دنیا ته راکوزیکی.

یو حدیث مبارك کي راځی نبی صلی الله علیه وسلم فرمائی.

عن أبي هريرة ﷺ أن النبي صلى الله عليه وسلم قال إذا سمعتم صياح الديكة فاسألوا الله من فضله فإنها رأت ملكا وإذا سمعتم نهيق الحمار فتعوذوا بالله من الشيطان فإنه رأى شيطانا : ([1])

چه د بانګی اواز واوری نو په دغه وخت کي د الله نه دعا غواړی دُعا په دغه وخت کي ډیره خه قبلیږی ځکه ده فرشته اولیده. نو د یوی فرشتی په لیدو باندی چه هغه تا نه ده لیدلي بانګی لیدلي ده او د هغی د وجي نه هغه آواز اوکړو.

نبی صلی الله علیه وسلم فرمائی دعا غواړی دعا خه قبلیږی نو په کومه شپه چه ډیری فرشتی دی دنیا ته راشی او جبرئیل امین

---

[1] - صحیح البخاری حسب ترقیم البخاری : جلد ٤ صفحه ١٥٥ باب خیر مال المسلم غنم یتبع بها

هم ورسره وی نودهغه شپی باره کي دی څه خیال دی؟
ددی وجی نه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دا شپه الله اول خودلي وه. لکه حدیث کي رازي.
وعن أبي هريرة قال سئل رسول الله صلى الله عليه وسلم عن ليلة القدر فقال أريتها ثم أنسيتها وعسى أن يكون خيرا لهم ولكن اطلبوها في العشر الأواخر من رمضان : (١)
ابوهریره رضی الله عنه فرمائي چه د نبی صلی الله علیه وسلم نه د لیلة القدر باره کي تپوس وکړي شو نو نبی صلی الله علیه وسلم وفرمائیل چه دا شپه الله اول ماته خودلي وه او بیا زمانه هیره شوه چه کومه یوه ده.
خو تخمینی اندازه ئي نبی صلی الله علیه وسلم اوخودله چه دا آخری لس شپی چه دی په دی کي ئی ګوری. او په دی کي ئی په طاق شپو کي ګوری.
غرض مې داوو چه دا راروانه میاشت د خیر او د برکت میاشت ده داده دعا او د عبادت د قبلیدو میاشت ده په دی کي د عبادت مقام هغه ډیر اوچت دی.

د رمضان خصوصیت

یو حدیث مبارك کي راځی جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی چه د وړوکی اختر ورځ شی نو د هغه ورځ نه د جنت په سجاوټ (مزین کول) باندی ملائکی شروع اوکړی او د شعبان د آخری

١- مسند ابی یعلی : جلد ٥ صفحه ٣٦٥ مسند عبد الله بن مسعود

ورځی پوری پوره یو کال د جنت سجاوټ کیږی د رمضان دپاره.

حدیث کې راځی.

عن أبي هريرة : قال قال رسول الله صلى الله عليه و سلم إذا كان أول ليلة من شهر رمضان صفدت الشياطين ومردة الجن وغلقت أبواب النار فلم يفتح منها باب وفتحت أبواب الجنة : ([1])

عن أبي هريرة قال إن رسول الله صلى الله عليه و سلم قال إذا جاء شهر رمضان فتحت أبواب الجنة و غلقت أبواب النار و صفدت الشياطين : ([2])

کله چه درمضان میاشت داخله شی شیطانان اوسرکشه پیریان اوترلي شی د جهنم دروازی بندی شی او د جنت دروازی کهلاؤ شی.

د جبرئیل علیه السلام خیري او د نبی صلی الله علیه وسلم امین ونیل

یوحدیث دي تاسو باربار اوریدلي دي.

عن سعد بن إسحاق بن كعب بن عجرة عن أبيه عن جده كعب بن عجرة أن رسول الله صلى الله عليه وسلم خرج يوما إلى المنبر فقال حين ارتقى درجة آمين ثم ارتقى الأخرى فقال آمين ثم ارتقى الثالثة فقال آمين فلما نزل عن المنبر وفرغ قلنا يا رسول الله لقد سمعنامنك كلاماليوم ما كنا نسمعه قبل اليوم؟ قال وسمعتموه؟ قالوا نعم قال إن جبريل عليه السلام عرض لي حين ارتقيت درجة فقال بعد من أدرك أبويه عند الكبر أو أحدهما لم يدخلاه الجنة

۱- سنن الترمذی : جلد ۳ صفحه ٦٦ باب ما جاء في فضل شهر رمضان

۲- صحیح ابن خزیمه : جلد ۳ صفحه ۱۸۸ جماع أبواب فضائل شهر رمضان و صیامه

قال قلت آمين وقال بعد من ذكرت عنده ولم يصل عليك فقلت آمين ثم قال بعد من أدرك رمضان فلم يغفر له فقلت آمين : ([1])
عن أبي هريرة أن النبي صلى الله عليه و سلم صعد المنبر فقال آمين آمين آمين قيل يا رسول الله إنك حين صعدت المنبر قلت آمين آمين آمين قال إن جبريل أتاني فقال من أدرك شهر رمضان ولم يغفر له فدخل النار فأبعده الله قل آمين فقلت آمين ومن أدرك أبوية أو أحدهما فلم يبرهما فمات فدخل النار فأبعده الله قل آمين فقلت آمين ومن ذكرت عنده فلم يصل عليك فمات فدخل النار فأبعده الله قل آمين فقلت آمين : قال شعيب الأرنؤوط: إسناده حسن : ([2])
نبی صلی الله علیه وسلم یو پیره د منبر اولي پورې ته اوخوتو وئیل ئی امین بیا دوئمی ته اوخوتو وي امین بیا دریمی ته اوخوتو وي امین صحابؤ ترینه تپوس اوکو یا رسول الله صلی الله علیه وسلم دا تاسوپه څه امین اوي؟نبی صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه جبرئیل علیه السلام راغي زه چه اولی پورې ته ختمه نو ماته ئی وي چه خدائي دي هغه سړي تباه او برباد کړی او هلاك کړی غرق دی کړی خدائي هغه سړي چه خپل مور پلار یا دوانړه ئي اومندل د بوډا والی په حالت کي او دي د هغوئ په خدمت جنت ته لاړه ړو نوما وی آمین خدائي دی غرق کړی خدائي دی تباه کړی خدائي دی برباد کړی نو چه دویمی پورې ته اوختم نو جبرائیل علیه السلام وی هغه سړي دي خدائي غرق کړی هغه سړی دی خدائي تباه کړی هغه

---

[1]- المعجم الكبير للطبرانی : جلد ١٤ صفحه ١٤
[2]- صحيح ابن حبان بتحقيق الارناووط : جلد ٣ صفحه ١٨٨ باب الأدعية

سړي دی خدائي برباد کړی چه ستا نوم ئي واوريدو او په تائی درود او نه وي نونبی صلی الله علیه وسلم وائی چه ما وی آمین نوچه دریمی پوړی ته اوختم نوبیاجبرائیل علیه السلام وي هغه سړي دی خدائي تباه کړی هغه سړي دي خدائي برباد کړی هغه سړي دی غرق شی هغه سړی دپاره هلاکت دي چه په هغه باندی د رمضان میاشت راغله او د ده د ګناهونو مغفرت او نه شو.

رمضان کي الله پاک دخلقو ګناهونه معاف کئ

رونړو:د سوچ یو خبره ده رمضان لکه څنګ چه ما تاسو ته عرض اوکو دی ته رمضان څکه وائی چه په دی کي الله پاك دخلقو ګناهونه معاف کئ خوګناه خوهسي نه معاف کیږی دګناه د معاف کیدو دپاره څه اعمال خو پکار وی کنه.

په دی میاشتی کي نفلی عمل د فرضو هومره دی او فرض عمل یوپه پنځه ویشت دي بلکه د هغی نه هم سوا خو چه کله یو قوم داسی وی چه درمضان راتلل هغوئ ته بوج څکاری روژه ئی نیولی ده د ماسپخین نه پس ورسره خبري نه شی کولی هلکه وائی دماغ مې مه خرابوه زما روژه ده. داسی خلق د الله د غضب مستحق خلق دي.

رمضان انسان ته د انسانیت دعوت ورکوی

رمضان دا انسان ته د انسانیت دعوت ورکوی دانسان نه انسان جوړوی نوچه دکوم انسان نه په کي خراو غوئی جوړشی هلکه مازیګردي زما سره به خبری نه کوي هلکه روژه مې ده خبری به نه

کوي نو دا خو انسانیت نه شو دا خو حیوانیت شو داخو درنده توب شو.دادي چه لتی وهی او مازیگردهر سړی سره جنګ کوی نو په ده کي او په خره کي څه فرق دی.

حدیث کی رازی.

عن سعيد بن المسيب عن سلمان قال خطبنا رسول الله صلى الله عليه وسلم في آخر يوم من شعبان فقال أيها الناس قد أظلكم شهر عظيم شهر مبارك شهر فيه ليلة خير من ألف شهر جعل الله صيامه فريضة وقيام ليله تطوعا من تقرب فيه بخصلة من الخير كان كمن أدى فريضة فيماسواه ومن أدى فيه فريضة كان كمن أدى سبعين فريضة فيماسواه وهو شهر الصبر والصبر ثوابه الجنةوشهر المواساة وشهر يزداد فيه رزق المؤمن من فطر فيه صائما كان مغفرة لذنوبه وعتق رقبته من النار وكان له مثل أجره من غير أن ينتقص من أجره شيء قالوا ليس كلنا نجد ما يفطر الصائم فقال يعطي الله هذا الثواب من فطرصائما على تمرة أو شربة ماء أو مذقة لبن وهو شهر أوله رحمة وأوسطه مغفرة وآخره عتق من النار من خفف عن مملوكه غفر الله له وأعتقه من النار واستكثروا فيه من أربع خصال خصلتين ترضون بهما ربكم وخصلتين لا غنى بكم عنهما فأما الخصلتان اللتان ترضون بهما ربكم فشهادة أن لا إله إلا الله وتستغفرونه وأما اللتان لا غنى بكم عنهما فتسألون الله الجنة وتعوذون به من النار ومن أشبع فيه صائما سقاه الله من حوضي شربة لا يظمأ حتى يدخل الجنة: ([1])

---

[1] - صحيح ابن خزيمه : جلد ۳ صفحه ۱۹۲ باب فضائل شهر رمضان إن صح الخبر

د رمضان میاشت د دی په باره کي نبی صلی الله علیه وسلم یو پیره اوفرمائیل اي خلقو یوعظیمه میاشت راروانه ده څنګه عظیمه میاشت ده د یو بل سره د خیر ښیګړی میاشت ده چه کله ته دسحر نه د مانښامه پوری وړي پاتی شی ترې پاتی شی نو ستا په زړه کي کم از کم دا احساس به راشی چه زما په ګاونډ کي فلاني هغه غریب فقیر دي بي وسه دي مزدوری نه شی کولي د هغه په بچو به څه تیریږی ددی احساس دپاره الله رب العزت د رمضان میاشت مقرر کړی ده چه په تاکي انسانیت پیدا شی نو چه کله په رمضان کي ته د انسان په ځائي باندی خر اولیوه کیږی نو دا خو انسانیت نه شو.

رمضان د انسانیت دعوت ورکوی ستا په ګاونډ کي یوسړي دي معذوره دی یوزنانه ده معذوره ده هغه اوبه نه شی راوړي په رمضان کي چه کله تاته د اوبو دکموالی احساس اوشونو تاسره د هغی غریبی او ملنګی د هغی غریب فقیرتاسره احساس پیدا کیدل پکار دی اوداد رمضان سر دی.

رمضان د تربیت میاشت ده

الله رب العزت په کال کي یو میاشت دادتریننګ دپاره مقرر کړی ده.دی دپاره چه تاته احساس اوشی چه وړي وړي وی په هغه څه تیریږی اوبیا دوه قسمه وړی دی.یو هغه چه د هغه د ډوډئی درك شته مانښام به ئی اوخوری بیادهغه وړی تاسره زیات احساس پکاردی چه د هغه مانښام له د ډوډئی درك هم نشته.

کوم خلق چه هغه د انسانیت په درجو کي داخل دی او د انسانیت نه

خکته شوی نه دی د هغوئ نه خره او سپی نه دی جوړ شوی د هغه خلقو طریقه داده چه کله رمضان راځی نو رمضان ته هغوئ داسی خوشحالیږی لکه مونږ چه اختر ته خوشحالیږو او کله چه د رمضان میاشت راشی نو هغوئ د یو بل کور ته دی دپاره ورځی چه یو بل ته اوائی رمضان دی مبارك شه که یو سړي لری وی نو په موبائیل کي رساله اولیکی شهر رمضان کریم ومبارك د رمضان میاشت دی په عزت او برکت تیره شه.هغه خلق چه په چا کي انسانیت وی دمازیگر نه مخکي هغوئ په خپلوګاډوکي کهجوری اوبه نور د روژه ماتی څیزونه پخی روژی اومې روژی چرګ غوخه دائی پخ کړي وی او په خپله د فقیرکور له څی اووائی زه ستا احسان منم خو زما دا شی قبول کړه.

رمضان دا دګناهونو د ریژیدو میاشت ده نو ګناهونه هله ریژیږی چه ته خو څه داسی کار اوکړی کنه پاتی شو زمونږ خلق قصي ئي جوړی کړی دی وائی فلاني خفه وو چا ترینه تپوس اوکړو د وړوکی اختر ورځ وه چه ولي خفه ئی وائی خفه ځکه یم چه روژي ته بیا یو ورځ کمه شوه دا د کفر خبری دی. روژي ته خوشالیدل پکار دی. روژی ته په خپل زړه کي انشراح راوستل پکار دی.

د رمضان د پاره د نبی صلی الله علیه وسلم دعا غوختل

جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم به د رجب په میاشت کي دُعا.

عن أنس قال كان النبي صلى الله عليه وسلم إذا دخل رجب قال

اللهم بارك لنا في رجب وشعبان وبلغنا رمضان : ([1])
یعنی کله چه به د رجب میاشت داخله شوه نو نبی صلی الله علیه وسلم به دا دعا کوله اي الله مونږ دی شعبان په میاشت کي خیر واچوی او اي الله مونږ رمضان ته اورسوی چه دغه روژي مونږ ونیسو. دي دپاره به نبی صلی الله علیه وسلم دُعاګانی غوختی.

زمونږ خلق اورمضان

زمونږ خلق په رمضان کي تنګ دله وی. زړه ئي تنګ وی او د کوم اسرارو دپاره چه الله پاك د رمضان روژه په مونږ فرض کړی ده د هغی اسرارو نه دوی ډیرلری وی. د فقیر په فقیری خو هغه سړي خبریږی چه د هغه ټوله ورځ روژه وی. مانښام په عادی طریقه باندی یا د عادی طریقی نه لږ ورتیر کهجوره راغستی یائي څه روژه ماتی راغستی په هغی ئی روژه ماته کړه هغه سړي چه مانښام ئي ځان له دومره تُبره پیدا کړی وی چه دومره څوك میخی ته نه اچوی او دی ورته کینی هلته مولابانګ وائی او دلته دی په ډوډی باندی اړم وی مولابانګ وائی دی په میوو باندی اړم وی او د مانښام مونځ داده ده نه پاتی وی د رمضان په مانښام چه کله مولا جماعت ته راشي نو په جماعت کي یا یو تن وی یا دوه تنه وی داسی خلق هغه د دین او د عبادت په اسرارو باندی نه پوهیږی.

دعبادات اسرار څه دی؟

الله رب العزت چه کوم عبادات مقرر کړی دي د دی عباداتوڅه

---

[1] - شعب الایمان : جلد ٥ صفحه ٣٤٨

اسراردی.

دروژي سرهغه ددی نه بغیربل نشته اول داچه الله په ستا نه رضا شی اوپه دی میاشت کي الله ډیررضاکیږی.الله ډوډئ درکړی ده الله اوبه درکړی.واړه الله درکړی دی واده دی کړی دی خو د الله حکم دی چه په دی مفطرات ثلاثۀ کي په دی دری مفطراتوکي چه روژه پري ماتیږی دي ته به نه نزدی کیږی نو ته نه نزدی کیږی خو چه دا د زړه په خوشحالی باندی وی اوکله چه په دی باندی ته تنګ ئی نو دا ستا د نفاق نخه ده.

د روژي دپاره مونږ له مخکي نه څه پکاردی؟

حضرت عبدالله ابن عمر رضی الله عنهمامشهور صحابی دي د حضرت عمررضی الله عنه ځوي دي نوم ئی عبدالله دی کنیه ابو عبدالرحمن ده په صحابۀ کي داصحابی په اتباع دسنت کي مشهور دی فرمائی.

عن عبدالله بن عمر رضي الله عنهما أن رسول الله صلى الله عليه وسلم ذكر رمضان فقال لاتصوموا حتى تَرَوا الهلال ولا تفطروا حتى تروه فإن غم عليكم فاقدروا له : ([1])

عن ابن عباس قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم لا تصوموا قبل رمضان صوموا للرؤية وأفطروا للرؤية فإن حالت دونه غياية فاكملوا ثلاثين : ([2])

---

[1] - صحيح البخاری حسب ترقيم البخاری : جلد ۳ صفحه ۳٤ باب قول النبي صلى الله عليه وسلم إذا رأيتم الهلال فصوموا ، وإذا رأيتموه فأفطروا

[2] - سنن النسائی : جلد ٤ صفحه ۱۳٦

اي خلقو تر هغی پوری روژه مه نیسی. ترڅو چه په تاسو کي چا میاشت نه وی لیدلي او اختر مه کوی. ترڅو پوری چه په تاسو کي چا میاشت نه وی لیدلي.

زما رونړو : د میاشتي د لیدلو د ګمان دوه وخته دی یو وخت یقینی دي په هغی کي د میاشت لیدو ته ضرورت نشته یو وخت شکی دي په هغه کي د میاشتی لیدو ته ضرورت دي کوم وخت چه شکی دي هغه چه کله د شعبان میاشت وینی د شوقدر او د شوقدرد میاشتی نه پس ته ورځی شماری کله چه یو کم دیرشمه شی دشوقدر نو په دغه ورځ باندی به ته آسمان ته ګوری سپورمي به معلوموی که چری تا یا په عالم اسلام کي یو تن اولیده دو تنو ولیده دری تنو ولیده د هغی شرعی ګواهی ستا په مخکي پیش شوه شرعی خبر تاته راغي نو ته به روژه کوی.

د فقهاء رحمهم الله اقوال

زمونږ فقهاء لیکی دمشرق خلقومیاشت ولیده نودمغرب خلق به پری روژه کوی.

بحرالرائق زمونږ دفقهی مشهورکتاب دی بحرالرائق نهرالفائق کنزشامی وغیره وغیره څومره چه د فقهی کتابونه دی ټولو دا خبره لیکلي ده چه میاشت کله د مشرق په اقصیٰ کي ولیدي شوه نو مغرب والابه پري روژه کوی.

اقوال الفقهاء وعامة العلماء

(۱) قوله : ولا عبرة باختلاف المطالع فإذا رآه أهل بلدة ولم يره أهل بلدة أخرى وجب عليهم أن يصوموا برؤية أولئك إذا ثبت عندهم بطريق موجب ويلزم أهل المشرق برؤية أهل المغرب وقيل يعتبر فلا يلزمهم برؤية غيرهم إذا اختلف المطلع وهو الأشبه كذا في التبيين والأول ظاهر الراوية وهو الأحوط كذا في فتح القدير وهو ظاهر المذهب وعليه الفتوى كذا في الخلاصة : ([1])

(۲) قال رحمه الله ولا عبرة باختلاف المطالع وقيل يعتبر ومعناه أنه إذا رأى الهلال أهل بلد ولم يره أهل بلدة أخرى يجب أن يصوموا برؤية أولئك كيفما كان على قول من قال لا عبرة باختلاف المطالع وعلى قول من اعتبره ينظر فإن كان بينهما تقارب بحيث لا تختلف المطالع يجب وإن كان بحيث تختلف لا يجب وأكثرالمشايخ على أنه لا يعتبرحتى إذاصام أهل بلدة ثلاثين يوما وأهل بلدة أخرى تسعة وعشرين يوما يجب عليهم قضاء يوم : ([2])

(۳) ولا عبرة باختلاف المطالع فيلزم برؤية أهل المغرب أهل المشرق وإذا ثبت في مصر لزم سائر الناس في ظاهر الرواية وقيل يعتبر في كل بلد مطلع بلدهم إذا كان بينهما مسافة كثيرة وقدر الكثير بالشهر اه وقدمنا تمام الكلام على ذلك في الصوم وقدمنا هناك أن ظاهر كلامهم

---

[1] - البحر الرئق : جلد ٦ صفحه ۱۸۰ بما يثبت شهر رمضان: البحر الرئق : جلد ۲ صفحه ۲۹۰ كتاب الصوم

[2] - تبين الحقائق شرح كنزالدقائق : جلد ٤ صفحه ۷۸ كتاب الصوم

هنا اعتبار اختلاف المطالع لما علمته من هذه المسائل : تأمل : ([1])

(٤) قال فإذا ثبت في بلد لزم جميع الناس ولا اعتبار باختلاف المطالع هكذا ذكره قاضيخان قال وهو ظاهر الرواية ونقله عن شمس الأئمة السرخسي وقيل يختلف باختلاف المطالع وذكر في الفتاوى الحسامية إذا صام أهل مصر ثلاثين يوما برؤية وأهل مصر آخر تسعة وعشرين يوما برؤية فعليهم قضاء يوم إن كان بين المصرين قرب بحيث تتحد المطالع وإن كانت بعيدة بحيث تختلف لا يلزم أحد المصرين حكم الآخر وذكر في المنتقى عن أبي يوسف يجب عليهم قضاء يوم من غير تفصيل وعن ابن عباس في مثله لهم مالهم ولنا مالنا وعن عائشة رضي الله عنها فطر كل بلدة يوم يفطر جماعتهم وأضحى كل بلدة يوم يضحي جماعتهم قال ولا يصام يوم الشك إلا تطوعا لقوله عليه الصلاة والسلام لا يصام اليوم الذي يشك فيه أنه من رمضان إلا تطوعا وهو الذي يشك فيه أنه من رمضان أو شعبان وذلك بأن يتحدث الناس بالرؤية ولا تثبت : ([2])

(٥) وإذاثبت في موضع لزم جميع الناس ولا اعتبار باختلاف المطالع حتى قالوا لو رأى أهل المغرب هلال رمضان يجب برؤيتهم على أهل المشرق إذا ثبت عندهم بطريق موجب كما لو شهدوا عندقاض لم يرأهل بلده على أن قاضي بلدكذا شهد عنده شاهدان برؤية الهلال في ليلة كذا وقضى القاضي بشهادتهما جاز لهذا القاضي أن يقضي بشهادتهما لأن قضاء القاضي حجة وقد شهدا به وأما لو

---

[1] - حاشية ردالمختار علي الدرر المختار : جلد ٢ صفحه ٦١٩ : ردالمختار : جلد ٩ صفحه ١٤١ باب الهدي

[2] - الاختيار لتعليل المختار : جلد ١ صفحه ١٣٨

شهدا أن أهل بلدة كذا رأوا الهلال قبلكم بيوم وهذا يوم الثلاثين فلم ير الهلال في تلك الليلة والسماء مصحية فلا يباح الفطر غدا ولايترك التراويح لأن هذه الجماعة لم يشهدوابالرؤيةولا على شهادة غيرهم وإنما حكوا رؤية غيرهم قال الحلواني الصحيح من مذهب أصحابنا أن الخبر إذا استفاض في بلدة أخرى وتحقق يلزمهم حكم تلك البلدة : ([1])

(٦) قوله وأكثر المشايخ على أنه لا يعتبر: هو ظاهر المذهب وعليه الفتوى كما في البحر على الخلاصة وقال في الكافي ظاهر الرواية لا عبرة باختلاف المطالع ولا عبرة برؤية الهلال نهارا قبل الزوال وبعده وهو لليلة المستقبلة عند أبي حنيفة ومحمد رحمهما الله وبنحوه ورد الأثر عن عمر رضي الله عنه وقال أبو يوسف رحمه الله إذا كان قبل الزوال فهو لليلة الماضية ا هـ والمختار قول أبي حنيفة ومحمد: ([2])

(٧) يجب الصوم ويعم سائر الأقطار إذا ثبت الهلال بقطر منها لا فرق بين القريب والبعيد من جهة الثبوت ولا عبرة باختلاف المطالع مطلقا: ([3])

(٨) اختلف الفقهاء على رأيين في وجوب الصوم وعدم وجوبه على جميع المسلمين في المشارق والمغارب في وقت واحد بحسب القول باتفاق مطالع القمر أو اختلاف المطالع ففي رأي الجمهور يوحد الصوم بين المسلمين ولا عبرة باختلاف المطالع وفي رأي الشافعية يختلف بدء الصوم والعيد بحسب اختلاف مطالع القمر بين مسافات

---

[1] - مجمع الانهر في شرح ملتقي الابهر: جلد ٢ صفحه ٣١٨ كتاب الصوم

[2] - دررالحكام شرح غرر الأحكام : جلد ٢ صفحه ٤٥٧ صوم يوم الشك

[3] - فقه العبادات على المذهب المالكي : جلد ١ صفحه ٣٠٥ الباب الأول تعريف الصوم

بعيدة ولا عبرة في الأصح بما قاله بعض الشافعية : ([1])

(٩) فالواجب عليكم إتباع الرؤية إذا ظهرت في أي بلد كان سواء السَّعوديَّة أو غيرها وما دامت الرؤية قد ثبتت بالسَّعوديَّة فلتصم عرفة عليها ولا عبرة باختلاف المطالع : والله أعلم : ([2])

(١٠) اختلاف المطالع: قال الجمهورإذا رئي الهلال في بلد وجب على أهل البلاد الأخرى الصيام سواء قربت البلاد أو بعدت توحيدا للصوم بين المسلمين ولا عبرة باختلاف المطالع : ([3])

(١١) الأمر الثانى الذى يثار وقد أثير فى القديم وهو أن مطالع القمر مختلفة فى البلاد شرقا وغربا فقد يرى الهلال فى المشرق قبل أن يرى فى المغرب فهل يصوم كل على مطلعه أم الأساس هو أول روية فيصوم أهل الغرب مثلا على روية أهل الشرق الهلال على أساس أول روية ولا اعتداد باختلاف المطالع لأن الأمة الإسلامية أمة واحدة ولا يفرق بينها اختلاف الأقاليم ليكون ابتداء الصوم واحدا وانتهاوه واحدا فلا يصوم إقليم ويفطر اخرفى يوم واحد ؟([4])

(١٢) ذهب الحنيفة والمالكية والحنابلة إلى أنه لا عبرة باختلاف المطالع فإذا رأى الهلال أهل بلد وجب الصوم على بقية البلاد لقوله صلى الله عليه وسلم صوموا لرؤيته وافطروا لرؤيته وهو خطاب عام لجميع الأمة فمن رآه منهم في أي مكان كان ذلك رؤية لهم جميعاً : ([5])

---

[1]- الفقه الاسلامي وادلته : جلد ٣ صفحه ٣٩ المطلب الثالث اختلاف المطالع

[2]- فتاوى موقع الألوكة : المؤلف : مجموعة من العلماء : جز٣٢ صفحه ٩

[3]- التفسير المنير للزحيلي : جلد ٢ صفحه ١٤٤فقه الحياة أو الأحكام

[4]- زهرة التفاسير: جلد ١ صفحه ٥٥٩ سورة بقرة

[5]- روائع البيان : جلد ١ صفحه ٩٠ سورة بقرة ١٧٣

(۱۳) أجمع المسلمون على أن استبصار هلال رمضان واجب كفائى وليس فرض عين فيكفى أن يلتمسه بعض المسلمين عملا بمقتضى السنة الصحيحة يرى جمهور الفقهاء أنه لا عبرة باختلاف المطالع فاذا ثبتت رؤية الهلال فى أى بلد اسلامى ثبتت فى حق جميع المسلمين على اختلاف اقطارهم متى بلغهم ثبوته بطريق صحيح

ويرى بعض الفقهاء اعتبار اختلاف المطالع فيلتزم أهل كل بلد بمطلعه الرأى الراجح المفتى به والذى استقر عليه مؤتمر علماء المسلمين المنعقدبمجمع البحوث الإسلامية بالزهر الشريف(١٣٨٦ هجرية - ١٩٦٦ م) أنه لا عبرة باختلاف المطالع لقوة دليله ولأنه يتفق مع ما قصده الشارع الحكيم من وحدة المسلمين : ([1])

ذهب الجمهور: إلى أنه لا عبرة باختلاف المطالع فمتى رأى الهلال أهل بلد وجب الصوم على جميع البلاد لقول الرسول صلى الله عليه وسلم صوموا لرؤيته وافطروا لرؤيته وهو خطاب عام لجميع الامة فمن رآه منهم في أي مكان كان ذلك رؤية لهم جميعا وذهب عكرمة والقاسم بن محمد وسالم وإسحاق والصحيح عند الاحناف : ([2])

دا مثال چه فقهاؤ غوره کړي رونړو د هغی یو سبب دي هغه سبب دادي چه په مشرق کي میاشت کمان دادی چه مخکي لیدلي کیږی په مغرب کي روستي لیدلي کیږی نو ددی وجی نه زمونږ فقهاء لیکی که اهل مشرق میاشت ولیده نو په مغرب والو باندی روژه نیول واجب دی.

---

[1] - فتاوي الازهر: جلد ۱ صفحه ۱۰۷اختلاف المطالع فی رؤية الهلال

[2] - فقه السنة : جلد ۱ صفحه ٤٣٦اختلاف المطالع

د میاشت د لیدو ضرورت کله وي ؟

دویم د میاشتي ده لیدو حاجت چه نه وی هغه چه کله د شعبان دیرش پوره شوي نو بیا میاشت ته ضرورت نشته په دی حدیث کي سیدنا عبدالله ابن عمررضی الله عنهما هغه فرمائی چه آقا مې فرمائیلی دی لا تصوموا حتی تروا الهلال ترهغی پوری به روژه کوی نه ترڅو چه په تاسو کي چا میاشت لیدلي نه وی داد یو کم دیرش دپاره حکم دي ولا تفطروا حتی تروه او اختر به نه کوي ترڅو چه تاسو میاشت لیدلي نه وی داچه کله یو کم دیرش روژي ستا پوره شی نو بیا به ته د میاشتي د لیدو کوشش کوی فإن غم علیکم فاقدروا له که چری وریځ راغله نو بیا به اندازه اوکړي چه د شعبان څو ورځی تیری شوی دی اودا په هغه صورت کي چه تاته د شعبان میاشت هم نه وی معلومه چه اوله ورځ ئي کومه وه په تا باندی اشتباه راغله چه دا دیرشمه ده که یو کم دیرشمه ده نو بیا به د شعبان د میاشتی حساب اوکی.

بخاری کي دعبدالله ابن عمر رضی الله عنه یو روایت راځی.

عن عبد الله بن عمر رضي الله عنهما أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال الشهر تسع وعشرون ليلة فلا تصوموا حتى تروه فإن غم عليكم فأكملوا العدة ثلاثين : ([1])

عبدالله ابن عمر رضی الله عنه روایت کوي چه یقینا نبی صلی الله علیه وسلم به فرمائیل میاشت کله کله دیوکم دیرش وی نوهسي نه

---

[1] - صحيح البخاری حسب ترقيم البخاری : جلد ۳ صفحه ۳٤ باب قول النبي صلى الله عليه وسلم إذا رأيتم الهلال فصوموا . وإذا رأيتموه فأفطروا

چه یوکم دریش تیری شی او ته روژه ونیسی ترڅو چه تالیدلي نه وی په یوکم دیرشمه باندی نو روژه کوی به نه که چری ستاسو نه میاشت پټه شوه اومه نه لیده نو بیا به د تیری میاشتی دیرش پوره کړی.

د رمضان اعلان او د خلقورویه

چه کله مونږ اعلان اوکړو چه د میاشت د شعبان دیرش پوره شوی دی صبا د رمضان اوله ورځ ده یا به صورت دیگر په مکه کي په مدینه کي په ریاض کی په عربی ملکونوکي سوادپاکستان هندوستان اوبنګله دیش ددی دریوو ملکونونه علاوه نور په ټوله اسلامی نړۍ کي روژه وی نو په هغی کي هم مونږ اعلان کوو اعلان مونږ ه په دی طریقه وی چه هلکه په عامه اسلامی نړۍ کي روژه ده او زمونږ د فقهی کتابونو لیکلی دی که مشرق والا میاشت اولیده نوپه مغرب والو باندی روژه واجب ده نو روژه به کی. خوخه مو خپله ده که روژه کوی او که نه کوی زمونږ په لاس کي قوت نشته البته دا خبره ده نو داخبره ستا غوږ ته دررسؤ نوصاحبه دا د خدائي دشمنان دا شروع شی ټوله ورځ د روژي ورځ وی او دوی خو بوزه وی د خیره نو یو ګناه ئي دا وی چه د روژي په ورځ ئي بوزه وی دویمه ګناه ئي داوی چه د سحر نه شروع شی نو د مازیګر پوری ماته کنځل اوکړی هغه زما کنځل خو څه کئ زه یو انسان یمه الله به ئي زما زړه کي راولي زه به ئی معاف کړمه خو دا د خدائي خلاف چه ئی اوکو او قصدا عمدا ئي اوکړو او دي نه توبه نه اوباسی نو الله به ئی معاف کړی؟

چه کله ددغی ورځی مانښام شی او سپوږمی وینی نو بیا ئی زما نه خُله اوزی بیا دکلی نورو مولیانو ته کنځل کوی او الله پاك چه دچاپرده شلوی نود هغه خُله د علماء دنیکانو خلقو په کنزلو باندی ابته کړی.

پکار دا ده چه سړي خبر شی روژي ونیسی نو چه کله د اختر ورځ شی نو هریوسړي ماله داسی راځی ته به وائی دا زما د خپل تره ځوي دي مولوی صاحب صبا به اختر وی که نه . زه وایم زه نه یم خبر. اختر خو چه کله روژي پوره شی اختر کوو به.

د خلقودری اخترې کول

یوکالی که ستاسو یاد وی په دی کلی کي دری اخترې شوی وی. مینځمی اختر صحیح وو.اولني غلط وو او دریم نو دا اختر په ورځ دهغوئ روژه وه په دویمه ورځ باندی ئی اختر کړي وو په دی هیبت خیلو کي یو هلك وو ماسختن ئی ماته ټیلیفون اوکړو وی دلته څه کسان دی وائی مونږ دده تسلی کوو نو ماوي ولي ماته ئی څه کنزل کړی یاما پري څه دعوی کړي ده چه زما تسلی کوی اوقسم راته کوی نو ماته وائی نه په اختر کي یعنی د اختر دپاره ستاسوتسلی کوی ما ورته وي اول په روژه کي دخپل امام تسلی اوکی. ستاسو نن اته ونشتمه روژه ده نو اول د خپل امام تسلی اوکی. اختردروژي نه روستو راځی بیا به زما تسلی اوکی. دا خبري د ټوقو او مسخرو خبري نه دی .

رمضان د عبادت میاشت ده

رمضان دا یو بهترینه د عبادت میاشت ده او نبی صلی الله علیه وسلم فرمائی.

عن أبي هريرة قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من صام رمضان إيمانا واحتسابا غفر له ما تقدم من ذنبه : ([1])

چاچه د رمضان د روجه اونیوله خو ایمان پري باعث وو.نو الله رب العزت هغه ته تیر ګناهونه معاف کوی.

عن أبي هريرة أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال من قام رمضان إيمانا واحتسابا غفر له ما تقدم من ذنبه : ([2])

چاچه درمضان د شپي قیام اوکړو تراویح ئي اوکړی خوایمان پري باعث وو.او مونږ چه سنګه تراویح کوو خدائي شته شیطان هم داسی مونځ نه کوی او زمونږ خلق الحمدلله اوس خو لږ خه شوي دی پخوا به ئي فلاني مولوی صاحب په لس منټه کي شل رکعته تراویح کوی. د عبادت د توقو او مسخرو شي نه دي عبادت عبادت دي او د عبادت په طریقه باندی پکار دی.

د حضرت ابوهریره رضی الله عنه روایت

ددی میاشتی احترام اوکی. دی باره کي لکه څنګه چه د حضرت عبد الله ابن عمر رضی الله عنهما حدیث دي نو په دی باره کي د

---

[1]- صحیح البخاری حسب ترقیم البخاری : جلد ۱صفحه ۱٦باب صوم رمضان احتسابا من الإیمان

[2]- صحیح البخاری حسب ترقیم البخاری : جلد ۱ صفحه ۱٦ باب تطوع قیام رمضان من الإیمان

حضرت ابو هریره رضی الله عنه یو حدیث دي حضرت ابو هریره رضی الله عنه فرمائی.

حدثنا محمد بن زياد قال سمعت أبا هريرة رضي الله عنه يقول قال النبي صلى الله عليه وسلم أو قال قال أبو القاسم صلى الله عليه وسلم صوموا لرؤيته وأفطروا لرؤيته فإن غبي عليكم فاكملوا عدة شعبان ثلاثين : (١)

دا مخکي حدیث چه ما بیان کړو دا بخاری ذکر کړي دي حدیث نمبر ۱۹۰۶ مسلم ۱۰۸۰ نمبر باندی ذکر کړي دي او دا دویم روایت دا هم بخاری او مسلم دوانړو ذکر کړي دي بخاری کي ۱۹۰۹ نمبر او مسلم کي ۱۰۸۱ نمبر دي.

په حدیث کي یوه عجیبه نکته ده.صوموا لرؤیته روژه نیسئ د میاشتی په لیدو. دائی نه دی وئیلی چه روژه نیسئ ستاسو په لیدوصوموا لرؤیتکم چه تاسو میاشت اوینی. نه نه چه میاشت اولیدي شی دا نه چه تاسو ئی اوینی.لرؤیتکم ئي نه دی وئیلي لرؤیته ئي وئیلي دي.چه کله میاشت اولیدي شوه هغه په هر ځائي کي چه اولیدي شوه ته به روژه کي وافطروا لرؤیته او اختر کوئ روژه ختموی. کله چه میاشت اولیدي شی فإن غبي علیکم فاکملوا عدة شعبان ثلاثین که چری په تاسو باندی اشتباه راغله نو د شعبان د میاشتی به دریش پوره کوي بیا به روژه نیسئ.

١- صحيح البخاری حسب ترقيم البخاری : جلد ٣ صفحه ٣٤ باب قول النبي صلى الله عليه وسلم إذا رأيتم الهلال فصوموا . وإذا رأيتموه فأفطروا

د حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهما روایت

حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما یوبل روایت دي اودا هم بخاری او مسلم دوانړو راغستي.

حدثناسعيد بن عمروأنه سمع ابن عمر رضي الله عنهما عن النبي صلى الله عليه وسلم أنه قال إنا أمة أمية لا نكتب ولا نحسب الشهر هكذا وهكذا يعني مرة تسعة وعشرين ومرة ثلاثين : ([1])

نبی صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی مونږ یو جماعت یو یو ډله یوچه مونږ امیان یومعنی دامونږ لیکل لوستل نه دی کړي.

زمونږ دا امت نه په لیکلو پوهیږو او نه په حساب پوهیږي او نبی صلی الله علیه وسلم داسی کړل بعض خلق وائی الشهرهکذا وهکذا نبی صلی الله علیه وسلم داسی کړل یوه ئي کمه کړه دا غلطه ده.

قال الطيبي أي عقدالإبهام في المرة الأولى في الثالثة ليكون العدد تسعاً وعشرين ولم يعقد الإبهام في المرة الثانية ليكون العدد ثلاثين وقال الحافظ أي أشار أولاً بأصابع يديه العشرجميعاً مرتين وقبض الإبهام في المرة الثالثة وهذا المعبر عنه بقوله وفي الرواية الأخرى تسع وعشرون.وأشارمرة أخرى بهما ثلاث مرات وهو المعبرعنه بقوله ثلاثون يعني تمام الثلاثين تفسير من الراوي لفعله عليه الصلاة والسلام هكذاوهكذا وهكذا في المرة الأخيرة : ([2])

وائی په دریم کي ابهام (غته ګوته) دائی بنده کړه داسی ئي کړل

---

[1] - صحيح البخارى حسب ترقيم البخارى : جلد ٣ صفحه ٣٥ باب قول النبي صلى الله عليه وسلم : لا نكتب ، ولا نحسب

[2] - مرعاة المفاتيح شرح مشكواة المصابيح : جلد ٦ صفحه ٤٣٥

اشهر هکذا داده لسو نښه ده وهکذا وهکذا دا د نهو (۹) نخه ده نو لس او لس او نهه څو شو یو کم دریش ثم قال او بیا نبی صلی الله علیه وسلم اوی الشهر هکذا و هکذا وهکذا دا د لسو نخه ده په عربي کي دي ته عقود وائی. میاشت دومره او دومره او دومره وی څو شو دیرش او راوی تعبیر کوی یعنی مرة تسعا و عشرین و مرة ثلاثین کله کله میاشت ده یو کم دریشو وی او کله کله پوره د دیرشو وی.

حضرت ابو هریره رضی الله عنه فرمائی چه مونږ د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کي چه کومې روژي نیولی دی. په هغی کي یو کم د دیرشو میاشتی زیاتی وی او د دیرشو میاشتی پکي کمی وی.

د حضرت ابوبکره رضی الله عنه روایت د رمضان د ورځوباره کي

حضرت ابو بکره رضی الله عنه دا یو صحابی دي د ده خپل نوم دي نفیع ابن حارث ابوبکره ده ته ځکه وائی چه بکره هغه رسی. ته وائی کوم باندی چه د کوهی نه اوبه راخیجوی. د طائف د قلعه نه دي نبی صلی الله علیه وسلم ته په هغه رسی. باندی راکوز شوي وو نو د هغی نه دی په ابوبکره باندی مشهور شو.

یو دي ابوبکر ابوبکر د ده خپل نوم دي عبدالله او د پلار نوم ئي دي عثمان عثمان ته ابو قحافه وائی بکر د هغه ځوئي وو د هغی وجی نه ورته ابو بکر وائی.

ده ته چه ابوبکره وائی نو دا د هغه نسبت د وجي نه چه دی په هغه

رسی باندی خکته راکوز شوي وو ابو بکره مشهور صحابی دي او د نبی صلی الله علیه وسلم په موالیو کي دي هغه فرمائی.

عن خالد الحذاء قال أخبرني عبد الرحمن بن أبي بكرة عن أبيه رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال شهران لا ينقصان شهرا عيد رمضان وذو الحجة : ([1])

د اخترو میاشتی یومیاشت چه اخترد هغی نه روستو راځی یوه میاشت چه اختر په هغی کي راځی دا دوانړه میاشتي نه کمیږی. نو دی باره کي علماء وائی.

وقال أبو الحسن كان إسحاق بن راهويه يقول لاينقصان في الفضيلة أن كانا تسعة وعشرين أو ثلاثين انتهى وقيل لا ينقصان معاأن جاء أحدهما تسعا وعشرين جاء الآخر ثلاثين ولابدوقيل لا ينقصان في ثواب العمل فيهما وهذان القولان مشهوران عن السلف : ([2])

لاینقصان معنی دوانړه یوځائي نه کمیږی دوانړه پوره کیدي شی د دیرشو کیدي شی خو دوانړه د یوکم دیرشو نه شی کیدي چه یوه یو کم د دیرشو وی نو بله به خامخاد دیرشو ئی.

بعضی علماء وائی عدد که ئي کم شو خو په ثواب کي ئی کمي نشته یا دجناب رسول الله صلی الله علیه وسلم مقصد دا وو چه دی کوم کال کي چه مونږ یو دی کي به رمضان او ذوالحجة دوانړه به نه کمیږی او دا د وحی خبري وي دا مطلب نه دي چه دا کمیږی نه او ټول عمر به د دیرشو وی او دا حدیث متفق علیه حدیث دي.

---

[1] - صحیح البخاری حسب ترقیم البخاری : جلد ۳ صفحه ۳۵ باب شهرا عید لا ینقصان

[2] - فتح الباری شرح صحیح البخاری : جلد ٤ صفحه ۱۲۵

نبی صلی الله علیه وسلم په کومه میاشت کي زیاتی روژي نیولي ؟

یو بل حدیث دی حضرت.

عن أبي هريرة رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال لا يتقدمن أحدكم رمضان بصوم يوم أو يومين إلا أن يكون رجل كان يصوم صومه فليصم ذلك اليوم : ([1])

ابوهریره رضی الله عنه فرمائی جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی یاد ساتی درمضان د داخلیدو نه مخکي یو ورځ یا دوه ورځی روژه به نه نیسی دمور ابي نه چا تپوس اوکړوچه نبی صلی الله علیه وسلم په کومه میاشت کي زیاتی روژي نیولي دی د کال په دی تولو میاشتو کي د رمضان نه علاوه زیاتی روژي ئي په کومه میاشت کي نیولی نو هغه ورته فرمائی چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم د شعبان په میاشت کي زیاتی روژي نیولی. د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم طریقه داوه لکه په یو حدیث کي رازي.

عن أبي هريرة عن النبي صلى الله عليه و سلم إذا انتصف شعبان فلاتصوموا حتى رمضان أي لا تواصلوا شعبان برمضان فتصوموا جميع شعبان أو أن يوافق ذلك صوما كان يصومه المرء قبل ذاك فيصوم ذلك الصيام بعد النصف من شعبان لأنه نهى عن الصوم إذا انتصف شعبان نهيا مطلقا : ([2])

---

[1] - صحيح البخاری حسب ترقيم البخاری :جلد۳ صفحه ۳۵ باب لا يتقدمن رمضان بصوم يوم ولا يومين

[2] - صحيح ابن خزيمه : جلد ۳ صفحه ۲۸۲

نبی صلی الله علیه وسلم شعبان د رمضان سره یوځائي کړی نه دي معنی دا چه د شعبان آخری روژي لکه ۲۷ ۲۸ ۲۹ ۳۰ دا به نبی صلی الله علیه وسلم نه نیولي او ددی نه ئی منع کړی ده.
لایتقدمن احکم ترمذی اودارنګی نورو محدثینو ددی حدیث سر خودلي دي حکمت ئي خودلي چه درمضان نه مخکي به بوزه کړی دی دپاره چه رمضان راشی او ته روژي ته خوشحاله ئی او څوک وائی دی کي حکمت دادي چه نفل اوفرض دا د یو بل سره مختلط نه شی خلقو کي شك رانه ولی.

دامهات المومنین روایات

عائشه صدیقه رضی الله عنهازمونږ مور ابی او زمونږ بله مور ام سلمه رضی الله عنهاهغه وائی چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم درمضان نه مخکي روژي نه دی نیولي او که یو سړي دي چه د هغه عادت دي ددي ورځو د روژو نیولو مثلا هغه وائی چه زما به دشورو زیارت په ورځ باندی روژه وی یا به زما د ګل او د زیارت په ورځ باندی روژه وی او پیخه داوه چه د شعبان آخری ورځ دا د ده د روژي ورځ وه نو که دي نیسی نوخیردي إلا أن یکون رجل کان یصوم صومه فلیصم ذلك الیوم : (۱)
که یو سړي داسی وو چه د هغه روژه وه عامه ورځ باندی ئی روژه وه لکه د ګنړو خلقو عادت دادي.

---

۱ - صحیح البخاری حسب ترقیم البخاری :جلد۳ صفحه ۳۵ باب لا یتقدمن رمضان بصوم یوم ولا یومین

لکه حدیث کي رازي.

عن أبي هريرة أن النبي صلى الله عليه وسلم كان يصوم الاثنين والخميس فقيل يارسول الله إنك تصوم الاثنين والخميس؟ فقال إن يوم الاثنين والخميس يغفر الله فيهما لكل مسلم إلا مهتجرين يقول دعهما حتى يصطلحا : (۱)

د جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم په خپله هم عادت داوو چي د هر ګل او د هر زيارت په ورځ به د نبي صلى الله عليه وسلم روژه وه اوددی سر نبی صلی الله علیه وسلم دا بیانؤ چه الله رب العزت ته دګل اود زیارت په ورځ باندی د بندیانواعمال پیش کیږی او د چااعمال چه پیش شی نوالله ئي قبلوی مګرهغه کسان چه د هغوئ په دنیاوی امورود یو بل سره ورانه وی الله فرمائی دوی لری کړي د دوی عمل تر هغه پوری نه قبلوم چه دوی یو شوي نه وی نو نبي صلى الله عليه وسلم فرمائی چه زما دا خواخه ده چه زماعمل کله د الله په دربار کي پیش کیږی چه زه د روژي په حالت کي یم نوداسی که یوسړي وواود هغه عادت وو مثلادزیارت دورځی روژه نیول یادګل د ورځی روژه نیول او پیخه دا شوه چه د شعبان آخری ورځ یا د ګل وه یا د زیارت وه نو که دي روژه نیسی نو خیر دی.

د میاشتی د لیدو دپاره یو څواصولی خبری

د میاشتی د لیدو دپاره یوڅواصولی خبری دی ابوداؤد ترمذی ابن ماجه دارمی په صحیح سند سره یو حدیث نقل کړی دی چه دغه روایت عبدالرزاق په خپل مصنف کي هم ذکر کړي دی بیهقی په

۱- سنن ابن ماجه : جلد ۲ صفحه ٦٢٨ باب صيام يوم الاثنين والخميس

سنن کبری کي هم ذکر کړي دي.

عن أبي هريرة أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال إذا انتصف شعبان فلا تصوموا : ([1])

حضرت ابوهریره رضی الله عنه فرمائی نبی صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی.چه کله دشوقدر میاشت نیمی ته اورسیده د نیمی نه پس بیا روژي مه نیسئ.

حضرت ابوهریره رضی الله عنه دا هم فرمائی په صحیح سند سره یو حدیث نقل دي.

عن أبي سلمة عن أبي هريرة قال قال رسول الله صلى الله عليه و سلم أحصوا هلال شعبان لرؤية رمضان : ([2])

نبی صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه د شعبان میاشت دا د رمضان د پاره شماری چه ستاسو یو کم دیرش پوره شی میاشت به ګوری او چه دیرش پوره شی نو د میاشتی انتظار به نه کوي روژه به نیسی.

ام سلمه رضی الله عنها فرمائی ما نبی صلی الله علیه وسلم نه وو لیدلي چه هغه دوه میاشتي پرله پسی روژي نیولي وي مګر شعبان او رمضان خو ددی په مینځ کي هغه روژه ختموله نه به ئی نیوله.

کومه ورځ چه د شك ورځ وی نو هغه په دی طریقه باندی نیول چه یره زه که فرضَ وه جو فرض به شی او که نفل وه جو نفل به شی نو

---

[1] - سنن ابي داود : جلد ۲ صفحه ۳۰۰ باب فيمن يصل شعبان برمضان

[2] - المعجم الاوسط : جلد ۸ صفحه ۱۵۲

د دی نه نبی صلی الله علیه وسلم منع کړی.

لکه حدیث کی رازی.

أخبرنا عبد الله بن سعيد الأشج عن أبي خالد عن عمرو بن قيس عن أبي إسحاق عن صلة قال كنا عند عمار فأتى بشاة مصلية فقال كلوا فتنحى بعض القوم قال إني صائم فقال عمار من صام اليوم الذي يشك فيه فقد عصى أبا القاسم صلى الله عليه وسلم : ([1])

نبی صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه چا د شك ورځ ونیوله خو دغه د شك په طریقه باندی یو خو د نفل په طریقه باندی وی نو جائز ده غیر اولی ده او که د فرضونه ئی نیسی نو ناروا ده او که د شك په طریقه ئی ونیوله چه زه یره که روژه شوه جو روژه به شی اوکه روژه نه شوه نو په نفل کي خو به شی کنه نو عمار ابن یاسرفرمائی نوده د ابوالقاسم محمدرسول الله صلی الله علیه وسلم خلاف ئي اوکړو.

دا حدیث ابوداؤد ترمذی ذکر کړي دي او ترمذی وائی حدیث د ام سلمی دا حدیث حسن دي نسائی او ابن ماجه دا روایت ذکر کړي دي.

ابن عباس رضی الله عنهماوائی.

عن ابن عباس قال جاءأعرابي إلى النبي صلى الله عليه وسلم فقال أبصرت الهلال الليلة فقال أتشهد أن لا إله إلا الله وأن محمدا رسول الله ؟ قال نعم قال قم يا بلال فأذن في الناس أن يصوموا

---

[1]- سنن النسائی : جلد ٤ صفحه ١٥٣ صيام يوم الشك

غدا : ([1])

ابن عباس رضی الله عنهما فرمائي چه یو باندچئ سړي نبی صلی الله علیه وسلم له راغي وی ما د رمضان میاشت لیدلي ده. نبی صلی الله علیه وسلم ترینه تپوس اوکړو ته دا ګواهی کوی چه دالله نه علاوه بل حاجت روامشکل کشانشته نو هغه وي او دویم تپوس ئي ترینه اوکړوداګواهی کوی چه محمد د الله پیغمبر دی نو هغه وی آونونبی صلی الله علیه وسلم وی بلاله پاسه خلقوته اعلان او که چه صباروژه کړی یوسړي راغلي وو دروژی البته د اختردپاره یو سړي نه دی او خاصکرزمونږ په دی زمانه کي چه د اختر د پاره خلق قرآنونه کوی قسمونه کوی اودا دله د روژي نه تنګ وی نو چه د روژي نه تنګ وی نوداخلق نه دی پکار.

حدیث کي رازي.

عن أبی بکر بن نافع عن أبیه عن ابن عمر قال تراءی الناس الهلال فأخبرت رسول الله صلی الله علیه وسلم أنی رأیته فصامه وأمر الناس بصیامه : ([2])

ابن عمررضی الله عنهما فرمائی خلقو د میاشتی د لیدو کوشش کوو ما وي یارسول الله صلی الله علیه وسلم ما لیدلي ده میاشت نو نبی صلی الله علیه وسلم روژه کړه. او خلقو ته ئی د روژي حکم اوکړو.

واخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمین

---

[1] - سنن ابن ماجه : جلد ۲ صفحه ٥٦٥ باب ما جاء في الشهادة على رؤية الهلال

[2] - سنن ابی داود : جلد ۲ صفحه ۲۷٤ باب فی شهادة الواحد على رؤية هلال رمضان

فضائل ومسائل رمضان (۲)

الحمدلله الذی ارسل رسوله بالهدی ودین الحق لیظهره علی الدین کله وکفی بالله شهیدا

واشهد ان لا اله الا الله وحده لاشریك له اقراراً به و توحیدا

واشهد ان سیدنا وسندنا ومولانا محمدا عبده ورسوله صلی الله تعالی علیه وعلی اله واصحابه وسلم تسلیما مزیدا

وبعد

فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم بسم الله الرحمن الرحیم.

شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ هُدًى لِلنَّاسِ وَبَيِّنَاتٍ مِنَ الْهُدَىٰ وَالْفُرْقَانِ : (۱)

تمهید

تیره جمعه باندی درمضان المبارك په باره کي د میاشتي د لیدو او نه لیدو مسائل تاسو مخکي ذکر شوی وو.

نن انشاء الله د رمضان ابتدائ او د رمضان په فضائلو باندی به سه بحث وی.

روژه ماتي او پیشمني

چه رمضان شروع شی دا د خیراو دبرکت میاشت ده نو په دی رمضان کي د خوراك دوه وخته وی یو ته سحور وائی بل ته افطار وائی.

۱- سورة بقره (۱۸۵)

مونږ په خپله پختو کي یو ته روژه ماتې وایو او بل ته پیشمني وایو.
پیشمني چه سړي د مولاد بانګ نه مخکي راپاسی یعنی دصبا د
ختو نه مخکي اوځه خوراك اوکی دغي ته پیشمني وائی

د پیشمنی فضیلت

بعض خلق شیطان دهغوئ دخلو نه څه مختلف قسم خبري په
مختلفواندازونوباندی اوباسی.خلقو مصرع جوړه کړي ده وائی :

د روژي هر مانښام اختر ئی ذري ذري د پیشمنی دلاسه یمه

خو جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی: د بخاری او د
مسلم حدیث دي او امام بخاری په خپل صحیح کي په ۱۹۲۳
باندی امام مسلم په ۱۰۹۵ دا حدیث پیش کړي دي.

حدثنا عبد العزیز بن صهیب قال سمعت أنس بن مالك رضي الله
عنه قال قال النبي صلی الله علیه وسلم تسحروا فإن في السحور
برکة : ([1])

نبی صلی الله علیه وسلم فرمائی پیشمني کوي ځکه په پیشمنی
کي خیر دي برکت دي نو کوم شئ چه برکت دي شیطان هغه
خلقو ته بد ښکاره کړي دي.

د حضرت عمر ابن عاص رضی الله عنه روایت دي او دا روایت
امام مسلم هم په دغه باب کي په ۱۰۹۲ باندی پیش کړي دي.

عن عمرو بن العاص قال قال رسول الله صلی الله علیه و سلم ان

---

[1] - صحیح البخاری حسب ترقیم البخاری :جلد۳ صفحه ۳۷ باب برکة السحور من غیر
إیجاب

فصلامابين صيامنا وصيام أهل الكتاب أكلة السحر: تعليق شعيب الأرنؤوط : إسناده صحيح على شرط مسلم : ([1])

جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلى دى زمونږ اوداهل كتابو د روژي په مينځ كي فرق چه دي دغه پيشمنى دي. زمونږ او د يهودونصارؤ دروژي فرق دادي چه مونږ په خپلو روژو كي پيشمني كوو او يهود او نصارىٰ هغوئ پيشمني نه كوو.

خبره د ثابته شوه چه پيشمني دا يو بهترين عمل دي خوراك څكاك هم دي خو دي سره سره په دى كي بركات هم ډير دى.

دي باره كي د ترمذى يو روايت راځى زمونږ مور ابى حضرت حفصه رضى الله عنها هغه روايت كئ

عن سالم بن عبدالله عن أبيه عن حفصة زوج النبي صلى الله عليه و سلم أن رسول الله صلى الله عليه و سلم قال من لم يجمع الصيام قبل الفجر فلا صيام له : ([2])

حضرت حفصه رضى الله عنها فرمائي چه مونږ د جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم نه اوريدلى دى. چاچه دسبا نه مخكي د روژي دپاره څه عمل اونه كړو نو د هغه د روژي كامل ثواب نه كيږى. دا د پيشمنى باره كي دجناب رسول الله صلى الله عليه وسلم روايات دى.

حضرت ابوهريره رضى الله عنه فرمائى.

---

[1] - مسند امام احمدبن حنبل : جلد ٤ صفحه ١٩٧ حديث عمرو بن العاص عن النبي صلى الله عليه وسلم

[2] - سنن ابى داود : جلد ١ صفحه ٧٤٤ باب النية في الصيام

عن أبي سلمة عن أبي هريرة عن النبي صلى الله عليه و سلم قال إذا سمع أحدكم النداء والإناء على يده فلا يضعه حتى يقضي حاجته منه : تعليق شعيب الأرنؤوط : إسناده حسن : ([1])

چه کله یو سړي دپیشمنی راپاسیدلي وو او په لاس کي ئي اوبه وي خلي ته کړي ئي وي او بانګ ئي شروع کو نو خیر دي هغه دي نه ګدی هغه دی اوځکی.

په ابتدا کي ته ځکل کولي شي او په پیشمنی کي قاعده دا ده چه ځومره ته ناوخته کي د ناوخته مطلب دا نه دي چه ته د صبا نه روستو اوکړی خو د صبا د آخر پوري ته پیشمني کولي شي.

د روژه ماتی طریقه څه ده؟

دویم په روژه کي افطار دي روژه ماتي چه ورته وائی.د روژه ماتی په باره کي طریقه څه ده؟

زمونږ په دی کلوکي پخوادا چل وو چه په یوجماعت کي به ئي بانګ اووي نودبلي حجري خلقو به په هغی باندی روژه نه ماتوله وي به ئي زمونږمولابانګ نه دي وئیلي.هغه که به ډیرناوخته ولي نه وو.

دحضرت سهل بن سعدالساعدی رضی الله عنه روایت دي هغه فرمائی.

عن أبي حازم عن سهل بن سعد أن رسول الله صلى الله عليه

---

[1]- مسند امام احمدبن حنبل : جلد۲ صفحه ۵۱۰ (مسند أبي هريرة رضي الله عنه)

وسلم قال لا يزال الناس بخير ما عجلوا الفطر: ([1])
نبی علیه الصلوٰة والسلام فرمائیلی دی خلق به تر هغی پوری په خیر باندی وی تر کومی پوری چه دوی په روژه ماتی کي تادی کوی.
دا حدیث امام بخاری رحمه الله په ۱۹۵۷ نمبر باندی ذکر کړي دي او امام مسلم رحمه الله په ۱۵۹۸ نمبر باندی ذکر کړي دي.
د دي حدیث نه او دا دوانړو احادیثو نه مخکې مې چی اووي دا خبره معلومه شوه چه په پیشمنی کي تاخیر دا مستحبه خبره ده او په افطار کي تادی کول خو داسی تادی نه چه نمر دي ولاړ وی او ته روژه ماتوي چه کله نمر ډوب شو او د مابنام آثار شروع شو نو که ته روژه ماتوي اوکه نه ماتوي ستا روژه ماته شوه.
په دی باره کي د بخاري او د مسلم یو متفق علیه حدیث دي چه امام بخاری په ۱۹۵۴ نمبر باندی او امام مسلم ۱۱۰۰ نمبر باندی دا حدیث ذکر کړي دي. د حدیث راوی دي حضرت عمر رضی الله عنه.

حدثنا هشام بن عروة قال سمعت أبي يقول سمعت عاصم بن عمر بن الخطاب عن أبيه رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم إذا أقبل الليل من هاهنا وأدبر النهار من هاهنا وغربت الشمس فقد أفطر الصائم : ([2])
حضرت عمررضی الله عنه فرمائی. جناب رسول الله صلی الله علیه

---

[1] - صحيح البخاری حسب ترقيم البخاری :جلد۳ صفحه ٤٧ باب تعجيل الافطار
[2] - صحيح البخاری حسب ترقيم البخاری :جلد۳ صفحه ٤٦ باب متى يحل فطر الصائم

وسلم فرمائیلی دی کله چه ددی طرف نه شپه را اوخته او ورځ لاړه.
بعض خلق قبلي طرف ته ګوری قبلي طرف ته خو د ډیر وخته پوري
رنړائی شپه چه راخیژی نو هم ددي طرفه او ورځ چه راخیژی نو هم
ددي طرفه نو نبی صلی الله علیه وسلم فرمائی چه کله ددی طرف نه
شپه رااوخته او ورځ په شا شوه نو د روژه دار روژه حکما ماته شوه
اګر چه ده حساً نه ئی ماته کړی خو ماته شوه. اوس که دي ئي ماتئ او
که نه ئی ماتئ. که ماته ئي کړه ثواب به ئي اوشی او که تاخیر ئي
اوکړو نو دي ګناه ګار شو.

صوم وصال څه وائی ؟

د عامو خلقو او د جناب محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم په
روژوکي څه معمولی معمولی فرق هم وو او په هغه زمانه کي د
روژي یو طریقه دا هم وه چه بعضِ خلقو به دري څلور روژي په یو
پیشمنی باندی نیولی. او مینځ کي به ئي افطار نه کوو او دي ته
صوم وصال وائی دا په یو زمانه کي عبادت وو خلقو به دري دري
څلور څلور روژي په مخه باندی نیولي او مینځ کي به ئي خوراك
څکاك نه کوو.
جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم ددغه قسم روژي نه منع
اوکړه. د حضرت ابو هریره رضی الله عنه یو متفق علیه حدیث
دي د بخاری او د مسلم بخاری په ۱۹۶۵ او مسلم په ۱۱۰۳
نمبر باندی ذکر کړي دي.
حدثني أبو سلمة بن عبد الرحمن أن أبا هريرة رضي الله عنه قال

نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم عن الوصال في الصوم فقال له رجل من المسلمين إنك تواصل يا رسول الله قال وأيكم مثلي إني أبيت يطعمني ربي ويسقين فلما أبوا أن ينتهوا عن الوصال واصل بهم يوما ثم يوما ثم رأوا الهلال فقال لو تأخر لزدتكم كالتنكيل لهم حين أبوا أن ينتهوا : (۱)

ابوهريره رضى الله عنه فرمائى چه جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم په روژه كي د وصال نه منع كړي ده.چه دوه دري روژي سړي په يو ځائي باندى ونيسى.

وصال وئيلي كيږى تتابع د روژو ته د شپي په كي سړي افطار او نه كى روژه ماته نه كى او په مخه دوه دري روژي اونيسى.

نبى صلى الله عليه وسلم چه كله ددي نه منع اوكړه او د منع علت داوو چه په هغه زمانه كي جهاد ته ضرورت وو او خلقو كي قوت نه وو. علت چه د يو شى بيان شى كه هغه علت بيا ختم هم شى نو ترڅو چه هغه حكم د پيغمبرد طرف نه نه وى ختم شوى هغه حكم نه ختميږى.

حضرت عمر رضى الله عنه يو پيره طواف كوو او په طواف كى رمل كوو هغه پهلواني او هغه چكرو كي په منډه تلل.

بيا حضرت عمر رضى الله عنه اوفرمائيل چه دا په يو زمانه كي مونږ ددشمن د مقابلى دپاره كړي وو هغه حالت اوس نشته خو دا عمل په خپل ځائي باندى پاتي دي ځكه چه كله زمونږ زور راغلي وونبى صلى الله عليه وسلم دا منع كړي نه دي دا يو يادداشت دي

---

۱ - صحيح البخارى حسب ترقيم البخارى :جلد۳ صفحه ٤٩ باب التنكيل لمن أكثر الوصال

مونږه ئي کوو اوس هم صوم وصال نشته.

لکه حدیث کي رازي.

إنك تواصل يارسول الله قال وأيكم مثلي إني أبيت يطعمني ربي ويسقين فلما أبوا أن ينتهوا عن الوصال واصل بهم يوما ثم يوما ثم رأوا الهلال فقال لو تأخر لزدتكم كالتنكيل لهم حين أبوا أن ينتهوا : ([1])

یو سړی نبی صلی الله علیه وسلم ته اووي اي د الله پیغمبره ته خو وصال کوي نو نبی صلی الله علیه وسلم ورته اوفرمائیل په تاسو کي څوک زما په شانته دی زه چه شپه تیروم نوزما رب ماله خوراك سکاك راکئ.

ددي حدیث او د هغه حدیث ظاهری تعارض دي چه د خندق په ورځ باندی کله کنده کنستي کیده نو صحابؤ د لوږي د لاسه د ګیډوپوري ګټي تړلي وي اوهغوئ چه نبی صلی الله علیه وسلم ته شکایت اوکو او نبی صلی الله علیه وسلم خپله لمن اوچته کړه نو د هغه د ګیډی پوری دوه ګټی تړلي وي.یا خو هغه روایت ضعیف دي ځکه حدیث کي صاف الفاظ دی‌انی ابیت یطعمنی ربی ویسقینی او دا متفق علیه حدیث دي دبخاری او د مسلم یادا چه دا په روژه پوری خاص دي او هغه ځائي کي د روژي خبره نه وه خو بهر حال نبی صلی الله علیه وسلم وي زما حال دا ستاسو د حال نه جدا دي.

---

[1]- صحیح البخاری حسب ترقیم البخاری :جلد۳ صفحه ٤٩ باب التنکیل لمن أکثر الوصال

ډیر عملونه خاص دی د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم پوری

ډیر عملونه دی چه هغه د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم پوري خاص دی اودجناب محمدرسول الله صلی الله علیه وسلم نه علاوه د امت دپاره هغه عمل نشته په هغی کي څه په ژوند کي دی او څه د مرګ نه پس دی.

په ژوند کي نبی صلی الله علیه وسلم یولس بیبیاني یا ددي نه سوا کړي وي راویتونو کي راځی خو عام مسلمانو له د څلورو نه سوا د جمهور مسلمینو په نزد نه دی جائز البته نن صبا یو فرقه پیدا شوي ده غیر مقلدین لاسونه چه نبکته پورته کئ د هغوئ مشران وائی چه هر مسلمان له ١١ نبځي جائز دی خو دا خبره غلطه ده دا د عامو مسلمانانو د صحابؤ د اجماع نه خلاف ده.او دلیل ئي دادي.

عن الحارث بن قيس قال مسدد ابن عميرة وقال وهب الأسدي قال أسلمت وعندي ثمان نسوة فذكرت ذلك للنبي صلى الله عليه وسلم فقال النبي صلى الله عليه وسلم : اختر منهن أربعا: (١)

یو سړي مسلمان شو او د هغه اته نبځي وي نبی صلی الله علیه وسلم ورته وي اختر منهن اربع څلور پکي غوره که او نورو له طلاق ورکه.

یو د نبی صلی الله علیه وسلم دا خصوصیت وو بل د مرګ نه پس دمحمد رسول الله صلی الله علیه وسلم خصوصیت دا وو چه انبیاء علیهم السلام چه کوم ځائي وفات شی هلته دفن کیږی عام

---

١ - سنن ابی داود : جلد ٢ صفحه ٢٧٣ باب في من أسلم وعنده نساء اكثر من أربع أو أختان

مسلمان هغه په خپل کورکي نه شی دفن کولي هغه به د مسلمانانو مقبري ته وړي دغه د پیغمبر خصوصیات دی.دا هم د پیغمبر علیه السلام خصوصیت وو.

د روژه ماتی فضیلت

د روژه ماتی په باره کي د ترمذی یو روایت دي او د دغه روایت ذکرامام احمدابن حنبل په خپل مسند کي هم کړي دي.ابن حذیمه په خپل صحیح کي هم ذکر کړي دي.ابن حبان هم ذکر کړي دي او معجم اوسط کي طبراني ذکر کړي دي او هیثمی د هغه کتاب دي موارد الظمآن په هغی کي هم هغه ذکر کړي دي.

عن أبي سلمة عن أبي هريرة عن النبي قال قال الله تبارك وتعالى أحب عبادي إلي أعجلهم فطرا لم يرو هذا الحديث عن الزبيدي إلا مسلمة بن علي : (۱)

نبی صلی الله علیه وسلم فرمائی الله رب العزت وائی زما په بندیانوکي ماته ډیر ګران بنده هغه دی چه هغه روژه زر ماتئ چه څنګ د شپي علامات شروع شی او دي ماته کی او دي انتظارونه نه کی.

داولي په روژه ماتی کي تعجیل سنت دي اوپه پیشمنی کي تاخیر سنت دي ؟ د دي وجه داده چه د روژه ماتی تعجیل دا دانسان د عاجزی دلیل دي اودپیشمنی تاخیردا هم دانسان دعاجزی دلیل دي.

۱- المعجم الاوسط : جلد ۱ صفحه ٥٤

اول کي انسان عملی طور سره الله ته خائی چه الله زه ډير کمزوري يمه زه ګوري د ډوډۍ دخوراك څكاك نه نه شم صبريدي آخره پوري خورم خواخوا ستاحكم دي نو نه ئي خورم.

چه كله د روژه ماتی وخت راشی نو دي ئي زر ماته كړی الله زه ډير كمزوري وومه خوداستاحكم وو نوتردي وخته پوری مې راورسوو اخوا ته زه كمزوري ئمه نوانسان خپله كمزوری عملی طور باندی سرګندوی اوالله رب العزت په دی باندی خوشاليږی چه د الله لوئی بيان شی اوانسان خپله كمزوری الله ته اوښائی.

روژه ماتي په څه باندی مستحب دي ؟

روژه ماتي دا په څه باندی مستحب دي.پيشمنی كي خو چه څه شي تاته ميسرشوهغه اوخوره.خوروژه ماتي په څه شی سره كول مستحب دي.

زمونږ په دی علاقو كي پخوا مولیان وو ځان ته به ئي مالګه ايخي وه او مالګي له به ئی ګوته وروړه او په ژبه باندی به ئی كيخوده.اوس هم په دغه كوزه علاقه كي د نهر نه په خكته د بچه نه په بنكته د بعضي علاقوخلق دهغوئ داعادت دي چه روژه ماتئ نو په مالګه باندی.

اوس د نبی صلی الله عليه وسلم سنت په دی كي څه دي ؟

لكه حديث كي رازي.

عن سلمان بن عامر قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم إذا أفطر أحدكم فليفطر على تمر فإن لم يجد فليفطر على ماء فإنه

طهور : ([1])

حضرت سلمان ابن عامر رضی الله عنه روایت دي هغه فرمائی کله چه تاسو کي یو تن اراده اوکړی د روژي د ماتولو نو هغه دی په کهجوره باندی ماته کړی.

په کهجورو کي هم بیا یو کهجوره ده په عامه ژبه کي هغی ته رُطَب وائی نو هغه رطب که ملاؤ شی نو په هغی باندی روژه ماتي مسنون طریقه ده. رطب لمده کهجوره وی او تمر وچي کهجوري ته وائی.

په دغه کهجورو کي یوه کهجوره ده هغی ته تذنوبه وائی تذنوبه هغه کهجوره ده چه نیمه پخه وی او نیمه کچه بره کچه وی او لاندی پخه وی او عرب هغه ډیر په مینه باندی خوري.

په دغه قسم کهجورو باندی روژه ماتي بهتر دي. اودا سنت دي او بهتر طریقه ده او که کهجوره نه وه په یو ځائي کي نوتمر وو او نه رطب وو لمده کهجوره اونه وچه کهجوره نو په اوبو باندی دي روژه ماته کړی ځکه اوبه دا د پاکوالی سبب هم دي اوپه خپله هم پاکي دی دا حدیث امام احمد ترمذی ابوداؤد ابن ماجه دارمی دائي ذکر کړي دي.

او ترمذی په خپل سنن کي وائی فانه برکة دا برکت دي.

عن حفصة بنت سیرین عن الرباب عن عمها سلمان بن عامر یبلغ به النبی صلی الله علیه وسلم قال إذا أفطر أحدکم فلیفطر علی

---

[1] - مصنف ابن ابی شیبة : جلد ۳ صفحه ۱۰۷ من کان یستحب أن یفطر علی تمر، أو ماء

تمر فإنه بركة فإن لم يجد تمرا فالماء فإنه طهور : ([1])
نورو د برکت دا ټکي نه دي ذکر کړي. دا حدیث ابوداؤد طیالسی په خپل مسند کي هم ذکر کړي دي او داحدیث صحیح حدیث دي.
حضرت انس رضی الله عنه په دی کي نوره تشریح کئ فرمائی.
عن ثابت عن أنس أن رسول الله صلى الله عليه وسلم كان يفطر قبل أن يصلى على رطبات فإن لم تكن فتمرات فإن لم تكن حسا حسوات من ماء ورواه أبو داود عن أحمد بن حنبل : ([2])
نبی صلی الله علیه وسلم هغه به د مانځه نه مخکي یو څو رطب راواغستی. رطب هغه تازه کهجوری هغه به ئي راواغستي یا دري یا پنځه په هغی به ئی روژه ماته کړه بیا به ئي مونځ کوو. او که رطب به نه وي نوبیابه نبی صلی الله علیه وسلم یوڅو کهجوری راواغستي په هغی به ئي ماته کړه او که چري کهجوری به هم نه وي نوجناب رسول الله صلی الله علیه وسلم به لږي اوبه اوڅکلی نو معلومه دا شوه چه په مالګه باندی روژه ماتول روژه پی ماتیږی خو په مالګه روژه ماتول مسنون نه دی مسنون طریقه اول رطب بیا تمر او که دغه نه وی نو بیا د اوبو یو څو ګوټه په دی باندی روژه ماتول دي او دا مطلب نه دی چه ته روژه ماته کړی نو بیا کور ناست یه ناست یه او د مانښام مونځ مه کوه.
خه طریقه دا ده چه سړي روژه ماته کړی او که د خلقوانتظار عادت

---

[1] - سنن الترمذی : جلد ۳ صفحه ۱۲۳ باب ما جاء فی الصدقة علی ذی القرابة.
[2] - السنن الکبری للبیهقی : جلد ٤ صفحه ۲۳۹ باب ما یفطر علیه

وی نو یو نورئی دوه ډوډئ دي اوخوري بیاراشي مونځ اوکړي او بیا دمانځه نه راشي او په خه اطمینان بیا خپل روژه ماتي پوره کړی.
دا هم یاد ساتئ چه په روژه ماتی کي ډیرتاوانونه طوفانونه کول هسي ټیك ده چه روژه ماتي دی د نورو ورځو نه لږ مغیر وی نوري څوك کهجوری نه خوری روژه ماتی کي دي اخلی.

روژه دارله روژه ماتي اغستل

په روژه ماتی کي ډیر تاوان کولْ او ډیر څیزونه خوړل دا د روژي د روح سره منافی دی ځکه تیره جمعه باندی ما تاسوته عرض کړي وو چه دروژي روحانیت دادي چه تاته دا معلومه شی چه د وډی سړی د لوږي احساسات څه دی د تږی سړی د تندي احساسات څه دی چه یو سړي بي واده دي نو ده نه واده احساسات څه دی صرف ددي دپاره الله رب العزت روژه مقررکړي ده چه ستاسره څه احساسات پیدا شی.
د دي وجه نه د حضرت زید ابن خالد رضی الله عنه روایت دي هغه وائی جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی.
عن زید بن خالد الجهني عن النبي صلى الله عليه و سلم من فطر صائما كان له أو كتب له مثل أجر الصائم من غير أن ينقص من أجر الصائم شيئا ومن جهز غازيا في سبيل الله كان له أو كتب له مثل أجر الغازي في أنه لا ينقص من أجر الغازي شيئا
تعليق شعيب الأرنؤوط : الشطر الأول من الحديث حسن لغيره

والشطر الثاني صحيح : (۱)
چاچه یو روژه دار له روژه ماتي ورکړو یا ئي یو غازی له د جنګ سامان ورکړو نوځومره اجر چه د هغی روژي والا کیږی دارنګی د دی روژه ماتی ورکونکی کیږی ځومره اجر چه ددغه غازی کیږی دومره اجرددغی مجهز کیږی دا څوك چه غازی له سامان ورکئ.
خه خبره داده په روژه کي چه هر سړي د خپلو خپلوانو کره څه روژه ماتي لیږی ټهیك ده د هغوئ به وس کیږی خو ته ورله ولیږه په دی باندی مینه او محبت هم سوا کیږی او په دي باندی د سړی اجرهم سواکیږی او بیا د چا کره چه د پردی کور نه روژه ماتي لاړ شی چه روژه ماتئ د هغوئ سره به خپل ځیزونه ډیر وی خودغه چه چا رالیږلی وه په دغه دی روژه ماته کړی الله رب العزت دوانړو له یو شان اجر ورکئ.

د روژه ماتي په وخت کي دعا

چه کله به نبی صلی الله علیه وسلم روژه ماته کړه نو د نبی صلی الله علیه وسلم د روژه ماتی یو دعا وه هغه دعا ګاني دوه دری دی خویو مشهوره ده یوغیر مشهوره ده.
لکه حدیث کي رازی.
أخبرني قريش بن عبدالرحمن قال أخبرنا علي بن الحسن قال أخبرنا الحسين بن واقد قال أخبرنامروان المقفع قال رأيت عبد الله بن عمر قبض على لحيته فقطع ما زادعلى الكف وقال كان رسول الله صلى

۱- مسند امام احمدبن حنبل : جلده صفحه ۱۹۲ (حديث زيد بن خالد الجهني رضي الله عنه)

الله عليه وسلم إذا أفطر قال ذهب الظمأ وابتلت العروق وثبت الأجر إن شاء الله : ([1])

حضرت عبدالله ابن عمررضی الله عنه فرمائی نبی صلی الله علیه وسلم چه به کله روژه ماته کړه نو دا دعا به ئي وي تنده ختمه شوه رګونه لامده شواو که د الله رضا وی نو زمونږ اجر دالله په نزد او لیکلي شو دا د روژه ماتی دعا ده چي اوبه به ئي ګوټ کړي او کهجوره به ئي اوخوړه نوبیا به نبی صلی الله علیه وسلم څه وي ؟ تنده ختمه شوه.او رګونه لامده شو او که د الله رضا وی نو زمونږ اجر ثابت شو.

پکار داده چه عام خلق دا یاد کړی دا دومره ګران شي نه دي پخوا به خلقو په حجرو کي د یوسف خان د قصي یو لوئي کتاب وو ټول به ئي یاد کړي وو او په حجرو کي به ناست وو وي به ئی. د رامداس خان کتاب وو ټول به ئي یاد کړي وو او په هغی کي به هغوئ ته پرکونه جداجدا یاد وو که چا به ورته وي چه د کچه کوفرنه چه رامداس خان روانیدو نو د هغی ځائي نه دیخوا ته شعرونه څنګه دی نوهغوئ به شروع شو ورته به ئي اوي نو چه سړي دغه یادولي شی نو دا دُعا نه شی یادولي.

زمونږ یو ملګري وو الله دی پري رحم اوکړی الله دی قبر د نور نه ډک کړی توحیدپه مسئله باندی شهیدشوي وو مولانا نور الحق صاحب نوم ئي وو د دي لغمان وو کراچئ کي د توحید په مسئله چا شهید کړي وو.زما او د هغه په یو ځائي کي تقریرونه وو نو د هغه تقریر وو

---

[1] - السنن الكبرى للنسائى : جلد ٣ صفحه ٣٧٤ ما يقول إذا أفطر

په ترغیب الی القران باندی نو هغه یکي یو خبره وکړه وئی بعض خلق وائی چه زما په قران ژبه نه راوړی وی دومره نوړی چه خوري په هغی دی ژبه را اوړی چرته درنه غاخونو اونه چیچله او په قران دی ژبه نه راوړی.

نو دا لنډي لنډي دُعا ګاني دی. ذهب الظمأ وابتلت العروق وثبت الأجر إن شاء الله : (۱)دا چه سړي اوائی سړی ته پري سکون ملاویږی او بیا چه ورته معنی معلومه وی او دا ورته معلومه وی چه زما آقاء زما محبوب جناب محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه چه روژه ماته کړی ده نو دائی وئیلي دی چه تنده ختمه شوه رګونه لامده شو وثبت الاجر ان شاء الله .

حدثنا أبو داود حدثنا مسدد حدثنا هشيم عن حصين عن معاذ بن زهرة أنه بلغه أن النبی صلی الله علیه وسلم کان إذا أفطر قال اللهم لك صمت وعلی رزقك أفطرت : (۲)

حضرت معاذ ابن زهرة رضی الله عنه چه کله کله چه به نبی صلی الله علیه وسلم روژه ماته کړه نودا به ئي وي. اللهم لك صمت وعلی رزقك أفطرت

نورپه مینځ کي وعلیك توکلت وغیره پکي نشته. او په دُعاګانو کي دا پکار ده چه کومه دُعا پیغمبر علیه السلام په کومه طریقه وئیلی ئی چه هغسی ئي سړي اوائی.

الله روژه مې خالص تاله نیولی ده. تا راته وئیلي وو اونیسه اومې

۱- السنن الکبری للنسائی : جلد ۳ صفحه ۳۷٤ ما یقول إذا أفطر

۲- السنن الکبری للبیهقی : جلد ٤ صفحه ۲۳۹ ما یقول إذا أفطر

نیوله اوبیا الله زما خپل د خوراك څه ذریعي نه وه زه خومحتاج یمه ستارزق وو ماپري روژه ماته کړه.ستا حکم وو چه مه خوره رزق ستا وو زما پکي څه اختیار نه وو کله چه ستا حکم اوشونو ما هغه روژه ماته کړه.

د دین د غلبي دپاره څه پکاردي ؟

د دین د غلبي دپاره پکار داده چه سړي هغه اصول اختیار کړی کوم اصول چه د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم وو.

دی باره کي د حضرت ابو هریره رضی الله عنه یو روایت دي ابو داؤد او ابن ماجه دوانړو ذکر کړي دي ابوداؤد په ۲۳۵۳ نمبر او ابن ماجه ۱۲۹۸ نمبر باندی ذکر کړي دي حدیث سند بالکل صحیح دي.

عن أبي هريرة قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم لايزال الناس بخير ما عجلواالفطر عجلوا الفطر فإن اليهود يؤخرون : ([1])

حضرت ابو هریره رضی الله عنه فرمائی نبی صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی.دین به تر هغه پوری غالب وی ترڅو پوری چه خلق به روژه ماتی کي تادی کئ.

تاسو به وائئ چه روژه ماتي کي تادی کول په دی کي د دین د غالبوالی څه دی ؟ اودین څنګه غالبیږی؟په دی کي یو سړدی چه سړي روژه زرماتوي نو هغه وائی الله زه کمزوري یم ته مې امداد اوکړی.ترڅو پوری چه دخلقو دالله سره دغسی تعلق وو نو دا خلق

---

[1] - سنن الترمذی : جلد ۲ صفحه ۵۹۵ باب ما جاء في تعجيل الافطار

به زورور ئی اوچه دا تعلق دالله سره ختم شونو دا خلق به کمزوري شی.

دبدر جنګ او د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم دعا غوختل

د بدر جنګ ووجناب رسول الله صلی الله علیه وسلم د مدیني منوري نه انصار او مهاجر دري سوه دیارلس کسان روان کړی وو.
سپلی ئي نه وي چړي ئي ترلي وي د خپو دلاندی اسونه نه وو اوښان نه وو نیزي نه وي په ټول لښکر کي یو نیزه دوه به وي یو دوه دري توري به وي یوځلور پنځه اوښان وودري سوه دیارلس کسان راروان وو.
د مدیني منوري نه مکی مکرمي ته کوم کسان چه هغوئ هغه ځائي لیدلي دي هغوئ ته پته ده چا نه وی لیدلي الله دی ورله توفیق ورکی چه وینی د مکی مکرمي اودمدیني منوري په دی مینځ کي یو زمکه ده هغه په ډیرو میلونو مشتمله ده ځکه ګاډی پکي ډیر ساعت سفر کئ او هغه چار چاپیره دا ټوله زمکه ګټی ګټی اوداسی تیري ګټي چه په هغی باندی خپه نشی کیښودي نو یو د عربو ګرمي بل د روژي میاشت څپلی نه اوهغوئ راروان شوی دی او دي طرف ته د مکي خلق د هغوئ سره اسونه دبچاؤ دپاره سامان توری د هغوئ سره دخوراك څیزونه هر شئ ډیر او چه راتلهٔ نو د بدر په کوهی ئي هم قبضه کړی وه کوهی د هغوئ سره وودنبی صلی الله علیه وسلم سره څه وو دکمزوری دُعا د شپي ناست وو صحابه اوده وو ستړی شوی وو نبی صلی الله علیه وسلم لاس پورته کړی وو.

عن أبي إسحاق عن أبي عبيدة عن عبد الله قال لما التقينا يوم بدر قام رسول الله صلى الله عليه و سلم يصلي فما رأيت ناشدا ينشد حقا له أشد من مناشدة محمدصلى الله عليه وسلم ربه تعالى وهو يقول اللهم إني أنشدك وعدك وعهدك اللهم إني أسألك ما وعدتني اللهم إن تهلك هذه العصابة لا تعبد في الأرض ثم التفت إلينا كأن شقة وجهه القمر فقال هذه مصارع القوم العشية : (۱)

اي الله دا لږه ډله مې راوستي ده دري سوه دیارلس (۳۱۳) کسان دی که نن دی دا مړه کړل نوستا نوم به په دنیا کي څوک نه اخلی حضرت ابوبکر رضی الله عنه ناست دي چه نبی صلی الله علیه وسلم دعا اوکده کړه نو هغه ورته وائی د الله پیغمبره دا پوره ده.ان شاء الله الله به مونږه نه کمزوري کئ نوچه کله د هغوئ د الله رب العزت سره تعلق وو چه الله مونږ کمزوري یو زمونږ مدد اوکي نو زورور شو.

دارنګ په یو جنګ کي صحابه ډیر شی وو او کافر د هغوئ په مقابله کي کم وو هر یو به په بریتو باندي لاس وهو چه نن نن خو زمونږ فتح فتح ده هغه خپله کمزوری ورته یاده نه وه. الله رب العزت وائی.

لَقَدْ نَصَرَكُمُ اللَّهُ فِي مَوَاطِنَ كَثِيرَةٍ وَيَوْمَ حُنَيْنٍ إِذْ أَعْجَبَتْكُمْ كَثْرَتُكُمْ فَلَمْ تُغْنِ عَنْكُمْ شَيْئًا وَضَاقَتْ عَلَيْكُمُ الْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ ثُمَّ وَلَّيْتُمْ مُدْبِرِينَ : (۲)

دحنین په ورځ چه کله تاسووي مونږ ډیر یو ستاسو هغه ډیروالي

۱- سنن الکبری للنسائی : جلد ٦ صفحه ۱۵۵ الاستنصار عند اللقاء

۲- سورة توبه (۲۵)

پکاررانغي نو اصل کي لوئي شئ چه دي د الله رب العزت سره تعلق ساتل دي.

دارنګه بل حديث کي رازي.

عن أبي هريرةقال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم لايزال الناس بخير ماعجلوا الفطر عجلوا الفطر فإن اليهود يؤخرون : ([1])

حضرت ابوهريره رضى الله عنه فرمائي چه نبى صلى الله عليه وسلم فرمائيلى دى دين به تول عمر زورور وى په غلبه کي به ئى تر هغه وخته پوري چه خلق په افطار کي تادى کئ.

د افطارتادى دا انسان د بي وسى علامه ده

د افطارتادى دا د انسان د عاجزى د انسان د کمزورى د انسان د بي وسى علامه ده نوانسان چه کله عملى طورباندى الله ته دا اوخائى چه الله زه بي وسه يمه نو د الله رب العزت امدادونه راځى .انسان هغه زورور کيږى اونبى صلى الله عليه وسلم فرمائى يهود او نصارى هغوئ تاخير کئ نو په هغه زمانه کي چه يهودو او نصارؤ تاخيرکوو او مسلمانانو تادى کوله نو زورور څوك وو ؟ مسلمانان وو.

ديهودولوئي لوئي حکومتونه هغوئ ختم کړى وواوبيا نبى صلى الله عليه وسلم چه وفات کيدو نو د وفات په وخت کي نبى صلى الله عليه وسلم وصيت اوکړو.

عن أبي سلمة عن أم سلمة قالت قال رسول الله صلى الله عليه

---

[1]- سنن الترمذى : جلد ۲ صفحه ۵۹۵ باب ما جاء في تعجيل الإفطار

وسلم أخرجوا اليهود من جزيرة العرب : (۱)
يهود او نصارى د مسلمانانو د ملك نه اوشړي.

دابوعطيه رحمه الله او مسروق رحمه الله واقعه او د حضرت عائشي رضى الله عنها نه تپوس كول

ابوعطيه وائى چه زه اومسروق دوانړو دام المؤمنين عائشه رضى الله عنها څنګي له لاړو.
مسروق مشهور تابعى دي مشهور عالم دي د مديني.
عن أبي عطية قال دخلت انا ومسروق على عائشة فقلنا لها يا أم المؤمنين رجلان من أصحاب محمد صلى الله عليه و سلم أحدهما يعجل الإفطار ويعجل الصلاة والآخر يؤخر الإفطار ويؤخر الصلاة قال فقالت أيهما يعجل الإفطار ويعجل الصلاة قال قلنا عبدالله بن مسعودقالت كذاك كان يصنع رسول الله صلى الله عليه و سلم والآخر أبو موسى
تعليق شعيب الأرنؤوط : إسناده صحيح على شرط الشيخين : (۲)
مونږ د پردي نه ديخواد هغى نه تپوسونه اوكړل نو ام المؤمنين د مسلمانانو مور دنبى صلى الله عليه وسلم په صحابؤكي يو دوه كسان دى يوپه روژه كي ډيره تادى كئ په ماتولو كي او په مانځه كي ډيره تادى كئ يعنى په وخت باندى كئ وخت چه اول داخل شى كئ ئي.بل ډيره تادى نه كئ لږ غونته روستو كئ نو هغي ترينه

۱- المعجم الكبير للطبرانى : جلد۱۷ صفحه ۱۰۰
۲- مسند امام احمدبن حنبل : جلد٦ صفحه ٤٨ (حديث السيدة عائشة رضي الله عنها)

تپوس اوکو دا مونځ چه پکي په تادي کئ او دا روژه زر ماتئ دا کوم یو دي نو هغوئ ورته وي عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه نو مورابئ ورته وائی نبی صلی الله علیه وسلم دغه عمل وو کوم چه د عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه وو.

دویم صحابی حضرت ابوموسی اشعری رضی الله عنه وو.نو ام المؤمنین د هغه دا عمل غوره اونه ګڼړو او د عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه عمل ئي غوره اوګڼړو

د عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه فضیلت

جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلي.

عن عاصم عن زر عن عبدالله أن أبابكر وعمر رضي الله عنهما بشراه أن رسول الله صلى الله عليه و سلم قال من سره أن يقرأ القرآن غضا كما أنزل فليقرأه على قراءة بن أم عبد

تعليق شعيب الأرنؤوط : إسناده حسن : (۱)

چه څوك روانیګی تقلید کئ نو د ابن مسعود رضی الله عنه دي اوکړي څوك چه وائی چه ما داسی قران اولوستي څنګ چه نازل شوي هغه دی د عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه په قرات اولولی.

دام المؤمنین حضرت عائشی رضی الله عنها علمی مقام

علامه بدرالدین زرکشی په اسلام کي یو لوئي عالم تیر شوي دي د هغه یوکتاب دي او په هغه کتاب کي هغه صرف دا ذکر کړی دی

۱- مسند امام احمدبن حنبل : جلد۱ صفحه ۷ (مسند أبي بكر الصديق رضي الله عنه)

چه ام المؤمنين د کومو کومو صحابؤ اصلاح کړي وه ښه پوره کتاب دي او دهغی کتاب نوم دي الاجابة فيما استدرکته عائشه على الصحابه ام المؤمنين حضرت عائشه رضی الله عنها چه د صحابؤ کومه اصلاح کړي ده هغه کوم کوم څيزونه دی.

د خيراو برکت ډک خوراک

حضرت عرباض بن ساريه رضی الله عنه مشهور صحابی دي.هغه مشهورتقريردنبی صلی الله عليه وسلم چه دسحرنه د ماسخوتنه پوري وو هغه د ده په روايت باندی نقل دي.

عن الحارث بن زيادعن أبي رهم أن عرباض بن سارية حدثه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم دعاه إلى السحور في رمضان فقال هلم إلى الغداء المبارك : (۱)

د رمضان مياشت وه.نبی صلی الله عليه وسلم ماله دعوت راکړو چه پيشمني به دي نن زماسره ئی او چه زه راغلم نو نبی صلی الله عليه وسلم ماته وي راځه راځه هغه د خيراوبرکت ډک خوراک چه دي هغی له راځه.

دارنګی حضرت ابو هريره رضی الله عنه فرمائی نبی صلی الله عليه وسلم فرمائيلی وو.

عن أبي هريرة عن النبي صلى الله عليه وسلم قال نعم سحور المؤمن التمر : (۲)

۱- المعجم الكبير للطبرانی : جلد۱۳ صفحه ۱۷۰

۲- سنن ابی داود : جلد ۲ صفحه ۳۰۳ باب من سمی السحور الغداء

مومن چه کله پیشمني کئ نوخه پیشمني دمومن دا دي چه سړي کهجوری راواخلی اواخوری یا څه ډوډئ اوخوری خوکه کهجوري درسره وي اودري څلور کهجوری دي اوخوړي او پیشمني دي اوکړو نو دا ډیر بهترین پیشمني دي.

په روژه کي به څه کوي؟

روژه د څه دپاره ده؟ په روژه کي به څه کوي صرف خُلي ته به کوري اچوي د خوراك څکاك نه او که نه نور هم د روژي څه احکام شته.
دي باره کي د مشهور صحابی حضرت ابو هریره رضی الله عنه یو روایت دي امام بخاری په خپل صحیح کي په ۱۹۰۳ نمبر باندی ذکر کړي دي.

عن أبي هريرة رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من لم يدع قول الزور والعمل به فليس لله حاجة في أن يدع طعامه وشرابه : (۱)

حضرت ابوهریره رضی الله عنه فرمائي چه نبی صلی الله علیه وسلم فرمائیلی وو. چه یو سړي دروغ پري نه دی په دروغو باندی عمل کول پري نه دی معنی قولی اوعملی دواړو دروغ سړي کوی نو الله رب العزت ته دده د خوراك څکاك پریخودو څه حاجت نشته. معنی روژه چه ده نو هغه دري مفطرات دی چه روژه پري ماتیږی خوراك څکاك او جماع دهغي نه علاوه خُلي ته به هم کوري اچوي غیبت به

---

۱ - صحیح البخاری حسب ترقیم البخاری :جلد۳ صفحه ۳۳ باب من لم يدع قول الزور والعمل به في الصوم

نه کوي دروغ به نه وائي د چا بدبه نه لټوي او که چا درسره جنګ کوو نو ته به ورته دا نه وي چه روژه مي ده دماغ مي خراب دی نه انی صائم روره زما روژه ده زه جنګونه نه کوم.

په یو حدیث کي رازي.

عن أبي هريرة رضي الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال : الصيام جنة فلا يرفث ولا يجهل وإن امرؤ قاتله أو شاتمه فليقل إني صائم مرتين والذي نفسي بيده لخلوف فم الصائم أطيب عند الله تعالى من ريح المسك يترك طعامه وشرابه وشهوته من أجلي الصيام لي وأنا أجزي به والحسنة بعشر أمثالها : ([1])

حضرت ابوهریره رضی الله عنه فرمائي چه نبی صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی. چه په روژه کي څوك درسره جنګ کئ نو ته به ورته وائي زما روژه ده روره زه جنګ نه شم کولي روژه مي د جنګ نه کوم. دا نه چه هلکه زما سره ګوري خبري مه کوه دماغ مي خراب دی روژه مي ده .

دا خو سړیه د شیطان کار دي دغویانو کار دي روژه خو دغوائی توب دعوت نه ورکوی روژه خو دشیطانت دعوت نه ورکوی روژه خود ملکیت دعوت ورکئ روژه خوسړی کي د فرشتي خویونه راولی.د ملك خو یو نه په سړی کي راولی.

دارنګی بعضی څیزونه داسی دی چه هغه په یو مرتبه کي د انسان دپاره روا وی او چه د هغی مرتبي نه خبره زیاتی کیږی نو بیا نه دی روا.

---

[1]- صحیح البخاری حسب ترقیم البخاری :جلد۳ صفحه ۳۱ باب فضل الصوم

لکه په یو حدیث کي رازي.

عن عائشة رضي الله عنها قالت كان النبي صلى الله عليه وسلم يقبل ويباشر وهو صائم وكان أملككم لإربه

وقال قال ابن عباس مآرب حاجة قال طاوس أولي الإربة الأحمق لا حاجة له في النساء : ([1])

زمونږ مور ابی ام المؤمنین عائشه صدیقه رضی الله عنها وائی. چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم به په روژه کي خپله بی بی خکلوله. هغه به په روژه کي ووخوګوري یاد ساتي وکان املککم لاربه د هغه په ځان باندی اعتبار وو ستاسو باندی اعتبار نشته. نو د هغه اعتبار وو دا د هغه خصوصی فعلونه وو.

دارنګی یوسړي دي په رمضان کي د هغه فرضی غسل ته حاجت دي یعنی غسل په ده فرض شوي او دغسل فرضیدل یو بغیر د ارادي نه وی او یو د اراده نه وی. نو د ارادي فرض غسل وو نوام المؤمنین وائی.

قالت عائشة رضي الله عنها كان النبي صلى الله عليه وسلم يدركه الفجرجنبا في رمضان من غير حلم فيغتسل ويصوم : ([2])

ام المؤمنین عائشه صدیقه رضی الله عنها وائی چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم به صبا کي داخل شو په رمضان کي او د هغه به غسل ته حاجت وو او دا جنابت د احتلام د وجي نه نه وو ځکه په انبیاؤ باندی احتلام نه کیږی لکه خوب چه سړي وینی اوپه خوب کي

---

[1] - صحیح البخاری حسب ترقیم البخاری :جلد۳ صفحه ۳۹ باب المباشرة للصائم

[2] - صحیح البخاری حسب ترقیم البخاری :جلد۳ صفحه ۳۹ باب اغتسال الصائم

بي اودسه کيږی داطريقه په انبياؤ باندی نه راځی ځکه چه يوخو دا د کمزورئ نخه وی بل په دی کي د شيطان اثر وی. په انبياؤ باندی نه کمزوری وی او نه په هغوئ باندی څه شيطانی اثرات وی نو په انبياؤ باندی حُلم نه راځی احتلام نه راځی نو نبی صلی الله عليه وسلم به د هغی نه روستو غسل اوکو بيا به ئي روژه اونيوله.

بياداخبره چه روژه دی ماته کړه نو غړ غړي به اوکړي داهسی خبری دی خلي ته اوبه اچول دا فرض دی او غړغړه کول دا مستحب دی.

دارنګی نبی صلی الله عليه وسلم ښکر لګولي دي پخوا چه به ورته دي خلقو کتوئ لګول وي. دلته به ئي ورته کتوئ وي وئی فلانی کتوئ لګولی دی خو کتوئ کي دا چه په هغی کي به ئي اوربل کړي وو او ښکر چه دي نو دا به ئي داسی په هغی باندی به ئي راخکللو او وينه به ئي ترينه اويسته.

اوس هم په عربوکي عام د دي څوورځي دی په هغه ورځو کي دا پليته وينه بهر راوتي وی اوخه وينه دنته وی.

نبی صلی الله عليه وسلم د هغه مياشتوتعين کړي دي چه د مياشتي په اول فلانی فلانی تاريخ باندی ته ښکرلګولي شي او په نورو ورځوباندی نه شي لګولي. او د هغوئ سِردادي چه په دغه ورځوکي دغه پليته وينه دا دبدن د پاسه وی او پاکه وينه دنته وی اوپه دغه نورو ورځوکي پليته وينه دنته وی او دغه پاکه وينه د پاڅه وی نوچه پاکه وينه دپاڅه وی نوپه دغه ورځو کي ښکرلګول نشته نو نبی صلی الله عليه وسلم ښکرهم لګولي دي.

دارنګی يو حديث کي رازي.

عن أبي هريرة رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال إذا نسي فأكل وشرب فليتم صومه فإنما أطعمه الله وسقاه : ([1])

نبی صلی الله علیه وسلم وائی چه یو سړي وو د هغه هیر وو چه زما روژه ده او خوراك څكاك ئي اوكو نو دي دي خپله روژه پوره كړی او دا د الله میلمستیا وه چه ده له ئی ورکړه الله رب العزت ده له ډوډئ ورکړه او ده له ئی اوبه ورکړی او دغه مخکي خبره چه ما اوکړه مباشرت کول د خپل کور والا سره په روژه کي یو څائي کیناستل.

نبی صلی الله علیه وسلم له یو سړي راغلي وو هغه ته ئي اجازت کړي وو بل ئي منع کړي وو یعنی کوم سړي چه د هغه په څان باندی دا یقین وی چه زمانه څه تعدی او زیاتي نه کیږی نوخیر دي که بوډا سړي ئی ناست ئی او د هلکانو دپاره دغه څیزونه دا نه دی پکار او دا دنبی صلی الله علیه وسلم نه چه نقل دی نودا د نبی صلی الله علیه وسلم خصوصیات وو.

دارنګی په روژه کي مسواك کول دا د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم طریقه وه. لکه یو حدیث کي رازي.

أن عاصم بن عبيد الله بن عمر بن الخطاب حدثه عن عبد الله بن عامر بن ربيعة العدوي عن أبيه قال ما أحصي ولا أعد ما رأيت رسول الله صلى الله عليه و سلم يتسوك وهو صائم : ([2])

---

[1] - صحيح البخاری حسب ترقيم البخاری :جلد۳ صفحه ٤٠ باب الصائم إذا أكل ، أو شرب ناسيا

[2] - سنن الكبرى للبيهقی : جلد ٤ صفحه ۲۷۲ باب السواك للصائم

حضرت عامر ابن ربیعه رضی الله عنه فرمائي چه ما نبی صلی الله علیه وسلم لیدلي وو دومره پیري چه په شمیر کي نه راځی چه نبی صلی الله علیه وسلم به مسواك وهو او د هغه به روژه وه.

په سترګو کي دارو اچول دا خیر دي نبی صلی الله علیه وسلم له یو سړي راغي ورته ئي وي سترګی مې خوږیږی په سترګو کي رانجه اچولي شم نو هغه وي آو.

زمونږ فقهاء لیکی.

چه په سترګوکي کله سړي دوائی واچه دا معدي ته نه ځی معدي ته یو څو سوری دی په بدن کي چه د هغی براه راست د معدي سره تعلق دي په هغی کي یو خله ده پوزه ده غوږونه دی د لویو بولو ځائي دی نو د دي وجي نه فقهاء وائی چه په روژه کي استنجا کئي نوغوندې به کینی په هغی باندی هم روژه ماتیږی.

خله کي اوبه واچوي پوزه کي واچوي او دنته ئي ننباسي یا پکي تیل واچوي نو دا سیدها معدي ته ځی پاتي شوه په سترګو کي چه دوائی واچوي نو دا معدي ته نه ځی.

دوه لاری دی هغی ته منافذ غیر اصلیه وائی لکه د سړی په سر کي زخم راغي یائی په ګیډه کي زخم راغی نو په دی باندی چي لمده دوائی واچوی نوهغه هم معدي ته ځی اوګیډه باندی زخم وو په هغی باندی لمده دوائی واچوی نو معدي ته ځی وچه دوائی خیر دي لمده دوائی نه شی اچولي.

منافذ دوه قسمه دي

دوه قسمه منافذدی دوه قـ مه د ابود نتوتو ځایونه دی یو منافذ اصلیه دی یوچه د هغی براه راست دمعدي سره تعلق ئی یو منافذ غیراصلیه دی چه په هغی کي لوند شي نتوزی او اوچ شي معدي ته نه ورځی نو دادي خیال ساتل پکار دی.

ستن لګول په رګونوکي رګونه منافذ غیر اصلیه دی په دی باندی معدي ته نه ځی نو په دی باندی روژه نه ماتیږی په مټ کي ستن لګول دی باندی روژه نه ماتیږی ځکه دا منفذ غیر اصلی دي او دا منفذ د سره دی نه ځکه ددی د معدي سره تعلق نشته.

عن أبي بكر بن عبدالرحمن عن بعض أصحاب النبي صلى الله عليه و سلم أن النبي صلى الله عليه و سلم رئي بالعرج وهو يصب على رأسه الماء وهو صائم من الحر أو العطش

تعليق شعيب الأرنؤوط إسناده صحيح رجاله ثقات رجال الشيخين غير صحابيه : ([1])

دارنګی یو پیره نبی صلی الله علیه وسلم عرج یو مقام دي په هغه کي ناست وو د نبی صلی الله علیه وسلم روژه وه د تندی دلاسه ډیر کمزوري شوي وو په سر باندی ئي ځانله اوبه اچولی نو که یو سړي په روژه کي تږی وی او لامبی نو خیر دي.

دا یو څو خبري وي د روژي په باره کي انشاء الله العزیز راروانی جمعي له به مونږه دادي تکمله اوکواو داخبری د روژي نه مخکي

---

[1]- مسند امام احمد بن حنبل : جلد ٥ صفحه ٣٨٠ حديث بعض أزواج النبي صلى الله عليه و سلم

تاسو له یادول پکار دی ذهن کي کینول پکار دی او بعض خبري داسی دی چه هغه به تاسو ته په ظاهر باندی څه خي نه خکاری خوجناب محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم د خو خبرو دپاره راغلي وو هغه چه کومې خبری کړی دی هغه ټولي ښی دی او په دی کي زمونږ د دنیا او د آخرت خیر دي.

د حضرت سلمان رضی الله عنه روایت

انشاء الله روژه راروانه ده او هغه حدیث په تیره جمعه شاید ما نه وو وئیلي په دی جمعه ئي هم وایم په راروانه به ئی هم وایمه. حضرت سلمان رضی الله عنه روایت کوی.

عن سلمان قال خطبنا رسول الله صلى الله عليه وسلم في آخر يوم من شعبان فقال أيها الناس قد أظلكم شهر عظيم شهر مبارك شهر فيه ليلة خير من ألف شهر جعل الله صيامه فريضة وقيام ليله تطوعا من تقرب فيه بخصلة من الخير كان كمن أدى فريضة فيما سواه ومن أدى فيه فريضة كان كمن أدى سبعين فريضة فيما سواه وهو شهر الصبر والصبر ثوابه الجنة وشهر المواساة وشهر يزداد فيه رزق المؤمن من فطر فيه صائما كان مغفرة لذنوبه وعتق رقبته من النار وكان له مثل أجره من غير أن ينتقص من أجره شيء قالوا ليس كلنا نجد ما يفطر الصائم فقال يعطي الله هذا الثواب من فطر صائما على تمرة أو شربة ماء أو مذقة لبن وهو شهر أوله رحمة وأوسطه مغفرة وآخره عتق من النار من خفف عن مملوكه غفر الله له وأعتقه من النار واستكثروا نيه من أربع خصال خصلتين ترضون بهما ربكم وخصلتين لا غنى بكم عنهما فأما

الخصلتان اللتان ترضون بهما ربكم فشهادة أن لا إله إلا الله وتستغفرونه وأما اللتان لا غنى بكم عنهما فتسألون الله الجنة وتعوذون به من النار ومن أشبع فيه صائما سقاه الله من حوضي شربة لا يظمأ حتى يدخل الجنة : (۱)

حضرت سلمان رضی الله عنه فرمائي چه د شعبان آخری ورځ وه نبی صلی الله علیه وسلم مونږ ته تقریر کوو او فرمائیل ئي اي خلقو یوعظیمه میاشت راروانه ده. یو داسی میاشت راروانه ده چه د یو بل سره دخیرخیګړي میاشت ده په دی کي روژه دار له روژه ماتي ورکئ چا چه روژه دار له روژه ماتي ورکړو هغه له به الله د هغی روژی هومره اجر ورکړی د ده په اجرکي به کمي نه راځی صحابو ورته وي په مونږ کي د هر سړی خودا طاقت نشته چه روژه دارله روژه ماتي ورکړی نبی صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه دا اجر الله پاك په یو ګوټ پیوباندی هم ورکئ په یوګوټ اوبو باندی ئي هم ورکئ او د کهجوری په یو توټه باندی ئي هم ورکئ.

د خپل وس مطابق هرکس له پکاردی چه د بل روژه دار سره اعانت اوکړی اوخاص کرچه په چم کي غریبانان خلق ئی او تانه پته وی چه د هغوئ د روژه ماتی څه نشته اوپه دی کلی کي داسی خلق شته او داسی زنانه شته چه ځامن ئي شته او مور ئی اوپلار ئي چرې غواړی مونږته معلوم دی داسی خلق شته.داسی خلق شته چه ځامن ئي شته اودمور ئی په کورکي د شپی ځائي نه ئی.داسی خلق د هغوئ مراقبه کوی په هغوئ باندی نظر ساتئ او هغه خلق

۱- صحیح ابن خزیمه : جلد ۳ صفحه ۱۹۲باب فضائل شهر رمضان إن صح الخبر

که ستا دشمن ئی نو هم ورله ورکوه.

الله رب العزت مسلمان د مسلمان دشمن نه دي جوړکړي انما المؤمنون اخوة که ستا ورسره په څه طریقه ورانه وی خیر دي بیا هم د هغه سره په بله لاربانده څه خیګړه کوه خو رمضان دا د خیګري میاشت ده او الله رب العزت په دی پوره اجرونه ورکئ.

الله دی مونږ او تاسو له توفیق راکړی چه مونږه د رمضان قدر اوکړو احترام ئی اوکړو او دا رمضان ګوري تیره جمعه باندی هم ما وئیلی وو دا د انسان نه غوائي نه جوړئی دا د انسان نه خر نه جوړ ئی دا د انسان نه سپي نه جوړئی دا په انسان کي انسانیت سوا کوی دا مه وایه چه زما روژه ده او دماغ مې خراب دی نه روژه دسړی دماغ نه خرابئ الله پاك دلیونتوب احکام نه دی رالیږلی چه الله داسی حکم رالیږلی ئی چه دسړی نه لیوني جوړوی چه دماغ ئی خرابئ.

الله رب العزت چه کوم احکام رالیږلی دي په هغی کي خیر دي مونځ کي خیردي په حج کي خیردي په روژه کي خیردي په کلمه کي خیر دي په زکوة کي خیر دي هر عبادت چه الله دانسان دپاره رالیږلي دي. هغه د خیر او د آشتی او خوشحالي دي.

الله دی مونږ له توفیق راکړی.

وما علینا الا البلاغ

فضائل ومسائل رمضان (۳)

الحمد لله الحمد لله الذی ارسل رسول بالهدی ودین الحق لیظهره
علی الدین کله وکفی بالله شهیدا
واشهد ان لا اله الا الله وحده لاشریك له اقراراً به وتوحیدا
واشهدان سیدنا ومولانا محمدعبده ورسوله صلی الله تعالی علیه
وعلی اله واصحابه وسلم تسلیما مزیدا

وبعد

فاعوذ بالله من الشیطان الرجیم بسم الله الرحمن الرحیم
شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنْزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ هُدًى لِلنَّاسِ وَبَيِّنَاتٍ مِنَ الْهُدَى
وَالْفُرْقَانِ فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ : ([1])

تمهید

تیره جمعه د رمضان المبارك او خاص کر د عامو روژو په باره کي څه مسائل بیان شوی وو نن انشاءالله العزیز د هغی د تکملی په صورت کي یو څو احادیث دی.

په روجه کي د عبادت فضیلت

حضرت ابوهریره رضی الله عنه دي او دا حدیث بخاری او مسلم دواړو د حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه ذکر کړي دي. بخاری په ۱۹۰۴ نمبر باندی مسلم په ۱۱۵۱ نمبر باندی.
حضرت ابوهریره رضی الله عنه فرمائی.

---

[1]- سورة بقره (۱۸۵)

عن أبی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم کل عمل ابن آدم یضاعف الحسنة عشر أمثالها إلی سبعمائة ضعف قال الله عز وجل إلا الصوم فإنه لی وأنا أجزی به یدع شهوته وطعامه من أجلی للصائم فرحتان فرحة عند فطره وفرحة عند لقاء ربه. ولخلوف فیه أطیب عند الله من ریح المسك : (۱)

چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی د بنده هر نیك عمل د عمل نه مراد عام نه دي بلکه خاص دي. د انسان هر نیك عمل ځکه د بد عمل بدله الله هغه ته ده دی هغی په مثل ورکئ.

نو د آدم د بچی هر عمل دا دوچند کیږی کله چه دی نیکی اوکی نو د ده په نیت باندی منحصره ده که نیت کي ډیر اخلاص نه وو نو یوه نیکی په لس ده او که اخلاص ډیر وو نویو نیکی الله یو په اووه سوه (۷۰۰) باندی بدله ورکوی خونبی صلی الله علیه وسلم فرمائی چه الله پاك فرمائیلي دی چه دا دعامو نیکو بدله ده روژه دادي نه علاوه ده د روژي بدله یو په لس او یو په اووه سوه ۷۰۰ نه ده بلکه ددي نه هم ډیره ده.

نبی صلی الله علیه وسلم فرمائی الله پاك فرمائی فإنه لی وأنا أجزی به داروژه زما دپاره ده نو دروژی بدله به زه په خپله ورکوم.

قاعده دا ده چه کله یوسړي د بادشاه د نوکر لاندی کارکئ مثلا یو سړي دي قلعه جوړوی اودبادشاه نوکران ورله تنخواه ورکوی. نوهغوئ مواقعوته اومناسبت ته او د نوکرانو تنخوا ته ګوری هغه هومره تنخوا ورله ورکوي خو چه کله بادشاه په خپله ورکوی نو

۱- صحیح مسلم : جلد ۳ صفحه ۱۵۸ باب فضل الصیام.

بادشاه د خپل مناسبت سره ورکوی.

نوالله رب العزت فرمائی چه روژه زما ده او د دي بدله به زه په خپله ورکوم نو الله رب العزت ددی ټولواسمانونواوزمکومالك دي او مالك الملك دي شاهنشاه دي د بادشاهانو بادشاه دي نو د هغه بدله به ډیره غټه وی. ددی حدیث یو تعبیر دا دي الله پاك فرمائی الا الصوم روژه یو په لس او په اووه سوه نه ده روژه زما ده فإنه لی وأنا أجزی به زه به خپل ځان دروژی په بدله کي ورکوم.

بیا الله پاك وائی: دا سړي خپل شهوت او خوراك سکاك زما د وجي نه پریدی نو د ده بدله به الله وائی زه ورکوم یا الله وائی چه زما د وجي نه ئي پریخودو نو زه به د هغه شم.

لکه حدیث کی رازی:

عن أنس قال لما كان يوم فتح مكة قسم رسول الله صلى الله عليه وسلم غنائم بين قريش فغضبت الأنصار قال النبي صلى الله عليه وسلم أما ترضون أن يذهب الناس بالدنيا وتذهبون برسول الله صلى الله عليه وسلم قالوا بلى قال لو سلك الناس واديا أو شعبا لسلكت وادي الأنصار أو شعبهم : (۱)

یو پیړه یوجنګ کي نبی صلی الله علیه وسلم غنیمت ورکړو د مکی خلقوله د مدیني بعضي خلقو څه خبره جوړه کړه او هغه نبی صلی الله علیه وسلم ته اورسیده نونبی صلی الله علیه وسلم د مدیني خلق راجمع کړل اوورته ني وي تاسوپه دی نه ئي خوشحاله چه خلق مال واخلی او تاسو پیغمبر واخلی خلق دځان سره مال ووسی او

۱- صحیح البخاری حسب ترقیم البخاری :جلده صفحه ۲۰۱ باب غزوة الطائف

تاسو محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم د ځان سره بوځی. هغوئ په دي ډير خوشحاله شو چه بادشاه زمونږ شو نو زمونږ د څه کمي دي.

نو روژه دار له چه کله مالك الملك خپل ځان ورکوی په خپله بدله ورکوی نو کمي د څه شو.

د نبی صلی الله علیه وسلم فرمان

عن أبي صالح الزيات أنه سمع أبا هريرة رضي الله عنه يقول قال رسول الله صلى الله عليه وسلم قال الله كل عمل ابن آدم له إلا الصيام فإنه لي وأنا أجزي به والصيام جنة وإذا كان يوم صوم أحدكم فلا يرفث ولا يصخب فإن سابه أحد أو قاتله فليقل إني امرؤ صائم والذي نفس محمد بيده لخلوف فم الصائم أطيب عند الله من ريح المسك للصائم فرحتان يفرحهما إذا أفطر فرح وإذا لقي ربه فرح بصومه : ([1])

کله چه په تاسوکي د یو تن دروژي ورځ وی که هغه دفرض روژي وی اوکه د نفل روژي وی خوچه سړي روژه داروی نوهغه دی پلیتی خبري هم نه کوی اوشورشغب دی هم نه کئ که چری یو سړی ده ته بدی ردی وئیلي یا ئی د ده سره جنګ کوو نو دي دی ورته اوائی چه هلکه زما روژه ده.

---

[1]. صحیح البخاری حسب ترقیم البخاری :جلد۳ صفحه ۳٤ باب غزوة الطائف

د روژه دار فضیلت

نبی صلی الله علیه وسلم فرمائی.

والذي نفس محمد بيده لخلوف فم الصائم أطيب عند الله من ريح المسك : ([1])

د روژه دار دخلی نه چه د معدي هغه کوم بوئی خی نو دا د مشك د عنبر د بوئی نه د الله په نزد دادي بوئی ډیر خه دي.

د روژه دار دوه خوشحالی دی

نبی صلی الله علیه وسلم فرمائی.

للصائم فرحتان يفرحهما إذا أفطر فرح وإذا لقي ربه فرح بصومه: ([2])

د روژه داردوه خوشحالی دی یوخوشحالی هغه دده د روژه ماتی په وخت کي ده. د روژه ماتی په وخت کي خوشحالی په خوراك نه ده په خوراك خو خره خوشحالیږی څاروی خوشحالیږی.

د روژه ماتی په وخت کي خوشحالی په دی ده چه الله رب العزت چه په ماباندی کوم حکم مقررکړي وو سره ددی نه چه زه کمزوري یمه په ما باندی د نفس او د شهوت غلبه ده او د هغی باوجود د الله رب العزت په توفیق باندی ما هغه روژه سر ته ورسوله نو په دی باندی خوشحالی پکارده نوداخوشحالی دافطار په وخت کي په خوراك نه ده خوشحالی په دی ده چه ما دالله رب العزت هغه فریضه چه هغه په ماباندی مقررکړی وه هغه مادهغه په عون اود هغه په امداد سر ته ورسوله یو خوشحالی چه کله دي د الله سره ملاؤ شی نو الله به

---

[1] - صحیح البخاری حسب ترقیم البخاری :جلد۳ صفحه ۳٤ باب غزوة الطائف

[2] - صحیح البخاری حسب ترقیم البخاری :جلد۳ صفحه ۳٤ باب غزوة الطائف

ورته وائی زه ستا یم یابه الله رب العزت چه ده له بدله ورکوی هغه بدله به ډیره لویه ئی.

دحدیث نه یوڅوخبري معلومي شوی یوخبره داچه دروژي د ثواب حدنشته دویمه دا چه الله رب العزت ته پته ده چه دا انسان خپل شهوت خوراك څکاك دالله دپاره پریدی نو الله به دله څومره اجر ورکوي بله دا چه د روژه دار دوه خوشحالئ دی یو د فریضی پوره کولو او یود فریضی د اجر د اغستلو په وخت کي.

روژه د ګناهونو نه ډال دي

عن أبي هريرة قال قال رسول الله صلى الله عليه و سلم الصوم جنة فإذا كان أحدكم يوما صائما فلا يرفث ولا يجهل فإن امرؤ شتمه أو قاتله فليقل إني صائم : تعليق شعيب الأرنؤوط إسناده صحيح على شرط الشيخين : (۱)

روژه ډال دي دګناهونو نه پری سړي بچ کیږی په دنیا کي د ګناهونو نه ډال دي او په عقبی کي د دوزخ د اور نه ډال دي او چه کله روژه ئی نو سړي دي بدي ردي نه وائی دا روژه په سړی کي انسانیت پیدا کوی.

دحضرت ابوهریره رضی الله عنه روایات

یو دوه روایتونه دی دحضرت ابوهریره رضی الله عنه یو د ترمذی روایت دي او دغه روایت امام احمد په خپل مسند کي هم ذکر کړي

---

۱. مسند امام احمد بن حنبل : جلد ۲ صفحه ۳۰۶ مسند أبي هريرة رضي الله عنه

دي دويم داحمداو دنسائی روايت دي دوانړه د حضرت ابوهريره رضی الله نه دی.

حضرت ابو هريره رضی الله عنه فرمائی.

حدثنا عبدالله حدثني أبي ثنا عبيدة بن حميد أبوعبد الرحمن حدثني عطاء بن السائب عن عرفجة قال كنت عند عتبة بن فرقد وهو يحدث عن رمضان قال فدخل علينا رجل من أصحاب محمد صلى الله عليه و سلم فلما رآه عتبة هابه فسكت قال فحدث عن رمضان قال سمعت رسول الله صلى الله عليه و سلم يقول في رمضان : تغلق فيه أبواب النار وتفتح فيه أبواب الجنة وتصفد فيه الشياطين قال وينادى فيه ملك يا باغي الخير أبشر يا باغي الشر أقصر حتى ينقضى رمضان

تعليق شعيب الأرنؤوط : حديث صحيح : (۱)

جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلی دی كله چه د رمضان دمياشتي اوله شپه داخله شی نوشيطانان اوسركشه پيريان اوترلي شی د جهنم دروازي بندي شی يو دروازه پكي كهلاؤ نه وی اودجنت دروازی تولي كهلاؤ شی.دجنت اته دروازی دی تولي كهلاؤ شی يو دروازه پكي بنده نه وی او يو آواز كونكي آوازكوی څه وائی؟ باغی دا اسم فاعل دي د دي مصدری دوه راځی كله چه باغی د بغاوت نه شی نو هر هغه چاته وائی چه د بادشاه خلاف كوی او كله چه باغی د بُغْي نه شی نو بغيه معنی طلب كول.

يو حديث كي راځی چه حضرت عمار رضی الله عنه ته نبی صلی الله

۱- مسند امام احمد بن حنبل : جلد٤ صفحه ۳۱۲ حديث رجل رضي الله تعالى عنه

علیه وسلم فرمائیلی وو.

عن عكرمة قال لي ابن عباس ولابنه علي انطلقا إلى أبي سعيد فاسمعامن حديثه فانطلقنا فإذا هو في حائط يصلحه فأخذرداءه فاحتبى ثم أنشأ يحدثنا حتى أتى ذكر بناءالمسجد فقال كنا نحمل لبنة لبنة وعمار لبنتين لبنتين فرآه النبي صلى الله عليه وسلم فينفض التراب عنه ويقول ويح عمار تقتله الفئة الباغية يدعوهم إلى الجنة ويدعونه إلى النار قال يقول عمار أعوذ بالله من الفتن : ([1])

خلق ددی حدیث معنی غلطه کوی او بیا په حضرت معاویه رضی الله عنه باندی طعن کوی هغه وائی کنی دا الفئة الباغیه د بغاوت نه دی چه تابه باغیان وژنی هغه ډله چه هغه باغیان دی. دا د بغاوت نه نه دي تقتله الفئة الباغية تا به هغه خلق وژنی چه هغه د بل د قصاص مطالبه کوی. او تابه وژنی یعنی هغوئ به ئي سبب وی دا نه چه هغوئ به قتل کوی.حضرت عمار رضی الله عنه چه شهید کیدونو خوارجو وژلي ووخو کوموخلقو چه دحضرت عثمان رضی الله عنه د خون بها مطالبه کوله د هغوئ د طرف نه مړ وو.نو د باغی معنی دا نه ده چه باغیان به دی وژنی.

دی حدیث کي راځی.

يا باغي الخير أقبل ويا باغي الشر أقصر ولله عتقاء من النار وذلك كل ليلة :([2])

---

[1]- صحيح البخارى حسب ترقيم البخارى :جلد۱ صفحه ۱۲۲ باب التعاون في بناء المسجد

[2]- سنن الترمذي : جلد ۳ صفحه ٦٦ باب ما جاء في فضل شهر رمضان

اي دخيرلتونکيه راوړاندی شه. دا مياشت د خير ده او يو آواز دا هم کوی اي دشرلتونکيه بس که دامياشت دخير ده خير لتونکيه راوړاندي شه او دا مياشت د شر نه ده اي د شر لتونکيه بس کړه.

د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم ممبر ته ختل

يو حديث کي راځی.

عن سعد بن إسحاق بن كعب بن عجرة عن أبيه عن جده كعب بن عجرة أن رسول الله صلى الله عليه وسلم خرج يوما إلى المنبر فقال حين ارتقى درجة آمين ثم ارتقى الأخرى فقال آمين ثم ارتقى الثالثة فقال آمين فلما نزل عن المنبر وفرغ قلنا يا رسول الله لقد سمعنا منك كلاما اليوم ما كنا نسمعه قبل اليوم؟ قال وسمعتموه؟ قالوا نعم قال إن جبريل عليه السلام عرض لي حين ارتقيت درجة فقال بعد من أدرك أبويه عند الكبر أو أحدهما لم يدخلاه الجنة قال قلت آمين وقال بعد من ذكرت عنده ولم يصل عليك فقلت آمين ثم قال بعد من أدرك رمضان فلم يغفر له فقلت آمين : ([1])

عن أبي هريرة أن النبي صلى الله عليه و سلم صعد المنبر فقال آمين آمين آمين قيل يا رسول الله إنك حين صعدت المنبر قلت آمين آمين آمين قال إن جبريل أتاني فقال من أدرك شهر رمضان ولم يغفر له فدخل النار فأبعده الله قل آمين فقلت آمين ومن أدرك أبوية أو أحدهما فلم يبرهما فمات فدخل النار فأبعده الله قل

---

[1] - المعجم الكبير للطبرانی : جلد ١٤ صفحه ١٤

آمين فقلت آمين ومن ذكرت عنده فلم يصل عليك فمات فدخل النار فأبعده الله قل آمين فقلت آمين : قال شعيب الأرنؤوط : إسناده حسن : ([1])

جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه یو پیره ممبر ته اوخوتو چه اولي پورې ته اوخوت وي امين نو چه دويمې پورې ته اوخوت نووي امين نوچه دريمې پورې ته اخوت وي امين نو صحابؤترينه تپوس اوکړو يارسول الله صلی الله علیه وسلم تاپه اوله پورې باندی هم امين اوي په دويمه دی امين اووي په دريمه دی امين اووي دا ولی ؟ نبی صلی الله علیه وسلم اوفرمائيل چه زه کله اولئ پورې ته اوختمه نو جبرائيل عليه السلام راغي اوجبرائيل عليه السلام اوفرمائيل چه چاخپل موريا پلاريادوانړه بوډاګان اومندل او دي پری جنت ته لاړنه شو نو خدائي دی دی غرق کړي دا بد دعا چا اوکړه؟جبرائيل عليه السلام نونبی صلی الله علیه وسلم وي ما ورته وي چه امين خدائي دی غرق کړی خدائی دی ډوب کړی چه موريا پلار يا دوانړه ئي بوډاګان اومندل او دي پری جنت ته لاړنه شو نو دی دی خدائي غرق کړی نو چه دويمه پورې ته اوختمه نوبيا جبرائيل عليه السلام وي چه ستا نوم چا واغستو او خلق ناست وو په تا چا درود اونه وي نو دا بخيل دي خدائي دي تباه کړی نو ما وي چه امين چه دريمې پورې ته اوختمه نو جبرائيل عليه السلام وي چه په چا باندی د رمضان مياشت راغله او ده ته پکي بخنه او نه شوه نو خدائي دی دی تباه کړی ما وي چه امين.

---

[1]- صحيح ابن حبان بتحقيق الارناووط : جلد ۳ صفحه ۱۸۸ باب الأدعية

د رمضان میاشت د بخشش میاشت ده

دا میاشت د بخشش ده کله چه یو بادشاه نوې اوخیژی نو هغه په جیلونوکي د عاموم‌عافو اعلان کئ کله کله دیوم وطنی په مناسبت باندی یوم آزادی چه ورته وائی عربو ورله خه نوم ایخي الیوم الوطنی د وطن ورځ. د آزادئ خو ده نه ځکه آزادی خو دي ته وائی چه سړي د شیطان نه آزاد شی نو مونږ خوچه پاکستان جوړ کړي دي ۷۰ کاله ئي اوشو هره ورځ شیطان راځی او په مونږ یو یو ول اړوی اولوئي شیطان ددنیا په بندیانوکي بش هغه خو د ورځی په مونږ پنځه پنځه وله اړوی . نو کله کله د یوم وطنی په مناسبت باندی بادشاهان اولږی خلقو ته معافی اوکړی.

الله رب العزت هم معافی کوی خو دا یوه ورځ نه کوی د ترمذی په دی روایت کي راځی دا روایت ترمذی ذکر کړي دی په ۲۸۲ نمبر باندی او ابن ماجه ۱۶۴۲ نمبر باندی امام ترمذی د حضرت ابو هریره رضی الله عنه قول نقل کوی وائی نبی صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی.

عن أبي صالح عن أبي هريرة قال قال رسول الله صلى الله عليه و سلم إذاكان أول ليلة من شهر رمضان صفدت الشياطين ومردة الجن وغلقت أبواب النار فلم يفتح منها باب وفتحت أبواب الجنة فلم يغلق منها باب وينادي مناد يا باغي الخير أقبل ويا باغي الشر أقصر ولله عتقاء من النار وذلك كل ليلة قال وفي الباب عن عبد الرحمن بن عوف و ابن مسعود و سلمان : ([1])

[1] - سنن الترمذي : جلد ۳ صفحه ٦٦ باب ما جاء في فضل شهر رمضان

الله په دی رمضان کي ګنړ خلق د اور نه آزادوی او هره شپه الله دا کارکوی چه کله مانښام شی پیشمني شروع شی الله خلق آزاد کړی دا فلاني فلاني مې د اور نه آزاد کړو د اور نه آزادول د هغه خلقو کیږی چه هغه د اورمستحق ئی چه پیشمني شی الله وائی دا فلاني فلاني مې آزاد کړو نو ډیر بدبخته دی هغه سړي چه د هغه په دغه عتقاء کي برخه اونه شی او دا حدیث امام احمد ابن حنبل هم په خپل مسند کي ذکر کړی دی په څلورم جلد کي.

د حضرت ابوهریره رضی الله عنه بل روایت چه یوازی امام احمد ذکر کړي دي نسائی په څلورم جلد کي ذکر کړي دي.

حضرت ابو هریره رضی الله وائی.

عن أبي هريرة قال قال رسول الله صلى الله عليه و سلم أتاكم رمضان شهرمبارك فرض الله عز وجل عليكم صيامه تفتح فيه أبواب السماء وتغلق فيه أبواب الجحيم وتغل فيه مردة الشياطين لله فيه ليلة خير من ألف شهر من حرم خيرها فقد حرم : (۱)

جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل اي خلقو تاسو ته روژه راورسیده دا د برکت ډکه میاشت ده الله پاك په تاسو باندی ددی میاشتی روژی فرض کړی دی دا روژی نیول غواړی.

روژی نیول پکاردی

دی روژو ته د ځان نه حیلی والی جوړول نه دی پکارچه روژه راشی نورکله خو ته سم سخوندرئی دساهیوال غوئي ئی اوپه

منډه منډه ګرځی چه روژه راشی نومولاله ځی چه یره جی زما خو په دی ګرده کي شکایت دی او روژي نه شم نیولي څه چل اوکړم کله کله به راشی یره جی زمونږ په کورکي مریض دی او روژی نه شی نیولی څه چل اوکړی مولا هم د ساده ځوئي ئی هغه ورته وائی زه یره فدیه ورکه.

مسئله داده چه یوحاذق طبیب ډاکټر هغه تاته اووائی چه روژه ستا دپاره مضره ده نو بیا به ته خپل مرض ته اوګوری که ستا مرض وقتی مرض وو نو بیا فدیه نشته الله پاك وائی.

أَيَّامًا مَعْدُودَاتٍ فَمَنْ كَانَ مِنكُمْ مَرِيضًا أَوْ عَلَى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِنْ أَيَّامٍ أُخَرَ وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِينٍ فَمَنْ تَطَوَّعَ خَيْرًا فَهُوَ خَيْرٌ لَهُ وَأَنْ تَصُومُوا خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ : (۱)

که مریض وویایو سړي مسافر وو نو د دی په ځائي به نوری روژی نیسی.دروژو نه نه خلاصیږی اوکه چری ستا مرض دائمی وو او حاذق حکیم درته اوي د کهوئی برمول ډاکټر نه کهوئی برمول کي خو زه هم ډاکټر یمه که نن مې دکان کهولاؤ کو اولس اته بوتلی مې کیخودی او دوه دری انجکشنی مې راوړی ځکه دلته کي خو تپوس نشته.حاذق ډاکټر چي پوهه سړي وي او هغه د مریض په حال پوهه وی اودهغه قول سند وی هغه چه درته اووي روژه مه نیسه او تاله روژه تکلیف درکوی ستا د جان خطره ده نو بیا د هغه د پاره فدیه ده او دي باره کي الله پاك فرمائی.

وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِينٍ کوم کسان چه د روژی

۱- سورة بقره (۱۸٤)

طاقت نه لری هغه دی فدیه ورکی. دا نه چه هر سړي دی فدیه ورکوی.

رمضان مبارکه میاشت ده او الله په تاسو باندی د دی روژی فرض کړی دی. بهرحال حدیث کی رازی.

تفتح فيه أبواب السماء وتغلق فيه أبواب الجحيم وتغل فيه مردة الشياطين لله فيه ليلة خير من ألف شهر من حرم خيرها فقد حرم : (۱)

په دی کي د اسمان دروازی یعنی د جنت دروازی د علواوبلندي دروازی په دی کي کهلاؤ شی او دجهنم دروازی هغه په دی کي بندي شی. او هغه مست شیطانان او ناکاره شیاطین هغه په دی کي ترلي کیږی دمرې نه د الله په دی میاشت کي یو شپه ده د زرو میاشتو نه غوره ده څوك چه د هغی د خیر نه محرومه پاتي شونو هغه دائما محرومه دی.

رمضان او قران به بنده له سفارش کوی

رونړو : مشهور صحابی عبدالله ابن عمرورضی الله عنه دا هغه صحابی دی چه په صحابؤ کي دده دا خصوصیت وو چه نبی صلی الله علیه وسلم ده ته حکم کړي وو چه زما احادیث اوری نو لیکه ئی عبدالله بن عمرو رضی الله عنه وائی پلار او ځوي دوانړه صحابه دی پلار ئي د مصر فاتح دي.

عن عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما أن رسول الله صلى الله عليه و سلم قال الصيام و القرآن يشفعان للعبد يقول الصيام رب إني

منعته الطعام والشهوات بالنهار فشفعني فيه ويقول القرآن منعته النوم بالليل فيشفعان

هذا حديث صحيح على شرط مسلم و لم يخرجاه : ([1])

عمرو بن عاص رضی الله عنه فرمائي چه نبی صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی. رمضان او قران دا بنده له سفارش کوی.

د قران ددی د روژي سره مناسبت دی نبی صلی الله علیه وسلم له به په هره میاشت درمضان کي جبرائیل علیه السلام راتلو قران به ئي ورسره اړؤ.

دا د قران میاشت ده رمضان او قران دا بنده له سفارش کوی. رمضان څه وائی؟ او قران څه وائی؟ په قیامت کي د هر شی به یو شکل وی او په هغه شکل باندی به هغه راځی او خبری به کوی. روژه به الله ته وائی اي الله دا ستا بنده دي ما دي د شهوت نه منع کړي وو مادی د خوراك څکاك نه منع کړي وو د ورځی به ئي د شهوت او خوراك څکاك افعال نه کول الله زما سفارش دده باره کي قبول کړی؟

قران به وائی.الله مادی د شپی د خوبه ویستلي وو الله زماسفارش قبول کړی.نبی صلی الله علیه وسلم فرمائی د دوانړو سفارش به الله منظوروی.

د لیلة القدر فضیلت

حضرت انس بن مالك رضی الله عنه فرمائي.

---

[1] - المستدرك للحاكم : جلد ۱ صفحه ۷٤۰ أخبار في فضائل القرآن جملة

عن أبي هريرة أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال لأصحابه يبشرهم قدجاءكم رمضان شهر مبارك افترض الله عليكم صيامه يفتح فيه أبواب الجنة ويغلق فيه أبواب الجحيم ويغل فيه الشياطين فيه ليلة خير من ألف شهر من حرم خيرها فقدحرم : ([1])

د رمضان مياشت راغله جناب محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل اي خلقو دا مياشت تاسو له راغله او په دی کي يوه شپه ده دزرومياشتونه غوره ده څوك چه ددغی شپی د برکت نه محرومه شودی دټول خيرنه محرومه شو.

شيطان الله دی په لعنت کړی تاسو ته پته شته هغه ددی خلقو سره څه چل اوکړی ؟ د رمضان په اول کي جماعت ته لوئی واړه راروان کړی جماعت کي غرب غروب جوړوی او چه کله دوه عشری اوځی يا نوه عشره اوځی د دويمی نيمه راشی نو خلق کور کيني اخری عشره چه په کومه کي ليلة القدر دي په هغی کي دا خلق ډيرځان ستړي بولی او جماعتونو ته نه راځی څوك چه ددغه شپو د برکت نه محرومه شودي د ټول خير نه محرومه شو او ددی خير نه به هغه سړي محرومه کيږی چه هغه د خيرنه بند شوی وی او د هغه په سعادت او نيك بختيا کي برخه نه وی.

دا حديث امام بيهقی رحمه الله د هغه يو کتاب دي شعب الايمان (د ايمان څانګی) په هغی کي دا روايت ذکر کړي دي او ابن ماجه دا روايت ذکر کړي دي.

---

[1] - شعب الايمان للبيهقي : جلد ٥ صفحه ٢١٨ باب فضائل الصوم

د نبی صلی الله علیه وسلم بیان

حضرت سلمان فارسی رضی الله عنه هغه د نبی صلی الله علیه وسلم د یو بیان ذکر کئ فرمائی.

عن سعيد بن المسيب عن سلمان الفارسي قال خطبنا رسول الله صلى الله عليه وسلم في آخر يوم من شعبان فقال يا أيها الناس قد أظلكم شهر عظيم شهر مبارك شهر فيه ليلة خير من ألف شهر جعل الله صيامه فريضة وقيام ليله تطوعا من تقرب فيه بخصلة من الخير كان كمن أدى فريضة فيما سواه ومن أدى فريضة فيه كان كمن أدى سبعين فريضة فيماسواه وهو شهر الصبر والصبر ثوابه الجنة وشهر المواساة وشهر يزاد في رزق المؤمن من فطر فيه صائما كان له مغفرة لذنوبه وعتق رقبته من النار وكان له مثل أجره من غير أن ينقص من أجره شيء قلنايارسول الله ليس كلنايجد مايفطر الصائم فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم يعطي الله هذا الثواب من فطر صائما على مذقة لبن أو تمرة أو شربة من ماء ومن أشبع صائما سقاه الله من حوضي شربة لايظمأ حتى يدخل الجنة وهو شهر أوله رحمة وأوسطه مغفرة وآخره عتق من النار من خفف عن مملوكه فيه غفر الله له وأعتقه من النار : (۱)

د شعبان د میاشتی د شوقدر د میاشتی آخری ورځ وه دیرش پوره شوی وی دیرشمه ورځ ئي وه په هغه دیرشمه ورځ باندی جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته یوتقریراوکو.

---

۱ - شعب الایمان للبیهقی :جلد ٥.صفحه ۲۲۳ فضائل شهر رمضان

د شعبان آخرنی ورځ وه او جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته یو تقریر اوکړو دا تقریر د یادولو قابل دي دا تقریر زه هر کال په روژه کي تاسو ته کوم.

نبی صلی الله علیه وسلم چه پاسیدو نو د الله حمد او ثنا ئی اوي د هغی نه پس ئي اعلان اوکړو اي خلقوتاسو ته یو عظیمه میاشت رانږدی شوی ده سبا نه شروع کیږی دا میاشت د برکت ډکه ده دا داسی میاشت ده چه په دی کي یوشپه ده هغه دایك هزار میاشتو نه غوره ده د دی میاشتی روژه الله په تاسو باندی فرض کړی ده او د دی د شپی قیام الله ستاسو دپاره نفل ګرځولي دی اي خلقو یو عظیمه میاشت رارواته ده د خیراودبرکت نه ډکه میاشت ده داسی میاشت ده چه په دی کي یو شپه ده د ایك هزار میاشتو نه هغه غوره ده.

الله رب العزت ددی روژه په تاسو فرض کړی ده او د دی د شپی قیام تراویح ئی په تاسوباندی نفل ګرځولي دی چاچه په دی میاشت کي د نیکئ یو کار اوکړو نو ددی دومره اجر دی لکه په نورو میاشتو کي دغه کار فرض اوکړی نو په رمضان کي د نفل ثواب د هغه فرض هومره دی او چا چه په دی کي فرض مونځ اوکړو یا ئي نور فرض لکه فرض زکوة ئي ورکړو دده مثال داسی وی لکه په نورو میاشتو کي چه اویا فرض اوکړی.

معلومه دا شوه چه یو سړی نفل کوی نو چه په عامو ورځو کي دوه رکعته اوکړی او په رمضان کي دوه رکعته وکي نو د عامو ورځو دوه رکعته خو دوه رکعته دی د رمضان دوه رکعته د ۱۴۰ رکعتو

هومره ثواب لری یوپه اویاباندی الله پاك اجر سوا ورکوی دا که عدد مراد شی هله اوکه نه سبعین څنګ چه دا کنایه ده د کثرت نه د زمانی عددپه اووباندی خلاصیږی خالی اتوارګل نخه شورو زیارت جمعه بیا خالی او عدد په لسو باندی د لس نه پس بیا یو اولس نو ۱۰ له چه په ۷ کي ضرب ورکړی نواویا ۷۰ ترینه جوړیږی.

نبی صلی الله علیه وسلم فرمائی دی کي یو فرض چه سړی اوکړی د هغی د درجو هډوځه پته نه لګی دا د صبرمیاشت ده. دځه شی میاشت ده ؟ د صبر ددی میاشت نه ده چه تاته یوسړي یوخبره اوکړی او ته فوراپه کنزلو شروع شی چه دماغ مې کار نه کئ روژه ده.

تیره جمعه باندی ما تاسوته عرض کړی وو الله رب العزت چه کوم احکام فرض کړی دی هغه د انسانیت د زیاتولو دپاره دی په روژه کي د سړي انسانیت خه کیږی په روژه کي د سړی نه غوائي نه جوړیږی.

نبی صلی الله علیه وسلم فرمائی دا د صبر میاشت ده او د صبر بدله جنت دی ګوری.

سوچ اوکړئ چه نبی صلی الله علیه وسلم ددی میاشتی څو صفتونه کئ اول صفت ئي دا کوی چه دا یو عظیمه میاشت ده. د خیر او برکت ډکه میاشت ده دا د صبر میاشت ده او د صبر بدله جنت دی.

بیا نبی صلی الله علیه وسلم فرمائی دا دخیرخیګړی میاشت ده معنی داچه ته ځان له یو برخه په خیر کي جوړوي مساهمه فی الخیر

کوی نو دا د هغی میاشت ده دا به تاسو ته معلومه وی یابه نه وی معلومه کوموکسانو چه په سعودی عربستان کي عمر کړي دي د نورو عربونه نه یم خبردسعودی ماته خه پته ده هلته درمضان په میاشت هغوئ د خیرخایونه کهولاؤ کړی موسسات الخیریه ورته وائی اوپه دی کي هرسړي برخه اخلی مثلا د ۵ لاکهـ ریالو مُوسسه خیریه ده یو وائی په دی کي پنځمه حصه زما بل وائی شلمه پکي زما نودا میاشت دا د مواسات میاشت ده داددي میاشت ده چه ته پکي ځان له برخه اوکړی دا هغه میاشت ده چه په دی کي الله پاك د مومن رزق سوا کوي

وشهر یزاد فیه رزق المؤمن من فطر فیه صائما کان له مغفرة لذنوبه وعتق رقبته من النار وکان له مثل أجره من غیر أن ینقص من أجره شيء

چاچه په دی کي یو روژه دار له روژه ماتی ورکړو دری اجره ئي وګټل.

اول اجر یو روژه دار له روژه ماتي ورکول دا د ده د ګناهونو د بخشش سبب شو.

دویم دده ستړ به الله د اوره آزاد کړی عمل لږ او بدله ئی ډیره ده.

د لسوشلو روپو روژه ماتی دی واغستو او دا دی روژه دار له ورکړو ستا ګناهونه پری الله معاف کړل او ستا ستړ پری الله د اوره آزادوی.

دریم اجرئي دادی چه هغه چا چی پری روژه ماته کړه دده په روژه ماتی باندی د هغه هومره اجر دده هم اوشو او الله پاك د هغه په

اجر کي هم کمي نه راولی.

حضرت سلمان فرمائی.

قلنايارسول الله ليس كلنايجد ما يفطر الصائم فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم يعطي الله هذا الثواب من فطر صائما على مذقة لبن أو تمرة أو شربة من ماء ومن أشبع صائما سقاه الله من حوضي شربة لا يظمأ حتى يدخل الجنة وهو شهر أوله رحمة وأوسطه مغفرة وآخره عتق من النار من خفف عن مملوكه فيه غفر الله له وأعتقه من النار: (۱)

اي د الله رسوله په مونږ کښي د هر کس خو دا طاقت نشته نجِدُ د وُجْدٌ نه دی چه روژه دار له پري روژه ماتی واخلو او روژه دار له ئي ورکړو په روژه ماتی باندی ئي خرچ کړو نوجناب رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل الله رب العزت دا اجر هغه چاله ورکوی چه چا يوسړی له يو ګوټ پئ د روژه ماتی دپاره ورکړل يا ئي يو کهجوره ورکړه د روژه ماتی دپاره يا د اوبويوګوټ ئي ورکړو.

نبی صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل :چاچه روژه دار له روژه ماتي ورکړو او دی ئی مونږ کړو نو الله رب العزت به زما دحوض نه ده ته يو ګلاس اوبه ورکړی او جنت ته چه دی لاړ هم شی بيا به هم نه تږی کيږی.

داداسی مياشت ده چه ددی په اول کي رحمت دي اوله عشره دا رحمت دي دويمه عشره دا مغفرت دي او ددی آخری عشره په

۱- شعب الايمان للبهقی :جلد ۵ صفحه ۲۲۳ فضائل شهر رمضان

دی کي سړي داور نه آزادیږی.
یو سړی چه په خپل نوکر او خپل مملوك باندی کارسپك کړو په دی میاشت کي نو الله رب العزت به هغه ته بخنه کوی په دی میاشت کي اود اور نه ئي آزادوی.
په سعودی عربستان کي عامه دا قاعده ده چه عامه ډیوتی اته ګهنټی یا لس ګهنټی وی خو چه کله د رمضان میاشت راشی څلور ګهنټي ډیوتی وی. او دا هغوئ په دی حدیث باندی عمل کوی چه چاپه دی کي د خپل مملوك نه د خپل غلام نه د خپل نوکر نه کار سپك کړو الله رب العزت هغه ته بخنه کوی او دي د اور نه آزادوی.

د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم طریقه څه وه ؟

عن ابن عباس قال کان رسول الله صلی الله علیه وسلم إذا دخل شهر رمضان أطلق کل أسیر وأعطی کل سائل : ([1])
کله چه به د رمضان میاشت راداخله شوه نو نبی صلی الله علیه وسلم به قیدیان پریخودل او نبی صلی الله علیه وسلم ته اختیار ووځکه د نبی صلی الله علیه وسلم عام قیدیان کافر وو نو هغه کافر قیدیان به ئي پریخودل.
نبی صلی الله علیه وسلم په دی کي مختار وو چه په دوی باندی احسان کوی پریدی ئی فدیه ترینه اخلی که مریان ترینه جوړوی.
نو نبی صلی الله علیه وسلم به پریخودل او کوم سوال کونکی چه به راتلل نو څه نه څه به ئي ورکول.

---

[1] - شعب الایمان للبیهقی :جلد ٥ صفحه ٣٢٦ فضائل شهر رمضان

هسی هم د نبی صلی الله علیه وسلم عامه طریقه ډاوه چه هغه چرته چا ته نه نه وو وئیلي چا چه څه غوختلی دی نه ئي نه دی وئیلي هغه یو شاعر وائی:

ماقال لا قطُّ الا فی تشهده لولا التشهد کانت لاءه نعم

نبی صلی الله علیه وسلم چری نه نه وو وئیلي سواپه تشهد کي که تشهد نه وي نو د نبی صلی الله علیه وسلم لا چه وو نو هغه به هم نعم وو. همیشه به ئي خه خه وي نبی صلی الله علیه وسلم نه چرته سائل ته (نه) نه دی وئیلي خو په رمضان کي به ئي بالکل نه وي.

د رمضان د پاره جنت سینګارول

حضرت عبد الله ابن عمر رضی الله عنه فرمائی.

عن عمرو بن دینار عن ابن عمر أن النبي صلی الله علیه وسلم قال إن الجنة تزخرفت لرمضان من رأس الحول إلی الحول فإذا کان أول یوم من رمضان هبت ریح من تحت العرش فصفقت ورق الجنة عن الحور العین فقلن یارب اجعل لنا من عبادك أزواجا تقر بهن أعیننا وتقر أعینهم بنا : (۱)

نبی صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل. د جنت سجاوټ شروع وی د کال د اول نه کله چه شوال شروع شی نود رمضان دپاره د جنت سجاوټ شروع شی او د بل کاله پوری دهغی سجاوټ کیږی. الله رب العزت جنت ښکلی کوی نوکله چه د رمضان میاشت راشی بل کال له نو کومی حوری چه دی نودعرش د لاندی نه یوهوادجنت

۱- المعجم الکبیر للطبرانی : جلد ۱۱ صفحه ۲۶۳

دپانړونه په هغوئ باندی راشی نودجنت حوری وائی الله مونږله ستا په دی بندیانوکي هغه کسان خاوندان کړی چه زمونږ سترګی په هغوئ یخی شی او د هغوئ سترګی په مونږ یخی شی.

دجناب رسول الله صلی الله علیه وسلم امت ته بخنه

حضرت ابوهریره رضی الله عنه فرمائی نبی صلی الله علیه وسلم فرمائیلی وو.

عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: أعطيت أمتي خمس خصال في رمضان لم يعطها أحد قبلهم خلوف فم الصائم أطيب عند الله من ريح المسك وتستغفر لهم الملائكة حتى يفطروا ويزين الله كل يوم جنته ويقول: يوشك عبادي الصالحون أن يلقوا عنهم المنونة والأذى ويصيروا إليك وتصفد فيه مردة الشياطين ولا يصلون فيه إلى ما يصلون في غيره ويغفر لهم في آخر ليلة قيل يا رسول الله أهي ليلة القدر؟ قال لا ولكن العامل إنما يوفى أجره عند انقضاء عمله : (۱)

چه دجناب رسول الله صلی الله علیه وسلم امت ته الله پاك د رمضان په آخره شپه کي بخنه کوی تپوس اوشو اي د الله پیغمبره داهغه لیلة القدر دي؟ نو نبی صلی الله علیه وسلم ورته وی نه خو عامل ته الله رب العزت اجر هله ورکوی چه هغه خپل عمل پوره کي نود هغه مزدوری پوره شو نو په آخره ورځ باندی الله ده له اجر ورکوی او الله ده له بخنه ورکوی.

۱۔ شرح المشکل الاثار: جلد ۸ صفحه ۱۲

متفرق مسائل

عزت مندو: بعضی څیزونه دی په روژه کي چه د هغی کول جائز نه دی لږپه هغی هم ځان پوهه کړی څه په تیره جمعه ما تاسو ته بیان کړي وو څه نن وارئی.

(۱) په رمضان کي په سرغوړولو باندی روژه نه ماتیږی.

(۲) په سترګو تورولوباندی روژه نه ماتیږی.

(۳) چه رمضان کي ډیره ګرمی شی نو په سریوسړی اوبه اچوی یا په خُلی کي اوبه اچوی او توکی ئی په دی روژه نه ماتیږی.

(٤) په رمضان کي یو سړي دي د روژی دپاره لامبی نو په دی لامبلو باندی روژه نه ماتیږی.

(٥) په رمضان کي یوسړي دي سترګو کي دوائی اچوی دی باندی روژه نه ماتیږی.

(٦) په رمضان کي یو سړی بیماردي اوهغه ته دستنی ضرورت دی د انجکشن نو درګ یا د مټ په انجکشن باندی روژه نه ماتیږی.

ددی دپاره فقهاء لیکی:

د انسان معده چه په بدن کي ده دی ته دوه قسمه لاری دی یوه لار ده هغی ته زمونږ فقهاء منافذا صلیه وائی منافذا صلی هغي لاری وائی ته چه د هغی ډائرك د معدي سره تعلق وی په دی منافذو اصلیوکي خُله ده پوزه ده غوږونه دی او دانسان لاندی طرف د لویو بولو ځائي دی په دی څلورو مقاماتو کي چه اوبه یا څه شی لاړ شئ نو هغه معدي ته ځی نو لهذا په دی باندی خُلی کي اوبه اچول تیرول یا په خلی کي دوائی اچول یاپه غوږونو کي دوائی اچول یا په پوزه

کي څاڅکی کول په دی باندی روژه ماتیږی ځکه ددی ډائرك د معدي سره تعلق دی.

پاتي شوه چه ستر کوکي دوائی واچوي نو ترخوالي راځی نو دا د هغی اثر دي د ډائرك هغه دوائی حلق ته نه راځی او د دغی وجی نه زمونږ فقهاء وائی چه په عامو اوقاتوکي داسی مسترخی کیناستل یعنی ارت برت کیناستل داسنت طریقه ده خو په رمضان کي به ارت برت نه کینی چه استنجا کوی.

ددی نه علاوه بعض داسی څیزونه مثلا یوسړی دی د هغه په خله کي څه پوتي پرورت وو او تیر ئي کړو په دی روژه ماتیږی کومې ستنی چه سړی د ځان د تقویت دپاره وهی یا ډریپونه خیژوی په دی روژه ماتیږی کومه ستن چه د علاج دپاره په رګ کي وي یا په مټ کي په هغی روژه نه ماتیږی ځکه دا په منافذو اصلیو باندی نه ځی او دا معدي ته نه ورځی.

دویم قسم منافذ دی غیر اصلی یو سړی دی د هغه په سر باندی زخم دی نو په دی چه کله دوائی ته واچئ نو دپوزی په لاراو د خلی په لار معدي ته ځی نو په هغی باندی لمده دوائی چه اچوی نو روژه ماتیږی دارنګی د یو سړی په معده کي زخم وو او د هغی د پاسه دوائی اچوی نو په دی باندی روژه ماتیږی.

غیبت کول په روژه کي دا یو عظیم ګناه دي هسی هم ګناه دي خو روژه کي کول دا ډیر لوئي ګناه دی او تیره جمعه باندی تاسو ته حدیث بیان شوي وو چه یو سړي په روژه کي د غیبت نه خُله بنده نه کړی د بد ردو نه خُله بنده نه کړی نو د الله رب العزت دده روژي ته

هیس حاجت نشته.

دارنګی په روژه کي د خپل کور والا سره هسی عام توقع تقالی کول د عامو خوانانو دپاره ناروا دی او کوم چه بوډاګان دی او په ځان ئی کنټرول وی نو دهغوئ دپاره ګپ شپ خیر دي خو احتیاط په دی کي دی چه سړي ځان بچ ساتی.

دارنګی که په رمضان کي دسړی هیر وو او په هیره باندی ئی څه شئ اوخوړو نود هغه روژه نه ماتیږی که وه ئي څکو نو نه ماتیږی البته که په خطاسره ئي اوخوړو اوڅکو نوماتیږی د هیراو دخطا فرق دا دی چه په هیر کي سړي هغه عمل قصدا کوی لکه خوراك د ده اراده وی چه خوراك کوم څو ده ته روژه یاده نه وی او په خطا کي دا عمل قصدا نه کوی لکه مثلایو سړي دي خلی ته اوبه واچوی او ناڅاپه ئی تیری شی نو دی به دغه روژه هم سرته رسوی او د دغی په بدل کي به بله روژه نیسی.

که یو سړی قصدا روژه ماته کړه نو هغه به دغه روژه هم نیسی او دوه میاشتی متواتر به د هغی کفاره هم نیسی.

دارنګی یو سړی له قي راغلي زړه ئي ډك شو قي ئي اوکړو نو په دی روژه نه ماتیږی او که یو سړی په خله کي ځان له ګوتی کیخودي او قي ځان له په زور راوستو نو دده روژه ماته شوه.

یو دی عمدا ځانله قي راوستل په عربئ کي دی ته استقاء وائی نو چاچه استقاء اوکړه یعنی عمداً ئي ځان له قي راوستو نو د ده روژه ماته شوه او که عمدا ئي قي رانه وستو او قي ورله راغي نو دده روژه نه ماتیږی.

یو سړی دي مریض دی د هغه روژه ده ډاکټر ورته وائی چه ستا مرض سوا کیږی دا روژه ماته که او ده دا روژه ماته کړه ده باندی صرف قضاء ده کفاره پري بالکل نشته.

دارنګی یو سړی دی چه په هیره ئی خوراك څکاك اوکړو او ده ته د مسئلی پته نه وه او ده وي یره هسی مې هم خوراك اوکړو اوس څله خُلی ته کوري اچومه نوره ئي هم پسی اخوړه یاد ئی وو او وي خوړه نو په دغه دی ګناه ګاردی خوقضا پري ده کفاره پري نشته.

ده له د مسئلي نه ځان خبرول پکار وو چه د مسئلي نه ئی ځان خبرکړي وي. نو قضا پنه شته کفاره په نشته.

دا د روژي په باره کي یو څو مسائل وو ماته مستحضر وو کله چه تاسوته څه داسی مسئله راشی نو دهغی خامخواه تپوس کوي او دا خبره به نه هیروي چه په روژه ماتی کي کله نور پریوتو ددی طرف نه د شپی اثار شروع شو نو فورا به روژه ماتوي.

په پیشمنی کي ترڅو پوری وخت پوره شوی نه وی تر هغه وخته پوری خوراك څکاك کوي او بعض خلق وائی پنځه منټه مخکي اولس منټه مخکي ئي بندوی دوخت نه وائی دااحتیاط دي دغه بي احتیاطی ده. نبی صلی الله علیه وسلم دغی ته بي احتیاطی وائی.

دی باره کي که انشاء الله توفیق راکړو او په رمضان کي زمونږ درس ډیر زیات نه وو او زما د منبر د بیان توفیق کیدو نو زه به دی باره کي انشاء الله العزیز نور روایتونه تاسو ته پیش کړم خو دا کومی خبری چه مې اوکړی دا ټولی یادول پکار دی او په دی باندی عمل پکار دی.

نفلی روژی

فرض روژه دا صرف د رمضان ده او د رمضان د روژو نه علاوه نوری نفل روژی دی په هغی کي ډیر ثوابونه دی.

په هغی کي یوه روژه هغه دعاشوره روژه ده د محرم د لسمي ورسره که سړي نهمه اونیسی نو ډیره خه ده الله پری دیو کال ګناهونه معاف کوی.

دویمه روژه دعرفی دورځی ده په هغی باندی الله د دووکالو ګناهونه معاف کوی.

عرفه د لوئی اختر نهمه هغه ورځ چه په کومه ورځ حاجیان عرفات ته لاړ شی هغی ته د عرفی ورځ وائی عرفه یوه ده او د عرفی روژه هم یوه ده دا نه چه د پاکستان خان له عرفه ده او د سعودی عرب خان له عرفه ده.

د شوال شپږ روژي نیول

دارنګی نبی صلی الله علیه وسلم فرمائی.

عن عمر بن ثابت عن أبي أيوب الأنصاري قال قال رسول الله صلى الله عليه و سلم من صام رمضان ثم اتبعه ستا من شوال فذلك صيام الدهر. تعليق شعيب الأرنؤوط : حديث صحيح وهذا إسناد حسن : (۱)

چه چا د رمضان روژي ونیوی او شپږ روژي ئي پسی بیا په شوال کي ونیولي خواه که هغه روژي پرله پسی وی او که ورځ ترمینځ وی

---

۱ - مسند امام احمد بن حنبل : جلد ٥ صفحه ٤١٧ حديث أبي أيوب الأنصاري رضي الله عنه

خو شپږ روژي ئې ونيولي نو دی داسی دی لکه ټول کال چه دده روژه وه ځکه ۳۰ روژي دا شوی او ۶ هغه شوی نو ټولی ۳۶ روژي شوی او یو روژه الله په لسو قبلوی علی الاقل کمه مرتبه ئی دا ده نو ۳۶ له چه په ۱۰ کي ضرب ورکړی نو ۳۶۰ شوی او په کال کي اته شلي ورځی وی نو اته شلي روژی شوی نو دی داسی دی لکه ټول عمر چه دده روژه وی.

بیا په عامو نفلي روژو کي د نبی صلی الله علیه وسلم عامه طریقه داوه.

عن أبي هريرة أن النبي صلى الله عليه وسلم كان يصوم الاثنين والخميس فقيل يا رسول الله إنك تصوم الاثنين والخميس ؟ فقال إن يوم الاثنين والخميس يغفر الله فيهما لكل مسلم إلا مهتجرين يقول دعهما حتى يصطلحا : (۱)

چه د ګل او زیارت په ورځ به ئی روژه وه ځکه په دی دوو ورځو کي الله ته د بندیانو اعمال پیش کیږی نو نبی صلی الله علیه وسلم به وي زما دا خوښه ده چه زما اعمال دروژي په حالت کي پیش شی نو د ګل او زیارت په ورځ روژه نیول غوره دی.

په عامو میاشتو کي د شعبان په کومه میاشت کي چه وس مونږ یو ددی د اول سر روژی دا ډیری غوره دی ترده ۱۵ پوری او د پنځلسو نه روستو تر شلو پوری یا د پنځه ویشتو پوری په دی کي هم اجر ډیر دي خو د دی نه روستو روژي به بیا نه نیسی دا دی دپاره چه د رمضان او د شعبان فرق راشی.

۱- سنن ابن ماجه : جلد ۲ صفحه ٦٢٨ باب صيام يوم الاثنين والخميس

دا یو څو مسائل وو د روژي الله دی ماله اول او تاسو له ورپسي د عمل توفیق راکړی اوالله دی دامیاشت زمونږ دپاره د مغفرت اوګرځئ. مونږ دی الله رب العزت ددی میاشتی دخیر نه محرومه نه کړی.

تولو ملګرو ته اوکلي والو ته اوخاص کر دي محلی والو ته دا درخواست دی چه په دی میاشت کي زمونږ سره د قران عظیم طالبان دی.

دقران عظیم طالب دا ډیر لوئي مقام لری او دده د مقام نه هغه سړي خبر دي چه هغه یا قران وئیلي دي او یا دقران نه خبر دي نو د دی طالبانو سره حسن سلوك کوي او د دوی سره امداد کوي الله به تاسو سره امداد اوکړی تاسو چه په دوی مال خرچ کړي الله به یو په لاکھ باندی تاسو له د هغی بدلی درکوی او د دی نه ډیری بدلی ورکوی الله نیت ته ګوری.

الله دی مونږ او تاسو له توفیق راکړی چه دا میاشت په مونږ باندی په خیر او په خوشحالو تیره شی او په دی میاشت کي جنګ جهګړه او نه شی ځکه زمونږ خلقو ته خو روژه دا څه د حیوانیت شي خکاری الله دی زمونږ په زړونو کي د روژی احترام پیدا کړی اوالله درکړی چه په دی میاشت کي زمونږ د کهوئی خلق خصوصا دوی یو بل ته د اخترمبارکی په شانته د روژي مبارکی ورکړي چه خلقوته پته اولګی چه په کهوئی کي د قران د درس اثر دی څنګ چه عامو خلقو ته هم دا معلومه ده چه کهوئی د عامو کلو او د نزدی کلو نه الحمد لله ددین په معامله کي ډیر وړاندي دی.

دلته بدعات نه کیږی جنازی د سنت مطابق دی په جنازوکي بدعات نشته او په ودونو کي کله کله د خلقو په ستونو شیطان کینی ډزی مزی اوکړی خونه تقریبا تقریباعام ودونه هم خه کیږی خوالله دی توفیق ورکړی چه په دی میاشت کي مونږدا دین د التزام عهد دالله سره اوکړو.

الله دی مونږ له د مغفرت اسباب اوګوري.

واخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمین

بسم الله الرحمن الرحيم

تفسيرسورة اخلاص

ان الحمد لله الحمدلله رب العلمين والصلوة والسلام علي سيد المرسلين وخاتم النبيين وقائد الغر المهجلين سيدنا و امامنا و امام الانبياء والمرسلين محمد,المبعوث الي الخلق اجمعين وعلي اله الطيبين و اصحابه الطاهرين وعلي ازواجه الطاهرات امهات المؤمنين وعلي امته المتقين الي يوم الدين.

امابعد.

فاعوذ بالله من الشيطن الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم

قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ * اللَّهُ الصَّمَدُ * لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ * وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ

د سورة اخلاص فضيلت

ستاسو مخكې ما د قرآن عظيم الشان يو سورة چه په هغې کې د قرآن کريم د مضامينو دريمه حصه ده هغه مې ولوسته الله دي ما له د صحيح تشريح د صحيح بيان د حق حق وينا توفيق راکې او الله دي ما له او تاسو له په دي د عمل کوو توفيق راکي.

دې سورت باره کې رازي.

عن أبي هريرة قال قال رسول الله صلى الله عليه و سلم احشدوا فإني سأقرأ عليكم ثلث القرآن قال فحشد من حشد ثم خرج فقرأ قل هو الله أحد ثم دخل فقال بعضنا لبعض هذا خبر جاءه من السماء فذلك الذي أدخله ثم خرج فقال اني قد قلت لكم اني سأقرأ عليكم ثلث القرآن وإنها تعدل ثلث القرآن

تعليق شعيب الأرنؤوط : إسناده صحيح على شرط مسلم : ([1])
جناب رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائي چه دا سورة اخلاص دا دقرآن د دريمې حصې برابر دي.
د هغې وجه دا ده چه قرآن كريم عام مضامين لوئي لوئي درې دي توحيد دي رسالت دي او مجازات «بدله»
دا سورة اخلاص په اهم مسئله د توحيد باندې مشتمل دي.او د دې سورة د مضامينو سره محبت دا سبب دي د جنت د تلو.
يو حديث كې رازي
عن أنس بن مالك قال جاء رجل إلى رسول الله صلى الله عليه و سلم فقال اني أحب هذه السورة قل هو الله أحد فقال رسول الله صلى الله عليه و سلم حبك إياها أدخلك الجنة
تعليق شعيب الأرنؤوط : حديث صحيح وهذا إسناد حسن : ([2])
يو صحابي به مونځ كوو نوپه هر ركعت كې د سورة د شروع كيدونه مخكې به ئې داسورةلوستودهغه مقتديانوپه هغه باندې نبي صلي الله عليه وسلم ته شكايت وكوچه دي د هرسورة نه مخكې سورة اخلاص وائي.
نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ هغه سړي راوغوختو اوتپوس ترينه كوي چه ولي دا كار كوي؟ نو هغه ورته وائي د الله رسول صلي الله عليه وسلم زمادي قسم وي زما دا سورة ډير خوښ دي نو نبي صلي الله عليه وسلم ورته وويل د دې سورة محبت به تا جنت ته داخل كړي.

---

[1]- مسند امام احمد بن حنبل : جلد ۲صفحه ٤٢٩ (مسند أبي هريرة رضي الله عنه)
[2]- مسند امام احمد بن حنبل : جلد ۳صفحه ١٤١(مسند أنس بن مالك رضي الله عنه)

د سورة اخلاص تشریح

د دی سورة تشریح او خلاصه خلق په مختلفو اندازونو ذکر کوي خو دې سورة کې الله رب العزت دا خبره ښائي چه په دینونو کې مختاره دین دا اسلام دي دا د دې سورة دعوه ده او دا دعوه ئې ذکر کړي ده قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ ووایه چه الله رب العزت هغه یو دي او دا دعوه چه الله یو دي دوه نه دي درې نه دي ګڼړ نه دي او د أَحَدٌ بیا درې معني دي.

یو دي ته وائي چه دویم ورپسې نه وي. نو الله رب العزت داسې یو دي چه هغه پسې دویم نشته دي.

ما او تا هم یو یو خو په مونږ پسې دویم زوي وراث راروان دي. الله رب العزت یو دي داسې یو دي چه جز ئي نشته.

ما او تا یو یو خو زمونږ اجزاء شته دي الله رب العزت یو دي معني دا مثیل ئي نشته دي ما او تا یو یو خو زما او ستا امثال ګڼړ په دنیا کې پیدا کیږي.

نو دې سورت کې دعوه داسې وخودله چه هغې کې دا ښائي چه اسلام په ټولو دینونو کې مختاره دین دي او دا دوا آیاتونه اللّٰهُ الصَّمَدُ * لَمْ یَلِدْ وَلَمْ یُولَدْ دا د دې دعوي دلائل دي.

د کافرو اقسام

په دې عالم کې دوقسمه کافر دي.

اول قسم کافر چه هغوئې دا عقیده لري چه د رب العزت بادشاهي دا دبندیانو د بادشاهی په شان ده اوهغوئې بندیان د الله تعالي

سره مشابه ګڼي دې قسم کافرو ته مشرکان وائي.
دويم قسم کافر هغه دي چه هغوئي وائي د الله تعلق په دي بنديانو کې د بعضو بنديانو سره د پلار او د زوي تعلق دي دې قسم کافرو ته اهل کتاب وائي او قران دا تقسيم کړي دي.
لَمْ يَكُنِ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ وَالْمُشْرِكِينَ مُنْفَكِّينَ حَتَّى تَأْتِيَهُمُ الْبَيِّنَةُ : (۱)
کافر ئي دوه قسمه ته تقسيم کړي دي يواهل کتاب کافر يو مشرکين کافر.

د مشرکينو عقائد

د مشرکينو عقيده دا وه چه الله رب العزت د دې کائنات خالق دي قرآن کي په سورة زخرف کې الله تعالي فرمائي.
وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ مَنْ خَلَقَهُمْ لَيَقُولُنَّ اللَّهُ فَأَنَّى يُؤْفَكُونَ : (۲)
که د دې کافرو نه تپوس وکې چه تاسو چا پيدا کړي ئي دا مشرکين د مکې خلق دهغوئې نه که تپوس وکې چه تاسو چا پيدا کړي ئي نو هغوئې به وي الله.
دارنګه سورة عنکبوت کي الله فرمائي.
وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ مَنْ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ لَيَقُولُنَّ اللَّهُ فَأَنَّى يُؤْفَكُونَ : (۳)
که تپوس وکي دې کافرو نه د آسمانو خالق څوک دي؟چا پيدا

۱- سورة بينة (۱)
۲- سورة زخرف (۸۷)
۳- سورة عنكبوت (٦١)

کړي دي ؟زمکه چا پیدا کړي ده ؟ نمراو سپوږمی چا پیدا کړي دي؟ په کائنات کې دوه غټ غټ څیزونو هغه زمکه او آسمان او دوه رنړا کونکي څیزونه نمراو سپوږمی دا چا پیدا کړي دي؟
نو هغوئې وئ قرآن د هغې جواب کې چه دا خلق به یقینا لام تاکید اونون تاکیدراوړي دي خامخواه به هغوئې وي چه دا الله پیدا کړي دي هغوئې د دې قائل وه چه خالق د کائناتو الله تعالي دي.
دارنګې سورة زمر کې الله رب العزت د هغوئې حال ذکر کوي که تپوس ترینه وکړي چه چا پیدا کړي ئي ؟ دوي وائي الله پیدا کړي.
سورة زخرف په اول کي الله رب العزت د هغوئې حال ذکرکوي چه تپوس ترینه وکړي چاپیدا کړي ئي؟هغوئې وائي الله پیداکړي یو د دې باوجودهغوئې مشرکان ووامورعامه هغه درانه درانه کارونه هغوئې الله ته سپارل چه کله به داسې ځائي وو چه هغوئې ته به پته وه چه دلته د بندیانو رسائي نه کیږي نو په هغه ځائي کې هغوي بنده ته آواز نه دي کړي مثلادسمندر په مینځ کې چه کله به کشتی په ول کې ونښته نو هغوئې به چا ته آواز کو.
فَإِذَا رَكِبُوا فِي الْفُلْكِ دَعَوُا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ فَلَمَّا نَجَّاهُمْ إِلَى الْبَرِّ إِذَا هُمْ يُشْرِكُونَ: (۱)
کله چه به هغوئې په کشتی کې کیناستل نوهغوئې به اک یوالله ته آوازکوو الله تعالي ته به ئي چغه کوله بل چا ته به ئي آواز نه کوو اوکله چه به وچي ته راغله او دابه ورته پته وه چه په دې وچه کې نورخلق هم راتلي شي نوهغه خپل بوتانو باره کې هم د دوي دا

۱- سورة عنکبوت (٦٥)

عقیده وه چه دوي راتلي شي نو آواز به ئي ورته کوو.

دهغوئې د شرک اصل سبب هغه دا وو چه هغوئې دالله رب العزت بادشاهي د الله مُلک او مِلک هغوئې د بندیانو په شان ګڼړو.

سورة زمر کې الله رب العزت چه د هغوئې حال ذکر کوي فرمائي.

أَلَا لِلَّهِ الدِّينُ الْخَالِصُ وَالَّذِينَ اتَّخَذُوا مِنْ دُونِهِ أَوْلِيَاءَ مَا نَعْبُدُهُمْ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَا إِلَى اللَّهِ زُلْفَى إِنَّ اللَّهَ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ فِي مَا هُمْ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي مَنْ هُوَ كَاذِبٌ كَفَّارٌ : (۱)

هغه کسان چه هغوئې د الله رب العزت نه علاوه نورحاجت روا او مشکل کشانیولې دي ځان له ئي نورمتصرفیین نیولې دي د هغوئې باره کې هغوئې دانه وائي چه دامونږ شرک کوو دا عقیده د هغوئې نه ده بلکه دوي وائي مونږ دوي ته آواز ځکه کوو چه دوي به مونږالله ته نزدي کوي.

دغه ایت باندي حافظ ابن کثیر رحمه الله لیکلي دي.

قال قتادة والسدي ومالك عن زيد بن أسلم وابن زيدإلا لِيُقَرِّبُونَا إِلَى اللَّهِ زُلْفَى أي ليشفعوا لنا ويقربونا عنده منزلة.

ولهذا كانوا يقولون في تلبيتهم إذا حجوا في جاهليتهم لبيك لا شريك لك إلا شريكا هو لك تملكه وما ملك وهذه الشبهة هي التي اعتمدها المشركون في قديم الدهر وحديثه وجاءتهم الرسل صلوات الله وسلامه عليهم أجمعين بردهاوالنهي عنهاوالدعوةإلى إفراد العبادة لله وحده لا شريك له وأن هذا شيء اخترعه المشركون من عند أنفسهم

۱- سورة زمر (۳)

لم يأذن الله فيه ولا رضي به بل أبغضه ونهى عنه : ([1])
دا شبه دا هغه شبه ده چه زاړه او نوي مشرکانو په دې باندې يقين ساتي
اود هغوئې اعتماد په امورشرکيوکې هغه په دغه شبهه باندې دي.

د امام شاه ولي الله رحمه الله وينا

شاه ولي الله رحمه الله هغه بدور بازغه کې هم په حجة الله البالغه
کې هم په فوزالکبير کې هم ليکي.
د فوزالکبير عبارت دهغه داسې دي وي دمکې مشرکينو عقيده
دا وه.
كما ان ملكًا من الملوک عظيم القدر يرسل عبيده الى نواح المملكة
ويجعلهم متصرفين فى بعض الامور الخاصة كذالك الملك على الاطلاق
جل مجده شرف بعض العباد بحلعة الالولهية فيؤثرو رضاهم في
رضاه وسخطهم في سخطه.
ترجمه: لکه څنګه چې يو بادشاه خپل څه خاص خلق هغه د
مملکت اطرافوته وليږي او هغوئي له په خاص خاص امرونو کې
تصرف ورکړی دغه رنګی خالق کائنات بعضی بنديګان هغوئي
له ده خدائتوب لباس ورکړی دی هغوئي لره ئي برخی ورکړی دی
د هغوئ رضا دا ده خدائي رضاده او ده هغوئ غصه هغه د الله
تعالی غصه ده او هغوئ چې رضا کوی الله تعالی رضا کيږی او
هغوئ چې خفه کوی نو الله تعالی پری خفه کيږي.
شاه صاحب وائی داده هغوئي دکفر وجه وه هغوئي د الله تعالی د پاره

---

[1] - تفسير ابن كثير: جلد ۷ صفحه ۸۵

تشبیه بیانوله لکه څنګه چې یو بادشاه دا کار کوی دغه رنګی الله تعالی هم داکار کوی.

دا دهغوئې عقیده وه او د دې عقیدي لاندي د خپلو بچو نومونه هم هغوئې ته منسوب کول که یوطرف ته عبدالمطلب دخپل زوي نوم عبدالله ایخي دي د الله د وجود قائل وو نو بل طرف ته د بل زوي نوم ئي عبدالعزي ایخي دي.

د معاویه بن قرة بن إیاس رضي الله عنهم واقعه

زه به دا وایم چه هغه خلق هغه څه ډیر عجیبه خلق ووبعضې کارونه په هغې وخت کې شوي دي که هغه نن وشو نو دا ټول خلق به کافر شي.

بزار په خپل مسند کې یو روایت ذکر کوي معاویه قرة بن إیاس وائي.

عن معاویة بن قرة عن أبیه رضي الله عنه قال:کنت مع أبي نرید رسول الله صلی الله علیه وسلم فلما کنا ببعض الطریق مررنا بحي فبتنا فیه فإذا الراعي قد جاء إلی أهل الحي یسعیٰ یقول:لست أرعی لکم فإن الذئب یجيء في کل لیلة فیأخذ شاة من الغنم والصنم ینظر لا یغیر ولا ینکر فقالوا:أقم علینا أحسبه قال:حتی نأتیه فأتوه فتکلموا حوله وقال للراعي:أقم اللیلة فقال أبي:أقیم اللیلة حتی ننظر فبتنا لیلتنا فلما کان صلاة الغداة إذا الراعي یشتد إلی أهل القریة یقول لهم:البشری ألا ترون أن الذئب مربوط بین یدي الصنم بغیر وثاق فجاءوا وجئنا معهم قال:فقال:نعم هکذا فاصنع

فقدمنا على رسول الله فحدثه أبي الحديث فقال:يلعب بهم الشيطان.

وهذا الحديث لا نعلمه يروي بهذا اللفظ إلا عن قرة بن إياس ولا نعلم له طريقا غير هذا الطريق والأزهر بن سنان حدث عنه يزيد بن هارون ومحمد بن جهضم وغيرهما: (۱)

معاویه بن قرة بن إیاس وائي زه د خپل پلار سره روان شومه او د اولې ورځې وي چه د جناب رسول الله صلي الله علیه وسلم ذکر کیده چه خلقووي چه مکه کې یوسړي پیدا شوي دي او هغه زمونږ ددې الهو رد کوي مونږ په لاړې تلو سورلی نه وي پیاده روان وو نو په یو قبیله کې زمونږ شپه راغله عرب خومیلمه دوست خلق وو څه چه به ورسره وو میلمه ته ئي کیخودل مابنام مونږناست یو دوډی خورو په دې کې د هغې قبیلې یوشپونکې دي راغي اوهغه قبیلې والا ته وائي اي قبیلې والو ستاسو دا بیزې زه نه څرومه هغوئې ورته وي ولي؟.هغه ورته په جواب کي وائي ستاسودا خدائي ماته بټ بټ ګوري او شرمخ راشي اومانه بیزه وتختوي نو چه ستاسو خدائي ستاسوخیال نه ساتي زه څه کومه چه زه دداسې خلقو بیزي څرومه.

« د وثنو بعضو امامانونه ښه وو دا شپونکي مقتدیان ئي شرک کوي دي ورته داسې نه وائي چه تاسو شرک کوی زه ستاسوامامتي نه کوم» هغه ورته وائي ستاسو د خدائي بټ بټ ما ته ګوري او شرمخ راشي ما نه چیلی بیزه وتختوي.هغه خلقو ورته وي یوه شپه صبر

۱- مسند البزار:جلد۱ صفحه ۴۹۳

وکه دي وائي ما ته هم زما پلار وي چه مونږه به هم یو شپه صبر وکو چه سحر شود ټول کلي جرګه راغونډه شوه لاړه هغه خپل بوت له ورته وائي ستا په نوم مونږ نذرونه ورکوو ستا په نوم منختي ورکوو ستاپه نوم باندي قسمونه کوو او ته زمونږ دومره کار نه شي کولی چه زمونږ بیزي وساتي خلق واپس راغي دویمه شپه چه شوه داسې چربانګ ته نزدې ټیم دي هغه شپونکي چغي وهي اي قبیلي والازیري مي دربانديې خوشحاله شئ هغوئې ورته وائي څه چل شوي دي نو هغه ورته وائي په جواب کې هغه شرمخ دهغه رمي مخکي ته دغسې ولاړه دي پرې نشته دي تړلي شوي دي.

معاویه بن قرة بن إیاس وائي زه او زما پلار دوانړه لاړو مونږ چه وکتو شرمخ دغسې ولاړ وو خپه ئي نه شوه خوزولي سره ئي نه شو خوزولي ژوندي ولاړ وو.خلق چه راغي او په هغه خپل خدائي باندې لاسونه راخکل وي دغسې کارونه راله کوه هسې په ایمان ئي وائي چه زمونږ زمانه په رمانه کی داکار وشو په خدائي قسم که یو مسلمان پاتي شي.

خوقربان شم د هغه خلقونه د چا تربیت چه دجناب رسول الله صلي الله علیه وسلم دسورې لاندي شوي ووهغوئې وائي مونږه چه راغلو نبي صلي الله علیه وسلم ته مونږه ټوله قصه وکړه نبي صلي الله علیه وسلم داسې جواب وکو او مونږ ته ئي وفرمائیل وي دا شیطان وو دوي پسې توقې کوي دا شیطان دوي پورې لوبي کوي.

شیطان چه د دوي پورې لوبي کولي ولي ئي کولي؟ دا ځکه چه

دوي د الله بادشاهي دا د بنديانود بادشاهي پشان ګڼي نو د دغې ډلي د کافرو الله رب العزت ردوکړه اللَّهُ الصَّمَدُ د صمد معني ده حاجتونه پوره کوونکي.

د قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ تشريح او د حديث جبرائيل بيان

په هندوستان کې چه اول ترجمه دقران چاپه اردوکې کړي ده شاه عبدالقادررحمه الله د شاه ولي الله صاحب زوي هغه د اللَّهُ الصَّمَدُ معني کوي الله نرادار ہیں الله خالص بي احتياجه دي او الله د هرچا حاجتونه سر کوي نرادار دي ته وائي چه پخپله هيڅا ته حاجت نه وي او ټوله دنيا هغه ته محتاجه وي دې يو ايت کې الله رب العزت په هغه خلقو رد اوکړو او دائي وښودله چه د دغو خلقو دين غلط دي اومختاره دين اسلام دي ځکه د اسلام عقيده ده. قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌاووايه چه الله يو دي.

عزتمندو دا يو دري ځلور الفاظ دي. (قُلْ) (هُوَ) (اللَّهُ) (أَحَدٌ) خو په دې ذيل کې د دې ډير لوئي مفهوم پروت دي

يو حديث مبارک کې رازي.

عمر بن الخطاب رضي الله عنه قال بينما نحن ذات يوم عند نبي الله صلى الله عليه و سلم إذ طلع علينا رجل شديد بياض الثياب شديدسواد الشعر لا يرى قال يزيد لا نرى عليه أثر السفر ولا يعرفه منا أحد حتى جلس إلى نبي الله صلى الله عليه و سلم فأسند ركبتيه إلى ركبتيه ووضع كفيه على فخذيه ثم قال يا محمد أخبرني عن الإسلام ما الإسلام فقال الإسلام ان تشهد ان لا إله الا الله وان محمدا رسول الله وتقيم الصلاة وتؤتي الزكاة وتصوم رمضان وتحج

البيت ان استطعت إليه سبيلا قال صدقت قال فعجبنا له يسأله ويصدقه قال ثم قال أخبرني عن الإيمان قال الإيمان ان تؤمن بالله وملائكته وكتبه ورسله واليوم الأخروالقدر كله خيره وشره قال صدقت قال فأخبرني عن الإحسان ما الإحسان قال يزيد إن تعبد الله كأنك تراه فإن لم تكن تراه فإنه يراك قال فأخبرني عن الساعة قال ما المسئول عنها بأعلم بها من السائل قال فأخبرني عن أماراتها قال أن تلد الأمة ربتها وأن ترى الحفاة العراة رعاء الشاء يتطاولون في البناء قال ثم انطلق قال فلبث مليا قال يزيد ثلاثا فقال لي رسول الله صلى الله عليه وسلم يا عمر أتدري من السائل قال قلت الله ورسوله أعلم قال فإنه جبريل أتاكم يعلمكم دينكم

تعليق شعيب الأرنؤوط : إسناده صحيح على شرط الشيخين : ([1])

دهجرت تقريبا لسم كال شروع كيدونكي وو يا يولسم وواو لسم كال په ختيمدو ووحضرت عمررضي الله عنه وائي مونږه جماعت کې ناست ووناساپه يوسړي ښکاره شوسړي نه ووخوسم د تضاداتو مجموعه وه تکي سپيني جامې اغوستې وې او تک تور ويخته ئي وو خو کوري سر تور نه وو.

د ابن حبان روايت کې رازي. شديد سواد اللحية

بينا رسول الله صلى الله عليه وسلم ذات يوم جالسا إذ جاء شديد سواد اللحية شديد بياض الثياب فوضع ركبته على ركبة النبي صلى الله عليه وسلم فقال يا محمدما الإسلام قال شهادة أن لا إله إلا الله وإقام الصلاة وإيتاء الزكاة وصوم رمضان وحج البيت فالصدقت

---

[1] - مسند امام احمد بن حنبل : جلد ۱ صفحه ۵۱ مسند عمر بن الخطاب رضي الله عنه

فعجبنا من سؤاله إياه وتصديقه إياه قال فأخبرني ما الإيمان؟ قال أن تؤمن بالله وملائكته وكتبه ورسله والبعث بعد الموت والقدر خيره وشره حلوه ومره" قال: صدقت الخ : (١)

ګيري ويخته ئي ښكاريده نو سرئي ئي پټ وو غير مقلد نه وه چه سرتورسرګرځيدو سر تور نه وو عمر رضي الله عنه چه د هغه د تورو ويختو صفت کړ نوځه وائي؟شديدسوادالشعر او ابن حبان چه دغه روايت ذکر کوي نو وائي شديدسوادااللحية د ګيري ويخته ئي تک تور وو او بله دا چه

« ولا يعرفه منا أحد ستاسود مولايانو جلسه ده به دې ټکو به تاسو ښه پوهيږئ احد نکره ده په سياق د نفي کي راغلي ده په مونږ کې هيڅا نه پيژندونه نبي صلي الله عليه وسلم او نه صحابو »

د نسائي په روايت کې کوم چه د حضرت ابو الدرداء رضي الله عنه روايت دي هغه وائي چه نبي صلي الله عليه وسلم وي چه دا سړي څوک وو ما ونه پيژنده اودرې ورځې پس چه ورته بيا پته ولګيده نبي صلي الله عليه وسلم وفرمائيل چه دا اول ځل وو چه دا سړي زمانه خطا شو.

دا الله دنيا ته خودله چه نبي صلي الله عليه وسلم په اخري عمر کې په غيب باندې نه پوهيده لکه څنګه چه قرآن کې اخري سورة راغلي دي د احکامو سورة توبه نو هغي کې الله تبارک وتعالي فرمائي.

وَمِمَّنْ حَوْلَكُمْ مِنَ الْأَعْرَابِ مُنَافِقُونَ وَمِنْ أَهْلِ الْمَدِينَةِ مَرَدُوا عَلَى النِّفَاقِ

١- صحيح ابن حبان : جلد ١ صفحه ٣٩٠ ذكر الإخبار عن وصف الإسلام

لَا تَعْلَمُهُمْ نَحْنُ نَعْلَمُهُمْ سَنُعَذِّبُهُمْ مَرَّتَيْنِ ثُمَّ يُرَدُّونَ إِلَى عَذَابٍ عَظِيمٍ : (۱)
تاسونه ګير چاپيره په دې باندې و کې منافقان شته د مدينې په دې او سيدونکو کي دباندې وخلق خوپريدوه دمدينې په دې اوسيدونکو کې بعضي کسان چه په دې نفاق باندې کلک دي خو نبي صلي الله عليه وسلم ته وائي پيغمبره تا ته ئي پته نشته.
عمر صاحب وائي په دغه سړي باندې د سفراثار نه ښکاريده.
« د سفر دوه قسمه اثردي يو په سړي دوړي پرتي خولي وي يو مسافر سړي چه راشي يو ځائي ته ګوري او بل ځائي ته ګوري هغه ځائي خلق ورته ناشانه ښکاري»
داسړي بلکل سنجيده سړي وو دسفر پرې هيڅ اثار نه ښکاريده.
مسئله دا وه چه په مونږ کي هيچا نه پيژنده دا روايت تقريبا لس روايتونه دي نو هغه چه راغي جماعت ته دوه سلامه ئي واچول يو چه سنګه جماعت ته راغي نوسلام ئي واچويوچه نبي صلي الله عليه وسلم له راته نو ورته ئي ووئيل السلام عليک يا محمد صلي الله عليه وسلم په تاباندې دي سلام وي نبي صلي الله عليه وسلم ورته وي وعليکم السلام نو هغه سړي ورته وائي درنزدي شمه نو نبي صلي الله عليه وسلم ورته وي او هغه لګيا وو نزدي شم نزدي شم دومره نزدي شوه چه زنګونان ئي دنبي صلي الله عليه وسلم د زنګونانو سره ولګول اوخپل لاسونه ئي د نبي صلي الله عليه وسلم په زنګونانو کيخودل او دنبي صلي الله عليه وسلم نه ئي تپوسونه کول يو تپوس ئي دا وکړو چه اسلام څه ته وائي ؟

۱- سورة توبه (۱۰۱)

نو نبي صلي الله عليه وسلم ورته وائي .چه اسلام خو دا دي يعنې د اسلام هغه لوئي لوئي اصول ئي ورته وښودل چه ته دا ګواهي وکي بيان وکړي چه د الله نه علاوه بل حاجت روا او مشکل کشا نشته دي او زه د الله رسول يمه او مونځ په خپله هم وکړي او بل ته هم ووائي.

داقامت الصلاة معني

خکه د اقامت الصلاة معني محررالوجيز کي ابن عطيه کوي په دي اول د بقري کي هغه وائي چه اقامة الصلاة معني دا ده چه سړي مونځ له ترويج ورکړي او مونځ خورکړي او قرآن هم وائي وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِالصَّلَاةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا : (۱) خپل خاندان ته د مانځه حکم کوه او خپل پرې ټينګ اوسيګه اوبل دا.چه زکوة به ورکوي قربان شم د نبي صلي الله عليه وسلم نه خبره ئي پاکه کړي ده زکوة به ورکوي هسې نه چه بينک باندې ئي ورکي نه په لاس کې به زکوة ورکوي فقهاءوائي قبض پکې شرط دي او روژه به نيسي او حج به کئ دا صفات چه به تاکې راغله نوته څه شوي؟ مسلم او صرف اسلام دي قبول نه دي چه ايمان درکي نه وي اوس څه خلق راوتي پخوا به ئي ځان ته جماعت المسلمين اوس دوه ډلې شوې دي هغه يوصرف ځان ته المسلمين اوبله ځان ته وائي جماعت المسلمين چه تپوس ترينه وکړي هغه وائي دا نورې ډلې چه راوتې دي د دې نورو ډلو هيڅ ثبوت نشته دي که څوک ځان ته سلفي

۱- سورة طه (۱۳۲)

وائي نو کافر دي څوک ځان ته اهل الحديث وائي کافردي نوکه څوک ځان ته حنفي وائي کافردي او که څوک ځان ته شافعي وائي د دوي سره د تکفيردامشين غټ دي او دادخدائي سادګان په دې نه پوهيږي چه هلکه قرآن خو الله رب العزت دکوم سورت چه تاسو يادوي چه هُوَ سَمَّاكُمُ الْمُسْلِمِينَ مِنْ قَبْلُ وَفِي هَذَا:(۱) نو قرآن کي الله رب العزت دي سورت پسې بل سورة راليږلي هلته وائي قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ: (۲) نوتاسوخو مومنين نه ئي مسلمين ئي کنه ؟نو تاسو خو کامياب جماعت نه ئي او صحابه چه هغوئي د نبي صلي الله عليه وسلم سره ځان سترې کړي وو.

الله رب العزت چه د صحابو کرامو صفت کوي.

لَقَدْ تَابَ اللَّهُ عَلَى النَّبِيِّ وَالْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنْصَارِ الَّذِينَ اتَّبَعُوهُ فِي سَاعَةِ الْعُسْرَةِ مِنْ بَعْدِ مَا كَادَ يَزِيغُ قُلُوبُ فَرِيقٍ مِنْهُمْ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ إِنَّهُ بِهِمْ رَءُوفٌ رَحِيمٌ : (۳)

هغه کسان چه دتنګسيا په حالت کې د نبي صلي الله عليه وسلم ملګرتياکړي وه او څنګه تنګسياوه قريب وه چه دخلقو زړونه هغې کې زيغ راغلي وي اوکاږه شوي وي خونه شو په دغه سخت وخت کې نو ده هغوئي په باره کې خو الله دا نه دي وئيلي چه أُولَئِكَ هُمُ الْمُسْلِمُونَ حَقًّا څه ئي وئيلي وو أُولَئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا : (۴)

۱- سورة حج : (۷۸)

۲- سورة مومنون (۱)

۳- سورة توبه (۱۱۷)

۴- سورة الانفال (۷٤)

نوهغه خو مؤمنين دي اوس تاسوځان له خپله لاره غوره کړئ د صحابو په لار تاسو نه ئي او هغه الله چه ورته وائي أُولَئِكَ هُمُ الْوَارِثُونَ*الَّذِينَ يَرِثُونَ الْفِرْدَوْسَ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ :(۱)

د حضرت عمررضی الله عنه دور وو ابی ابن کعب رضی الله عنه په هغه پسی به مسلمانان ورپسي وو.شل رکعته تراویح به ئي وکړي او په هغی کی به ئي قران اورؤ.

قران عظیم الشان څنګ کتاب دي؟

عزتمندو: دی ته سوچ اوکی چه دا قران عظیم الشان دا څنګ کتاب دي داقران عظیم الشان دا په دنیا کی څه راوستل غواړی. تش اوریده ددی نه دی دا تهیك ده ددی په اوریدو کی هم ثواب دی او الله رب العزت چه سړی هسي قران لولی د مانځه نه بهر نو په یوحرف ورله الله لس نیکئ ورکوی.
نبی صلی الله علیه وسلم فرمائی.

عن عبد الله بن مسعود قال قال رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ من قرأ حرفا من كتاب الله فله به حسنة والحسنة بعشر أمثالها لا أقول آلم حرف بل ألف حرف ولام حرف وميم حرف : ([1])

زه دا نه وايم چه الف لام ميم يو حرف دي الف ځان له حرف لام ځان له حرف دي او ميم ځان له حرف دي. په يو الم باندی الله رب العزت سړی له ديرش نيکئ ورکوی.

د قران د اوريدو مقصد

دی کی شك نشته خو ددی قران ددی اوريدونه اخوا ته څه نور مقصدهم شته.اودا مقصد جناب رسول الله صلی الله عليه وسلم په واشګافو الفاظو کی بيانوو ددی وجي نه د مکی خلقو جناب رسول الله صلی الله عليه وسلم ته وي

عن علي رضي الله عنه قال قال أبوجهل للنبي صلى الله عليه وسلم قدنعلم يامحمدأنك تصل الرحم وتصدق الحديث ولانكذبك ولكن نكذب الذي جئت به فأنزل الله عز وجل قد نعلم إنه ليحزنك الذي يقولون فإنهم لا يكذبونك ولكن الظالمين بآيات الله يجحدون هذا حديث صحيح على شرط الشيخين ولم يخرجاه : ([2])

اي محمده صلی الله عليه وسلم زمونږ دی په خدائي قسم وی تاته دروغجن نه وايو. دا کوم کتاب چه تا راوړي دي دا دروغجن دي. دشمنی د هغوئ د قران سره وه.

---

[1] - تفسير قرطبی : جلد ۱۰ صفحه ۳۲۰

[2] - المستدرك : جلد ۲ صفحه ۳۱۵

قران کی هم الله فرمائی.

وَإِذَا تُتْلَى عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا بَيِّنَاتٍ قَالَ الَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَاءَنَا ائْتِ بِقُرْآنٍ غَيْرِ هَذَا أَوْ بَدِّلْهُ قُلْ مَا يَكُونُ لِي أَنْ أُبَدِّلَهُ مِنْ تِلْقَاءِ نَفْسِي إِنْ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَى إِلَيَّ إِنِّي أَخَافُ إِنْ عَصَيْتُ رَبِّي عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ : (۱)

هغه کسان چه هغه زمادپیشي نه نه یریږی هغه کسان چه د هغوئ ددي نه یره نشته چه مونږبه دالله مخکی پیش کیږو هغوئ وائی أوْ بَدِّلْهُ دا قران پریده ددي په ځائي باندی بل قران راوړه بل څه کتاب راته اوایه یا په دی کی څه تغیر اوتبدیل اوکه الله نبی صلی الله علیه وسلم ته وائی پیغمبره ورته اوایه زما داطاقت نشته چه دی قران کي د خپل طرف نه رد و بدل اوکم دی قران کي تبدیل کول ددی قران په ځائي بل کتاب راغستل دا دالله نافرمانی ده اوزه یریږم که دا کارما اوکه نو الله به ما له ډیر لوئي عذاب راکی.

د قران شان

عزتمندو: د قران ډیرلوئي شان دی اوددی شان ددی نه معلومیږی چه د دوانړو جهانوسردار اشرف المخلوقات سیدالکونین خاتم الانبیآء امام الرسل جناب محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه چه د کوره بي کوره کیږی ددی قران د وجي نه.

جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم د بدر په ورځ باندی ولاړ دی او دُعا کوی الله دا ټولګي دي که تباه دی که صبا به ستا نوم څوك نه اخلی قران به څوك نه وائی ددی قران دپاره.

۱- سورة یونس (۱۵)

د احد په جنګ کی چه په نبی صلی الله علیه وسلم باندی غشی وریږی تندی ئي زخمی دي غاخونه ئي مات شوی دی دا د قران د پاره.

د قران لوئي مقام دي

د کوم قران دپاره چه الله رب العزت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم له د قرباني توفیق ورکړ او د هغه وینه قربان کئی د هغه غاخ پري قربان کړ نو تاسوسوچ اوکئی چه د قران مقام اوچت دی که د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم مقام اوچت دي ؟ د قران لوئي مقام دي.

الله رب العزت نبی صلی الله علیه وسلم ته فرمائی؟

يَاأَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ وَإِنْ لَمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ وَاللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ: (۱)

اي رالیږلی شوی پیغمبره کوم کتاب چه تاته د رب د طرف نه راغلي دا هميشه رسوه وَ که چری یو مسئله دی د قران پټه کړه نو ګوري د الله ډیوتی دي پوره نه کړه الله به تادخلقو نه بچ کړ د خلقو پرواه مه کوه خو دا د الله کتاب واخله او دا دنیا ته ئي ورسوه.

د قران بیا نول او د ابولهب ګزار کول

عزتمندو : کله چه جناب محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم قران نه وو راغستي د مکی خلقو هغه ته امین او صادق وي او په

۱- سورة مائده (٦٧)

کومه ورځ چه هغه د قران دعوت ورکو یو سړی راپاسیدو د هغه د خاندان نه او ورته وائی.

عن سعيد بن جبير عن ابن عباس قال لما أنزل الله عز و جل وأنذر عشيرتك الأقربين قال أتى النبي صلى الله عليه و سلم الصفا فصعد عليه ثم نادى يا صباحاه فاجتمع الناس إليه بين رجل يجيء إليه وبين رجل يبعث رسوله فقال رسول الله صلى الله عليه و سلم يا بني عبد المطلب يا بني فهر يا بني لؤي أرأيتم لو أخبرتكم ان خيلا بسفح هذا الجبل تريد ان تغير عليكم صدقتموني قالوا نعم قال فإني نذير لكم بين يدي عذاب شديد فقال أبو لهب تبا لك سائر اليوم أما دعوتنا الا لهذا فأنزل الله عز و جل { تبت يدا أبي لهب وتب

تعليق شعيب الأرنؤوط : إسناده صحيح على شرط الشيخين: ([1])

خدائي دی تا غرق کړی تا مونږ دي له راجمع کړی وو نو الله رب العزت هغه سړي چا چه د قران دشمني اوکړه د هغه نوم ئي واغستو او وي فرمائيل.

تبت يداأبي لهب وتب ابولهب دی خدائي غرق کی لاس دی مات شی.

عزتمندو: ابوجهل لوئي کافر وو. عتبه لوئي کافر وو. د بدر په جنګ کی ولاړ وو جنګ ئي کوو ابو لهب خو بزدل سړي وو جنګ ته هم نه تو. شيبه لوئي کافر وو. الله د هغوئ نومونه په قران کی نه دی اغستی چه تبت يدا ابي جهل تبت يدا عتبه تبت يدا شيبه د ابو لهب دا نوم ئي ولي اغستي دي؟ دا ئي دي وجي نه اغستي

---

[1]- مسندامام احمد بن حنبل : جلد ۱ صفحه ۳۰۷ (مسند عبد الله بن العباس)

دي چه دا خنزير د قران دشمن وو او نبی صلی الله علیه وسلم قران وي او ده ورته کنځل اوکړل. بنځه ئي هم د قران دشمنه وه ام جميل نو الله ئي بنځه هم یاده کړه ابولهب دی غرق شی اود هغه بنځه دی غرقه شی او دا د هر یو سړی انجام دی چا چه قران وي اود قران په وخت کی څوك راپاسیده او د قران دشمنی ئي اوکړه نودهغه حال او د ابو لهب یو حال دي.

د قریشو د قران نه انکار کول

عزتمندو: قریش دا که د دنیا لوئي خلق وو د بیت الله د وجي نه لوئي خلق وو خو چه کله قران راغي او قریشو د قران خبره ټکراؤ کړه د هغوئ عزت ختم شو یا هغه زمانه وه چه خلق په یره کی وو قریشو ته امن وو هغه زمانه وه چه خلق وږي وو قریش ماړه وو دا ولي ؟ ځکه هغوئ د بیت الله تعظیم کوو خو چه کله د بیت الله نه اوچت کتاب الله راغي او رسول الله صلی الله علیه وسلم راوړ او د مکی خلقو د کتاب الله نه انکار اوکو او دائي وي چه دا قران څه کتاب نه دي.

وَقَالُوا أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ اكْتَتَبَهَا فَهِيَ تُمْلَى عَلَيْهِ بُكْرَةً وَأَصِيلًا : (۱)

دا د زړو خلقو خبري دی او دځان نه ئي لیکلي دی سحر او مابنام ئي ورته څوك وائی او دي ئي بیا مونږ ته وائی.دا قران د خدائي کتاب نه دي. دا دی د چا په اشارو لګیا دی.

وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا إِنْ هَذَا إِلَّا إِفْكٌ افْتَرَاهُ وَأَعَانَهُ عَلَيْهِ قَوْمٌ آخَرُونَ

۱- سورة فرقان (٥)

فَقَدْ جَاءُوا ظُلْمًا وَزُورًا : (۱)

داخودروغ دی دي ئي دځان نه جوړئی. یهود نصاری ده له پیسی ورکوی د اوازونه چه کله قریشو شروع کړل نود قریشو امن په بي امني بدل شو او د قریشو مور والي هغه په ولړه بدل شو او هغه زمانه قریشوولیده چه په مکه کی به یوسړی بارته ناست وو لوئي بولوته نو لس (۱۰) کسان به ورته ولاړ وو چه هغه به پاسیدو د هغه په غلو به ئي جنګ وو یو وي زه به ئي خورم بل وي زه به ئي خورم الله پی غل اوخواړه.دا ولي؟ دا د دي وجی نه چه د قران بي عزتی ئي وکړه.

د قران سره رشته کول

عزتمندو : دا یو داسی کتاب دی چه د ده د چا سره رشته راغلي ده هغه ئي په ټوله دنیا کی اوچت کړي دي په بندیانوکی اوله رشته داد جناب محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم سره وه نو په ټولوانبیاؤ کی لوئي څوك دي ؟محمدرسول الله صلی الله علیه وسلم اوځومره لوئي دي انورشاه صاحب یوځائي کي لیکلی دی وائی:

ادم بصف محشر ذریة ادم　　در زیر لوایت تو امیری تو امیری

آدم او آدم اولاد د قیامت په ورځ باندی دا به ستا د جهنډی لاندی والاړ وی ته به د ټولو مشر ئي دا د قران د وجي نه.
نبی صلی الله علیه وسلم وائی.

۱- سورة فرقان (٤)

عن أبي نضرة بن سعيد قال : قال رسول الله صلى الله عليه و سلم أنا سيد ولد آدم يوم القيامة وبيدي لواء الحمد ولا فخر وما من نبي يومئذ آدم فمن سواه إلا تحت وأنا أول من تنشق عنه الأرض ولا فخر

قال أبو عيسى وفي الحديث قصة وهذا حديث حسن صحيح

وقد روي بهذا الإسناد عن أبي نضرة عن ابن عباس عن النبي صلى الله عليه و سلم :قال أبو عيسى وهذا حديث حسن صحيح

قال الشيخ الألباني : صحيح : ([1])

زه دتول آدم عليه السلام داولاد سرداريمه.دا سرداری ورته په قران ملاؤ شوی ده.

دا قران چه دا ده په فرشتو کی د چا سره تعلق راغلي دي جبرئيل عليه السلام راوړي وو نو په تولو فرشتو کی غوره فرشته کومه يوه ده؟ جبرئيل عليه السلام دا ولي؟ د قران ورسره مناسبت وو.

د دی قران تعلق راغلي دي د مکی سره نزول ئي په مکه کی شوی وو په توله دنياکی دمسلمانانو په نزد د خدائي په نزد د پيغمبرانو په نزد بهترکلي مکه ده.

الله رب العزت مکي له هغه مقام ورکړي دي چه د خدائي په زمکو کی د تولو نه اوله زمکه د مکی جوړه شوی ده.

وسميت أم القرى لأنهامكان أوّل بيت وضع للناس ولأنه جاء أن

---

[1] - سنن الترمذي بتحقيق الالبانی : جلد ٥ صفحه ٥٨٧ باب في فضل النبي صلى الله عليه وسلم

الأرض دحيت منها ولأنهايحج إليها أهل القرى من كل فج عميق : ([1])
علماء وائی مکی ته ام القریٰ وائی د دي وجي نه چه د ټولي دنيا اصل مکه ده او دا زمکه چه خواره شوی ده د مکی نه خواره شوی ده. دا مقام مکی له الله ولي ورکوو؟ ځکه الله دا فيصله کړی وه چه قران ددی نزول به زه په مکه کی شروع کوم.

بيا مدينه منوره د الله په نزد د مسلمانانو په نزد دويم نمبرخار دی.نبی صلی الله عليه وسلم يو پيره وئيلی وو.

عن أنس بن مالك رضي الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم طلع له أحد فقال هذا جبل يحبنا ونحبه اللهم إن إبراهيم حرم مكة وإني أحرم ما بين لابتيها : ([2])

الله ابراهيم عليه السلام دمکی عزت ئي بيان کړی وو.او زه د مديني عزت بيانومه د مديني د غرونو په مينځ کی د مديني لرکي دا به څوک نه الری کئی.

د مديني بنکاردا به سړي نه کئی او يو صحابی ئي مقررکړي وو چه څوک لرکی پريکئ نوتبراو سيلئي ترينه اخله هغه به تی تبر او رسيلئ اغسته. دا عزت مديني له الله ولي ورکړي وو ؟ دا ئی د قران د وجي نه.

عزتمندو : په ټولو مياشتو کی برکتی مياشت هغه مياشت چه په هغی کی نفلي عبادت دفرض هومره دی دا عزت رمضان له الله ولي ورکړي دي ځکه

---

[1] - التسهيل لعلوم التنزيل : جلد ۱ صفحه ٤٤٤ وَلِتُنْذِرَ أُمَّ الْقُرى وَمَنْ حَوْلَها

[2] - صحيح البخاری حسب ترقيم البخاری : جلد ٥صفحه ۱۳۲ باب أحد يحبنا (ونحبه)

شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنْزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ هُدًى لِلنَّاسِ وَبَيِّنَاتٍ مِنَ الْهُدَى وَالْفُرْقَانِ : ([1])

د رمضان په میاشت کی قران راغلي دي.بیا ئی په دی کي یو شپه ده چه په هغه کی د خلقو رزقونه تقسیمیږی

فِيهَا يُفْرَقُ كُلُّ أَمْرٍ حَكِيمٍ : ([2])

هر مظبوطه فیصله په هغه شپه کی کیږی او هغه شپه کومه ده.

إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةٍ مُبَارَكَةٍ إِنَّا كُنَّا مُنْذِرِينَ : ([3])

الله فرمائی په کومه مبارکه شپه کی چه ما قران رالیږلي دي نو هغه شپه دی چه په هغی کي رزقونه تقسیمیږي.

عزتمندو: په عامو بندیانو کی د قران اولنی مخاطبین اصحاب د محمدرسول الله صلی الله علیه وسلم دی.د هغوئ مقام څومره دی ؟چه مونږ د احد د غره هومره سره د الله په لار کی ورکو هغوئ چه یوکوړي وربشی ورکړی دی یائي نیم کوړي ورکړی دی د هغی اجرته زمونږد غره هومره سره اي د دی مُړی د غر هومره سره داچه ورکودهغوئ یوکوړی ته نه رسی.دا مقام هغوئ له الله ولي ورکړي وو؟ دا ئی ددي قران د وجي نه.

عربی ژبه دا په ټولو ژبو کي خوږه ژبه ده دا خوږ والي او دا لذت په دی عربی کی ولي دي؟دا ده دی قران د وجي نه.

جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم ته الله فرمائی.

---

[1] - سورة بقره (۱۸۵)

[2] - سورة دخان (٤)

[3] - سورة دخان (۳)

وَلَوْلَاأَنْ ثَبَّتْنَاكَ لَقَدْ كِدْتَ تَرْكَنُ إِلَيْهِمْ شَيْئًا قَلِيلًا*إِذًا لَأَذَقْنَاكَ ضِعْفَ الْحَيَاةِ وَضِعْفَ الْمَمَاتِ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ عَلَيْنَا نَصِيرًا: (۱)

زما پیغمبره که ما په دی قران نه وي کلك کړي. نوتا به سه نږي غونده میلان دی خلقو ته کړي وو تاله به ما په ژوند او په مړ دوچند عذاب درکړی وو.

عزتمندو : د دی قران چه د چا سره مناسبت راغلي دي هغه ئي غوره کړی دی.

د قران مینه او د دشمن مقابله کول

زما رونړو : یوزمانه وه چه داقران دکومو خلقو په سینو کی پروت وو ټوله کفری نړی یوطرف ته اویوځوکسه ځوانان چه دهغوئ په زړه کی قران پروت وو هغه بل طرف ته وو او چه کله به میدان ته ورتله د الله کروړها رحمتونه دی وی په هغوئ باندی نو د قران د هغه جذبي د وجي نه هغوئ ته مړ ژوند ځکاریدو.

حضرت خالدرضی الله عنه یو پیره یوکافر ته وائی ماداسی خلق راوستي دی لکه څنګ چه تاسو په ژوند مئین ئي هغوئ دغسي په مړ مئین دی.

یو مشهور صحابی دی عبدالله بن حذافه.

عن ابن عباس قال أسرت الروم عبدالله بن حذافة السهمي صاحب النبي صلى الله عليه وسلم فقال له الطاغيةتنصّر والا ألقيتك في البقرة لبقرة من نحاس قال ما أفعل فدعا بالبقرة

---

۱ - سورة اسراء(۷٤-۷۵)

النحاس فملئت زيتاً وأغليت ودعا برجل من أسرى المسلمين فعرض عليه النصرانية فأبى فألقاه في البقرة فغذا عظامه تلوح وقال لعبد الله تنصّر وإلا ألقيتك قال ما أفعل فأمر به أن يلقى في البقرة فبكى فقالوا قد جزع قد بكى قال ردوه قال لا ترى أني بكيت جزعاً مما تريد أن تصنع بي ولكني بكيت حيث ليس لي إلا نفسٌ واحدة يفعل بها هذا في الله كنت أحب أن يكون لي من الأنفس عدد كل شعر في ثم تسلّط علي فتفعل بي ذها قال فأعجب منه وأحبّ أن يطلقه فقال قبل رأسي وأطلقك قال ما أفعل قال تنصّر وأزوجك بنتي وأقاسمك ملكي قال ما أفعل قال قبل رأسي وأطلقك وأطلق معك ثمانين من المسلمين قال أما هذه فنعم فقبّل رأسه وأطلقه وأطلق معه ثمانين من المسلمين فلما قدموا على عمربن الخطاب قام إليه عمر فقبل رأسه قال: فكان أصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم يمازحون عبد الله فيقولون قبلت رأس علج فيقول لهم أطلق الله بتلك القبلة ثمانين من المسلمين: (۱)

چې کله دي بادشاه وليدو ده کې آثار ورته د اجابت او نيابت ښکاره شو نو بادشاه ځان له کړه ورته ئي ووئيل نصراني شه بادشاهي به درسره نيمه کړم او لور به درله په نکاح درکړم هغه ترينه انکار وکړو نو بادشاه ورته ووئيل بيا دي سوزوم هغه ورته ووئيل صحيح ده خو نصراني کېږم نه د هغه په مخکې يو سړي سرو تيلو ته اوغورځوو غوښه ترينه وسوزيده او سپين هډو کې پاتي شو.

---

۱ - اسد الغابة جلد ۲ صفحه ۹۷ عبد الله بن حذافة

عبد الله بن حذافة ته وائي نصرانيت قبلوي او كه نه؟ دي تيلو ته دي وغورځوم نو هغه ورته ووئيل: نه نصرانيت نه قبلوم.

كله ئي چي ورله لاس ښپي وترل نو عبدالله بن حذافه رضي الله عنه په ژړا شو نو بادشاه دا خيال راغي چې دي ويريدو وي ولي ژاړي ويريدي ؟ نو هغه ورته وي نه نو وي اخير ولي ژاړي؟ وي ژاړم په دي چې په بدن كې مي يو روح دي او كه تا دي اور ته وغورځو نو دغه روح به ختم شي خو هائي كاش چې سومره زما په دي بدن كې ويخته دي دومره زما روحونه وي او تا دي اور ته غورځولي او بيا ژوندي كېدي او تا بيا غورځولي چې د دي دنيا هم دا تماشه كړي وي چې عبدالله بن حذافه د خپل دين دپاره سومره قرباني وركوي دا ايمان چې د هغه پيدا شوي وو دا په څه پيدا شوي وو؟ دا د الله سره په تعلق باندي.

هغه سړی ورته ګوری چه داخوعجيبه خلق دی.نوهغه بادشاه ورته وائی خه ده پريدم دی خو زما دا تندی ښكل كه نو هغه ورته وائی چری هم نه د كافر تندی نه ښكلوم بياورته هغه اووي چه دغه اتيا كسه قيديان چه ستاسودی دا درله پريدم خو زما تندی ښكل كړه هغه وي پريدي ؟ورته ئي وی اونو هغه وي بيا ئي ښكلومه نو لاړو او تندی ئي ورله ښكل كه اتيا كسه مسلمانان ئي ر آزاد كړه.

حضرت عمر رضی الله عنه ته پته وه جاسوسان ګرځيده هغه په مدينه كی صحابه فالن كړی ولاړ وو د لاړي دواړو طرف ته. عبدالله بن حذافه چه راتلو خلقو ورله سرونه خكلول.

د صحابو ایمان د قران د وجي نه وو

ایماندارو : دا ایمان په هغوئ کی ولي وو. دا ایمان د دي قران د وجي نه پیدا شوی وه قران چه کوم زړه ته ننوزی.
نبی صلی الله علیه وسلم فرمائی.
عن مشرح بن هاعان قال سمعت عقبة بن عامر يقول سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول لو جعل القرآن في إهاب ثم ألقي في النار ما احترق : (۱)
چه کوم زړه ته کومی څرمن ته قران ننوزی نو د دوزخ اُور ئي سوزئی نه چه دوزخ ته اوغورزیږی نو هم اُور ئي نه سوزئی او دا ده نبی صلی الله علیه وسلم فرمان دی دی کي دروغ نشته.
هغه خلق هغوئ قران اغستي وو او دا قران ئي دنیا ته رسوو او د قران د حفاظت اهتمام د هغوئ سره دومره وو.
حضرت عمر رضی الله عنه چه به کله فوجیان لیګل نوهغوئ ته به ئي وي چه لاړ شئ حدیث مه بیانوي دي دپاره چه دقران حفاظت اوشی تاسوچه لاړ شي هلته به خلق ئی او هغه به وائی چه دا د پیغمبرصحابه دی اوتاسونه به د نبی صلی الله علیه وسلم د حدیثو تپوس کئی.صرف قران ورته بیانوي چه قران ددوي په زړه کی کینی روستو بیا حدیث بیانوي حضرت عمر صیب منع کړی وو خلق ئي منع کړي وو.

۱- مسند الدارمی : جلد ٤ صفحه ٢٠٨٦ باب فضل من قرأ القرآن

قرانی انقلاب

عزتمندو : دی قران چه کوم انقلاب راوستي وو هغه د هغه زماني نه تپوس اوکی.

د بدر په ورځ باندی هغه خلق چه د هغوئ سره وسله نه وه هغه خلق چه د هغوئ سره اسونه نه وو هغه خلق چه د هغوئ جامې نه وي دري سوه دیارلس کسان او د دنیا سترګي وي ورته ایك هزار د مکی نامتو بهادران او هغه د هغوئ مقابلی له تلی وو.

په افغانستان کی یوسړي وو عبدالرحمن ئي نوم ووهغه عیسائی شوي وو ټوله عیسائی نړئ هغه دا اوچته شوی وه جرمنی امریکه برطانیه هغوئ وي چه عبدالرحمن له څوك ګوتي ورنه وړی د مسلمان ایمان ئي کتو. هغه سړی چه عیسائی شوي تراوسه پوری عیسائی دی. مسلمانانو هغه خپل قانون هغه پري جاری نه کړو. کفری نړی هغوئ دمسلمان ایمان ګوری. مسلمان چه څومره د قران سره د ده ربط ختم شوی دی دومره مسلمان بي غیرته شوي دي.

د قران سره مینه کول پکاردی

عزتمندو : مونږه او تاسو له پکار دی چه مونږ د قران سره مینه پیدا کړو قران مونږ سینی سره ونیسو قران مونږ زړه ته کوز کړو او چه قران زمونږ زړه ته کوز نه شو دا یاد ساتئ زمونږ ایمان په خطره کی دی.

دصحابو عزت هغه د قران د وجي نه وو. اقبال یو ځائي کی وائی:

وہ معزز تھے زمانے میں مسلمان ہو کر اور ہم خوار ہوئے تارک قرآن ہو کر

یو سالك دی هغه وائی:

شب در دست من قران بنالید چون دل درمند نه داری نهز دستم

وائی یوشپه زماپه لاس کی قران په ژړا شواوماته ئي وي اي مسلمانه چه زړه دی ماسره نه دی نو لاس کی دی څله نیولي یمه.

اذان خوار و ذلیل ای مسلمان که من بس خوار در دور تو هستم

مسلمانه ته په دی باندی خوار اور ذلیله شوئی چه ماته تا د ډیر ذلت په نظر باندی کتلی وو.

دا انجیل منونکی به په قران فیصلي کوي

عزتمندو : قران عظیم الشان دا یو داسی کتاب دی الله مونږ ته یو حکم کړي دي الله فرمائی:

وَلْيَحْكُمْ أَهْلُ الْإِنْجِيلِ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فِيهِ وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ : (۱)

د انجیل منونکی دی په قران باندی فیصلي شروع کړی مطلب دا چه مسلمانانو له پکار دادی چه د قران اهمیت دنیا ته اوښائی او داسی اهمیت چه دُشمنان هم په دي قران باندی فیصلي شروع کړی.

مونږ څه چل اوکو؟ مونږ چه د قران هغه منونکی زمونږ په عدالتونو کی فیصلي هغه د انجیل والو په قانون باندی کیږی د دي سبب څه دی؟ ددی سبب دادی چه مونږ د قران نه بُعد اختیار کړی دی.

۱- سورة مائده (٤٧)

صاحبه صرف د قران په اوریدو باندی کار نه کیږی. علماء ناست دی قران چه دی اسمٌ لنظم والمعني جميعًا دا د لفظ اومعنی د دوانړو نوم دي که لفظ ترینه لري کړي قران قران نه دي او که معنی ترینه لري کړي قران قران نه دي.
دا قران زده کول غواړی. دا قران زړه ته کوزول غواړی. دی قران باندی دنیا کی انقلاب راوستل غواړی.
نن په قران والو باندی انقلاب دی ځکه د قران نه بُعد دی لري والي دي مونږ چه الله دی دُنیا ته رالیږلی یو زمونږ قانون قران دی.

قران ځان له یو مستقل نظام دي

نن په دی ملك کی اواز کیږی د جمهوریت جمهوریت جمهوریت د امریکی نظام دی دبرطانیه نظام دی دمغرب نظام دي د مغرب. قران دایو ځان له نظام دي مستقل.
کوم ایت چه مالوستي الله فرمائی.
شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنْزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ هُدًى لِلنَّاسِ وَبَيِّنَاتٍ مِنَ الْهُدَى وَالْفُرْقَانِ : (۱)
د رمضان میاشت هغه ده چه الله په دی کی قران رالیږلي.دا قران د ټول انسانیت دپاره هدایت دی.
مسلمانانو له الله پاك یو امتیازی شان ورکړي دي زمونږ پیغمبر دا دعربوپیغمبر نه دي. دا یواځی د مکی پیغمبر نه دي دا یواځی

۱- سورة بقره (۱۸۵)

د عربی دنیا پیغمبر نه دی

وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِلْعَالَمِينَ : (۱)

زمونږ پیغمبر د ټول عالم پیغمبر د ټول انسانیت دپاره دی. ځکه هغه قوانین د ټول انسانیت د پاره خودلی دی.

إِنَّ أَوَّلَ بَيْتٍ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِي بِبَكَّةَ مُبَارَكًا وَهُدًى لِلْعَالَمِينَ : (۲)

زمونږه قبله اوله قبله چه د هغی بنیاد ایخودي شوي لِلنَّاسِ د ټول انسانیت دپاره او زمونږ کتاب لِلنَّاسِ د ټول انسانیت دپاره او زمونږ د پیغمبر خطاب هم دي یاایهاالناس.

قران اودوو څیزونوترغیب

عزتمندو: قران مونږ ته د دوو څیزونو ترغیب راکړ.

اول ترغیب مونږ ته ددی راکړ چه ستاسو عقیده دی درسته وي. عقیده دی مظبوطه وي.

عقیده څه ته وائی؟ چه د سړی دا خیال وی چه رب العلمین دا زما رب دی. زما عزت زما ذلت زما راکړه زما منع کول ماله بادشاهی راکول او نه راکول زما اولاد راکول او نه راکول دا زما د رب په په اختیار کی دی.

لِلَّهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ يَهَبُ لِمَنْ يَشَاءُ إِنَاثًا وَيَهَبُ لِمَنْ يَشَاءُ الذُّكُورَ*أَوْ يُزَوِّجُهُمْ ذُكْرَانًا وَإِنَاثًا وَيَجْعَلُ مَنْ يَشَاءُ عَقِيمًا إِنَّهُ عَلِيمٌ قَدِيرٌ : (۳)

۱- سورة الانبياء (۱۰۷)

۲- سورة ال عمران(۹۶)

۳- سورة شوري(۴۹-۵۰)

چاله چه ای خواخه شی بادشاهی ورکوي د چا نه ئي اخلی ربه چه ستاخواخه چا له عزت ورکوي هغه له عزت ورکوي اوڅوك چه ذلیله کوي هغه ذلیله کوي چاله لونړه ورکئ چاله ځامن من ورکئ. بعض خلق لونړه ئي کیږی عیسی خان لا دي خدائي اوبخی یو ځوي ئي نه وو ټولي لونړه وي. اتبار شاه کاکا د خدائي اوبخی ټول ئي ځامن وو یو لور ئي نه وه. چاله چه زامن ورکئ د چا طاقت نشته چه بند ئی کی. چا له چه لونړه ورکئ د چا طاقت نشته چه ځوي ورله ورکی. که د دنیا په حکیمانو اوګرځی خو چه الله نه درکئ هیس نشته. چاله دوانړه ورکئ. او څوك شنډ کی. چه شنډ ئی کی نو حکیمان ئي علاج نه شی کولي که الله ته اوجاړي اوژاړی نو الله ئي ورکوي.

د الله دربار د نا اُمیدي دربار نه دي

زکریاعلیه السلام دشپږنیمو شلو کالو بوډااولاد نه پریوتی وو ښځه ئي داتیاؤ کالو وه په ځوانی کی ئی بچي نه راوړل. وَكَانَتِ امْرَأَتِي عَاقِرًا هغه چه دُعا کئ نو دا نه وائی چه خدایه ځوي راکړي. فَهَبْ لِي مِنْ لَدُنْكَ وَلِيًّا الله وارث راکی. ځوئي نه وائی الله وارث راکی. الله وی ځوئي درله درکوم زکه د رب درګاه داسی درګاه ده چه هغه د نا اُمیدي درګاه نه ده.

این درگاه ما درگاه نا امیدی نیست صد بار اگر توبه شکستی بازآ

درګاه د الله د نا اُمیدي درګاه نه ده.

قُلْ يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَى أَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوا مِنْ رَحْمَةِ اللَّهِ

إِنَّ اللَّهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ : ([1])
اي زما بنديانوچه تاسو خان سره موزياتي كړي دي دخدائي مخالفت موكړي دي مه نا اميده كيږی د الله د رحمت نه الله ټول ګناهونه بخی.

د الله او د بنده شان عجيبه دي

حديث كي رازي.

عن الأعرج عن أبي هريرة رضي الله عنه قال : قال النبي صلى الله عليه وسلم أراه يقول الله شتمني ابن آدم وما ينبغي له أن يشتمني وتكذبني وما ينبغي له أما شتمه فقوله إن لي ولدا وأما تكذيبه فقوله ليس يعيدني كما بدأني : ([2])

نبی صلی الله علیه وسلم فرمائی د الله او د بنده شان عجيبه دي دا بنده دي خدائي ته كنځل كئی دا بنده وائی د دي خدائي بچي دی دا بنده وائی د دی خدائي په خدائي كي څوك حصه داران شته شريكان ئي شته دبرخي خاوندان ئي شته بيا هم ورله رزق وركئی.

سعدی بابا وائی:

ای كريمی كه از خزانه غيب　　گبر و ترسا وظيفه خور داری

اي سخی خدايه ستاد غيب خزاني داسی دی چه مجوسيان او لوئي لوئي كافرو له ته ډوډۍ وركوي.

دوستان راكجا كنی محروم　　كه تو بادشمنان نظر داری

نو دوستان به كله محرومه كی.

---

[1] - سورة زمر (٥٣)

[2] - صحيح البخاری حسب ترقيم البخاری : جلد ٤صفحه ١٢٨ باب ما جاء في قول الله تعالى وهو الذي يبدأ الخلق ثم يعيده}

هغه رب داسی رب دی هغه ته د واسطو ضرورت نشته.

سلطان باهو رحمه الله قول

یو عالم دي ولی دي سلطان باهو تاسو به لیدلی وی په دی ترکونو باندی ئی لیکلی وی حق باهو سلطان باهو. سلطان باهو وائی:

چو تیغ لا بدست اری بیا تنها چه غم داری

مجواز غیر حق یاری که لا فتاح الاهو

چه کله د لا اله الا الله توره دي راواغسته یواځی رازه د خدائي دربار ته فکر مه کوه. د بل چا نه امداد مه غواړه چه بغیرد هغه نه بل څوك مشکل حل کونکي نشته.

دویمه خبره چه مونږ له قران د هغی دعوت راکئ هغه دادی چه زمونږ د ژوند هره طریقه دادی د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنتو مطابق وی.

غم بنادی د نبی صلی الله علیه وسلم د طریقي مطابق پکار دی

عزتمندو: غم بنادی مونځ اودس دا ټول د نبی صلی الله علیه وسلم د طریقو مطابق پکار دی.

الله رب العزت فرمائی. وَإِنْ تُطِيعُوهُ تَهْتَدُوا

که چری تاسو د پیغمبر خبره اومنله نو لار به اومومي. دا شرط او جزا دی ددی نه حکم بار نه دی هدایت دا په اطاعت د پیغمبر کي دی. حدیث کي رازی.

وعن أبي هريرة قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من

تمسك بسنتي عند فساد أمتي، فله أجر مانة شهيد : ([1])
هغه سنت د پیغمبر چه هغه مړه شوی وی او څوك ئي ژوندی کړی نو نبی صلی الله علیه وسلم فرمائی. زمایوسنت چه هغه ختم شوي وواوچا ژوندی کړو سلو شهیدانو اجر پري الله ورکئ.
زمونږ په دی علاقو کي خلق دي ګیری خرئی یو سړي راپاسي او وائي چه زه ګیره ددی دپاره پریدم چه د پیغمبر سنت ژوندی کم د سلو شهیدانو اجر الله ورکئ.
زمونږ په دی علاقو کي خلق رسم او رواج کئ. یو سړی د رسم او رواج خلاف ددی دپاره اوکی چه زه د پیغمبر سنت ژوندی کوم الله ورله د سلو شهیدانو اجر ورکئ.
زمونږ یو ملګری وو په خوا په دی کلی کي وفات شوي دی الله دی اوبخی لال ولی مولوی صاحب الله دی اوبخی هغه به کله کله یوخبره کوله هغه به وی دادین چه دی دا لُوټ دي معمولی غوښته عمل او که الله پري ډیر لوی اجر درکئی.

داختر د مونځ اود هغي مقام

درمضان میاشت ده ورپسي اختررارروان دی مونځونه ټول مونځونه دی د جمعي مونځ ددی ځان له مقام دی دعامو مونځونوځان له مقام دی د اختر د مونځ ځان له مقام دی.
زمونږ په حنفی مذهب کی مسئله داده چه په کلی کي دی د جُمعي مونځ یو ځائي دوه کیږی چه ټول خلق راغونډیږی د یو بل د حال نه

[1]- مرعاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح : جلد ۱ صفحه ۲۸۱

ځان خبرئی اود اختر د مانځه په باره کی زه دا په دعوی سره وایم چه ماته څوك دانه شی خودلی چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپله زمانه کی ابوبکر رضي الله عنه عمر رضي الله عنه عثمان رضي الله عنه په خپله زمانه کی یا دهغی نه روستو چرته چا په جماعت کی د اخترمونځ کړی ئی. ټول عمر د اختر مونځ په عیدګاه کی شوي دی.

زمونږ فقهاء لیکی:

ثم يتوجه إلى المصلى ويستحب أن يمشي راجلا هكذا روي عن النبي صلى الله عليه وسلم ولا يكبر جهرا عند أبي حنيفة وقالا يكبر اعتبارا بالأضحى وله ما روي أن ابن عباس سمع الناس يكبرون يوم الفطر فقال لقائده أكبر الإمام ؟ قال لا قال أفجن الناس ؟ ولأن الذكر مبناه علىالإخفاء . والأثر ورد في الأضحى فيقتصر عليه : (۱)

چه کله یو سړي د اختر مانځه له عیدګاه ځی ته (مصلی) ته نو په یو لار دی لاړ شی او په بله دی راځی او په وړوکی اختر کي دی پټ پټ تکبیر وائی او په لوئي اختر کی دی په زوره تکبیر وائی خو مونځ به کوم ځائي کئ په مصلّی کي. څوك دا نه شی خودلي چه داخترمونځ د مصلّی نه بغیرپه بل ځائي کي شوی دی مصلی دا ضروری نه ده چه یو خاص ځائي دی وی.

نبی صلی الله علیه وسلم همیشه دمدیني منوري نه بار اوتي دی او د مدیني نه بار په شړه کی د یو صحابی کور وو د هغی سره به ئي مونځ کوود اخترمونځ ما اوریدلی دی چه ستاسودا علاقی دا

۱- الاختیار لتعلیل المختار: جلد ۱ صفحه ۹۲ باب صلاة العیدین

مولیان صاحبان دوی دا کوشش کئ چه مونږ د اختر مونځ دا یو کو دا یقینی یو مړسنت د پیغمبر ژوندی کول دی. او چا چه په دی کي دلچسپی واغسته الله به دسلو شهیدانو اجر ورکئ.

پکار داده چه په دی طریقه باندی په ټولو علاقوکي دغسی کار اوشی.

په تاسو کي چه کوم کسان په سعودی عرب کی پاتی شوی دي هغوئ ته پته ده په ریاض کی دوه دري عیدګاه ګاني دی.په هغی کي نور هیس کارنه کیږی بس خلق راځی او د اختر په ورځ په هغی کي خلق مونځ کوی.

لویه عیدګاه دریاض هغه د ملك عبد العزیز چه کومه ننبنه ده په ریاض کی د هغی سره خواکئ ده او د ټول مملکت مفتی عام په هغی کي مونځ کئ.

د احادیثو کتابونه چه ټول راواخلی نو په ټولو کي دادی چه مونځ به په عیدګاه کی کوي.

زمونږ د فقه حنفی چه ټول کتابونه راواخلی هغوئ وائی د اختر مونځ به کوم ځائي کي کوي ؟ په عیدګاه کی به کوي.

د اسلام طریقی خپلول پکاردي

دارنګی زمونږ مړی ژوندی چه اوشی مونږ له پکار دادی چه مونږ د اسلام طریقی خپلی کو. قران مونږ ته دا دعوت راکئ.

زمونږ په علاقو کي چه مړي اوشی دري بجي باندی مړ ئي وائی صبا اته بجی به ئي جنازه کوو.دا دقران خلاف ده دا دسنت خلاف

ده. نبی صلی الله علیه وسلم فرمائی.

عن عروة بن سعيد الأنصاري عن أبيه عن الحصين بن وحوح أن طلحة بن البراء مرض فأتاه النبي صلى الله عليه وسلم يعوده فقال إني لا أرى طلحة إلا قد حدث فيه الموت فآذنوني به وعجلوا فإنه لا ينبغي لجيفة مسلم أن تحبس بين ظهراني أهله : (۱)

د مسلمان د لاش سره داخبره نه ده مناسب چه هغه دی د خپل خاندان په مینځ کي د قیدی پشان ته قید ئي.

د صحابؤ خودا طریقه وه چه کله یو سړی سحرمړ شوي دی وصیت ئي کړي دي چه زه مړ شمه نو ګوري زماغرمه زما په قبر کی راولئ او چه مازیګر مړ شوی دی نو وصیت ئي کړي دي چه زما شپه دی زما په قبر کی راشی.

د حدیثو یو کتاب دی مسند د ابو داؤد طیالسی په هغی کي د ګنړو صحابؤ وصیتونه دی چه.

اسرعوا بنا الی ربنا چه مونږ به خپل خدائي له زر رسوی.

د شپي جنازه کول

عن ليث عن مجاهد عن ابن عمر قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من مات بكرة فلا يقيلن إلا في قبره ومن مات عشية فلا يبيتن إلا في قبره : (۲)

چه سحرسړي مړشه نودهغه غرمه دی په قبرکی راشی اوچه مانښام

۱- سنن ابی داود : جلد ۳ صفحه ۲۰۰ باب التعجيل بالجنازة وكراهية حبسها

۲- المعجم الكبير للطبرانی : جلد ۱۱ صفحه ۵۰

مړ شو نو شپه دی ئی په قبر کی راشی.
بعض خلق وائی د شپي جنازه او د الله بندیانو د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم دفن د شپي شوي وو بخاری کی حدیث دي. صحابی وائی شپه وه او ما د بیلچو او د کودالو هغه غرب غروب اوریدو نبی صلی الله علیه وسلم دفن کیدو.
حضرت ابو بکر رضی الله عنه د شپي دفن شوي دي حضرت عمر رضی الله عنه د شپي دفن شوي دي حضرت عثمان رضی الله عنه ئي په نیمه شپه باندی دفن کړی وو.
یوه ښځه وه د جماعت حفاظت به ئي کوو توره ښځه وه بخاری کی روایت راځی هغه چه مړه شوه صحابؤ د شپی څخه کړی ده.
مونږ او تاسو له پکار دادی چه مونږ د قران انقلاب په زړه کی کینؤ مونږ خپل اعمال بدل کړو. مونږ خپله عقیده مضبوطه کو. الله دی مونږ او تاسو له توفیق راکی.

دایت تفصیل

کوم ایت چه ما یو ټکړه لوستی وه زما دومره بیان ته توفیق هم نه کیدود الله توفیق وو. دا څه بیان چه مي اوکو الله ماله دعمل کولو اول توفیق راکی او تاسو له بیا.
الله فرمائی.
شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ هُدًى لِلنَّاسِ وَبَيِّنَاتٍ مِنَ الْهُدَى وَالْفُرْقَانِ : (۱)

۱- سورة بقره (۱۸۵)

د رمضان میاشت هغه ده چه قران پکي رالیږلی شوي دي. د رمضان پهچان په قران دی د الله احسان دی چه یو زمانه وه چه زمونږ دی کلی ته به د بره میاګانو جماعت ته یوحافظ به راتو یا به د هیبت خپلو جماعت ته یوحافظ راتلو. هغه حافظ چه وو په یوه شپه کی یا په دووشپوکی به ئي ختم کوواوهغه تلاوت باندی به ئی څوك پوهیدو نه او خلق چه وو یوه شپه نیمه به هلته لاړو. چا به د یوی شپی ختم کوو.

نن دالله احسان دی په کوهی باندی په غازی بابا باندی په دی علاقو باندی په هرجماعت کی د کلی حافظ دی.

نن چه د دی قاری دا تلاوت ما واوریدو الله دی ورله نور هم توفیق ورکی چه خه ئی صحیح کی خوښکلي قران سړی له خوند ورکړ چه پسی ولاړ وی او اوری ئی. الله دی زمونږ ټول بچه دغسی کی.

عزت په قران کی دي

عزتمندو : عزت ګوري په قران کی دی الله فرمائی:

لَقَدْ أَنْزَلْنَا إِلَيْكُمْ كِتَابًا فِيهِ ذِكْرُكُمْ أَفَلَا تَعْقِلُونَ : (۱)

ما تاسوله قران رالیږلی په دی کی ستاسوعزت دی صیبه زه ده تجربي خبره کوم زه ځان پیژنم چه زه څوك یمه زما حقیقت څه دی یو سړی د متیازو پیدا وی بیا چه مړ شی مرداره تری نه جوړه شی د هغه به څه حقیقت وی خو ددی قران د مناسبت د وجي نه دي. ددی ډریورانو نه تپوس اوکی. زمونږ سره چرته تلی دی یا یو

۱- سورة انبیاء (۱۰)

علاقي ته مونږ لاړ شواوداسی علاقه چه د هغی سره نه زمونږ رشته شته او نه غم شته نه ښادی شته ګاډی راته ولاړوی خپوته خلق ناست وی په مونږکی نورخوخه شی نشته او نه په دی ګیره کی بمان دی اونه په بریتوکی بمان دی او نه په لاسوکی څه قوت دی او نه په جیب کی پیسي شته خوار فقیران خلق داعزت په څه دی؟ دا دقران د وجه نه دي.

عبدالعزیز مولوی صاحب تلي وو زما سره یو ځائي ته په دی دیر کی په میدان کی بره په غرونو کی یو کلی دی باغ ورته وائی او هغه باغ کی چي ما تقریر اوکو زمایو شاګرد وو د هغه د مشکوٰة ختم وو بیا چه کیناستو په هغه غرونو کی هغه عزت هغه ډوډۍ دوی ته مي وي یوزمانه وو چه مونږ به کله دالله توحید بیان کړو نو خلقو به زمونږ استقبال په ګټواوکنزلو کوو.نن د الله احسان دی چه کوم ځائي ته ورځی نودا قران زمونږه ملګری دی.

زه تاسو ته قسم کوم زمونږ د قران شاګردان زمونږ باندی د خپلو بچو نه زیات مئین دی.

زمونږ بچي به دومره زمونږ احترام نه کئ لکه څومره چه زمونږ د قران شاګردان زمونږ احترام کئ. دا قدر د قران دي.

زه وایم ددی علاقی یولوئي سړی هغه دی زما سره دی سوات ته لاړ شی یا دی دی دیر ته لاړ شی چه د هغه قدرسوا دی که زما سیوا دی ماکی څه نشته دا قدر د قران د وجي نه دي.

دا قران د عزت کتاب دی. الله فرمائی:

لَقَدْ أَنزَلْنَا إِلَيْكُمْ كِتَابًا فِيهِ ذِكْرُكُمْ أَفَلَا تَعْقِلُونَ : (۱)
ما تاسوته یوکتاب رالیږلي ستاسو عزت په دی کی دی.

د مسلمانانو د عزت سبب

عزتمندو: ترکومه پوری چه دمسلمانانودقران سره تعلق وو مسلمان عزتمند وو د مسلمان وطن ته نسبت داد افتخار ذریعه وه.
هغه لوئي لوئي خلق هغه سائنسدانان هغه فارابی او دغه خلق هغوئ چه اسلامی نړي ته ځان منسوب کوو ولي ئي منسوب کوو؟ هغوئ سره د قران عزت وو.
نن سبا چه دا چا په جیب کی دا دغه خدائي د ُشمن د امریکی الله دی پري لعنت اوکی تاسو وائي آمین.او الله دی امریکه په زلزله باندی والوزئ.
الله دی هغوئ په خپل کور کي په جنګونو باندی اونخلئ الله دی د هغوئ د ایتم بم د هغوئ خلاف استعمال کی.
دغه خلق نن چه د هغوئ پاس پورټ د چاپه جیب کی پروت وی هغه په بریتو باندی لاس وهی وائی زه امریکني یمه دا عزت د مسلمان وو خو کله چه د مسلمان د قران سره تعلق وو.
مونږ د قران سره تعلق پریخودي دي او د دنیا مسلمانانو مونږ تاسو ته دعوت درکؤ چه قران اوائي بچو ته قران اوخائي په خپل کورکي قران اووائي او صیبه په دی خلقو باندی الله حجت تام کړی دی.

۱- سورة انبیاء (۱۰)

مونږ چغی وهو الله رب العزت په دی دنیا کی اوګرځی. څوك به دا ثابته نه کی چه قران واله د چانه په قران پیسي اغستي دی. مونږ بي پیسو خایو عقیده بي پیسو خایو پکار داده چه دا قران مونږ سینې ته راوړو.

دعا

الله دی مونږ اوتاسو له توفیق راکی چه مونږ د قران شو او قران زمونږه شی.

الله دی زمونږ دا ملك په قران او په سنت باندی آباد کی. الله دی زمونږ حاکمان قران والاکی او سنت والاکی.

الله دی زمونږ په دی ملك د قران اود سنت حکومت راولی. الله دی مونږ له د امیرالمومنین حضرتعمر رضی الله عنه پشانته خلیفه راکی.

الله دی زمونږ زړونه په قران و سنت سره د یو بل سره یو کی. الله تبارك و تعالیٰ دی په دی کلی کی خیر واچوی.

الله دی زمونږ او ستاسو بچي د قران خادمان کړی الله دی زمونږ سینو کي د قران مینه واچوی.

زمونږ د بچو سینو کی دی الله د قران مینه واچئی او الله تبارك و تعالیٰ مونږ د ځان کی او الله دی زمونږه شی.

واخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمین

بسم الله الرحمن الرحيم

د متحده مجلس کردار

الحمدُ لله رب العالمين و الصلاةُ و السلامُ على سيد المرسلين
و خاتم النبيين و قائد الغر المحجلين
و سيدنا و امامنامحمد المبعوث الى الخلق اجمعين
و على امته المتقين الى يوم الدين

وبعد

اعوذُ بالله من الشيطان الرجيم

بسم الله الرحمن الرحيم

أَفَمَنْ يَخْلُقُ كَمَنْ لَا يَخْلُقُ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ*وَإِنْ تَعُدُّوا نِعْمَةَ اللَّهِ لَا تُحْصُوهَا إِنَّ اللَّهَ لَغَفُورٌ رَحِيمٌ *وَاللَّهُ يَعْلَمُ مَا تُسِرُّونَ وَمَا تُعْلِنُونَ* وَالَّذِينَ يَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ لَا يَخْلُقُونَ شَيْئًا وَهُمْ يُخْلَقُونَ * أَمْوَاتٌ غَيْرُ أَحْيَاءٍ وَمَا يَشْعُرُونَ أَيَّانَ يُبْعَثُونَ : ([1])

تمهيد

عزتمندو مسلمانانو ورونړو : چې د کله نه دا دنيا اباده شوې ده په دې کې دوه جماعتونه کار کوي.

يو جماعت هغه دي چې هغوئ تکليف او مصيبت په خپل ځان باندې تيروي خو چې کله د فائدي وخت راشي نوفائده د عامو خلقو په جولۍ کې غورځوي او دا جماعت د انبياء عليهم السلام جماعت دی.

دويم جماعت هغه دي چې د هغوی تکليفونه مصيبونه دا نور

---

[1] - سورة ابراهيم (۱۷-۲۱)

خلق تیروي او چې کله د فائدي وخت راشي نو هغه فائده هغوئ په خپل جیب کې اچوي او دا د دنیاپرستو خلقو جماعت دی.

دانبیاء علیهم السلام جماعت

د دنیاپرستو خلقو جماعت د هغې ګنړ شاخونه دي او د انبیاء جماعت یوجماعت دی او دهغوئي اساسي مسئله بنیادي مسئله هغه د توحید ده او د توحید د مسئلې نه وروسته د انبیاء علیهم الصلاة و السلام د دعوت مرکزي نکتي هغه دادې چې د مخلوق په خپل مینځ کې تعلقات هم برابر شې او د هغې دپاره هغوئ اخلاقي معاشرتي اقتصادي څه اصول بنایي او دا مسائل د عقیدي د اخلاقو د معیشت د اقتصاد هر نبي په خپله زمانه کې کړي دي.

د حضرت خباب رضي الله عنه واقعه

تکلیفونه او مصیبتونه دا په انبیاء تیر شوې دي او لږ تکلیفونه نه ابوداود کې یو حدیث راځي د حدیث راوي دی حضرت خباب رضي الله عنه فرمایي.

حدثنا قیس عن خباب بن الأرت قال شکونا إلی رسول الله صلی الله علیه وسلم وهو متوسد بردة له في ظل الکعبة قلنا له ألا تستنصر لنا ألا تدعو الله لنا قال کان الرجل فیمن قبلکم یحفر له في الأرض فیجعل فیه فیجاء بالمنشار فیوضع علی رأسه فیشق باثنتین وما یصده ذلك عن دینه ویمشط بأمشاط الحدیدما دون لحمه من عظم أو عصب ومایصده ذلك عن دینه والله لیتمن هذاالأمر حتی یسیر الراکب من صنعاءإلی حضرموت لا یخاف إلا الله أو الذئب علی

غنمه ولكنكم تستعجلون : (۱)

مونږ جناب محمد رسول الله صلى الله عليه و سلم ته شكايت وكړو مونږ نبي صلى الله عليه وسلم ته اووي او د هغه حالت بيانوې او جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم د خپل څادر نه بالښت جوړ كړی وو د كعبي سوري ته ملاست وو نو مونږ عرض وكړو ای د الله پيغمبره! ته زمونږ دپاره مدد ولې نه غواړې؟ ته زمونږ دپاره دعاء ولې نه كوې؟ نبي صلى الله عليه وسلم چې كله د شكايت الفاظ واوريدل نو هغه حديث كې راځي نبي صلى الله عليه وسلم كيناستو او د هغه دا مخ د غوسې نه سور شو او وي فرمائيل:

ستاسونه په مخكې امتونو كې داسې خلق تير شوي دي چې هغوئ له به ډوغل وكنستي شو نيمي پوري به هغه په ډوغل كې خ كړی شوبيابه اره راوړي شوه او د هغه د سرپه مينځ به كېخودي شوه او دوه توتي به يې كړو خو دې تكليفونو مصيبتونو هغه دالله ددين نه نه دی اړولی اوبعضي كسان داسې وو چې هغوئ به د وسپني په منګزو باندې منګز كړی شو صرف پتې او هډوكی به يې پاتې شو خو دي تكليفونو او مصيبتونو هغوئ د الله د دين نه نه وو اړولي سخت سخت تكليفونه هغوئ تير كړي وو.

حضرت نوح عليه السلام ۹۵۰ نهه سوه پنځوس كاله تكليف تير كړی وو خو چې كله فائده راغله نو هغه متبعين چې چايې تابعداري كړي وه د طوفان نه نجات هغوئ ته ملاو شو.

موسى عليه السلام تكليفونه تير كړي وو د فرعون سره يې هلي

۱- صحيح البخاری حسب ترقيم البخاری : ٤ / ٢٤٤ باب علامات النبوة في الإسلام

ځلي کړی وي خو په دریاب باندې سالم څوک پوری واته ؟ بني اسرائیل پوریوتل.

د اشاعة التوحید والسنة مشن د انبیاء مشن دي

دادانبیاء او د هغوئ د جماعت وسیقه ده الحمد لله ثم الحمد لله په دي ملک کې ډیر جماعتونه کار کوي ګنړ جماعتونه کار کوي خو زمونږ تنظیم اشاعة التوحید والسنة دا یو داسې تنظیم دی چې همیشه د انبیاء په طریقه باندې دوی چلیدلي دي او کومي مسئلي چې اهمي مسئلي دي هغي ته یې د اهمیت په نظر باندې کتلي دي او کومي چې کمي اهمي دي نو هر شي له یې خپله خپله مرتبه ورکړي ده.

د جناب محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم ډیوتي

جناب محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم چه الله دنیاته رالیږلي وو نو هغه ته یې ویلی وو چې زما پیغمبره!

ستا یوځو ډیوتیاني دي یو ډیوتی دې دا ده چې ته به شرک نه کوي او دا ډیوتی د جناب رسول الله صلی الله علیه و سلم قرآن کې یو سورت دی د هغي نوم دی سورة النمل په هغي کې الله رب العزت دا ډیوتی د پیغمبر بیانوي.

یوه ډیوتی د پیغمبر وه د الله عبادت کول وو لکه قران کي الله فرمائي.

إِنَّمَا أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ رَبَّ هَذِهِ الْبَلْدَةِ الَّذِي حَرَّمَهَا وَلَهُ كُلُّ شَيْءٍ

وَأُمِرْتُ أَنْ أَكُونَ مِنَ الْمُسْلِمِينَ : ([1])
ماته حکم شوي چې زه به عبادت کوم د رب د دی کلي هغه رب چې دی کلی له يې عزت ورکړي دي.
او ماته حکم شوي دی چې زه به همیشه د الله تابعدار يم
وَأَنْ أَتْلُوَ الْقُرْآنَ فَمَنِ اهْتَدَى فَإِنَّمَا يَهْتَدِي لِنَفْسِهِ وَمَنْ ضَلَّ فَقُلْ إِنَّمَا أَنَا مِنَ الْمُنْذِرِينَ : : ([2])
او زما بله ډيوتی داده چې زه به د الله قرآن لولمه.
الله رب العزت سورة الرعد کې نبي صلى الله عليه وسلم ته وايې
كَذَلِكَ أَرْسَلْنَاكَ فِي أُمَّةٍ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهَا أُمَمٌ لِتَتْلُوَ عَلَيْهِمُ الَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ وَهُمْ يَكْفُرُونَ بِالرَّحْمَنِ قُلْ هُوَ رَبِّي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ مَتَابِ : ([3])
زما پيغمبره! زما کمال دا دی چې ته ما په داسې ډله کې رالېږلی يې چه د هغي نه مخکې نوري ډلی نورامتونه تير شوي وو خو څه له مي رالېږلي يي ستا د بعثت مقصد څه دی ؟دځه دپاره راغلی ئي دی دپاره مې رالېږلي يې چې ته دی خلقو ته هغه کتاب ولولي کوم کتاب چې ما تاته وحي کړي دي د قرآن دپاره الله جناب محمد رسول الله صلى الله عليه و سلم رالېږلی وو او جناب محمد رسول الله صلى الله عليه و سلم د الله هغه پيغام واخستو او وختی مولانا عبدالعزيز صاحب په خپل تقرير کې اوی خيمي خيمي ته

---

[1] - سورة نمل (۹۱)
[2] - سورة نمل (۹۲)
[3] - سورة رعد (۳۰)

ودريدلی غرونو ته تلي د غرونوڅوکو ته ختلي او هغه قرآن هغه ئي خلقو ته بيان کړي دي او چې کله د بعضي خلقو نه ناميده شوي دی نو په ميلو کي ئي اواز کړي دي.

عن سالم عن جابر بن عبدالله قال كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يعرض نفسه على الناس في الموقف فقال ألا رجل يحملني إلى قومه فإن قريشا قد منعوني أن أبلغ كلام ربي : (۱)

داسې څوک نشته چې ما خپل قوم ته بوځي چې زه ورته قرآن اووامه زه قريشو د الله کتاب د بيان نه منع کړی ئم.

جناب رسول الله صلى الله عليه و سلم د الله کتاب اخستی وو او هغه يې دنيا ته بيانوو.

د اشاعة التوحيد والسنة مشن د انبياء مشن قران بيا نول دي

الحمد لله زمونږ تنظيم اشاعة التوحيد والسنة د هغوئ طره امتياز داده چې په هر ملک کي هر کلي کې چې د قرآن درس کېږي نو چې ته د هغه جړه ولټوي نو هغه به پنج پيری وی هغه به اشاعتي وی د اشاعتي نه بغير بل څوک د قرآن خدمت نه کوی.

جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم او دتوحيد بيان

د جناب رسول الله صلى الله عليه و سلم ټوله زندګي د الله په توحيد باندې تيره شوی وه په اوله ورځ نبي صلى الله عليه وسلم اواز لګولی وو.

۱- سنن ابی داود : جلد ٤ صفحه ٢٣٤ باب في القرآن

عن ربيعة بن عباد الديلي وكان جاهليا أسلم فقال رأيت رسول الله صلى الله عليه و سلم بصر عيني بسوق ذي المجاز يقول يا أيها الناس قولوا لا إله إلا الله تفلحوا ويدخل في فجاجها والناس متقصفون عليه فما رأيت أحدا يقول شيئا وهو لا يسكت يقول أيها الناس قولوا لا إله إلا الله تفلحوا : (۱)

اي خلقو! دا عقيده ولرئ چې د الله رب العزت نه علاوه عزت ورکونکي ذلت ورکونکي بادشاهی ورکونکي بادشاهی اغستونکی اولاد ورکونکي اولاد نه ورکونکي مانع ضار نافع معطي دا د الله نه بغير بل څوک نشته.

د وفات په وخت کې د نبي صلى الله عليه وسلم بيان

چې نبي صلى الله عليه وسلم کله وفات کيدو نو د مرګ په وخت کې د نبي صلى الله عليه وسلم اخيري کلمات دا وو

لا إله إلا الله إن للموت سكرات ثم نصب يده فجعل يقول في الرفيق الأعلى حتى قبض ومالت يده : (۲)

د الله نه بغير بل څوک حاجت سر کونکي نشته. او که وي نو زه به اوومه نبي صلى الله عليه وسلم وائي خو زه څکه نه يم چې په ما د مرګ سلګی راځی نو د الله رب العزت نه علاوه بل څوک حاجت پوره کونکی نشته.

ابتدائي ئي په دې او انتهائی هم په دی او دا د الله احسان دی

۱- مسند امام احمد بن حنبل : جلد ۳ صفحه ٤٩٢ (حديث ربيعة بن عباد الديلي رضي الله عنه)

۲- صحيح البخاری حسب ترقيم البخاری : جلد ٦ صفحه ١٦ باب مرض النبي صلى الله عليه وسلم ووفاته

مونږ د الله ممنون یو زمونږ په الله څه احسان نشته خو مونږ د الله ممنون یو او د هغه شکر ګزار یو چې الله رب العزت دا کار مونږ له په لاس کې راکړی دي.

واقعه: یو کالي په ریاض کې زمونږ ملګري راجمع شوي وو ما هغه خپلو ملګرو ته وې ملګرو د الله چې مونږ څومره د هغه د احسان شکریه ادا کړو دا کمه ده لوئي لوئي خلق شته په دنیا کې خو الله رب العزت مونږ له یو شان راکړی دي چې کله څوک د توحید مسئله ذکر کړی خلق وائي دا جوړی پنج پیری دي.

د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم خصوصیت

جناب رسول الله صلی الله علیه و سلم یوه پیره وئیلی وو.

خَصنيَ الله بكراماتٍ اذا ذُكرَ اللهُ ذُكرتُ

الله رب العزت ماله یو څو عزتونه راکړي دي په هغي عزتونو کې یوعزت دادی.

علماء به د علم خبري کوي په دي حدیث کې چې څه یې معنی ده ؟ خو زما خپل یو ذوق دی زه وایم ددی حدیث معنی دا ده.

نبي صلی الله علیه وسلم فرمائي: الله ماله ډیر عزتونه راکړي دي ډیر کرامتونه ئي راکړي دي خو یو عزت پکي لوئي دادی. لوئي عزت الله ماله دا راکړی دي چې کله د الله توحید بیان شي خلق وایې دا هغه مسئله ده چې محمد صلی الله علیه و سلم ئي کوی چې کله الله یاد شي د الله د توحید ذکر اوشي خلق وائي هلکه دا هغه خبره نه ده چې محمد صلی الله علیه وسلم ئې چې کوی.

مونږباندي الله رب العزت دا احسان کړی دي چې کله د توحید

مسئله بیانیږي نو خلق یې مونږ ته نسبت کوي او د دي نه علاوه چې چرته د شر او د فتني خبري وي الله رب العزت مونږ د هغې نه محفوظ ساتلي یو.

زمونږ ملګري او د خلقو د هغوئ سره بائیکاټ

عزتمندو! مایو څو ایتونه وئیلی دي انشاء الله زه به د هغې تشریح ستاسو مخکې کومه خو تاسو ته ما اوي دوه جماعته دی یو خو هغه چې تکلیفونه او مصیبتونه په خپله تیروي او فائده د خلقو په جولي کې غورځوي.

زمونږ هر ملګري هغه چې کله هم یوي علاقي ته تلي په هغه علاقه کې د هغه سره بائیکاټونه شوی دی د هغه خلاف د قتل د وهلو د شر مولود کنزلو جرګې شوی دی خو چې کله د فائدی وخت راغلی دي نو د هغه کلی خلق هغه قرآن والا شوی دی او هغوئ قرآن زده کړي دي او هغوئ حدیث زده کړی دی.

د ابراهیم علیه السلام دعا

د ابراهیم علیه السلام هغه دعا وه چې کله یې بیت الله جوړوه وې الله زما په دی اولاد کې داسې یو سړی پیدا کړی چې دی خلقو ته اول قرآن ولولی بیا ورته مطلب او خائي بیائي ورته تشریح او خائي او بیا د دی خلقو د نفسونو او د زړونو تزکیه وکړی.

رَبَّنَا وَابْعَثْ فِيهِمْ رَسُولًا مِنْهُمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِكَ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَيُزَكِّيهِمْ إِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ : (۱)

۱- سورة بقره(۱۲۹)

دا څلور مقاصد الله د دي جماعت په برخه کړي دي.

د ملک پاکستان مختلف ډلی

زمونږ په دي ملک کي څه کسان دی او هغوئ په مختلفو نومونو کې راوتی دی او په مختلفو نومونو باندی هغوئ لګیا دی او څه کارونه کوی ما تاسو ته مخکې عرض وکړو چې قرآن کریم څوک بیانوی خلق وایې دا پنج پیري دي چې توحید څوک بیانوی نو خلق وائي دا پنج پیري دي چې د بدعاتو رد کوي او د ملک د رسمونو رواجونو رد کوی خلق وائي دا پنج پیري دي او

این سعادت بزور بازو نیست تانه بخشد خدائي بخشنده

دا د زورشي نه دي دا د الله خاص احسان دي په دی جماعت باندی وادامه الله واقامه اوالله دی دا احسان په دی جماعت باندی او ددی جماعت نه چې څوک مستفیدین دی په هغوئ باندی الله همیشه وستاتي.

دویمه ډله

دویم جماعت چې هغوئ تکلیفونه په خلقو تیروي فائدی په جیب کي غورځوي د هغي د ټولو نه لویه نمونه هغه مولیان دی چې هغوئ کوی د امریکي دپاره کار او چې کله وخت راشی نو هغه امریکه باندی ګټه هم کوی.

جمهوریت د چا نظام دي؟

جمهوریت دا د امریکي یو طرز دی پخوا خلق ناپوهه وو نن صبا هرسړی پوهه دی تاسو ته پته وه چې په روس کې جمهوریت نه وو هلته یونظام وو د جمهوریت خلاف سوشلزم به یې ورته وي هغه

نظام د شیطان نظام وو خو د امریکي خلاف وو نو امریکه ولګیده افغان مجاهدینو له ئي وسلی ورکړی د هغوئ امدادونه ئي وکړل او روس ئي په درې وړي کړو کله چې د روس نه هغه نظام لرې شو او هغوئ جمهوریت شروع کړو نو امریکه ترور ولګیده هغوئ له ئي غنم ورکړه هغوئ له ئي سړکونه پاخه کړل د هغوئ سره ئي قسم قسم امدادونه وکړل.

د طالبانو په افغانستان کي حکومت

لکه زمانه مخکي زمونږ په دي اسلامي نړۍ کې د فقیرانویو جماعت راپیدا شو او په افغانستان کي هغوئ یو نظم جوړ کړو یو جماعت ئي جوړ کړو او لږه موده پس هغه جماعت دنیا ته یو مثالي حکومت پیش کړو داسي مثالي حکومت وو چي په قندهارکي د یو سړي نه پیسي پاتي شوی دی او دری ورځی څلور ورځی پرتي دی څوک ورته کتي نه شي او د سپایانو سره توپکي نشته لختي دی ورسره په هغه ملک کي امن راغلی وو نن هم د هغه افغانیانو نه چې هغه د خپل ضمیر خاوندان دی د هغوئ نه تپوس وکړه وایه تاسو باندي د دنیا عمر تیر شوي دي په تاسو کې د امن زمانه کومه وه هغوئ وایي د امن زمانه د طالبانو حکومت وو.

امریکه او د شریعت محمدی سره دشمنی

امریکي ته چې پته ولګیده چې دا خو هغه حکومت دي چې جمهوریت ئې درې وړي کړي دي ختم کړي یئ دی او نن جمهوریت درې وړی کوی او ختموي ئي.

پښتانه قصه کوې وائی ګډي او زمری دوانړو په یو نهر کي اوبه څکلي ګډه خکته ولاړه وه او زمری بره ولاړ وو نو زمری دي ګډي ته وي دا اوبه راته ولي خړوې؟ نو هغه ورته وی ماما دا اوبه خو ستا د طرف نه ماته راروانې دي نو زه ئي څنګه خړومه نو وي ته به ئي خړوي نو هغه ورته وی ته دیرچالاک ئي تاپروس کال ماته کنځل کړی وو نو هغی ورته وي پروس کال زه پیدا هم نه وم وائي مور به دی وه نو وي خوړه.

امریکي هغه چل دافغانانو سره وکړ سپی ئي پیدا کړل په دي وطن کي او هغه ئي په افغانانو پسی وغپول او هغه افغانان چې هغوئ په دنیا کې یونمونه حکومت جوړ کړي وو هغه حکومت ئي دخاورو لاندی کړو او هغه اسلامي اقدار هغه ئي د خپو لاندی کړل او چې کله اسلامی حکومت ختم شو او د خرخوي خلق ورته کرزی وائي زه ورته د خرخوي وایم هغه او دا سي نور خلق ئي راوستل نو لاړل اوس هغوئ له سړکونه پخوی اوس هغوئ له غنم ورکوی.

جمهوریت د امریکي دین دي

جمهوریت دا د امریکي دین دي او امریکه دا غواړی چې په کوم وطن کي جمهوریت نه وی هغه مونږ په بمونو الوزو هغه مونږ په ګرنیټونو الوزو په هغي باندی مونږ ایټم بم هم را غورخوو په هغي باندی مونږ مشینان هم چلوو خو مونږ جمهوریت راولو بل شي نه راولو.

زمونږ دا خلق الله دی دوی له عقل ورکړی الله دی دوی له پوهه ورکړی دا علماء دا نن چې لګیا دی او دا مختلف قسم رنګونه

لکه د پش پرانګ په شان بدلوی او دی ملک کې د جمهوریت اوازونه کوی ولي تاسو ته پته نشته چې دا جمهوریت د امریکي نظام دی دا محمدی نظام نه دی.

حضرت ابوبکر رضي الله عنه سنګه خلیفه شوي وو

تاسو ته پته نشته تاسو د اسلام تاریخ نه دی کتلي چې حضرت ابوبکر رضي الله عنه چې کله خلیفه شوي وو په کوم کوم خائي کي ووټونه شوی وو د ووټونو ګنتی چې شوي وه د ابوبکر باره کي څو ووټونه وو ووټونه موټونه نه وو د انصارو یوه حجره وه ثقیفه بنو ساعده په هغي کي خلق راجمع شوي وو اوسیدنا ابوبکر پکي ولاړ وو تقریر ئي پکي وکړو.

فحمدالله وأثنى عليه ثم قال أما بعد فما ذكرتم من خير فأنتم أهله ولن يعرف العرب هذا الأمر إلا لهذا الحي من قريش هم أوسط العرب دارا ونسبا وقد رضيت لكم أحد هذين الرجلين فبايعوا أيهما شئتم وأخذ بيدي ويد أبي عبيدة بن الجراح وهو جالس بيننا فلم أكره شيئا من مقالته غيرها كان والله لأن أقدم فتضرب عنقي في أمر لا يقربني ذلك إلى إثم أحب إلي من أن أؤمر على قوم فيهم أبو بكر فقال فتى الأنصار أنا جذيلها١ المحكك وعذيقها المرجب٢ منا أمير ومنكم أمير يا معشر قريش فكثر اللغط وخشيت الاختلاف فقلت ابسط يدك يا أبا بكر فبسطها فبايعته وبايعه المهاجرون والأنصار ونزونا على سعد فقال قائل قتلتم سعدا فقلت قتل الله سعدا فلم نجد شيئا : (۱)

---

۱ صحيح ابن حبان : جلد ۲ صفحه ۱۵۰

د تقریر نه پس دوه کسان ناست وو یو حضرت عمر او بل امین د دی امت ابو عبیده په دی دوانړو کي دیوتن سره بیعت وکړي هغوئ کي حضرت عمررضي الله عنه راپاسیدو وائي مونږ سره به څنګه بیعت کړي نبي صلی الله علیه وسلم په خپل ژوند کي مخکي کړی وی لاس رااوګډ کړه چې بیعت درسره وکړم یوعمربیعت وکړو او په ټوله دنیا او اسلامي نړۍ باندی د امیر د بیعت اقتداء لازمه وه ووټونه پکي نه وو شوی.

د مولیا نو نه ټپوس

نن د دوی نه ټپوس وکړه ته چي ځان ته مولاوائي ته چي ځان ته عالم وائي او ته چه وي زه دین راولم تاسو ددی علاقي یو مولادی بدنصیب خان نوم ئي دی که ګل نصیب خان نوم ئي دی پته نشته هغه بد نصیب خان هغه بله ورځ تقریر کوو وي مونږ اسلام راولو تاسوکوم اسلام راوستو یو سړی دی کوهی ته په اندرپائي باندی کوزیږی اوخلقو ته چغي وهی خدائي مو وبخه پرده وکړي زه کوټی ته خیژم او کوزیږی چیرته کوهی ته خو دی خلقو کی sence نشته عقل ئي خراب شوی دی.

دوی په دی نه پوهیږی چې کوزیږي کوهی ته او مونږ ته وائي کوټي ته خیژم او دوی هم وایې جی پرده وکړي هر سړی وائي پرده وکړي دا سړی دا تاسو جهنم ته راکاږی دا تاسو د امریکی نظام ته راکاږی.

د مولوی فضل الرحمن حقیقت

بعضی څیزونه دی د لټ په طریقه استعالموی لټ پیژنی ؟ مړی پکي نیسی مونږ چې پخوا واړه وو نال به مو راجمع کړل ربړونه به

مه پکې واچول یو کورکی به مو پکې کیخوده او خارونی به مو پکې نیولي داسي لټونه دوی جوړ کړی په یوه زمانه کې د طالبانو لټ وو د دوی سره او فضل الرحمن روان دي فلاني مولا، وان فلاني مولا روان دی چی کله دوی دلته ووټونه وګټل په اوله ورځ د فضل الرحمن بیان وو وائي مونږ د طالبانو اسلامي نظام نه راولو اوس هم اخبار شته او کتلي ئي شي مونږ د طالبانو اسلامي نظام نه راولو مونږ به په دی ملک کې مثالی اسلامي نظام راولو مثالي اسلامي نظام د چا؟ د بش او د ټونی بلیر

د حضرت عمر رضي الله عنه خلافت

بیا په اسلام کې د حضرت عمر رضي الله عنه غونتي خلیفه دنیا د هغه نمونه نه شي پیش کولي داسی خلیفه وو الله دی کرورها رحمتونه وکړی په عمر باندی تاسو وائي آمین داسی خلیفه هغه وائي که د دجلي په غاړه دجله د دریاب نوم دي اوبه پکې بهیږي که د دجلي په غاړه یو سپي د تندي مړ شه نو نقصان به د عمر وی که د سپي به وی؟ دا خو د سپی نقصان دی چې نه ورځی اوبو له هغه وائي که د دجلي په غاړه سپی د تندی مړ شو نو الله به د عمر نه تپوس کوی چې دا ولي مړ وو؟

د خلیفه انتخاب او د هغې طریقه

اي عمر رضي الله عنه! چه کله خلفیه کیدو نو څو ورځي هغه تحریک چلولي وو حضرت ابو بکر رضي الله عنه وفات کیدو او عثمان رضي الله عنه صیب ئې راغوختي وو ورته ئي وي ولیکه

(زمانه پس به خليفه، نو بې هوشی پري راغله نو حضرت عثمان رضي الله عنه پکي وليکل چي عمر رضي الله عنه به ئې وي د پاره چې خليفه خو مړ شو خو په هغه خو بې هوشي راغلي وه نو هغه په هوش کي راغی ورته يې وی څه دی ليکلي وو؟ وي ما خو پکي عمر رضي الله عنه ليکلی وي حضرت ابو بکر رضي الله عنه وي ما هم عمر رضي الله عنه يادوو دا فرشتو ستا کوتې چلولی. د حضرت ابو بکر رضي الله عنه په وينا باندي عمر رضي الله عنه دا د ټولی اسلامي نړۍ امير المؤمنين شو ووټ پکي نه وو شوی.

د حضرت عمر رضي الله عنه طريقه انتخاب

حضرت عمر رضي الله عنه چي وفات کيدونو شپږ کسان يې راجمع کړل لږ سوچ ورته وکړي سوچ شپږ کسان ئې راجمع کړل او هغه شپږ کسان هم د هغه کسانو نه وو کومو لسو کسانو ته چې په دنيا کي د جنت زيري ملاو شوی وو عشر مبشرو کي وو او هغوی ته ئې وی ټول کينی. او شپږواړه او په خپل مينځ کي يو تن منتخب کړي څو کسان وو؟ شپږ او د کوم حکومت؟ د هغه حکومت چي د هغي يو سر په افريقه کي وو او بل سرئي افغانستان ته رارسيدلی وودا هغه حکومت وو وټونه پکي نه وو شوی او بيائي ورته وی چي که تاسو يو تن خليفه کړو او بل وی چي نه زه نو فاقتلوه مړئي کړي څوک مړ کړي؟ هغه عشر مبشرو کي وو هغه مړ کړی.

د دوی نه تپوس وکړه تاسو چي وائي مونږ عمری نظام راولو لعنتيانو دروغ څله وائي سم وائي چه مونږ د بش خدمت ګاران يو مونږ د امريکي بياج خواران يو او مونږ په دی ملک کي د

امریکي نظام راوستل غواړو.
عزتمندو! چې یو سړي په متیازو باندی اودس وکړی مونځ ئې کېږی؟ نه نو په جمهوریت باندي حکومت اغستل دا په متیازو باندی اودس دی او بیا کلی په کلی کوتک په ولی ګرځیدل ماله ووټ راکړه زه د ووټ حقدار یم.

د حضرت ابو موسی الاشعري رضي الله عنه واقعه

بخاري د قرآن نه پس دویم نمبر صحیح کتاب دي مولیانو دی که نه دی؟ بخاری کي حدیث دي حضرت ابو موسی الاشعري رضي الله عنه د حدیث راوی دي هغه فرمائي:

عن أبي موسى قال أقبلت إلى النبي صلى الله عليه وسلم ومعي رجلان من الأشعريين أحدهما عن يميني والآخر عن يساري ورسول الله صلى الله عليه وسلم يستاك فكلاهما سأل فقال يا أباموسى أو يا عبدالله بن قيس قال قلت والذي بعثك بالحق ما أطلعاني على ماقي أنفسهما وما شعرت أنهما يطلبان العمل فكأني أنظر إلى سواكه تحت شفته قلصت فقال لن أو لا نستعمل على عملنا من أراده ولكن اذهب أنت يا أبا موسى أو ياعبد الله بن قيس إلى اليمن ثم أتبعه معاذ بن جبل فلما قدم عليه ألقى له وسادة قال انزل وإذا رجل عنده موثق قال ما هذا قال كان يهوديا فأسلم ثم تهود قال اجلس قال لا أجلس حتى يقتل قضاء الله ورسوله ثلاث مرات فأمر به فقتل ثم تذاكرنا قيام الليل فقال أحدهما أما أنا فأقوم وأنام

وأرجو في نومتي ما أرجو في قومتي : ([1])

زه وم او زماسره زما د قبیلی څه کسان وو ماته پته نه وه چې دوی څله خې مونږ دري کسان وو مونږ د نبي صلی الله علیه وسلم خدمت ته لاړو نبي صلی الله علیه وسلم اول د هغوئ نه تپوس وکړوتاسو څه له راغلی ئي؟ هغوئ ورته وي اي د الله پیغمبره مونږ حاکمان کړه مونږ له وزارت راکړه مونږ له ممبری راکړه د الله کرورهاصلاة او سلام دی په رسول الله صلی الله علیه و سلم باندی هغه ورته څه وائي لن نستعملَ دا علماء ناست دی تپوس تري وکړي لن په عربي کي راځی د تاکید او د تابید دپاره هم د تاکید دي هم تابید معنی ئي درته کوم په پښتو کي: مونږ هیڅ کله هیچری مونږ هغه سړي نه حاکم کوو چې څوک مونږ ته وائي چې مونږ حاکم کړه.

تاسومسلمانان ئي که نه چې څوک مسلمانان دي لاس اوچت کړي نو نبي صلی الله علیه وسلم خو وائي چه څوک وائي ما ممبر کړه که زه به ورله ووټ نه ورکوم زه ئي نه ممبر کومه.

اي خلقو: ووټ به نه ورکوو

ستاسو نه تپوس کومه په جمات کي ناست ئي که دروغ مو اوي نوګوري د الله د عذاب نه خبرئي چې څوک درله صباله راشي چه مونږ له ووټ راکړي کوم یو کس به ووټ ورکوی لاس پورته کړي ووټ به نه ورکوي ولي؟ ځکه زمونږ پیغمبر وئیلی دي څوک چې

---

[1] - صحیح البخاری حسب ترقیم البخاری : ٩ / ١٩ باب حکم المرتد والمرتدة

عامل جوړیدل غواړي مونږ به هیڅری هغه عامل نه کړو او ابو موسی صاحب وائي چې ماته ئې وي د ابو موسی خپل نوم عبد الله بن قیس دي ماته ئې وی ته لاړ شه ته مې د یمن ګورنر کړی. داخلق دا نن چې زمونږ په څټونو پراته دی د دوی د اسلام سره هیڅ غرض نشته دوی جی اسلام اباد ته رسیدل غواړی.

دووټ د پاره د خلقو راتګ او زما تپوسونه

په دی تیر الیکشن کې زمونږ د علاقې یو صاحب دي اوس د اوبو خور وزیر دی هغه زما کورته یوه ورځ راغی ماته دی خپلو ځامنو وی اختر علي حافظ صاحب راغلی دي تاته اواز کوی ما وي ورته وایه چې زما پلار وزګار نه دي زه ورله راوه نه وتم په دویمه ورځ زمایو دوست وو هغه ئې راوستو نو هغه له خامخواه راووتم کیناستم دي ماته وائي: مولوی صاحب مونږ دا د ایم ایم اي دا اتفاق او اتحاد چې مونږ کړي دي دا مونږ دا دین د پاره کړي دي نو ما ورته وی مولانا صاحب بې ادبی دي معاف وی زه یو ساده غونته تپوس کومه ستانه ما اوریدلی دی چې شیعه ګان وایي چې دا قرآن نه دي اي دا قرآن هغوئ وایي دا د الله قرآن نه دي دا د شیعه ګانو اصول دی وائي دا د خدائي قرآن نه دی دا خو عثمان د ځان نه جوړ کړي دي او داد ابوبکر او د عمر او د عثمان او د عائشي صدیقي رضي الله عنهم د هغوئ په مجموعه سعي باندی دا قرآن جوړ شوی دي هغه اصل قرآن خو هغوئ پټ کړي دي لس سپاری عائشی ابي بیزي له ورکړي دی هغی خوړلي دی

او هغه یو پاتي شوي وو ۴۰ سپارو والانو هغه محمد بن حنفیه غار ته وړي دي قیامت ته نزدي به رااوځی نو هسي یو تپوس درنه کومه چې هغوئ درسره دا دیرش سپاري قرآن صحیح ومنو که نه تا ورسره هغه ۴۰ سپاري قرآن ومنو دا خو داسی خبره ده چي څه واخله څه به درکړمه نو وائي نه هغه خو په خپل ځائي ده نو ما وی دا خو عجیبه دینی اتحاد دي چي قرآن ستاسو یو نه دی او اتحاد مو دي.

د مولیانو د جماعت اسلامی خلاف کول

زما عزتمندو! لږ سوچ کوي سوچ پخوا زمونږ په دي علاقو کي ستاسو د علاقو نه نه یم خبر مولیان به ګرځیدل په ترخ کي به ئي خلافت ملوکیت تفهیمات او رسائل مسائل نیولي وو او خلقو ته به یي وی دا مودودی دا د صحابو دشمن دی ځکه ۲۸ الزامات مودودی په صحابو باندی لګولي وو اوس هم شته هغه دستاویز د هغه او دا جمعیت والاکسان وو ددوي مشران وو هغه مولوي سید ګل بادشاه اوهغه پیران او دا ټول خلق به ګرځیدل زه نن تپوس کومه چې ایا هغه جماعت اسلامي والاهغه اعتراضات چي په صحابو باندی کړی دی شیعه ګانو ۲۵ کړی وو او دوی ۲۸ کړی دی او دا وخت نه دی ګنی زه به یی تاسو ته بیان کړم چي کوم کوم یي کړی دی.

قاضي اوفضل الرحمن لاسونه داسي ورکړی او وائي د یکجهتی اظهارکوو څنګه د یکجهتي اظهار کوي ؟

فضائل الصحابة

زمونږ د دین مشران صحابه وو صحابه یو سړی بدنام کړی دی مشهور تابعي ابو ذرعة الله دی پري رحم وکړی هغه وائي:

قال أبوزرعة الرازي إذارأيت الرجل ينتقص أصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم فاعلم أنه زنديق وذلك لأن الرسول حق والقرآن حق وما جاءبه حق وإنما أدى ذلك إلينا كله الصحابة وهؤلاء يعني الزنادقة يريدون أن يجرحوا شهودنا ليبطلوا الكتاب والسنة والجرح بهم أولى وهم زنادقة : ([1])

کله چې تاسو یو سړی ولیدو چې هغه د نبي صلی الله علیه وسلم په صحابو کې د یو صحابي طعن کوو نو ته پوهه شه چې دا زندیق دي ولي ؟ ځکه قرآن زمونږ په نزد رشتیا دي سنت رشیتا دی حق دی دا قرآن او دا سنت مونږ ته د نبي صلی الله علیه وسلم صحابو رارسولی دی دا خلق غواړی چې زمونږ د کیس زمونږ د مقدمی ګواهان په هغوئ باندی جرح وکړی صحابه خو زمونږ د دین ګواهان دی په دوی جرحه اولی ده دا زندیقان دی.

(۱) عن عبيدالله بن عمر عن نافع عن بن عمر قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم إذا رأيتم الذين يسبون أصحابي فقولوا لعن الله شركم لم يرو هذا الحديث عن عبيدالله إلا سيف تفرد به النضر : ([2])

---

[1]- مناهل العرفان فی علوم القران : جلد ۱ صفحه ۳۳٦ الجهة الثانية (أو عوامل تثبت الصحابة في الكتاب والسنة)

[2]- المعجم الاوسط(۱۹۰۱۸)

(٢) عن عويم بن ساعدة رضي الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال إن الله تبارك وتعالى اختارني واختار بي أصحابا فجعل لي منهم وزراء وأنصارا وأصهارا فمن سبهم فعليه لعنة الله والملائكة والناس أجمعين لايقبل منه يوم القيامة صرف ولاعدل.

هذا حديث صحيح الإسناد ولم يخرجاه تعليق الذهبي في التلخيص صحيح: ([1])

(٣) حدثنا عبدالرحمن بن سالم عن أبيه عن جده أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال إن الله عز وجل اختارني واختار لي أصحابا فجعل لي منهم وزراء وأنصارا فمن سبهم فعليه لعنة الله والملائكة والناس أجمعين لا يقبل الله تعالى منه يوم القيامة صرفا ولا عدلا: ([2])

(٤) عن قتادة قال لو اصبحتم في مثل معاوية رضى الله تعالى لقال اكثركم هذا المهدى (رواه ابوبكر الاثرم وابن بطة)

ورواه الاثرم حدثنامحمد بن حواش حدثناابو هريرةالمكتب قال كنا عند الاعمش فذكروا عمربن عبدالعزيزوعدله فقال الاعمش فكيف لو ادركتم معاوية قالوا فى حمله قال والله بل فى عدله .

عن ابى اسحق قال لما قدم معاوية فرض للناس على اعطية آبائهم حتى انتهى الى فاعطانى ثلثمائة درهم .

عن ابى اسحق السبيعي انه ذكر معاوية فقال لو ادركتموه وادركتم أيامه تعلمتم كان المهدى عن ابى اسحق ما رأيت بعده مثله يعنى

---

[1]- المستدرك على الصحيحين (٣\٧٣٢) ذكر عويم بن ساعدة رضي الله عنه

[2]- الاحاد والمثاني (٣\٤٣٦) ذكر قول النبي صلى الله عليه وسلم إن الله تعالى جعل لي أنصارا ووزراء فمن سبهم فعليه لعنة الله تعالى

معاوية .

عن ابی قیس قال کان معاوية قد جعل فی کل قبیل رجلاوکان رجلا منایکنی ابا یحیی یصبح کل یوم فیدور علی المجالس هل ولد فیکم اللیلةهل حدث اللیلة حارث هل نزل الیوم بکم نازل قال فیقولون نعم نزل رجل من اهل الیمن بعیاله یسمونه وعیاله فاذا فرغ من القبیل کله أتي الدیوان فاوقع اسمائهم فی الدیوان

عن عطیةبن قیس قال سمعت معاویة بن ابی سفیان یخطبنا یقول ان فی بیت مالکم فضلا بعداعطیاتکم و اني قاسمه بینکم فان کان یأتینا فضل عاماقابلا قسمناه علیکم والا فلا عتبة علی فانه لیس بمالی وانماهومال الله الذی افاء علیکم: ([1])

توقیر الصحابة

(۱) عن أبي موسی قال صلینا المغرب مع رسول الله صلی الله علیه وسلم ثم قلنا لو انتظرنا حتی نصلی معه العشاء قال فانتظرنا فخرج إلینا فقال ما زلتم ها هنا قلنا نعم یا رسول الله قلنا نصلی معك العشاء قال أحسنتم أو أصبتم ثم رفع رأسه إلی السماء قال وکان کثیرا ما یرفع رأسه إلی السماء فقال النجوم آمنة للسماء فإذا ذهبت النجوم أتي السماء ما توعد وأنا أمنة لأصحابي فإذا ذهبت أتي أصحابي ما یوعدون وأصحابي أمنة لأمتي فإذا ذهبت أصحابي أتي أمتي ما یوعدون

تعلیق شعیب الأرنؤوط إسناده صحیح رجاله ثقات رجال الشیخین

---

[1] - منهاج السنة (۲\۱۸۵)

غير علي بن عبدالله وهو ابن المديني فمن رجال البخاري: ([1])

(۲) ثنا محمد بن المنكدر عن أبيه عن النبي صلى الله عليه وسلم أنه خرج ذات ليلة وقد أخر صلاة العشاء حتى ذهب هنيهة أو ساعة والناس ينتظرونه في المسجد فقال ما تنتظرون قالوا ننتظر الصلاة قال أما إنكم لن تزالوا في صلاة ما انتظرتموها ثم قال أما إنها صلاة لم يصلها أحد ممن كان قبلكم من الأمم ثم رفع رأسه إلى السماء فقال النجوم أمان السماء فإذا طمست النجوم أتى السماء ما توعد وأنا أمان أصحابي فإذا قبضت أتى أصحابي ما يوعدون وأصحابي أمان أمتي فإذا قبض أصحابي أتى أمتي ما يوعدون لم يرو هذا الحديث عن بن سوقة إلا عبدالله بن عمر تفرد به القاسم: ([2])

(۳) و من توقيره و بره صلى الله عليه وسلم توقير الصحابة وبرهم و معرفة حقهم و الاقتداء بهم و حسن الثناء عليهم و الاقتداء بهم و حسن الثناء عليهم و الاستغفار لهم و الامساك عما شجر بينهم و معاداة من عاداهم و الاضراب عن أخبار المورخين و جهلة الرواة و ضلال الشيعة و المتبدعين القادحة في أحد منهم: ([3])

(٤) و قال شيخ الاسلام ابن تيمية رحمه الله وكل ذي علم بحال عثمان رضي الله عنه وإنصاف له يعلم أنه لم يكن ممن يأمر بقتل محمد بن أبي بكر رضي الله عنه ولا أمثاله ولا عرف منه قط أنه قتل أحدا من هذا الضرب وقد سعوا فيقتله اي قتل عثمان رضي الله عنه ودخل عليه محمد فيمن دخل وهو لا يأمر بقتالهم دفعا عن

---

[1] - مسند امام احمد بن حنبل(٣٩٩/٤) (حديث أبي موسى الأشعري رضي الله عنه)

[2] - المعجم الاوسط (٢٦٨\٧)

[3] - شفا قاضي عياض(٤٤/٢)

نفسه فكيف يبتدىء بقتل معصوم الدم: ([1])

(٥) من نطق في اصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم هو صحاب هوى: ([2])

اسیر مالټا کانفرس

هغه ورځي اسیر مالټا کانفرس وو دا ټول اسیر مالټا دی دوی په دی مالټو پسی خپل ایمان خرڅ کړي دي یو هغه د مالټي اسارت وو شیخ الهند چه تیر کړی وو او د هغوئ ملګرو چي تیر کړي وو هغه دی دهوم دهام ته نه دی محتاج او دا دوی چي اسیر مالټا کانفرس کوی دوی وائي مونږ ټول د مالټی اسیران یو او که چرته عصیر مالټا وی اوعصیر په عربي کي نچوړ ته وئیلي کیږي عصیر مالټا کانفرنس مالټي ئي پکي څکلی او بیا سحر له اخبار لیکلی وو چي په ستیج باندی کلی طور باندی د جمعیت د خلقو اوخاص کر د شیرګړه د مهتمم اودهغه د پارټی د هغوئ پري قبضه وه او څوک ئي ورته نزدي نه پریخودل د اوبو دلاسه یکي عام خلق د تندي نه نډهال شوی وو اودی کسانو بره عصیر مالټۀ څکل دا تپوس د دوی نه وکړه چي قاضي تاسو دغه ځائي ته راوستو نو ولي دجماعت اسلامي فرد نه دي او قاضي د جماعت اسلامي مشرمودودی د عقیدي نه توبه ویستلی ده هر څوک چي کوی دا غلطه کوی.

---

[1]- منهاج السنة النبوية(١٥١/٦)

[2]- الغنية (٧٩/١)

د سیاسو پارټو په یوبل الزامونه

تاسو ته پته شته دی جماعت اسلامي والا به وي چي نیشنل پارټی والا قوم پرست خلق دی او دا د ګاندهی ملګری دی اودا عبد الغفار خان سرحدی ګاندهی دي تاسو اوریدلی وو او وکه نه وو اوریدلی او په دی تیر الیکشن کي د جماعت اسلامي د چا سره اتحاد وو د نیشنل پارټی سره بلور سره

ستاسو د مخه دی حیاء وی د یو سړي هندوه ښځه وه د هغي سره ئي یو مسلمان چرته ونیوو خلق پسی راروان وو نو هغه مسلمان چي راغی نو چي جنابت کي په جماعت کي په مانځه ودریدو هغه خلقو هغه هندو ته وي خدائي دی ستا بیخ بنیاد اوباسي وائی هغه خو په مانځه ولاړ دي وائي نیکه څه وکړمه هم دا کوی هم دا کوی دا خلق هم دا کوی هم دا کوی.

د بهټو خلاف د نهه ۹ پارټو اتحاد

خه تاسو ته پته شته بهټو چي پهانسي شوي وو نو د هغه ۹ پارټو په قوت باندی چي د هغي مشر مفتي محمود صاحب وواو په دي الیکشن کي د جمعیت والا اتحاد د پیپل پارټی سره وو داهغه خلق دی چي مونږ اوتاسو په خپل مینځ کي وجنګوی چي الیکشن راشي دا ټول یادومه یواځی مولیان نه خو دا مولیان پکي ځکه په ګوته کوم چي هغه خلق وائي که نوری مرغی پاسی نو څوک نه وائي چې پاسیده خو چي مړز پاڅي نو خلق وائي هغه دی مونږ دا مړزان یادوو دا نوري مرغی هغوئ که دا نه کوی د ګونګټ کار ګندګي ده هغوئ به خوری.

مانه چا تپوس وکړو ما ورته وی زما په نظر کي ولي خان نواز شریف دا وسني چي ناست دی بي شرفه او قاضي صاحب حسین احمد او فضل رحمان خدائي شته که ماته په دوی کي هیڅ فرق وی او دا فرق ئي راته دی چي د بعضو ګیري دی او د بعضو ګیري نشته نور د عقیدي په اعتبار دا ټول جمهوریان دی او مونږ الحمد لله مسلمانان یو.

په اسلام کي دا انتخاب دپاره څلور طریقي دي

دا علماء ناست دی کله چي تاسو تفسیر قرطبي راواخلی.
وَإِذْقَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَائِكَةِ إِنِّي جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيفَةً ددی لاندی ئي اوګوري تفسیرقرطبي لیکلی په اسلام کي د انتخاب دپاره څلور طریقي دي:
یوه طریقه داده :چي یو تن راپاسي بیعت وکړي په ټول امت هغه بیعت لازم دي لکه د حضرت ابوبکر رضي الله عنه بیعت چي شوی وو.
دویمه داده: چي امیر چي کوم مړ کیږي امیر المؤمنین هغه تنصیص وکړي د یو تن لکه د عمر بیعت چي شوی وو.
دریم دا ده : چي شپږ اته کسان وټاکي چي هغوئ امیر مقرر کړی.
څلورم دا ده : چي یو بادشاه چي هغه اسلامي بادشاه وی او د مسلمانانو په بل ملک باندی حمله وکړی او په هغه کي د امارت شروط وی ۱۱ شروط هغه خودلی دی نو د هغه سره بیعت هم واجب دی. دا څلور طریقي دی دا پنځمه طریقه پکي نشته.

دوی څه چل کوی ما او تا د یو بل سره وجنګوی چې الیکشن راشی نو مونږ ته یکې دغه فائده ملاو شي چې د دوو کسانو غم خادي جدا شي هغوئ خان له بله حجره جوړه کړی دا د هغه دنیاپرستو خلقو جماعت دی بیا چې یو ملک داسي وی چې د هغي مشران داسي ګنده وی نو د کشرانو به ئي څه وی.

واقعه: یوه خبره کومه بده ئي مه ګنړی، په بده خو معافي راته کوي په یو جماعت کي د کلی خلق به د ماسخوتن نه وروسته راجمع کیده حلواګاني به ئي پخولي بعضي خلقو دا مزاج وی کنه یوه ورځی حلوی پخه کړی ده د هغوئ یو مشر وو نو هغه حلوی چې ئي خوړه نو د هغي مشر نه ئي باد (هوا) لاړل نو دی خلقو ورپوري ټولو خاندل او هغه سړي غلي ناست وو نو د خندا یو حد وو چې هغه حد ختم شو نو هغه سړی ورته وی زه نور خفه نه یمه په دی خپله بي شرمی مې څه کار نشته خو زه ستاسو مشر یم چې زمانه باد ځي نو تاسو خو بل غل کوي نو دا زمونږ مشران دی او بره ختلی دی چې دوی دا کار ونه کوی نو هسي زمونږ په باره کي مو څه خیال دی چې مونږ به څه کوو.

د نجات کتاب قران دي

عزتمندو! ټول نجات هغه په دی کتاب کي دی ټول نجات هغه په څه کي دی ؟ په دي قرآن کي زما دی په الله قسم وی قرآن مي مخی ته پروت دی که تاسو ووټ ورکړو نو الله به تاسو نه تپوس کوی چې د امریکی نظام دی ولي غوختي او که دی ورنه کړو نو

ته سپين بازئي ستا نه تپوس نشته.

مولانا صوفی محمد او دهغه تحریک

دلته کي خو به خلق وائي چي دا د صوفي محمد صاحب تحریک دی زه خو د سمي سړي يم او يو ځل زه صوفي صاحب دی الله د جيل نه راخلاص کړی او هغه نور چانه دی قيد کړي هغه دی خلقوقيد کړی دي هغه خوشحال خان بابا يو شعر وئيلي دي هغه شعرخو اگر چي بنه نه دی خو هسی دي موقع سره مناسبت دی هغه وائي:

زه په بند د اورنگ نه يم چي به خلاص شم
زه گير کړي شيخ رحم کار زيړی بابا يم

دي مشرف نه دی قيد کړي گوره د دنيا په تاريخ کي دا نشته د جمهوريانو په تاريخ کي چي څوک د چانه ووټ غواړی او هغه ووټر راشي او ورته وائي چي مونږ به تاله ووټ درکوو دا داسي پاک خلق دي د دوی د پاکی به زه تاسو ته څۀ اوامه چي کله د مشرف سره خبره اتره وشوه چي صوفي محمد صاحب را ازادیږی نو دوی لاړل مشرف له چي دا سړي بلکل مه رااازادوي نور هيڅ نه شي کولي خو دی به په دی ملک کي گرځی او د شريعت يا شهادت اواز به کوی او خلق به راته بلوه کوی مونږ به تاله ووټ درکړو هغه پسی سپی رااويستل په سپو باندی ئي ورله تالاشي واخسته ځکه کار دوی د سپو کوو کنه په سپو ئي ورله تالاشي واخسته او خدائي شتۀ که د سړيتوب په نظر ئي ورته کتلی ئي او

دوی خپل ووتونه ووړل هغه له ئي ورکړل دی دپاره چي صوفي محمد راخلاص نه کړی.

د مولانا صوفی محمد سره ملاقات

زه یو کالي صوفي صاحب دی الله راولی زه تلي وم نو زما دا تور پټکي په سر وو نو ما صوفي محمد صاحب ته وي زما دا تور پټکي ستا نه مشر دي هغه وی څنګه زمانه مشر دي؟ ما وی دا ما په هغه زمانه کي وولی وو چي په کومه زمانه کي ته د جماعت اسلامي سره ملګری وي ستا د تحریک د وجي نه نه دا ما د نبي صلی الله علیه وسلم د وجي نه والی دی او د جمهوریت رد زما یو کیسټ دي اوس هم په دی مینګوره کي ملاویږي د صوفي محمد صاحب د تحریک نه کره لس کاله مخکي ما په سوات کي په شاه پور کي یو تقریر کړي وو او د دی ټولو پارټو خلاف مي کړی وو او ما وی دا جمهوریان د امریکی پیدا شده خلق دی هغه زمانه کي مونږ ددی خلاف وو مونږ د صوفي محمد صاحب د وجي نه نه یو خلاف او نه د بندیانو په مونږ څه اثر شته خو صوفي چي کومه خبره کوي یقیني صحیح کوی دا خبري صحیح دی او دا نه وایو چي صوفي پیغمبر دي ګناه به ترینه نه کیږي ډیر ګناهونه به ترینه کیږي ډیری غلطی به تری کیږي.

حضرت ابو بکر رضی الله عنه تقریر

حضرت ابو بکر رضی الله عنه چي خلیفه شو نو هغه تقریر کړي وو په اول تقریر کي ئي وي.

الحمد لله فاحمدوه و أستعينكم على أمره كله سره و علانيته و نعوذ بالله مما يأتي في الليل و النهار و أشهد أن لا إله إلا الله و أن محمداً عبده و رسوله أرسله بالحق بشيراً و نذيراً قدام الساعة من أطاعه رشد و من عصاه هلك أما بعد فإني قد وليت أمركم و لست بخيركم فأعينوني و إن زغت فقوموني : (۱)

که کوږ شم نیغوي مې نو چې کوږ شي نیغوي ئې خو دا خبرې ئې صحیح دی.

دووټ نه ورکولووعده

انشاء الله وعده ده چې ووټ به نه ورکوي ؟ غږ نه کوي څه خارخ درپکې شته ووټ به بلکل نه ورکوي او ګوري جې زه تاسو ته خبوه کوم دا زما مخې ته لوډ سپیکر پروت دي کنه او زه تاسو ته وایم چې دا زما مخې ته د جوارو وړې دي نو تاسو ماته دروغجن وائي که نه؟ نو دوی په کاغذ تور کتاب جوړ کړي دی او تور کتاب ته دوی قرآن وائي نو دا په خدائي دروغ وائي او که نه قرآن تور کتاب نه دی قرآن خو سپین کتاب دي خو رنړا راولی او دوی تور کتاب جوړ کړي چې دا قرآن دي دا د الله او د پیغمبر مخالفین خلق دی د دوی نه ځان ساتی ګوري زه دا نه وایم چې ماله ووټ راکړي زه ووټ ورکولو ته کفر وامه دا د کفر کار دی جمهوریت ته د کفر کار وام او دا مې عقیده ده چې د کفر کار جدا دي او التزام د کفر جدا دي د کفر په کار سړي کافر کیږي

۱- البدء والتاریخ :جلد ۱ صفحه ۲۷۹

زنا باندی مسلمان کافر کیږي؟ نه کافر کیږي او زنا د مسلمان کاردی که دکافر زنا خو د کفرکاردي سود د کفرکاردی خو سړي په کافر کیږي نه دا کار د کفر دي مونږ ئي نه کوو.

د حیدرهوتی واقعه

اوس مي دی ملګرو ته قصه کوله چي د ولي خان یو د اوخي ځوی دي حیدرخان نوم ئي دی یو څو ورځي کیږي زما د هغه سره څۀ خبری راغلی نو ما د هغوئ په هغي مجلس کي اووی چي زما دا عقیده ده چي ووټ ورکول او غوښتل دا د امریکی نظام دی نو کوم کسان چي ځان ته د روس حامیان وائي نو کم از کم هغوئ له ووټ ورکول نه دی پکار ځکه د روس نظام سوشلزم دي نو که کافرئي نو سم کافر خوئي کنه.

ووټ ورکول په خیر القرون کی نشته

او زه خو محمدي یمه مسلمان یمه زما عقیده داده چي زما پیغمبر ووټ نه دی کړي زما صحابو وو د پیغمبر هغه صحابه چي د هغوئ په باره کي زما پیغمبر د خیریت اواز کړي ده لکه حدیث کی رازي.

عن عبد الله رضي الله عنه أن النبي صلى الله عليه وسلم قال خير الناس قرني ثم الذين يلونهم ثم الذين يلونهم ثم يجيء قوم تسبق شهادة أحدهم يمينه ويمينه شهادته : ([1])

---

[1]- صحيح البخاری حسب ترقيم البخاری : جلد ٥ صفحه ٣ باب فضائل أصحاب النبي صلى الله عليه وسلم

د صدیق په اخیر کي څه شي دی (ق) د عمر په اخیر کي (ر) د عثمان په اخیر کي (ن) او د علي په اخیر کي (ي) ق ر ن ي د دی نه څه جوړ شو (قرني) دغه د څلورو صحابو چي کومه زمانه وه قرني په دغه کي ووټونه نه دی شوی د هغي نه وروسته په اسلامي حکومتونو کي بیعت شته ووټ نه دی شوی نو چي کوم شي په هغه زمانه کي دین نه وو نن ورونړ هغه دین نه شی کیدي.

او که دوی فتوی راوړی نو فتوی څۀ ته وائي او مفتي څه ته وائي پخوا په هندوستان کي یو مولاتیر شوی هغه وائي المفتی نوشت هر چه گفتی مفتی څه ته وائي؟ چي څه ورته ولیکي دوه پیسي ورله ورکړی هر شي تاله روا کوی او دا اوسني مفتیان دا څه مفتیان دی او د دوی فتوو له څۀ اعتبار شته اعتبار د محمد رسول صلی الله علیه و سلم عمل له دی اعتبار د ابو بکر عمل له دی اعتبار د عمر عمل له دی او نبي صلی الله علیه و سلم وائي.

عن عبد الله بن مسعود قال قال رسول الله صلی الله علیه و سلم اقتدوا باللذین من بعدي أبي بکر وعمر : (۱)

دا هغه دویمه ډله ده چي دا په تاسو تکلیفونه تیروي او تاسو خرابوی او فائده په خپل جیب کي غورځوی.

اسلام او امن

نن په لاری باندی راتلویو گاډی مخی له راغي هغه ملگری زما سره وو دا قاری صاحب هغه ماته ئي وی دا د گل نصیب خان

۱- المعجم الاوسط : جلد ۷ صفحه ۱٦۸

مولاصاحب د ورور ګاډی دی.

حضرت عمر په خوشی بازار کي یک یواځی ګرځیدو نه تری یو طرف ته اسپائی او نه تری بل طرف ته اسپائی او نه تری موبائل مخے ته وو او دوی پرون چه ګرځیدل په سقاط پسي او په ختمونو پسي نو موبائل ورسره نه وو او نن چي دی موزِر شو ما مردان کي تقریر کوو نو ما وي وزیر د وزر نه دی او وزر ګناه ته وائي وزیر څۀ ته وائي د دنیا ګناه ګار چاترینه تپوس وکړو وي صاحبه ته چه دا کمیشني اخلی نو دا خو اعظم خان هم اخستی او تاسو وی دا اعظم خان ناروا کوی هغه وی په هغه زمانه کي مونږ په حکومت کي نه وو مونږ نه پوهیدو اوس مونږ پوهه شو اعظم خان هم ښه کول.

دایتونوتشریح

کوم ایتونه چي مې لوستی وو په هغي کي الله فرمائي.

أَفَمَنْ يَخْلُقُ كَمَنْ لَا يَخْلُقُ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ

هغه څوک چي هغه پیدا کول کولي شي خالق د مخلوق پشان ته دی د خالق او د مخلوق فرق دا مونږ ته قرآن بنائي.

خالق چي هر څه کوی اسبابو ته محتاج نه دی مخلوق چي څه کوی بغیر د اسبابو ئي نه شی کولي اوریدل خالق هم کوی مخلوق هم کوی خو مخلوق ئي په اسبابو کوی او خالق ئي بغیر د اسبابو کوی د اسبابو نه بغیر مخلوق له اورول ثابتول دا کفر دی لیدل ما تا هم کوو او الله ئي هم کوی خو ما او تائي په اسبابو کوو

او الله ئي بي اسبابو کوی.
علم زما او ستا هم شته او د الله هم شته خو زما او ستا علم د اسبابو دی او د الله هغه بي اسبابو دي زما او ستا علم لږ دی او د الله علم ډېر دي مرغی چه سمندر ته مخوکه ورخکته کړی دغه نسبت سمندر ته د ټول مخلوق علم چي راواخلي د الله علم ته ئي نسبت د دغي نه هم کم دی.

دالله نعمتونه

که د الله نعمتونه وشماری نو پوره به ئي نه کړي
وَإِنْ تَعُدُّوا نِعْمَةَ اللَّهِ لَا تُحْصُوهَا إِنَّ اللَّهَ لَغَفُورٌ رَحِيمٌ
ګوري الله په مونږ قسم قسم نعمتونه کړی دي عزت الله راکړي دشمن له مو ذلت الله ورکړي الله رب العزت غوږونه راکړي دی پوزه ئي راکړي ده په دی غوږو دی ګوتي ووهه او په دی پوزه دی ګوتي ووهه یو شان ته غوښه ده کلکه غوښته خو په دی اوریدل کولي نه شي او په دی بویول نه شي کولي او په دی اوریدل دا ژبه ئي درکړی ده دا چه خوزوي نو خبري پری کیږي دا غټ لاس دی داسي داسي کوه ئي نو خبری پری نه کیږي غوږونه ئي دوه درکړی ستړی یي دوه درکړی خپي یي دوه درکړی لاسونه ئي دوه درکړی خو خوله یي درله یوه درکړی ده او زړه ئي درله یو درکړی دي معنی دا چه ګوري به هر څه ځی به هر ځائي ته وینی به هر څه اوری به هر څه خو زړه ته به د یو الله خبره کوزوي او په خولي به د یو الله خبره کوي د بل چا خبری به پری نه کوی.

وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا تُسِرُّونَ وَمَا تُعْلِنُونَ

ته چې کومې پټې جرګې کوي او که ښکاره ئې کوي دا ټولی الله ته معلومی دی بل چاته نه دی معلومې.

وَالَّذِينَ يَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللّٰهِ لَا يَخْلُقُونَ شَيْئًا وَهُمْ يُخْلَقُونَ

هغه کسان چې دا خلق يې د الله نه سوا رامدد کوی هغوئ هيڅ شي نه شی پيدا کولي.

انبياء ټول مختاج دی

عزتمندو! دا ټول انبياء چې راپاڅي مچ به پيدا کړی مچ پيدا کولي شی؟ مڼاشي پيدا کولي شی؟ او الله رب العزت د دی ټول کائنات خالق دی او دوی پيدا کړی شوی دی.

أَمْوَاتٌ غَيْرُ أَحْيَاءٍ وَمَا يَشْعُرُونَ أَيَّانَ يُبْعَثُونَ

مړه دی ژوندی نه دی د ايت لږ ولولی مړه دی او ژوندی نه دی.

شاه صاحب ليکلي دي د دي ايت دپاڅه شاه عبد القادر

شاید یہ ان لوگوں کو فرمایا جو مرے ہوئے بزرگوں کو پوجتے ہیں.

دا الله هغه چاته وئيلی چې څوک د مړو زبرګانو عبادت کوی د زبرګانو عبادت کول هغوئ ته رامدد شه وئيل دا هم کفر دي د زبرګانو او نيکانو کسانو بد بيانول دا هم ښه کار نه دي او بيا داسې نيکان بندیان چې د هغوئ عمرونه د الله د توحيد په اشاعت کې تير شوی وی د سنتو په خدمت کې تير شوی وی هغوئ ته بد ويل دا هم کفر دي.

د جماعت المسلمین حقیقت

نن یوه ډله پیدا شوی ده ځان ته وائي مسلمین یو زه وایم چي تاسو مسلمین ئي نو الله خو په قرآن کریم کي وائي.

قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ مؤمنین کامیاب دی دا خوئی نه دی وئیلی قد افلح المسلمون چي مسلمین کامیاب دی نو تاسو مؤمنان ئي که مسلمانان اوس راته ووائي د صحابو باره کي الله دا نه وائي اولئکَ هم المسلمونَ حقًا الله څه وائي

أُولَئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا هغه کره مسلمانان دی او دا دوی چي وائي چي

قلت فماتأمرني إن أدركني ذلك؟قال تلزم جماعة المسلمين وإمامهم قلت فإن لم يكن لهم جماعة ولا إمام ؟ قال فاعتزل تلك الفرق كلها ولو أن تعض بأصل شجرة حتى يدركك الموت وأنت على ذلك : (۱)

دغه روایت راواخله دا د حذیفه رضي الله عنه روایت دي هغه وائي ما د نبي صلی الله علیه وسلم نه تپوس وکړو.

که د هغوئ جماعت او امام نه وی بیا به څه کوم؟ نو معلومه دا شوه چي داسي مسلمانان به وی چي بغیر د جماعت او بغیر د امام نه به وی نو نبي صلی الله علیه وسلم ورته وي. بیابه ځان ساتی.

نو دوی وائي نه چي امام ئي نه وی د مسلمانانو نو بیا به ورله مسعوداحمد ایم ایس سی امیر جوړ کړی او د هغه په لاس به

۱- صحیح البخاری حسب ترقیم البغاری : جلد ٤ صفحه ۲٤۲ باب علامات النبوة في الإسلام

بیعت وکړی دا څومره د کفر خبری دی او د دی وخت نه واخله مخکي چي څومره خلق تیر شوي دي هغه ټولو ته دوی کافر وائي صحابو کي تاسو چیرته لیدلی دی چي یو صحابي وئیلی دی چي زه د جماعت د مسلمینو نه یم تپوس تری شوی دی چي ته څوک یي هغه وی زه مهاجر یم او یا تپوس تری شوی دی ته څوک یي؟ وائي زه انصاری یم او الله هم وائي.

لَقَدْ تَابَ اللَّهُ عَلَى النَّبِيِّ وَالْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنْصَارِ الَّذِينَ اتَّبَعُوهُ فِي سَاعَةِ الْعُسْرَةِ : (۱)

نو چي کله مهاجر او انصار شو نو هغه کافر وو چي نن ته مسلم شوي.

وَمَا يَشْعُرُونَ أَيَّانَ يُبْعَثُونَ او دوی ته پته نشته چي دوی به کله پورته کیږي.

الله دی مونږ او تاسو له په قرآن د عمل کولو توفیق راکړی انشاء الله العزیز زمانه وروسته د جماعت یو ښه عالم او یو مخلص دیانتدار او ښه پوهه عالم هغه به انشاء الله تاسو ته بیان کوی او د هغه بیان ښه په اطمینان باندی واورئ.

الله دی تاسو له او مونږ له د عمل کولو توفیق راکړی او الله دی زمونږ او ستاسو نه د دین د خدمت زیات توفیق دی الله مونږ له راکړی چي مونږ د الله د دین خدمت وکړو الله دی مونږ د اشاعة التوحید و السنة سره ابد مؤبداً منسلک وساتي

واخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمین

---

۱ سورة توبه (۱۱۷)

فضیلت قران

الحمد لله رب العالمین و الصلاة و السلام علی سید الاولین والآخرین وخاتم النبیین و قائد الغر المحجلین سیدنا محمدالمبعوث الی الخلق اجمعین و علی آله الطیبین و اصحابه الطاهرین و علی ازواجه الطاهرات امهات المؤمنین و علی امته المتقین الی یوم الدین

و بعد

فاعوذ بالله من الشیطان الرجیم بسم الله الرحمن الرحیم

الر * كِتَابٌ أَنْزَلْنَاهُ إِلَيْكَ لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ بِإِذْنِ رَبِّهِمْ إِلَى صِرَاطِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ * اللَّهِ الَّذِي لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ وَوَيْلٌ لِلْكَافِرِينَ مِنْ عَذَابٍ شَدِيدٍ*الَّذِينَ يَسْتَحِبُّونَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا عَلَى الْآخِرَةِ وَيَصُدُّونَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ وَيَبْغُونَهَا عِوَجًا أُولَئِكَ فِي ضَلَالٍ بَعِيدٍ : (۱)

تمهید

عزتمندو مسلمانانو ورونواو خویندو : ستاسودی کلي کنده غار ته نن زمونږ داراتله د دوو خوشحالو په سلسله کي دی.

په هغي کی یوه د یو برخوردار واده او د هغي نه غټه خوشحالي د هغه برخوردارد والدي د قرآن عظیم الشان د ترجمي ختم ان شاء الله العزیز په دی اوسني مجلس کي به د دووخبرومتعلق د توفیق مطابق زه څه بحث کوم.

په هغي کي اول د قرآن عظیم الشان فضیلت او دویم نمبر د واده

۱- سورة ابراهیم (۳-۱)

په باره کي د قرآن عظيم الشان او د جناب رسول الله صلى الله عليه و سلم د سنتو څه هدايات بيانوم.

د قرآن عظيم الشان فضيلت

عزتمندو : قرآن عظيم الشان دا يو داسي کتاب دي چه د چا سره دده تعلق راغلي دي نو هغه مُتَعَلّق قران عزتمند کړي او په خپله نوعه کي ئي په ټولو کي اشرف ګرځولي دي.

قرآن عظيم الشان د دی نزول په مکه مکرمه کي شوی دی يعني ابتداء نزول ئي په مکه مکرمه کي شوي دي او د هغه مناسبت د وجي نه مکه مکرمه ددنياپه ټولو ښارونوکي اوچت ښار دی د قرآن عظيم الشان اختتام په مدينه منوره کي شوي دي نو مدينه منوره په ښارونو کي دويم نمبر عظيم ښاردي اود قدر وړدي په زمانو کي د قرآن عظيم الشان تعلق د رمضان سره دي او د رمضان باره کي الله رب العزت فرمائي چه.

شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنْزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ هُدًى لِلنَّاسِ وَبَيِّنَاتٍ مِنَ الْهُدَى وَالْفُرْقَانِ : (۱) د رمضان مياشت هغه ده چه په هغې کي د قرآن عظيم الشان د نزول ابتداء شوي ده او د رمضان مياشت دا په ټولو مياشتو کي بهتره ده.

دارنګی قرآن عظيم الشان د دی دری نزوله شوی دی په هغي کي يو نزول د لوح محفوظ نه دی نزدي اسمان ته دی دا چه په کومه شپه کي شوي دي نو د هغي باره کي الله رب العزت فرمائي:

۱- سورة بقره (۱۸۵)

إِنَّا أَنْزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ * وَمَا أَدْرَاكَ مَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ * لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ : (۱)

دا قرآن عظیم الشان ما د قدر په شپه کي راليږلي دي او په کومه شپه کي چه د ده نزول شوي دي هغه د ايک هزار مياشتو نه غوره ده دا غوره والي چه دی شپي ته حاصل دي نو دا د قرآن عظيم الشان په مناسبت باندی حاصل دي.

دارنګی قرآن عظيم الشان چه دکوم مَلَک په توسط باندی راغلي دي حضرت جبريل عليه السلام نو هغه مَلَک په ټولو ملائکوکي بهتردي او دبهترې وجه ئي د قرآن عظيم الشان تعلق دي.

په رُسُلو کي قرآن عظيم الشان په محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم باندی راغلي دي او محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم په ټولو انبياء عليهم السلام کي بهتر دي او داسي بهتر دي چه د قيامت په ورځ به ټول انبياء اود ټولو انبياء عليهم السلام امتونه به د محمد صلی الله عليه و سلم د جهنډي د لاندی ولاړ وی.

امام انور شاه کشميری رحمه الله يو ځائي کي يو شعر وئيلي دي هغه وائي:

آدم بصف محشر ذريت آدم

در زير لوا يت تو اميری تو اميری

آدم اود آدم اولاد به دقيامت په ورځ ستا د جهنډي د لاندی ولاړ وی اود دی اصل سبب د قرآن عظيم الشان نزول دي په جناب رسول الله صلی الله عليه و سلم باندی.

۱- سورة قدر: (۱-۲-۳)

د صحابو مقام اوشان

د انبياءعليهم السلام نه پس په امت کي بهتر مقام د صحابو د محمدرسول الله صلى الله عليه وسلم دي هغه اصحاب د محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم چه الله د هغوئ د ايمان گواهى وركوى او الله فرمائي. أُولَئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا دا كره مسلمانان دى او د هغوئ په ايمان كي شک نشته هغه صحابه چه الله رب العزت د هغوئ ايمان زمونږ د ايمان د پاره معيار جوړ كړي دي.

فَإِنْ آمَنُوا بِمِثْلِ مَا آمَنْتُمْ بِهِ فَقَدِ اهْتَدَوْا : (۱)

كه دى خلقو ستاسو د ايمان په شان ايمان راوړو دوى به لار وموميي هغه صحابه چه د هغوى اعمال الله رب العزت او جناب محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم زمونږ داعمالو دپاره معيار جوړ كړي دي. حديث د افتراق امت كي راځي.

عن يحيى بن سعيد عن انس بن مالك قال قال رسول الله صلى الله عليه و سلم تفترق هذه الأمة على ثلاث وسبعين فرقة كلهم في النار إلا واحدة قالوا وما تلك الفرقة قال ما انا عليه اليوم وأصحابي : (۲)

د نبي صلى الله عليه وسلم نه چه كله د هغه فرقى تپوس وشو چه هغه به نجات مومى جنت ته به ځي هغه څوک دى نو نبي صلى الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل.

هغه لار چه په كومه باندى زه او زما صحابه روان دى نو د اصحابو دا فضيلت او غوره والي دا هم صرف د دى وجي نه دي چه دا د

۱ـ سورة بقره (۱۲۷)

۲ ـ المعجم الاوسط : جلد ٥ صفحه ۱۳۷ (من اسمه عيسى)

قرآن عظیم الشان اول مخاطبین وو.
په ژبوکي د ټولو نه بهتره ژبه عربي ده او عربي له چه الله د فصاحت او د وسعت په اعتبارکوم فضیلت ورکړي دي په دی فضیلت کي د قرآن عظیم الشان ډیر لوئي دخل دي.

د قرآن عظیم الشان مرتبه د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم د مرتبي نه هم اوچته ده

قرآن عظیم الشان د لفظ او د معنی په اعتبار د الله رب العزت د طرف نه د دی حفاظت شوي دي او دا یو بهتر کتاب دي او د دی د بهترتیا نور هم ډیر دلائل دی.
جناب رسول الله صلی الله علیه و سلم ته الله رب العزت فرمائي.
يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ وَإِنْ لَمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ وَاللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ : (۱)
اي پیغمبره! تاته چه کوم کتاب د الله د طرفه رالېږلي شوي دي بَلِّغْ دا خلقو ته رسوه د بَلِّغْ معنی ورسوه نه ده بلکه امر دلته د استمرار د پاره دي دائمًا ستا کار دادي چه دا کتاب رسوه که چیري قرآن دي دائمًا ونه رسوو نو تا د الله رب العزت ډیوټي پوره نه کړه.
زمونږ یو حنفي تفسیر دي تفسیر مدارک د دي ایت لاندی لیکي.
فإذا لم تؤد بعضها فكأنك أغفلت أداءها جميعاً كما أن من لم يؤمن ببعضها كان كمن لم يؤمن بكلها لكونها في حكم شيء واحد

۱- سورة مائده : (٦٧)

لدخولها تحت خطاب واحد : ([1])

چا چه د قرآن عظیم الشان یوه مسئله ونه رسوله نو دا داسی دي لکه چه ټول قرآن ئي ونه رسولو.

نونبي صلی الله علیه وسلم ته الله رب العزت وائي زما پیغمبره دا کتاب رسوه او که یوه مسئله دی او نه رسوله نو تا د الله ډیوتی سر ته ونه رسوله او د خلقو نه مه ویریږي الله به دی د خلقو نه بچ کوی.

دارنګی سورة الاسراء کي الله فرمائي.

وَلَوْلَا أَنْ ثَبَّتْنَاكَ لَقَدْ كِدْتَ تَرْكَنُ إِلَيْهِمْ شَيْئًا قَلِيلًا *إِذًا لَأَذَقْنَاكَ ضِعْفَ الْحَيَاةِ وَضِعْفَ الْمَمَاتِ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ عَلَيْنَا نَصِيرًا : ([2])

که چری ته ما په دی قرآن باندی مضبوط کړي نه وي نو قریب وه چه دی خلقو ته تا څه معمولی غوندی میلان کړي وي او که چری تامعمولی غونته میلان هم دی نوروخلفو ته کړي وي نومابه تاله په ژوند او په مرګ باندی دوچند عذاب درکړي وي.

معلومه دا شوه چه د قرآن عظیم الشان مرتبه دا د جناب رسول الله صلی الله علیه و سلم د مرتبي نه هم اوچته ده ځکه نبي صلی الله علیه وسلم ته الله فرمائي چه که چری په قرآن کي تا لروبر وکړو نو تا د الله ډیوتی ونه رسوله.

دارنګی الله رب العزت فرمائي.

وَلَوْ تَقَوَّلَ عَلَيْنَا بَعْضَ الْأَقَاوِيلِ * لَأَخَذْنَا مِنْهُ بِالْيَمِينِ* ثُمَّ لَقَطَعْنَا

۱- تفسیر مدارك : جلد ۱ صفحه ۲۹۸

۲- سورة اسراء (۷۴-۷۵)

مِنْهُ الْوَتِينَ : ([1])
که چيري دي پيغمبر په ما باندی د ځان نه خبری جوړی کړی وي او زما دا کتاب ئي ونه رسوو او څۀ نوری ئي ورسولي نو زه به ئي مضبوط ونيسم اود مری رګونه به ئي غوڅ کړم.

د صحابو قربانی د اسلام د پاره وه

چه سړي د اسلام په تاريخ سوچ وکړی د بدر په جنګ کي چه د صحابو قربانی پيش شوی ده هغه د دی قرآن دپاره ده د احد په جنګ کي جناب رسول الله صلی الله عليه وسلم خپل غابنونه مبارک په شهادت کي پيش کړي دي يائي تندی زخمی کړي دي نو دا ټول د قرآن عظيم الشان دپاره.
قرآن يو داسی کتاب دي چه الله رب العزت خپل پيغمبر د پيغمبر اصحاب هغه د دی دپاره زخميان کړی دی خو دا کتاب ئي پري دنيا ته رسوو.

د قران بيا نونکو فضيلت

کوم خلق چه د هغوئ تعلق د قرآن سره وی د هغوئ د فضيلت به څه وائي د دی وجي نه د حضرت عثمان رضي الله عنه روايت دي هغه فرمائي:
عن أبي عبد الرحمن السلمي عن عثمان رضي الله عنه عن النبي

۱- سورة حاقه : (٤٤- ٤٥- ٤٦)

صلی الله علیه وسلم قال خیرکم من تعلم القرآن وعلمه : ([1])
نبي صلی الله علیه وسلم فرمایلي دی تاسو کي بهترین هغه خلق دی چه هغه په خپله قرآن زده کړی او بل ته ئي وخائي.
بل حدیث کي راځی.

عن کثیر بن قیس قال کنت جالسا مع أبي الدرداء في مسجد دمشق فجاءه رجل فقال یا أبا الدرداء إني جئتك من مدینة الرسول صلی الله علیه وسلم لحدیث بلغني أنك تحدثه عن رسول الله صلی الله علیه وسلم ماجئت لحاجة قال فإني سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول من سلك طریقا یطلب فیه علماسلك الله به طریقا من طرق الجنة وإن الملائکة لتضع أجنحتها رضا لطالب العلم وإن العالم لیستغفر له من في السموات ومن في الأرض والحیتان في جوف الماء وإن فضل العالم على العابد کفضل القمر لیلة البدر على سائر الکواکب وإن العلماء ورثة الأنبیاء وإن الأنبیاء لم یورثوا دینارا ولا درهما ورثوا العلم فمن أخذه أخذ بحظ وافر : ([2])
چه اسمانونو والااو ځمکی والابخنه غواړی د هغه سړی دپاره چه هغه خلقو ته قرآن ښائي دخیرنه مراد قرآن عظیم الشان دي.

دایتونوتشریح

دا کوم ایت چه ما لوستي دي د دی په دی اول ایت یو تکړه کي الله رب العزت دی قرآن شان بیانوی او ددی قرآن مقصد بیانوی.

۱- صحیح البخاری علي تحقیق البغاء : جلد ٦ صفحه ۲۳٦ باب خیرکم من تعلم القران وعلمه
۲- سنن ابی داود : جلد ۳ صفحه ۳۱۷ باب الحث على طلب العلم

الله فرمائي.
كِتَابٌ كتاب معنى هذا كِتَابٌ علماء فرمائي داتنوين پكي د تعظيم دپاره دى يعني هذا كتاب عظيم دا يوعظيم كتاب دي دا يو لوئي كتاب دي او څنګه عظيم دي؟ د عظمت ئي دري دلائل ذكر كوى
يو دليل ذكر كوى أَنْزَلْنَاهُ د دى د عظمت دليل دادي چه الله وائي ما راليږلي دي او قاعده داده چه كله يو خط چاته راشى او هغه خط د بادشاه دطرفه وى يا د وزير د طرفه وى نو هغه په مجالسو كي ناست وى هغه خط د جيب رااوباسى وائي ماته دا خط فلانى وزير راليږلي دا خط خوكاغذ وى خو چونكه د هغه د وزيرسره نسبت راغلي وى نو دي وائي دا خط ماته فلانى وزير راليږلي دي د خلقو په ذهنونو كي دي خپل وقعت او خپل وقار سوا كوى.
الله رب العزت فرمائي كِتَابٌ دا عظيم كتاب دي او د دى د عظمت يو دليل دادى أَنْزَلْنَاهُ چه دا ما راليږلي دي.
كله كله يوسړي خط وليكي بادشاه ته او چه مجلس كي كينى وائي ما فلانى بادشاه ته او فلانى وزير ته دا خط ليكلى دي نو الله رب العزت وائي إِلَيْكَ دا كتاب مى راليږلي دي تاته محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم ته په اعتبار د مرسِل او مرسَل دوانړو سره دا كتاب د عظمت سره د عزت وړ دي او د لوئي قابل دي او په اعتبار د مقصد سره دا كتاب د ټولو نه اوچت دي.
لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ د دى كتاب مقصد څه دي؟ چه ته عامه دنيا دا د تيارو نه رنړا ته رااوباسي.

دانسانیت دارمدار د قرآن عظیم الشان سره په تعلق باندی دی

کوم کسان چه د قرآن عظیم الشان نه مستفید نه شي فائدة تری وانه خلی نو قرآن عظیم الشان د دغه خلقو باره کي فرمائي چه دغه خلق دادسره انسانان نه دی انسانیت دار ومدار د قرآن عظیم الشان سره په تعلق باندی دی.

سورة الاعراف کي الله رب العزت فرمائي.

وَلَقَدْ ذَرَأْنَا لِجَهَنَّمَ كَثِيرًا مِنَ الْجِنِّ وَالْإِنْسِ لَهُمْ قُلُوبٌ لَا يَفْقَهُونَ بِهَا وَلَهُمْ أَعْيُنٌ لَا يُبْصِرُونَ بِهَا وَلَهُمْ آذَانٌ لَا يَسْمَعُونَ بِهَا أُولَئِكَ كَالْأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ أُولَئِكَ هُمُ الْغَافِلُونَ : (۱)

الله قسم کوی زمونږ د نحو چه کوم علماء دی په هغي کي یو عالم دي هغه لیکلی دی:

(ل) چه په (قد) راشی او قد په ماضی راشي د معنی د قسم ورکوی.

الله قسم کوی قسم مي دی وی چه ما جهنم له ډیر انسانان او ډیر پیریان پیدا کړی دی لږ نه ډیر پیریان او ډیر بندیان.

یو حدیث کي راځی.

عن عبد الرحمن بن قتادة السلمي و كان من أصحاب النبي صلى الله عليه و سلم قال سمعت رسول الله صلى الله عليه و سلم يقول خلق الله آدم ثم خلق الخلق من ظهره ثم قال هؤلاء للجنة و لا أبالي و هؤلاء للنار و لا أبالي قال فقيل يا رسول الله فعلى ماذا نعمل ؟ قال : على موافقة القدر: (۲)

۱- سورة اعراف (۱۷۹)

۲- المستدرك علي الصحيحين: جلد ۱ صفحه ۸۵

الله رب العزت چه دا مخلوق پیدا کړو نو یو موتي ئي تری ډک کړو او وي چه دا کسان به جهنم ته لیږم او په دوی مي پرواه نشته او بیائي خی موټ ډک کړو او اوفرمائیل چه دا جنتیان دی او په دوی مي هم پرواه نشته.

نوالله رب العزت ډیر پیریان او ډیر بندیان دا د جهنم دپاره پیدا کړی دي خودا کوم پیریان اوکوم بندیان لَهُمْ قُلُوبٌ لَا يَفْقَهُونَ بِهَا قلب دامحل د عقل دي نو ذکردمحل او مراد.تری نه حال د هغوئ عقلونه شته قرآن هغه قومونه چه هلاک کړی وو سورة عنکبوت کي د هغوئ په باره کي وائي وَكَانُوا مُسْتَبْصِرِينَ عقل مند خلق وو عقل ئي وو خو د عقل نه ئي کار نه اغستو.

الله رب العزت فرمائي چه د کوم سړی عقل وی عقل مند ځان ته وائئ لَهُمْ قُلُوبٌ لَا يَفْقَهُونَ بِهَا او د قرآن په فقاهت نه پوهیږي دا خلق جهنمیان دي جهنم له مي پیدا کړی ډیر پیریان او بندیان د هغوئ زړه شته عقل پکي شته خو په هغوئ کي فقاهت نشته سوچ نه کوی.

عقل ئي شته خو دغه عقل دا د فقاهت سبب نه ګرځي چه دوی په قرآن کي تفقه حاصل کړی او په قرآن باندی ځان پوهه کړی.

قرآن عظیم الشان وائي ما جهنم له ډیر کسان پیدا کړی دی څه پیریان دی او څه بندیان دي او د هغی وجه څه ده.

لَهُمْ قُلُوبٌ لَا يَفْقَهُونَ بِهَا وَلَهُمْ أَعْيُنٌ لَا يُبْصِرُونَ بِهَا وَلَهُمْ آذَانٌ لَا يَسْمَعُونَ بِهَا أُولَئِكَ كَالْأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ أُولَئِكَ هُمُ الْغَافِلُونَ : (۱)

۱- سورة اعراف (۱۷۹)

د هغوئ عقل شته خو هغوئ پري قرآن ته سوچ نه کوی د هغوئ ستر گی شته خو هغوئ پري قرآن گوری نه لَا يُبْصِرُونَ بِهَا اَلقُرآن. او د هغوئ غوږونه شته خو قرآن پري اوری نه الله فرمائي دغه کسان دا فقاهت چه پکي نشته دغه کسان چه دا قرآن نه گوری دغه کسان چه د قرآن د اوريدو طاقت نه لری دغه کسان په شان د ډنگرو دی بلکه د ډنگرو نه زيات بدتر دغه ناپوهه خلق دي ناخبره خلق او ناپوهه خلق هم دغه دي.

د فقه اهميت

اوس خوځه خلق پيدا شوي دي دفقه مخالف دی او حالانکه نبي صلی الله عليه وسلم فرمائي.

عن الزهري عن حميد بن عبد الرحمن أنه سمع معاوية قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من يرد الله به خيرا يفقهه في الدين والله المعطي وأنا القاسم ولا تزال هذه الأمة ظاهرين على من خالفهم حتى يأتي أمر الله وهم ظاهرون : (۱)

الله رب العزت چه د چا سره ښه کوی نو الله ورله په دين کي فقاهت ورکړی.

حضرت ابن عباس رضي الله عنه ته ئي دعا کوله نبي صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل.

عن سعيدبن جبيرعن بن عباس أن رسول الله صلى الله عليه وسلم وضع يدة على كتفي أو على منكبي شك سعيد ثم قال اللهم

۱- صحيح البخارى علي تحقيق البغاء :جلد ٤ صفحه ۱۰۳باب قول الله تعالى فأن لله خمسه

الله رب العزت چه دا مخلوق پیدا کړو نو یو موتي ئي تری ډک کړو او وي چه دا کسان به جهنم ته لیږم او په دوی مي پرواه نشته او بیائي خی موټ ډک کړو او اوفرمائیل چه دا جنتیان دی او په دوی مي هم پرواه نشته.

نوالله رب العزت ډیر پیریان او ډیر بندیان دا د جهنم دپاره پیدا کړی دي خودا کوم پیریان اوکوم بندیان لَهُمْ قُلُوبٌ لَا يَفْقَهُونَ بِهَا قلب دامحل د عقل دي نو ذکرمحل او مراد.تری نه حال د هغوئ عقلونه شته قرآن هغه قومونه چه هلاک کړی وو سورة عنکبوت کي د هغوئ په باره کي وائي وَكَانُوا مُسْتَبْصِرِينَ عقل مند خلق وو عقل ئي وو خو د عقل نه ئي کار نه اغستو.

الله رب العزت فرمائي چه د کوم سړی عقل وی عقل مند ځان ته وائئ لَهُمْ قُلُوبٌ لَا يَفْقَهُونَ بِهَا او د قرآن په فقاهت نه پوهیږي دا خلق جهنمیان دي جهنم له مي پیدا کړی ډیر پیریان او بندیان د هغوئ زړه شته عقل پکي شته خو په هغوئ کي فقاهت نشته سوچ نه کوی.

عقل ئي شته خو دغه عقل دا د فقاهت سبب نه ګرځي چه دوی په قرآن کي تفقه حاصل کړی او په قرآن باندی ځان پوهه کړی.

قرآن عظیم الشان وائي ما جهنم له ډیر کسان پیدا کړی دی څه پیریان دی او څه بندیان دي او د هغی وجه څه ده.

لَهُمْ قُلُوبٌ لَا يَفْقَهُونَ بِهَا وَلَهُمْ أَعْيُنٌ لَا يُبْصِرُونَ بِهَا وَلَهُمْ آذَانٌ لَا يَسْمَعُونَ بِهَا أُولَئِكَ كَالْأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ أُولَئِكَ هُمُ الْغَافِلُونَ : (۱)

۱- سورة اعراف (۱۷۹)

د هغوئ عقل شته خو هغوئ پري قرآن ته سوچ نه کوی د هغوئ سترګی شته خو هغوئ پري قرآن ګوری نه لَا يُبْصِرُونَ بِهَا اَلقُرآن.
او د هغوئ غوږونه شته خو قرآن پري اوری نه الله فرمائي دغه کسان دا فقاهت چه پکي نشته دغه کسان چه دا قرآن نه ګوری دغه کسان چه د قرآن د اوريدو طاقت نه لری دغه کسان په شان د ډنګرو دی بلکه د ډنګرو نه زيات بدتر دغه ناپوهه خلق دي ناخبره خلق او ناپوهه خلق هم دغه دي.

د فقه اهميت

اوس خوځه خلق پيدا شوي دي د فقه مخالف دی او حالانکه نبي صلی الله عليه وسلم فرمائي.

عن الزهري عن حميد بن عبد الرحمن أنه سمع معاوية قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من يرد الله به خيرا يفقهه في الدين والله المعطي وأنا القاسم ولا تزال هذه الأمة ظاهرين على من خالفهم حتى يأتي أمر الله وهم ظاهرون : (۱)

الله رب العزت چه د چا سره ښه کوی نو الله ورله په دين کي فقاهت ورکړی.

حضرت ابن عباس رضي الله عنه ته ئي دعا کوله نبي صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل.

عن سعيدبن جبيرعن بن عباس أن رسول الله صلى الله عليه وسلم وضع يدة على كتفي أو على منكبي شك سعيد ثم قال اللهم

۱- صحيح البخارى علي تحقيق البغاء :جلد ٤ صفحه ۱۰۳ باب قول الله تعالى فأن لله خمسه

فقهه في الدين وعلمه التأويل

تعليق شعيب الأرنؤوط إسناده قوي على شرط مسلم : (۱)

يا الله په دين کي ورله پوهه ورکړی اوس څه خلق پيدا شوي دي هغه د فقه مخالف دی فقه نه منی فقه دا د دين لباب دي.

امام ذهبي رحمه الله وينا

امام ذهبي يو عالم تير شوي دي د هغه يو کتاب دي په ۲۵ جلده کي د هغي کتاب نوم دي سير اعلام النبلاء په سير اعلام النبلاء کي په اتم جلد کي غالبًا په ۱۴۲ صفحه باندی حافظ ذهبي ليکي:

فالمقلدون صحابة رسول الله صلى الله عليه وسلم بشرط ثبوت الإسناد إليهم ثم أئمة التابعين كعلقمة ومسروق وعبيدة السلماني وسعيدبن المسيب وأبي الشعثاء وسعيدبن جبير وعبيد الله بن عبد الله وعروةوالقاسم والشعبي والحسن وابن سيرين وإبراهيم النخعي.

ثم كالزهري وأبي الزناد وأيوب السختياني وربيعة وطبقتهم.

ثم كأبي حنيفة ومالك والأوزاعي وابن جريج ومعمر وابن أبي عروبة وسفيان الثوري والحمادين وشعبة والليث وابن الماجشون وابن أبي ذئب.

ثم كابن المبارك ومسلم الزنجي والقاضي أبي يوسف والهقل بن زياد ووكيع والوليد بن مسلم وطبقتهم. ثم كالشافعي وأبي عبيد وأحمد وإسحاق وأبي ثور والبويطي وأبي بكر بن أبي شيبة. ثم كالمزني وأبي

۱- مسند امام احمد بن حنبل : جلد ۱ صفحه ۲٦٦ مسند عبد الله بن العباس بن عبد المطلب

بكر الأثرم والبخاري وداود بن علي ومحمد بن نصر المروزي وإبراهيم الحربي وإسماعيل القاضي.

ثم كمحمد بن جرير الطبري وأبي بكر بن خزيمة وأبي عباس بن سريج وأبي بكر بن المنذر وأبي جعفر الطحاوي وأبي بكر الخلال.

ثم من بعد هذاالنمط تناقص الاجتهاد ووضعت المختصرات وأخلد الفقهاءإلى التقليدمن غير نظرفي الأعلم بل بحسب الاتفاق والتشهي والتعظيم والعادة والبلد.

فلو أراد الطالب اليوم أن يتمذهب في المغرب لأبي حنيفة لعسر عليه كما لو أراد أن يتمذهب لابن حنبل ببخارى وسمرقند لصعب عليه فلايجيء منه حنبلي ولامن المغربي حنفي ولا من الهندي مالكي.

وبكل حال: فإلى فقه مالك المنتهى فعامة آرائه مسددة ولو لم يكن له إلا حسم مادة الحيل ومراعاة المقاصد لكفاه ومذهبه قد ملأ المغرب والأندلس وكثيرا من بلاد مصر وبعض الشام واليمن والسودان وبالبصرة وبغداد والكوفة وبعض خراسان. وكذلك اشتهر مذهب الأوزاعي مدة وتلاشى أصحابه وتفانوا.

وكذلك مذهب سفيان وغيره ممن سمينا ولم يبق اليوم إلا هذه المذاهب الأربعة وقل من ينهض بمعرفتها كما ينبغي فضلا عن أن يكون مجتهدا: (١)

تقليد چه شوي دي نو دهغه فقهاو شوي دي چه هغوئ د دربار نبوت نه فقاهت حاصل كړي وو او هغه وو اصحاب د رسول الله صلى الله عليه و سلم او بيا هلُم جراً ډير خلق وو څلور امامان نه

١-سير أعلام النبلاء : جلد ٨ صفحه ٩٢ مالك بن أنس بن مالك المدني

وو په زرګونو امامان وو او کوم سړي چه به فقیه وو نو نورو خلقو به د هغه تقلید کوه هغه ئي مقلّد وو او بیا هغه فرمائي.
هغه نور خلق چه وو د هغوئ ملګری مړه شو ختم شو ملګری ئي پاتي نه شو نن صبا صرف دا څلور مذهبونه پاتي دی او دا وسني خبره نده دا داتمي صدي یو عالم دي د شیخ الاسلام ابن تیمیه شاګرد دي حافظ ذهبي دا هغه خبره کوی د نن نه تقریبًا اوه سوه کاله مخکي هغه فرمائي. ولم يبق اليوم إلا هذه المذاهب الأربعة
نن صبا خو صرف دا څلور مذهبونه پاتي دی او ډیر کم خلق دی چه هغه د دی څلورو مذهبونو په حقیقت او د دی په مفاد د دی په مقصد او د دی په معنی باندی پوهیږي په اوسنی زمانه کي مجتهد نشته.

یحیی بن معین رحمه الله په فروعو کي حنفی وو

مشهور محدث یحیی بن معین چه د هغه باره کي محدثین لیکی کأنه خُلق للحدیث تا به وي دا د حدیثو دپاره پیدا شوي دي حافظ ذهبی لیکلي دی چه هغه په فروعو کي د امام ابوحنیفه رحمه الله مقلدوو بغیر د تقلید نه کار نه کیږي.

انسان ته فقاهت ورکول د الله د طرف نه خیر دي

تقلید دا هغه څوک کولي شی چه په هغه کي فقاهت وی او چه فقاهت پکي نه وی هغه تقلید نه شی کولي او فقاهت چه الله رب العزت چاله ورکړی نودا هغه له خیر ورکوی لکه حدیث کي رازي.
عن حمید بن عبد الرحمن أنه سمع معاویة قال قال رسول الله

صلى الله عليه وسلم من يرد الله به خيرا يفقهه في الدين : (۱)
نبي صلى الله عليه وسلم دعاګاني کړی دی.
عن سعيدبن جبيرعن بن عباس أن رسول الله صلى الله عليه وسلم وضع يده على كتفي أو على منكبي شك سعيد ثم قال اللهم فقهه في الدين وعلمه التأويل
تعليق شعيب الأرنؤوط إسناده قوي على شرط مسلم : (۲)
فقه اصل کي د قرآن او سنت استنباطات او هغه نچوړ ته وئيلي کيږي.
قرآن عظيم الشان دا خبره په وضاحت سره وخودله چه د قرآن عظيم الشان سره د چا تعلق وی دا انسان دي او چه د قرآن سره ئي تعلق نه وو دا د سره انسان دي نه.

د اسلام غټ غټ مصادر

د اسلام دري غټ غټ مصادر دی چه د هغي نه مونږ خپل دين اخلو په هغي کي اول مصدر قرآن دي.
زمونږ د احنافو مسلک دادی چه کله قرآن يوه مسئله کړی وه او حديث د هغی په مقابله کي راغي نو مونږ به کوشش کوو چه دغه حديث کوم چه خبر واحد وی چه د دی داسی تعبير وکړو يو تاويل ئي وکړو چه هغه د قرآن سره موافق شی او که چری داسی تاويل محتمل نه وو نو زمونږ د اول نه راواخله تر آخره پوري ټول

۱- صحيح البخاری علي تحقيق البغاء :جلد ٤ صفحه ۱۰۳باب قول الله تعالى فأن لله خمسه
۲- مسند امام احمد بن حنبل : جلد ۱صفحه ٢٦٦ مسند عبد الله بن العباس بن عبد المطلب

کتابونه لیکی د اصولو چه یترك ک الخبر و یعمل بالکتاب هغه حدیث به پریخودلي کیږی او په قرآن باندی به عمل کیږي.

غیرمقلدین نه پوهیږی او نه پکي سوچ شته

اوس خلق پیدا شوي دي غریبانان په خپله هم نه پوهیږی سوچ ئي هم نشته او د بل هم نه اوری.

قرآن خلقو ته دعوت ورکوی وائي د امام پسی فاتحه وائي او دوی د امام پسی فاتحه منی هم نه.

قرآن کي الله رب العزت چه کله فاتحه مونږ ته بنائي نوبه هغه فاتحه کي الله پاک وائي تاسو داسي وائي. اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ

دا دعا کوی چه اي الله مونږ ته نیغه لار وخایه مطلق لار دا الله ته نه ده معتبره کومه لار معتبره ده؟ هغه لار چه په هغي کي استقامت وی او او د لاري استقامت به څنګه معلومیږي نو صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ د هغه کسانو د هغه اشخاصو لار راته وخائي چه تا پري انعام کړي دي.

فاتحه کي الله رب العزت مونږ ته وائي د تقلید سوال کوی تاسوچه نیغه لار غواړی نو الله داسی هم وئیلي شو چه لار غواړی نوداسی اووائي اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ صِرَاطَ الْقُرْآنِ وَالْحَدِيث الله مونږ ته د قرآن او د حدیث لار وبنائي خو الله پاک سره د علم نه هغه داسی اوئیل چه تاسوداسی اوائي چه اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ الله مونږ ته نیغه لار وخائي خو د هغه خلقو نیغه لار چه تا پري انعام کړي دي.

امام پسی فاتحی نه وئیل

د فاتحی نه وئیل دا به ډیر لوئي ګناه وی که د فاتحی نه منل نه منل خوئي کفر دي او پاتی شوه یو روایت کي راځی.

عن عبادة بن الصامت أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال : لا صلاة لمن لم يقرأ بفاتحة الكتاب : (۱)

نو دوی د غوږ نه دغه روایت هر خائي نیولي وی مونږ ئي معنی نه کوود دوی یومشر دي عمر نوم ئي دي او هغه یو کتاب لیکلي دي احکام الامامة و الائتمام په هغي کي هغه لیکلی چه.

لا صلاة لمن لم يقرأ بفاتحة الكتاب د دی حدیث معنی داده چه څوک فاتحة الكتاب لوستي نه شی مونځ پسی نه کیږی او دا زمونږ په فقه کي یوه مسئله ده فقهاو د دی نه راایستلي وائي: د قاری مونځ په امی پسی نه کیګي امی سړي د فاتحه په لوستو باندی کما حقه قادر نه وی او قاری قادر وی نو لا صلاة لمن لم يقرأ بفاتحة الكتاب څوک چه فاتحة الكتاب لوستي نه شی په هغه پسی مونځ نه کیږی دا د دوی معنی ده زمونږ نه ده.

د دوی کتاب دي احکام الامامة و الائتمام اوس ئي راوړی زه ئي ورته اوس خایم احکام الامامة و الائتمام سعودی کي یو سلفي عالم دي هغه لیکلي دي او هغه وائي چه د دی حدیث معنی داده چه لا صلاة لمن لم يقرأ بفاتحة الكتاب څوک چه په سورة فاتحه لوستو باندی قادر نه وی ځکه د فعل استعمالونه دی مستقل

۱- صحيح البخارى علي تحقيق البغاء : جلد ۱ صفحه ۱۹۲باب وجوب القراءة للإمام والمأموم في الصلوات كلها

فعل کله کله د توصیف دپاره راځی.

وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُضِلَّ قَوْمًا بَعْدَ إِذْ هَدَاهُمْ سورة التوبة کي راځي د هغي معنی داده وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيَصِفَ قَومًا بِضَلَالٍ توصیف دپاره فعل راځی.

نو کوم سړي چه د هغه وصف په قاری د فاتحی سره نه شی کیدي په هغه پسی مونځ نه کیږی او زمونږ خو اسانه خبره ده مونږ خو ټول احادیث د پیغمبر چه څومره دی مونږ ټول معمول کوو دا حدیث هم زمونږ معمول دي.

لا صلاة لمن لم يقرأ بفاتحة الكتاب د دوی په وینا باندی دوی چه ئي څنګه معنی کوی مونږ وایو چه یو سړی ځان له مونځ کوی یا امامت کوی یعنی امام او منفرد دا د هغه دپاره حکم دي.

د مقتدی حکم څه دي ؟

نبي صلی الله علیه وسلم خو د ټولو خلقو احکام بیان کړی دی او کوم سړي چه مقتدی دي دهغه دپاره نبي صلی الله علیه وسلم حکم بیان کړي دي.

عن أنس بن مالك أن رسول الله صلى الله عليه وسلم سقط عن فرسه فجحشت ساقه أو كتفه وآلى من نسائه شهرا فجلس في مشربة له درجتها من جذوع فأتاه أصحابه يعودونه فصلى بهم جالسا وهم قيام فلما سلم قال إنما جعل الإمام ليؤتم به فإذا كبر فكبروا وإذا ركع فاركعوا وإذا سجد فاسجدوا وإن صلى قائما فصلوا قياما ونزل لتسع وعشرين فقالوا يا رسول الله إنك آليت شهرا فقال إن الشهر

تسع وعشرون: (۱)

امام د دی دپاره مقرر شوي دي چه د هغه اقتداء وشی نو کله چه هغه قراءت کوی نو ته به چپ ولاړئي.

مونږ وایو زه چرته په ضعیف سند سره یو روایت دي دوی وخائي چه په هغي کي نبي صلی الله علیه وسلم دا وئیلي وی. انما جعل الامام لیؤتم به فاذا قرءَ فاقرءُوا

ضعیف سند دی وی د حدیث خیر دی ګیا ګزرا روایت دی وی خو دوی دی وخائي او زمونږ سره قوی روایت دي د ابوسعید خدری رضي الله عنه. انما جعل الامام لیؤتم به فاذا قرءَ فانصتُوا

د حضرت ابوهریره رضي الله عنه روایت

د حضرت ابو هریره رضي الله عنه روایت دي بخاری ذکر کړي دي.

عن أبي هريرة قال قال النبي صلى الله عليه وسلم إنما جعل الإمام ليؤتم به فإذا كبر فكبروا وإذا ركع فاركعوا وإذا قال سمع الله لمن حمده فقولوا ربنا ولك الحمد وإذا سجد فاسجدوا وإذا صلى جالسا فصلوا جلوسا أجمعون: (۲).

خو خلق چه لیوني شی او خدائي ئي ووهی نو هغه دغسی وی لکه د غیر مقلدینو پشان ته.

غیر مقلد څه ته وائي غیر مقلد وئیلي کیګي بی مهاره اوښ ته.

۱- صحیح البخاری علي تحقیق البغاء : جلد ۱ صفحه ۱۰۶ باب الصلاة في السطوح والمنبر والخشب.

۲- صحیح البخاری علي تحقیق البغاء :جلد ۱ صفحه ۱۸۷ باب إیجاب التکبیر وافتتاح الصلاة

قرآن عظیم الشان مونږ ته دا خائی چه قرآن عظیم الشان دا اول مصدر دي او د قرآن به اول احترام کوي.

قران خلق رنړا ته راوباسی

دا قران چه دی ولوستو لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ نو ته به د تیارو نه رااوخي او په رنړا کي به کینی.
نن زمونږ دی خور چه دا قرآن لوستلي دي ترجمه ئی کړی ده دا به په خپله باندی د تیارو نه رااوځی رنړا ته او د دی په وجه باندی به ډیری زنانه د تیارو نه رنړا ته رااوځی او داد الله رب العزت احسان دي چه د قرآن عظیم الشان ترجمي د هغی تفسیرونه نن صبا په کورونو کي زنانه وائي او هغي ډیر لوئي انقلاب راوستي دي ډیر لوئي انقلاب.

د زنانو مدارس او د هغی کردار

زمونږ یو پیرصاحب وو الله دی قبر د نور نه ډک کړی د هغه د زنانو مدرسه وه ما تری یو پیره تپوس وکړو ما ورته وی حضرت تا به چرته د نارینو مدرسه جوړه کړی وه نو مونږ به څه مستفید شوي وي سید عنایت الله شاه صاحب بخاری نو هغه ماته وی تاته پته شته چه زمونږ د جینکو مدرسی دی څومره انقلاب راوستي ډیر لوئي لوئي خاندانونه د بریلیانو مشرکانو هغوئ ته چه کله زمونږ د درس جینی ورغلی ده د هغی نه فارغ التحصیل جینی هغی په هغه ټول خاندان کي انقلاب راوستي دي د هغوئ عقائد ئي سم کړی دی.

زنانه د نارینه دپاره وزیر دي

نن صبا بلکه نن صبا نه په هره زمانه کي زنانه الله د نارینه دپاره یو وزیر جوړ کړي دي او نارینه اکثر د زنانو خبرو ته غوږ ګدی او بیا د جناب رسول الله صلی الله علیه و سلم خو دا طریقه وه چه هغه د خپلو بیبیانو ډیر ښه اوریدونکي وو د دی وجي چه بیبیانو به څه اووي نبي صلی الله علیه وسلم به ورله هغه کول ترڅو پوری چه به د شریعت خلاف نه وو او د شریعت خلاف د هغه په کور کی څکه نه کیدو چه د هغوئ تربیت د دوانړو جهانو د سردار جناب محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم په کور کی شوي وو نو هغه خو سوال نه پیدا کیدو زنانه دا په معاشره باندی ډیر لوئي اثر اچوی او دا قرآن عظیم الشان چه کله د زنانو زړونو ته کوز شو هغه کورسمیړی د بچي دپاره اوله مدرسه د مور غیږ ده نو کله چه د بچي مور په قرآن او په سنت باندی عالمه وی د قرآن عظیم الشان درس هغي کړی وی هغی ته دا معلومه وی چه زه به دی خپل بچي ته څنګه تربیت ورکوم نو په ملک کي فحاشی عریانی دا ټول څیزونه ختمیږي.

قران کي د نارینه اوزنانه ذکراومقام

قرآن عظیم الشان دا یو داسی عظیم کتاب دي چه دی د زنانه دوه پهلو ته کتلی دی د نارینه ئي دوه پهلو ته کتلی دی د زنانه یو پهلو د هغی عصمت او پاکدامنی ده نو د هغه پاکدامنی او عصمت تحت الله رب العزت زنانه ته حکم کړي دي.

وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَى : (۱) په کور کی به اوسي هغی ته ئي حکم کړي دي چه تاسو به کله بار ته اوځی. نو وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ : (۲) خپل پروني هغه به په خپله سينه باندی راواچوي.

دزنا نود بعض نارينو سره د نکاح حرمت او د هغی راز

قرآن دی ته هم کتلی دی چه بعضي زنانه د نارينو د مجلس نه بغير د هغوئ ګزاره نه کيږی نو الله رب العزت څه داسی نارينه مقرر کړل چه په هغي کي د اکثرو سره نکاح حرام کړه او زنانه ته ئي وي ته د هغوئ سره تعلق ساتلي شي.

اسلام دا يو داسی عظيم مذهب دي چه د زنانه دغه پهلو ته ئي کتلي دی چه زنانه يواځی د بښځو سره په ژوند تيرولو کی د هغي په ژوند کی به تنګسيا راځی نو الله رب العزت څه نارينه اوخودل چه د دغه نارينو سره دا زنانه تعلق ساتلي شی د هغوئ سره کيناستي شی په دی کي سرفهرست هغه سړي اوخودو هغه نارينه چه د دی بښځي ورسره تعلق وی او دغه تعلق د نکاح وی هغه ئي په اول سر کي اوخودو او د هغه سره ئي هر قسم ازادی قرآن عظيم الشان او احاديثو د رسول الله صلی الله عليه وسلم هغی له ورکړه هغه سره هر قسم ازادی ته کولي شی د هغی نه علاوه نور نارينه قرآن عظيم الشان اوخودل خو د هغوئ سره ئي نکاح حرام کړه.

۱- سورة احزاب (۳۳)

۲- سورة نور (۳۱)

قاعده داده چه کله نکاح حرام وی نو هغه کوم چه د فساد ماده وی هغه شیطان په زړه کی ډیره نه شی راوستلي نو الله فرمائی.

وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ أَوْ آبَائِهِنَّ أَوْ آبَاءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ أَبْنَائِهِنَّ أَوْ أَبْنَاءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي أَخَوَاتِهِنَّ أَوْ نِسَائِهِنَّ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُنَّ أَوِ التَّابِعِينَ غَيْرِ أُولِي الْإِرْبَةِ مِنَ الرِّجَالِ أَوِ الطِّفْلِ الَّذِينَ لَمْ يَظْهَرُوا عَلَى عَوْرَاتِ النِّسَاءِ وَلَا يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِنْ زِينَتِهِنَّ وَتُوبُوا إِلَى اللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَ الْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ : (۱)

قرآن عظیم الشان څه کسان وخودل یوئی دا اوخودل چه زنانه به خپل ښائست نه ښکاره کوی مګر خپل خاوند ته د خاوند سره دا تعلق ساتلي شی أَوْ آبَائِهِنَّ د زنانه پلار د هغي سره دا تعلق ساتلي شی دی ورسره کیناستي شی أَوْ آبَاءِ بُعُولَتِهِنَّ د سخر سره کیناستی شی دا نه چه اسلام زنانه دا د نارینو نه بلکل جدا کړی ده او د نارینه سره به د دی بلکل تعلق نه وی قطعی طور به دا د نارینو سره کینی نه لکه نن چه غربیان وائي چه اسلام چه دی په دی کي ډیره پابندی ده په اسلام کی دغه پابندی نشته اسلام څه خاص کسان هغه په ګوته کړی دی چه د دغه خلقو سره تعلق مه ساته او هغه ئي په ګوته کړی هم نه دی مبهم ئي پریخودی دی او کوم کسان چه د هغي سره د زنانه تعلق راتلي شی نو قرآن هغه په ګوته کړی دی مونږ ته یو په هغی کي سرفهرست خاوند دي دویم د جینئ پلار دریم د جینئ سخر أَوْ أَبْنَائِهِنَّ او څلورم د دغه ښځي

۱- سورة نور (۳۱)

بچي كه د بل خاوند نه ئي بچي وو نو دا تلي شى أَوْ أَبْنَاءِ بُعُولَتِهِنَّ او يائي د خاوند خوي وو يعنى بنزي ئي وو د بلي بنځى نه د دي خاوند خوي وو نو هغه راتلي شى قرآن نكاح بند كړي دي دا پردي سړي دي خو قرآن عظيم الشان د دغه خاوند په وجه باندى د دى او د ده نكاح حرام كړي دي او د هغه سره ئي د دي د تعلق د ناستى د كپ شپ د بنائست د خكاره كولو تعلقات هغه

ئي د سره ازاد كړى دى أَوْ إِخْوَانِهِنَّ يا د دى بنځي ورور كورته راتلي شى أَوْ بَنِي أَخَوَاتِهِنَّ يا د دى بنځي وراره أَوْ بَنِي أَخَوَاتِهِنَّ يا د دى بنځي خورئي أَوْ نِسَائِهِنَّ يا د دى بنځو خاصى نوكراني بنځي هغه راتلي شى نِسَائِهِنَّ كي ئي ديته اشاره وكړه چه كومى كوڅه ډبى بنځى دى هغه كور ته پريخودل نه دى پكار أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُنَّ يا هغه مريان چه د دوى لاسونه د هغي مالكان وى مرئى سره د زنانه نكاح نه كيږي او مرئى چونكه د لاس لاندى وى او كله چه هغه په مساوى حقوق واخلى نو اسلام بيا د هغه نه پرده كړى ده.

سالم مولى د ابو حذيفه وو غالبًا هغه راتلو او د ام المؤمنين سره به كيناستو په كومه زمانه كي چه هغه مرئى وو نو يو پيره مالك د هغه سره مكاتبت وكړو نو هغه راغي ام المؤمنين ته ئى وي دعا كوه چه الله رب العزت زما د مكاتبت دا پيسي ماله راكړى نو هغى ورته وى ولي ته ئى مكاتب كړي وى نو سالم وائي چه د هغى ورځى نه پس ما ام المؤمنين نه ده ليدلى.

أَوِ التَّابِعِينَ غَيْرِ أُولِي الْإِرْبَةِ مِنَ الرِّجَالِ يا هغه نارينه چه د هغوئ

انسانی خواهش شهوت نه وی پاتي شوي او د دي کور نه بغیر د هغوئ ګزاره نه کیږی لکه یو بوډا تره دي یا یو بوډا د دغه هلک ورور دي خو ډیر بوډا دي او هغي دی کور ته راځی نو اسلام وائي خیر دي که راځی دلته کي ئی د هغه حاجت ته کتلی دی.

أَوِ الطِّفْلِ الَّذِينَ لَمْ يَظْهَرُوا عَلَى عَوْرَاتِ النِّسَاءِ یا هغه هلکان چه هغه د زنانو د په پټو پټو خبرو باندی خبر نه دی.

قرآن عظیم الشان وخودل مونږ ته که زنانه د دغه نارینو سره تعلق ساتی نو خیر دي

د نارینود بعض زنانو سره د نکاح حرمت او د هغی راز

په نارینه باندی هم کلکه پابندی ئی نه ده لګولي نارینه ته وائي چه په زنانو کي بعضي زنانه دی چه ته د هغوئ سره کیناستي شی د هغوئ سره پاڅیدي شی خو د قاعدي مطابق الله رب العزت د دوی او د هغوئ په نکاح باندی پابندی لګولي ده چه د دوی او د هغوئ نکاح نه کیږي.

قرآن عظیم الشان دا مونږ ته خائي.

وَلَا تَنْكِحُوا مَا نَكَحَ آبَاؤُكُمْ مِنَ النِّسَاءِ إِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ : (۱) بیا وائي حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهَاتُكُمْ وَبَنَاتُكُمْ وَأَخَوَاتُكُمْ وَعَمَّاتُكُمْ وَخَالَاتُكُمْ وَبَنَاتُ الْأَخِ وَبَنَاتُ الْأُخْتِ وَأُمَّهَاتُكُمُ اللَّاتِي أَرْضَعْنَكُمْ وَأَخَوَاتُكُمْ مِنَ الرَّضَاعَةِ وَأُمَّهَاتُ نِسَائِكُمْ وَرَبَائِبُكُمُ اللَّاتِي فِي حُجُورِكُمْ مِنْ نِسَائِكُمُ اللَّاتِي دَخَلْتُمْ بِهِنَّ فَإِنْ لَمْ تَكُونُوا دَخَلْتُمْ بِهِنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ

۱- سورة نساء (۲۲)

وَحَلَائِلُ أَبْنَائِكُمُ الَّذِينَ مِنْ أَصْلَابِكُمْ وَأَنْ تَجْمَعُوا بَيْنَ الْأُخْتَيْنِ إِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ إِنَّ اللَّهَ كَانَ غَفُورًا رَحِيمًا: (۱)

مور درباندی حرامه ده د مور سره کیناستي شی البته چه یو هلک بلوغ ته ورسی نو د مور سره یو ځائي په کټ کي سملاستل اګر چه مورئي ده د خور سره په کټ کي یو ځائي سملاستل اګر چه خورئی ده د دی نه نبي صلی الله علیه وسلم منع کړی ده.

د مورسره خبري کولي شی کیناستي شی ورسره وَبَنَاتُكُمْ ستاسو لونړه هغه ستاسو دپاره حرامی دی معنی دا چه نارینه د لور سره تعلق ساتلي شی کیناستي شی ورسره وَأَخَوَاتُكُمْ اوستاسو خویندي د خور سره نارینه کیناستي شی اسلام دا پابندی نه ده لګولي چه نارینه به بلکل د زنانو څنګ له ورځی نه دائي هم نه دی وئیلی چه زنانه به بلکل د نارینو څنګي له ورځی نه دغه نارینه ئي متعین کړه چه په معاشره کی د دی نارینو سره ستا تعلق جائز دي د دی نه علاوه چه نور نارینه دی لکه د تره ځوي د ترور ځوي د ماما ځوي لیور و غیره و غیره د دوی سره ستا تعلقات نه شته دغه کسان ستا د معاشري ستا د ګپ شپ ستا د وخت د تیریدو دپاره دغه کسان کافي دی نارینه ته هم وائي ستا خپله بنځه او د بنځي نه علاوه ستا مور ستا خور ستا لور وَعَمَّاتُكُمْ د پلار د طرفه ترور وَخَالَاتُكُمْ او د مور د طرفه ترور وَبَنَاتُ الْأَخِ وریره وَبَنَاتُ الْأُخْتِ خورزه وَأُمَّهَاتُكُمُ اللَّاتِي أَرْضَعْنَكُمْ رضاعی مور وَأَخَوَاتُكُمْ مِنَ الرَّضَاعَةِ اود رضاعت خویندي ستا ګوره هغه د بل چا لونړه دی خو ستا ورسره یو

۱- سورة نساء (۲۳)

نسبت راغلي دي او د هغه نسبت په وجه ستا او د هغوئ نکاح دا حرام شوي دي وَأُمَّهَاتُ نِسَائِكُمْ او ستا د ښځي مور يعنی خواخی وَرَبَائِبُكُمُ اللَّاتِي فِي حُجُورِكُمْ مِنْ نِسَائِكُمُ اللَّاتِي دَخَلْتُمْ بِهِنَّ او ستا هغه پرکتې چه د هغی د مور سره ستا نکاح شوي دي او ستا ورسره مباشرت شوي دي او که چری صرف نکاح شوي وو مباشرت نه وو شوي او د نکاح په ورځ باندی تا لري کړي وه طلاق دي ورکړي وو نو هغه نه خو دغه پرکتې ستا فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ په تاسو باندی ګناه نشته که دا دوی سره کینې وَحَلَائِلُ أَبْنَائِكُمُ الَّذِينَ مِنْ أَصْلَابِكُمْ او ستا هغه ځامن چه ستا د شا نه دی يو هغه ځوي چه ته وائی چه د فلاني زما ځوي دي نو قرآن عظيم الشان وائی چاته په ځوی وئيلو سره ځوي د هغه نه نه جوړيږی.

چاته په ځوی وئيلو سره د هغه نه ځوي نه جوړيږی

سورة احزاب کي الله پاک دری اصول خائی چه چاته په مور وئيلو سره د هغی نه مور نه جوړيږی چاته په ځوی وئيلو سره د هغوئ نه ځوي نه جوړيږی او په يو سينه کي الله پاک دوه ز ړونه نه دی ساتلی او د الله رب العزت د توحيد دپاره او د رسالت دپاره امثله خائی لکه څنګه چه په يو سينه کي دوه زړونه نشته نو په دی کائنات کي د الله نه علاوه بل اله نه شی کيدي او لکه څنګه چه چاته په ځوی وئيلو سره د هغوئ نه ځوی نه جوړيږی نو دارنګی که ته چاته اله اووائي نو د هغه نه اله نه جوړيږی اوکه ته چاته د اووائي چه دي د خدائي نازولي دي نو ته ورته هڅي وايه کنه

ستاپه وینا باندی نه جوړیږی دارنګی که یو سړي ښځي ته مور ووائي ښځي ته ووائی چه دا زما مور ده الله رب العزت وائی یو ښځي ته په مور وئیلو سره د هغی نه مور نه جوړیږی البته چه یوسړی خپلي ښځی ته اوي چه ته زما مورئی اوته زماد مور په شان په ماباندی حرامه ئی انتَ عليَّ كظهرِ أمي ته په ما باندی داسی حرامه ئی لکه د مور شانه ګوره په بندیانو کي د یو بنده صفت ئي بل له ورکړو یوه زنانه ده د هغی صفات ئی راواخستل او بلي زنانه له ئی ورکړل نو قرآن وائی په ده باندی کفار د ظهار ده دي به یاد وه میاشتي متواتر روژي نیسی یابه ٦٠ مسکینانو له ډوډئ ورکوی یا به مرئي ازادوی دا جرم په ده ولي راغي؟ داده په بندیانو کي د یو بنده صفت له ورکړو نو الله رب العزت وائی چه کله ته ولګیدی او د بنده صفت دی الله له ورکړو یا د الله صفت دی بنده له ورکړو نو به تا باندی بیا جرمانه ده او ستا هغه جرمانه هغه جهنم دي.

د کومی زنانی سره نکاح کول پکاردی

قرآن عظیم الشان او دارنګی جناب رسول الله صلی الله علیه و سلم او دعلماء د یو جم غفیر د هغوئ مسلک دادی چه نبي صلی الله علیه وسلم چه کوم حدیث وئیلي دي نو هرحدیث دا د قرآن نه مستنبط دي او دا د امام شافعي امام مالک او امام احمد ددي خلقومسلک دی او د امام صاحب د هغه رائی داده چه احادیث څومره چه دی دا د قرآن عظیم الشان تفصیل دي د یو ایت یو

حديث تفصيل دي د بل ايت بل حديث تفصيل دي نو احاديث دا د قرآن عظيم الشان تفاسير دی.

نو جناب رسول الله صلى الله عليه و سلم وئيلی دی.

عن أبي هريرة رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال تنكح المرأة لأربع لمالها ولحسبها وجمالها ولدينها فاظفر بذات الدين تربت يداك: (۱)

عن جابر قال تزوجت امرأة على عهد رسول الله صلى الله عليه و سلم فقال يا جابر أتزوجت قال قلت نعم قال بكرا أو ثيبا قال قلت ثيبا قال ألا بكر تلاعبها قال قلت يا رسول الله كن لي أخوات فخشيت أن تدخل بيني وبينهن فقال إن المرأة تنكح لدينها ومالها وجمالها فعليك بذات الدين تربت يداك

تعليق شعيب الأرنؤوط إسناده صحيح على شرط مسلم رجاله ثقات رجال الشيخين غيرعبدالملك وهو ابن أبي سليمان العرزمي فمن رجال مسلم : (۲)

يو سړي چه د يو ښځي سره نكاح كوی نو دنكاح سلور اسباب ئي يا د هغی مال وی يا د هغي جمال وی يا د هغی حسب وی نسب نو نبي صلى الله عليه وسلم فرمائی چه د مال د وجی ته د يوی ښځي سره نكاح مه كوه د جمال د وجي نه د يوی ښځي سره نكاح مه كوه د حسب د وجي نه د يو ښځي سره نكاح مه كوه نكاح چه كوی نو فاظفر بذات الدين او چه كله ستا دينداري ښځي سره نكاح راغي

۱- صحيح البخاری علي تحقيق البغاء : جلد ۷ صفحه ۹ باب الأكفاء في الدين

۲- مسند امام احمد بن حنبل : جلد ۳ صفحه ۳۰۲ (مسند جابربن عبد الله رضي الله عنه)

نو ستا خاندان به دینداره وی.

د مشرکی زنانه سره به نکاح نه کوی

د نکاح دپاره جناب رسول الله صلی الله علیه و سلم مونږ ته خودلی دی چه تاسو انتخاب کوی نو د مسلمان کوي قرآن کي الله رب العزت د نکاح باره کي چه کله په سورة بقرة کي الله پاک ذکر کوی نو هلته فرمائي چه ګوري یاد ساتی. د مشرک سړی سره به د خپلي لورنکاح نه کوی او مشرکه ښځه به ته په خپله نکاح کي نه راولی الله فرمائي.

وَلَا تَنْكِحُوا الْمُشْرِكَاتِ حَتَّى يُؤْمِنَّ وَلَأَمَةٌ مُؤْمِنَةٌ خَيْرٌ مِنْ مُشْرِكَةٍ وَلَوْ أَعْجَبَتْكُمْ وَلَا تُنْكِحُوا الْمُشْرِكِينَ حَتَّى يُؤْمِنُوا وَلَعَبْدٌ مُؤْمِنٌ خَيْرٌ مِنْ مُشْرِكٍ وَلَوْ أَعْجَبَكُمْ أُولَئِكَ يَدْعُونَ إِلَى النَّارِ وَاللَّهُ يَدْعُو إِلَى الْجَنَّةِ وَالْمَغْفِرَةِ بِإِذْنِهِ وَيُبَيِّنُ آيَاتِهِ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ : (۱)

د مشرکانو ښځو سره به نکاح نه کوی ترڅو چه په هغوئ کي ایمان نه وی راغلي دا ولي؟ ځکه ښځه دا ستا د زندګی ملګري ده ستا د ژوند د یو دور ستا سره ملګري ده نو چه کله د هغي عقیده برباده وه نو دهغي عقیده به ستا په عقیده باندی اثر کوی او د ازدواجی تعلق سړي چه ښځه ځان له کوی د هغی مقصد دا وی چه نسل انسانی باقی پاتي شی نو چه ستا هغه نسل پیدا شی نو د هغی اوله مدرسه د مور غیږ ده نو د مور د غیږی نه به هغه مشرکان رااوځی د دی وجي نه علماء وائی چه د یهودوی اهل کتابي نصرانی ښځي سره نکاح کول دا جائز دی خو اولی نه دی اولی داده چه ته یو مسلمانه

۱- سورة بقره (۲۲۱)

ښځه اوګوره. وَلَا تُنْكِحُوا الْمُشْرِكِينَ حَتَّى يُؤْمِنُوا
او الله وائي چه مشرکان چه دی هغوئ له به خپل لور خور په نکاح باندی نه ورکوي ترڅو پوری چه په هغوئ کي ایمان نه وی.
او قرآن عظیم الشان د دی سِر خائي فرمائي.
أُولَئِكَ يَدْعُونَ إِلَى النَّارِ مشرک سړي اومشرکه ښځه دا به دی جهنم ته راکاږی وَاللَّهُ يَدْعُو إِلَى الْجَنَّةِ وَالْمَغْفِرَةِ بِإِذْنِهِ او بیا الله فرمائي.
وَلَأَمَةٌ مُؤْمِنَةٌ خَيْرٌ مِنْ مُشْرِكَةٍ وَلَوْ أَعْجَبَتْكُمْ یو مسلمانه وینځه د مشرکی ښځي نه چه هغه خانه وی د هغي نه ښه ده اګر چه د هغي مال او د هغي جمال تاته پسند وی او د مشرک سړی باره کي وائي وَلَعَبْدٌ مُؤْمِنٌ خَيْرٌ مِنْ مُشْرِكٍ وَلَوْ أَعْجَبَكُمْ مسلمان مرئي د مشرک سړی نه غوره دي اګر چه د هغه مال او جمال تاته پسند لګی.
ددی ایت په تشریح کي د هندوستان مشهور عالم چا چه اول ځل د قرآن عظیم الشان ترجمه اردو ته کړی ده شاه عبد القادر د هغه د تاج کمپني قرآن مجید باندی اکثر د هغي حاشیي دی د موضح القرآن په نوم باندی د دی ایت لاندی هغه لیکی.
پہلے مسلمان اور کافر میں نسبت ناطہ جاری تھا اس آیت سے حرام ٹھرا اگر مرد نے یا عورت نے شرک کیا تو اس کا نکاح ٹھوٹ گیا.
مخکي په مسلمان او په کافر کي ورکړه راکړه وو دا ایت چه راغي نو په دی ایت باندی هغه حرام شو. که ښځي یا سړی شرک وکړو نو د هغه نکاح ماته شوه که ښځي وکړو نو بیا ئي نکاح ماته شوه

او که سړی وکړو نو بیائي هم نکاح ماته شوه د دی وجي نه خو نبي صلی الله علیه وسلم فرمائي.

فاظفر بذات الدین دین داره ښځه وکړه چه په دین باندي پوهیږي بذات الدین معنی چه په دین باندی پوهه وی چه هغه شرک نه کوی چه ستا نکاح نه ماتیږي چه تا د شرک نه منع کوی چه ستا نکاح نه ماتیږي.

بیا شاه صاحب وائي.

شرک یہ کہ اللہ کی صفت کسی اور میں جانیں مثلاً کسی کو سمجھے کہ اس کو ہر بات معلوم ہے.

شرک دی ته وائي چه سړي د الله صفت په بل چا کي وګڼی مثلا د چا په باره کي دا عقیده وساتی چه هغه ته هره خبره معلومه ده په غیبو باندی پوهه دی زما د هرڅه نه خبردار دي او د دی عقیدی لاندی اواز وکړي پیره بابا راورسیږی لویه ځوانه راورسیږی کاکا صاحبه رامدد شی دا عقیده که د ښځي راغله هم نکاح ماته شوه او که دا عقیده د سړی راغله نو هم نکاح ماته شوه.

چه شرک وکی نکاح نې ماتیږی

زمونږ د فقهی مشهور کتاب دی قاضي خان قاضي خان په باب النکاح کي لیکي.

وَفِي الْخَانِيَّةِ وَالْخُلَاصَةِ لَوْ تَزَوَّجَ بِشَهَادَةِ اللَّهِ وَرَسُولِهِ لَا يَنْعَقِدُ وَيَكْفُرُ لِاعْتِقَادِهِ أَنَّ النَّبِيَّ صلی الله علیه و سلم يَعْلَمُ الْغَيْبَ : (۱)

چه یو سړی نکاح وترله او د نکاح په وخت کي ئي وی زما په دی

۱- البحر الرائق : جلد ۷ صفحه ۴۹۳ کتاب النکاح

نکاح یو الله ګواه دی او بل پري رسول ګواه دي نو دا سړي کافر شو او دا نکاح ئي نه کیږي ځکه دده دا عقیده پیدا شوه چه نبي صلی الله علیه وسلم په غیب پوهیږي.

قاضي خان یو دویمه جزئیه لیکلي ده قاضي خان وائي:

اگرشخصے نکاح کردو قال خدا و رسول و فرشتگان را گواه کردم یکفر چه یو سړي دي هغه نکاح کوو او په نکاح کي ئي اووی الله رسول او فرشتي ګواه دی نو دا سړي کافر دي او د ده نکاح نه کیږي دا که ئي د نبي صلی الله علیه وسلم د قبر په خوا کي اووی او که بهرئي اووی او که بل ځائي ئي اووي او که بل ځائي اووی چه الله ګواه دي او دا پیغمبر ګواه دي نو دا سړي کافر شو او د ده نکاح نه کیږي.

شاه صاحب ځکه وائي.

شرک یہ کہ اللہ کی صفت کسی اور میں جانیں مثلاً کسی کو سمجھے کہ اس کو ہر بات معلوم ہے. اگر مرد نے یا عورت نے شرک کیا تو اس کا نکاح ٹھوٹ گیا.

عالم الغیب صرف الله دي

عزتمندو! الله رب العزت په هر شی باندی پوهیږی عَالِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ هغه په غیبو باندی هم پوهه دی او په ښکاره باندی هم پوهه دی او انبیاء علیهم السلام کله کله د ښکاره شی نه ناخبره وی د دی یو دوه نظائر تاسو ته یا دری خایم دوه نظائر په قرآن کي یو په حدیث کي:

ابراهیم علیه السلام په غیب نه پوهیدو

ابراهیم علیه السلام له میلمانه راغلی وو میلمانه چه کله راغله سلام علیک وشو د سلام جواب وشو ابراهیم کورته لاړ سخي ئې ورله حلال کړو او سخي چه راوړو هغوئ ته ئي کیخودو وي دا خوری. کله چه هغوئ نه خوړو نو ابراهیم علیه السلام هغوئ ته وی زه خو ستاسو نه ویریدم هغوئ ورته وائي مه ویریږه مونږ فرشتي یو ابراهیم علیه السلام په ظاهره باندی دا خلق لیدلي وو خو شکل شکل د بندیانو وو هغوئ نه وو پیژندلي نو عالم الغیب والشهادة څوک وو یو الله د الله نه سوا بل څوک نه شی کیدي.

لوط علیه السلام په غیب نه پوهیدو

دغه فرشتي حضرت لوط علیه السلام له لاړي لوط علیه السلام له چه لاړي د هلکانو په شکل کي لاړي او الله رب العزت چه د لوط علیه السلام کیفیت بیانوی. الله فرمائي.

سِيءَ بِهِمْ وَضَاقَ بِهِمْ ذَرْعًا وَقَالَ هَذَا يَوْمٌ عَصِيبٌ ډیر تنګ شو پُښتی ئي په یو بل کي نتوتي ډیر پریشانه شو وائي الله لویه سخته ورځ ده میلمانه راکړه راغلی دی او د کلی خلق به اوس د هغوئ بي عزتی کوی هغه ته دا پته نه وه چه دا څوک دی نوعالم الغیب و الشهادة څوک دي الله بندیان نه عالم الغیب دی او نه عالم الشهادة په حاضرو څیزنو کي ډیر په کمو څیزونو باندی به پوهیږي دا دوه مثالونه وو د قرآن نه.

نبی صلی الله علیه وسلم په غیب نه پوهیدو

یو مثال دحدیث نه یو حدیث کي راځی او هغه حدیث تقریبًا د لسو صحابونه نقل دي په لسو سندونو سره په هغي کي مشهور د حضرت عمر رضي الله عنه نه دي حدیث جبریل ورته وائي ا و هغه د حضرت ابن عباس رضي الله عنه د ابوهریره رضي الله عنه نه د ابوسعید الخدری رضي الله عنه اودارنګی د ابوذر رضي الله عنه د دی ټولو نه نقل دي د ابوسعید خدری او د ابوذر رضي الله عنه روایت سنن نسائي راغستي دي په دویم جلد کي.

حدثني عمر بن الخطاب رضي الله عنه قال بينما نحن ذات يوم عند نبي الله صلى الله عليه و سلم إذ طلع علينا رجل شديد بياض الثياب شديدسواد الشعر لا يرى قال يزيد لا نرى عليه أثر السفر ولا يعرفه منا أحد حتى جلس إلى نبي الله صلى الله عليه و سلم فأسند ركبتيه إلى ركبتيه ووضع كفيه على فخذيه ثم قال يا محمد أخبرني عن الإسلام ما الإسلام فقال الإسلام ان تشهد ان لا إله الا الله وان محمدا رسول الله وتقيم الصلاة وتؤتي الزكاة وتصوم رمضان وتحج البيت ان استطعت إليه سبيلا قال صدقت قال فعجبنا له يسأله ويصدقه قال ثم قال أخبرني عن الإيمان قال الإيمان ان تؤمن بالله وملائكته وكتبه ورسله واليوم الآخر والقدر كله خيره وشره قال صدقت قال فأخبرني عن الإحسان ما الإحسان قال يزيد إن تعبد الله كأنك تراه فإن لم تكن تراه فإنه يراك قال فأخبرني عن الساعة قال ما المسئول عنها بأعلم بها من السائل قال فأخبرني عن أماراتها قال أن تلد الأمة ربتها وأن ترى الحفاة العراة رعاء الشاء يتطاولون في

البناء قال ثم انطلق قال فلبث مليا قال يزيد ثلاثا فقال لي رسول الله صلى الله عليه و سلم يا عمر أتدري من السائل قال قلت الله ورسوله أعلم قال فإنه جبريل أتاكم يعلمكم دينكم

تعليق شعيب الأرنؤوط : إسناده صحيح على شرط الشيخين : (۱)

نبي صلى الله عليه وسلم په آخرى عمر کي دا د حجة الوداع نه پس واقعه ده په جمات کي ناست وو يو سړي راغي او هغه سړي چه وو هغه د متضاداتو مجموعه وه مقرِ مفرِ مقبلِ مُدبرِ معًا دوه متضاد صفتونه وو پکي صحابو وي مونږ چه وليدو نو هيڅا نه پيژندو يو تن نه پيژندو او ولا يعرفه منا أحد نکره ده او جمله منفيه ده نفي د کلام منفی دي او أحد نکره ده او قاعده داده چه نکره په سياق د نفي کي راشی نو په هغی کي عموم وی نو عموم دا ټولو له شامل دي نه صحابو پيژندو او نه پيغمبر صلى الله عليه و سلم پيژندو او نه پری د سفر څه آثار ښکاريدل جامی ئي تکی سپينی او د ګيري ويخته ئي تک تور هسي خو عام حديث کي راځی چه ويخته ئي تور وو خو د ابن حبان په روايت کي راځی چه د ګيری ويخته ئي تور وو نو کيدي شی چه د سر ويخته ئي يا خريلی وو يا د سر ويخته او د ګيری ويخته دوانړه تور وو خو د ابن حبان په روايت کی راځی د ګيری ويخته ئي تک تور وو تکي سپيني جامې او تک تور ويخته او د ابن حبان روايت دي.

حدثني عمر بن الخطاب رضي الله تعالى عنه قال بينا رسول الله صلى الله عليه وسلم ذات يوم جالسا إذ جاء شديد سواد اللحية شديد

۱- مسند امام احمد بن حنبل : جلد ۱ صفحه ۱۵۱ مسند عمر بن الخطاب رضي الله عنه

بياض الثياب فوضع ركبته على ركبة النبي صلى الله عليه وسلم فقال يا محمدما الإسلام قال شهادة أن لا إله إلا الله وإقام الصلاة وإيتاء الزكاة وصوم رمضان وحج البيت قالصدقت فعجبنا من سؤاله إياه وتصديقه إياه قال فأخبرني ما الإيمان؟ قال أن تؤمن بالله وملائكته وكتبه ورسله والبعث بعد الموت والقدر خيره وشره حلوه ومره" قال: صدقت الخ : (۱)

او چه راغي نو سلامونه ئي هم دوه قسمه وکړل يو سلام ئي وکړو السلام عليکم په عامو خلقو باندی دويم سلام ئې وکړو اي محمده! په تا باندی دی سلامتيا وی او چه بيا راغي نبي صلی الله عليه وسلم ته وائی رانزدی شمه نو هغه وي آو نو نزدي کيدو نزدي کيدو تردي پوری چه خپل لاسونه ئي يا د نبي صلی الله عليه وسلم په پتونانو يا په خپلو پتونانو کيخودل او تپوس ئي شروع کړو تپوس کوی چه ايمان څه ته وائي؟ يو روايت کي راځي د ايمان نه مي خبر کړه چه نبي صلی الله عليه وسلم خبر کړو نو دا سړي ورته وائي رشتيا دی اوی صحابو وی مونږ ته دا خبره ډيره نا اشنا خکاره شوه چه تپوس کوی دا دليل اعاده د دی ده چه دی نه پوهيږی او تصديق کوی دا اماره د دی ده چه دی پوهيږي.

کوره متضاد څيزونه دی يکي دا تپوسونه چه کله ختم شو نو سړي لاړو نبي صلی الله عليه وسلم چه کله هغه سړي ووتو نو نبي صلی الله عليه وسلم وفرمائيل چه دا سړي لږ واپس راولي دا څوک دي نو صحابو وي مونږ ئي درک وکړو خو مونږ ونه موندو

۱- صحيح ابن حبان : جلد ۱ صفحه ۳۹۰ ذكر الإخبار عن وصف الإسلام

حضرت عمر رضي الله عنه وائي او د مليًا معنى محدثين كوى دري ورځى تيرى شوى درى ورځى پس نبي صلى الله عليه وسلم ماته وائى هغه سړي دى پيژندلي وو نو وائي ما ورته وى نه وي دا جبريل عليه السلام وو.

د ابو سعيد خدري رضي الله عنه په روايت كي د ابو ذر رضي الله عنه په روايت كي كوم چه نسائي راغستي دى په هغي كي دا دى چه نبي صلى الله عليه وسلم وي چه دا اول ځل دى چه دى ما ونه پيژندو ګوره په ستړو باندى ئي ليدلي وو خو نه ئي وو پيژندلي او دا ولي؟ دا ځكه چه الله رب العزت د نبي صلى الله عليه وسلم په آخرى عمر كي دا خودله چه پيغمبر په غيبو باندى نه پوهيږي سورة توبة كي الله رب العزت فرمائي.

وَمِمَّنْ حَوْلَكُمْ مِنَ الْأَعْرَابِ مُنَافِقُونَ وَمِنْ أَهْلِ الْمَدِينَةِ مَرَدُوا عَلَى النِّفَاقِ لَا تَعْلَمُهُمْ نَحْنُ نَعْلَمُهُمْ سَنُعَذِّبُهُمْ مَرَّتَيْنِ ثُمَّ يُرَدُّونَ إِلَى عَذَابٍ عَظِيمٍ : (۱)

ستاسو نه ګير چاپيره په دى باندو كي منافقان دى او د مدينې خلق دى هغه هم په نفاق باندى كلك دى پيغمبره ته ئي نه پيژني.

ټول انبياء په غيب نه پوهيدل

خضر عليه السلام او موسى عليه السلام دوانړه روان دى موسى عليه السلام د خضر د حال نه نه دى خبر حضر عليه السلام چه څه كړى دى موسى عليه السلام ته فرمائي.

۱- سورة توبه (۱۰۱)

وَمَا فَعَلْتُهُ عَنْ أَمْرِي دا ما په خپله اراده نه دی کړی دا ماته الله ویلی دی.

عزیرعلیه السلام سل کاله مړ وو او سل کاله پس چه الله پاک ژوندي کړو تپوس تری کوی قَالَ كَمْ لَبِثْتَ څومره وخت دی تیر کړي هغه وی قَالَ لَبِثْتُ يَوْمًا چه نور ته ئي کتلی أَوْ بَعْضَ يَوْمٍ نیمه ورځ مي تیره کړی ده الله ورته وائي نه سل کاله دی تیر کړی دی.

اصحاب کهف په غیب نه پوهیدل

اصحاب کهف منصوصي اولیاء دی د هغوئ د ولایت نه چه څوک انکار وکړی کافر کیږي او که د پیر بابا د ولایت نه انکار وکړی نو کافرکیږي نه چې ډیر زیاتي مونږ مولیان کوو نو فاسق به ورته وایوچه هلکه فاسق دي مشهور ولی دي ئي ته منی خوچه د اصحاب کهف نه انکار وکړو نو څه شي دی؟ کافر دی او هغه اصحاب کهف ۳۰۹ کاله په غار کي پراته وو او کله چه راپورته شونو یو د بل نه تپوس کوی. كَمْ لَبِثْتُمْ هغه ورته وائی قَالُوا لَبِثْنَا يَوْمًا أَوْ بَعْضَ يَوْمٍ

د مخدوم ابوالحسن داهری اشعار

په هندوستان کي یو عالم تیر شوي دي او مخدوم ابو الحسن داهری نوم ئي دی د هغه یو کتاب دي په فارسی کي په تصوف کي کچکول نامه د هغي نوم دي هغه په هغي خپله کچکول نامه کي وائي:

نبی حق عزیر است چون به مرده زي مدت مُردگی صد سال برده

. الله پیغمبر عزیر چه کله مړ شوي دي او د مرګ زمانه ئي سل کاله وه.

چه زنده گشت گفته مرده نم ای
به مدت بعض روز است با یقین بي

کله چه هغه ژوندی شو وی په دی ساعت مړ یم نیمه ورځ مي تیره کړی.

هم چنین قول از اصحاب کهف است
به بیداری که بعد از خواب کهف است

دارنګی اصحاب کهف هم دا وینا کړی وه کله چه د غار د هغه خوب نه هغوئ راپسدل.

بیا وائي هغه:

زي قرآن این دو قصه چون شنیدی
ازان معلوم کردی آن چه دیدی

کله چه دی د قرآن نه دا دوه قصي واوریدی نو پته درته ولګیده څه درته معلوم شو یو درته دا معلومه شوه چه:

نه مرده هیچ بیند حال زنده
نه شنود او گهي اقوال زنده

نه مړے د ژوندی حال وینی او نه د ژوندی خبري اوری نه مړی اوری او نه لیدل کوی.

نه علم غیب داند روح مرده
بذات خیش ای ذات خاص کرده

او د مړی روح دا په غیب نه پوهیږي دا الله په خان پوری خاص

کړي دي.

دا سړي د شاه ولي الله معاصر دي ۱۱۷۶ خوا او شا دي وفات دي مخدوم ابو الحسن داهری او د ده کتاب پخوا حیدر اباد کي چهاپ شوي وو ماسره د ده کتاب شته کچکول نامه.

نو شاه صاحب وائي:

شرک دا دي چه سړي د الله صفات په بل کي وګڼي مثلا د چا باره کي هغه ته دا پته ولګي چه دي په هرڅه پوهیږي نو دا عقیده که د ښځي راغله نو هم نکاح ماته شوه او که د سړی راغله نو هم نکاح ماته شوه. یاوہ جو چاہے سو کر سکتا ہے یا ہمارا برا بلا اس کے اختیار میں ہے.

یا چه دی څه وغواړی هغه کولي شی شي جوړولي شی مرض راوستي شی ټکره ورکولي شی داعقیده چه د چا پیداشوه دا سړي کافرشویا زمونږ ښه بد د هغه په اختیار کي دی ځکه د ایمان په اجزاء کي دا خبره ده و القدر خیره و شره من الله تعالی تقدیر که تاته خیر دررسی او که شر دا د چا د طرفه ګڼړي؟ الله.

گر رنج پیش اید گر راحت حکیم
نسبت مه کن بغیر که ایهان خدا کند

که تکلیف راغی او که خوشحالی درغله دا دی نسبت به بل چاته نه کوي.

اور یہ کہ اللہ کی تعظیم کسی اور پر خرچ کرے مثلاً کسی چیز کو سجدہ کرے یا اس سے حاجت طلب کرے اس کو مختار جان کر

شرک دیته وائي چه سړي د الله تعظیم په بل چا باندی خرچ کړی چاته سجده وکړی یاهغه مختاروګنړي اوحاجت تری نه وغواړی.

حاجت غوښتل دوه قسمه دی.

یو د اسبابو لاندی وی یو د اسبابو باندی د اسبابو لاندی زه ستا نه غوختل کولي شم ته زما نه کولي شی د اسبانو نه اوچت فوق الاسباب دا ته نشی کولي لکه زه هم اوریدونکي یم الله هم اوریدونکي دي خو زما او د الله په اوریدو کي فرق دي زه اوریدونکي یم په خپلو اوریدو کي اسبابو ته محتاج یم غوږ ته محتاج یم په زوره وینا ته محتاج یم الله اوریدونکي دي اسبابو ته نه دی محتاج زه هم لیدونکي یم تاسو هم لیدونکي ئي الله هم لیدونکي دي خو الله رب العزت بصیر دي اسبابو ته نه دي محتاج او زه اسبابو ته محتاج یم.

الله هم ژوندي دي زه هم ژوندي یم خو الله داسی ژوندي دي چه د هغه د ژوند نه ابتداء شته او نه انتهاء شته او هغه په خپل ژوند کي چاته محتاج نه دي زما د ژوند هم ابتداء شته هم انتهاء شته او زه په خپل ژوند کي الله ته محتاج یم.

الله هم عالم دي او دا ستاسو مولوی صاحب هم عالم دي خو د ده په علم کي او د الله په علم کي فرق دي د ده علم به څه وی او زما علم به څه وی د پیغمبر علم د الله د علم په مقابله کي د یو ذری مقام نه لری حضراو موسی علیهما السلام چه کله په کشتي کي کیناسته نو یوه چنچړه راغله د کشتی په غاړه کیناسته سمندر ته ئي خوله ورخکته کړه په بخاری کي دا روایت دي باب قول

المحدث والله اعلم په کتاب العلم کي هغه یو باب ترڅي په هغي کي ئي دا حدیث راوړي وائي حضر علیه السلام موسی علیه السلام ته وي.

وجاء عصفور فوقع على حرف السفينة فنقر في البحر نقرة فقال له الخضر ما علمي وعلمك من علم الله إلا مثل ما نقص هذا العصفور من هذا البحر : (۱)

زما او ستا علم د الله د علم په مقابله کي هغه مقام هم نه لری کوم مقام کوم نسبت چه د مرغی د مخوکي دي سمندر ته دی او الله هم وائي وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيْءٍ مِنْ عِلْمِهِ إِلَّا بِمَا شَاءَ الله علم جدا دي او زما او ستا علم جدا دي.

یو سړی ته که ته عالم وائي چه فلاني عالم دي نو دا د الله په شان عالم نه دي دا صرف د الفاظو تشابه ده او معاني ئي جدا جدا دی.

لله حق لا يكون لغيره ولعبده حق هما حقانِ

د الله هم یو صفت دي چه هغه د بل چا نه شی کیدي او د بنده هم صفتونه دی چه هغه د بل چا نه شی کیدي.

لا تجعل الحقين حقًا واحدًا من غير تبيين و لا فرقان

دا دوانړه صفتونه به یو نه ګڼړی فرق به کوی او چه فرق د مراتبو ونه کړی نو صوفیا کرام وائي تا فرق مراتب نه دانی زندیقی چه د مرتبو فرق دی ونه کړو زندیق ئي دا خلق زندیقان شوي نن ولي دي بابا او الله دائي په یوه مرتبه کي ګڼړلي دی قبر او الله هغه ئي په یوه مرتبه کي ګڼړلي دی او دا چه په یوه مرتبه کي وګڼړي دا

۱- صحيح البخاري على تحقيق البغاء جلد ٤ صفحه ۱۷۵۲ باب تفسير سورة الكهف

سړي زندیق شو.

الله رب العزت فرمائي د مشرکي ښځي سره به نکاح نه کوی دی باره کي نور هم څه روایتونه شته او د ښځي او د خاوند په خپل مینځ کي د تعلقاتو په دی کي لوئي شي پرده ده او دا کوم ایتونه چه ما یو دوه ولوستل نو نارینه له پکار دادی چه د دغه زنانو نه علاوه د کومو سره چه نکاح نه کیږي د هغه ټولو نه پرده کوی او زنانه له پکار دا دی چه د دغه نارینو نه علاوه کوم چه سورة نور کي ذکر دی د دی نه علاوه نورو نارینو نه پرده کوی ملک به په دی باندی آباد شي.

کوم ایت چه مي لوستي وو د هغي ترجمه داده:

كِتَابٌ أَنْزَلْنَاهُ إِلَيْكَ لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ دایوعظیم کتاب دي او د عظمت دلیل ئي دادی چه یو ما رالیږلي دي بل مي محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم ته رالیږلي اودریم دلیل ئي دا دي چه د دی کتاب مقصد ډیر اعلی دي خلق به د تیارونه رااوباسی رنړا ته تیاري ئي جمع راوړي دي رنړا ئي مفرد راوړي ده ځکه تیاري د ګمراهی لاری ډیری دی.

عن أبي وائل عن عبد الله بن مسعود قال خط لنا رسول الله صلى الله عليه وسلم خطا ثم قال هذا سبيل الله ثم خط خطوطا عن يمينه وعن شماله ثم قال هذه سبل قال يزيدمتفرقة على كل سبيل منها شيطان يدعو إليه ثم قرأ إن هذا صراطي مستقيما فاتبعوه ولا تتبعوا السبل فتفرق بكم عن سبيله

تعلیق شعیب الأرنؤوط : إسناده حسن : (۱)

نبي صلی الله علیه وسلم یوه پیره یو کرخه راخکله د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه روایت دي او بیائي د هغي نه چارچاپیره نوری کرښی راخکلي نبي صلی الله علیه وسلم د دي مینځ په کرخه باندی لاس کیخودووَأَنَّ هَذَا صِرَاطِي مُسْتَقِيمًا فَاتَّبِعُوهُ دانیغه لار ده او په دی نورو باندی ئي لاس کیخودو چه دا لاری چه دی.

او بیائي وفرمائیل په یو لار پسی ځی او په کنړو لارو پسی مه ځی د الله د دین نه به تاسو خطا کړی نبي صلی الله علیه وسلم دا یوه نقشه راخکله او practicali ئي وکړو عملی طور باندی هغوئ ته ئي دا وخودل چه یوه نیغه لار ده څۀ کړي وړي لاری دی او علماء وائي دا نیغه لار چه وی دا د دی کړو لارو نه لنډه وی نو په دین کي تکلیف نشته او الله پاک هم وائي.

یُرِیدُ اللَّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ

عسر تکلیف په څه کی دی په بي دینی کي او په دین کي اسانتیا ده.

واده د دین په طریقه باندی کوی اسان شي دی نه پکي دیګونه کړنګول شته نه پکي نور څه شته د خپل وس مطابق یوه ولیمه خپلو ملګرو له ورکړه.

سنت دي په سنت طریقه باندی ئي کوی آسان شي دی یائي ډاکټر

۱- مسند امام احمد بن حنبل : جلد ۱ صفحه ۴۳۵مسند عبدالله بن مسعودرضي الله عنه

له بوځه یا د سنت ماهر کور ته راوله او هلک به سنت کړی چه جوړ شی بیا که دی وس کیدو یو خیرات وکړه او که نه کیده مه کوه او کله چه د بدعت په طریقه وی زمونږ په دی علاقو کي به پخوا کیدو ستاسو د علاقو نه نه یم خبر د بدعت سنت به دا وو چه میخه به ئي واخسته لس اته منه وریجی شل منه وریجي به ئي واخستی بیا به هلک پلار ټوپی اغستي وه په دی خلقو به ګرځیدو او هغوئ به ورله جنج ورکوو نو هغه پیسي به ئي راجمع کړی او د چاسره به ئي پکي ورانه راغله او د چاسره به ئي پکي روغه راغله چا به پیسي کمی ورکړی هغه پسی به ئي نائي ولیګو چه زما هغه پیسي واپس را دا ولی ؟. دا جي د سنت طریقی نه خلاف وو.

نکاح په سنت طریقه باندی کوه واده په سنت طریقه باندی کوه بیاپکي هیڅ مشقت نشته او کله چه دی بدعات شروع کړل نو بدعات دا ظلمات دی د دی وجي نه چه کله قرآن عظیم الشان تعبیر کوی د قرآن نه قربان شم عجیبه تعبیرونه کوی.

لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا اكْتَسَبَتْ په اکتسبَ کي حروف زیات دی او په کسب کي حروف کم دی ځکه کسب مجرد دي او اکتسبَ مزید دي او قاعده د صرف داده زیادة اللفظ تدل علی زیادة المعنی چه کله لفظ زیات شی نو معنی هم زیاته شی نو کسب کي کلفت کم دي او په اکتساب کي کلفت زیات دي نو الله وائي لَهَا مَا كَسَبَتْ د سنت طریقی مطابق عمل دا ستا د فائدی دی وَعَلَيْهَا مَا اكْتَسَبَتْ او چه اکتساب دی وکړو د ځان نه دی بدعات جوړ کړه

نو ستا نقصان دی پکي.

بِإِذْنِ رَبِّهِمْ خو دا ټول کارونه به د الله په فیصله باندی کیږي إِلَى صِرَاطِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ لاړی د غالب بادشاه ته چه هغه ستائلي شوي دی هغه اللهِ الَّذِي لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ چه اسمانونه او ځمکه ټول د هغه دی بادشاهی د هغه ده نو چه د چا بادشاهی وی حکم د هغه چلیږی وَوَيْلٌ لِلْكَافِرِينَ او څوک چه منکر دی دا دی نه د هغوئ دپاره هلاکت دی او هغه هلاکت دي مِنْ عَذَابٍ شَدِيدٍ د هغه سخت عذاب نه او دا کافر څوک دی؟ الَّذِينَ يَسْتَحِبُّونَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا د کافر هغه خلق دی چه دا معمولی ژوندئي په هغه باقي ژوند باندی غوره کړو وَيَصُدُّونَ عَنْ سَبِيلِ اللهِ او خلق ئي د الله د کتاب نه واړول وَيَبْغُونَهَا عِوَجًا او د الله په کتاب کي خلقو ته کړي وړی لاړی خائی أُولَئِكَ فِي ضَلَالٍ بَعِيدٍ دا کسان ډېر لوئي ګمراه دی.

دعا وکړی چه الله رب العزت مونږ او تاسو په قرآن او سنت باندی عاملین کړی دی کومی خور چه د قرآن عظیم الشان ترجمه ختمه کړی ده الله دی دی له دوباره او دری باره د ځان پوهه کولو توفیق ورکړی او الله تبارک و تعالی دی دا د نورو زنانو دپاره معلمه جوړه کړی.

کوم واد\ه چه دی کورته راروان دي الله دی د دی کور دپاره او د واده د هغه جینئ د پلار کور د دی دوانړو دپاره د الله د محبت او د خوشحالئ ذریعه جوړه کړی.

الله تبارک و تعالی دی د دی کور د یو مسلمان ښځي او خاوند

کـور کـړی او الله تبـارک و تعـالی دی د دوی دا واده د دوی د عصمت ذریعه وګرځوی.

الله تبارک و تعالی دی دا وطن په قرآن او په سنت باندی آباد کړی الله دی زمونږ دشمنی په دوستو باندی بدلی کړی الله دی زمونږ د زړونو بغضونه حسدونه یو بل ته په محبت باندی بدل کړی الله مونږ په سوال نه پوهیږو خو

انا نسالک من خیرما سالک منه عبدک و نبیک محمد صلی الله علیه و سلم و نعوذبک من شر ما استعاذک منه عبدک و نبیک محمد صلی الله علیه و سلم

ربنا لا تؤاخذنا ان نسینا او اخطانا ربنا و لا تحمل علینا اصرًا کما حملته علی الذین من قبلنا ربنا و لا تحملنا ما لا طاقةَ لنا به واعف عنا واغفر لنا وارحمنا انت مولانا فانصرناعلی القوم الکافرین

اخیر کي بیا هم دا دعاء وکړو چه الله دی دا کور برکتی کړی او الله دی دا کور د نورو خلقو دپاره نمونه کړی.

و صلی الله تعالی علی خیر خلقه محمد و آله و صحبه اجمعین

تمت بالخیر

قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ان من البيان لسحرا

خطبات عارف

من افادات
شیخ القرآن والحدیث شہید ملت حضرت مولانا
سلطان غنی عارف طاہری شہید





المکتبة الطاهرية
کھوئی برمول مردان 0345-9367242

المکتبة الطاهرية
کھوئی برمول مردان 0345-9367242